علي بن أبي طالب رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تبارك وتعالى له رحمته وشړل شو هغه څوک چي له الله تبارك وتعالى څخه پرته د بل چا لپاره حلالول کوي او هغه څوک چي په خپل مور او پلار لعنت وايي او هغه څوک چي يوه بدعتي ته پنا ور کوي او ملا يي تړي او هغه څوک چي د ځمکو ځلي (پولي ، پاټونه) ورانوي .

**٣٠- عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

جابر رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بېشکه د سړي او د شرک او کفر تر منځ د لمانځه پرې ښودل دی.

**٣١- عَنْ بُرَيْدَةَ بْنِ الْحُصَيْبِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْعَصْرِ حَبِطَ**

**عَمَلُهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

بريده بن حصيب ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د مازديګر لمونځ پرې ښود نېک عملونه يې ضايع شول .

**٣٢- عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﵄ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الَّذِي تَفُوتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ابن عمر ﵄ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوک چي د مازديګر لمونځ ور څخه پاتي کېږي ګواکي کورنۍ او شتمني يې لوټ شوه .

**٣٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبو هريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پنځه لمونځونه او يوه جمعه تر بلي جمعې پوري د ګناهونو رژوونکي دي که له کبيره ګناهونو ډډه وشي .

**٣٤- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ﵄ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ**

عبد الله ابن عمر ﵄ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ظلم د قيامت په ورځ تکي توري تيارې دي.

**٣٥- عَنْ عَائِشَةَ ﵂ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ ظَلَمَ قِيدَ شِبْرٍ مِنَ الأَرْضِ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عائشه ﵂ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د ځمکي د يوې لوېشتې په اندازه ظلم وکړ اوه واړه ځمکي به يې په غاړه کي زېندۍ شي.

**٣٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبو هريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر مسلمان په بل مسلمان ، د هغه وينه،

شتمني او عزت حرام دی .

**٣٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟» قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ». قِيلَ: أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَتْ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟ قَالَ: «إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ اغْتَبْتَهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا تاسې پوهېږئ چي غيبت څه شی دی؟ دوی وويل: الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ ښه پرې خبر دي، ده ﷺ وفرمايل: ستا سي دي ورور په هغه شكل يادول چي د هغه نه خوښېږي، وويل شول : آيا كه زما په ورور كي هغه څه وي چي زه يي وايم ؟ ده ﷺ وفرمايل: كه ستا په ورور كي هغه څه وي چي ته يي وايې غيبت دې وكړ او كه په هغه كي نه وي نو بهتان (تور) دي پرې ولګاوه .

**٣٨- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله ابن مسعود ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د خلكو تر منځ به د قيامت په ورځ ړومبی فيصلې د وينو كېږي .

**٣٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي په مونږ وسله را واخيستله هغه له مونږ څخه نه دی او چا چي له مونږ سره دوكه وكړه هغه له مونږ څخه نه دی .

**٤٠- عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «لَعْنُ الْمُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ثابت بن الضحاك ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسلمان لعنت ويل داسې دی لكه د هغه قتلول.

**٤١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ، وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبو هريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې له ګومان کولو ډېره وکړئ ځکه چي ګومان کول په خبرو کي بد ترين دروغ دي او تاسې د خلکو پټ عيبونه مه پلټئ د هغوی خبري او کړني مه څارئ، يو له بل سره حسد مه کوئ او يو او بل ته مه شا کوئ او يو او بل بد مه ابسوئ او د الله ﷻ بندګان ورونه جوړ شئ .

**٤٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَرْفَعُهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ، وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بې شکه بنده د الله ﷻ د خوشحالولو يوه خبره وکړي ورته پام يي نه وي خو الله ﷻ يي درجې ور باندې لوړي کړي او بې شکه بنده يوه خبره وکړي چي د الله ﷻ غصه را وپاروي خو ورته پام يي نه وي په دوزخ کي يي غورځار کړي .

**٤٣- عَنْ جَابِرٍ ﵁ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

جابر﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: شيطان له دې مايوس شوی چي د عربو په جزيره کي يي لمونځ کوونکي عبادت وکړي خو د هغوی تر منځ په شخړو جوړولو کي نه.

**٤٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي زړه سوی نه کوي زړه سوی به نه ور باندي کېږي.

**٤٥- عَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ ﵄ قَالَتْ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

خولة الأنصارية ﵄ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بې شکه ځيني کسان د الله ﷻ په مال کي په نا حقه تصرف کوي د هغوی لپاره د قيامت په ورځ د دوزخ اور دی.

**٤٦- عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﵄ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ حَتَّى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

ابن عمر ﵄ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو څوک چي تل سوال (بسپنه) کوي د قيامت په ورځ به راشي او په مخ به يي ټوټه غوښه نه وي .

**٤٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د منافق درې نښې دي : چي کله خبري کوي دروغ وايي او چي کله امانت ورته کېښودل شي لاس په کي وهي او چي کله وعده وکړي نه يي پالي .

**٤٨- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله بن مسعود ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان ته ښکنځل کول ګناه ده او ورسره جنګېدل کفر دی.

**٤٩- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﵁ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي، فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبو سعيد الخدري ﵁ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې زما اصحابو (ملګرو) ته ښکنځل مه کوئ که په تاسې کي څوک د أحد د غره په اندازه سره زر خيرات کړي په دوی کي د يوه (صحابي) مقام ته او يا د هغه نيمايي ته نشي رسېدلای شي.

**٥٠- عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «الْأَنْصَارُ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ، وَلَا يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللَّهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

براء بن عازب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : له أنصارو سره صرف مؤمن مينه ساتي او منافق كركه ور څخه كوي نو څوك چي له دوی سره مينه كوي په الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى دي ګران شي او چي څوك يي بد ابسوي د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى دي بد وابسي .

**٥١- عن الأَغَرِّ بنِ يسار المزنيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُول الله ﷺ : «يَا أَيُّهَا النَّاسُ ، تُوبُوا إِلى اللهِ واسْتَغْفِرُوهُ ، فإني أَتُوبُ في اليَومِ مئةَ مَرَّةٍ» . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أغر بن يسار المزني رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې خلكو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى ته توبې وباسئ او ببښنه ترې وغواړئ زه الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى ته په ورځ كي سل ځلي توبې باسم .

**٥٢- عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

جبير بن مطعم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت ته به د قرابت (نزدې خپلوي) غوڅوونكی نه ننوځي.

**٥٣- عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

حذيفه ابن اليمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت ته به چغلخور (د بدو خبرو رسوونكی) نه ننوځي .

**٥٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت ته به هغه څوك نه ننوځي چي ګاونډي يي له تكليفونو نه وي ساتلی .

**٥٥- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِحَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ابن عمر رضي الله عنهما وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جبريل ماته د ځنګ لوري په باره کي دومره سپارښتنه وکړه چي زما دا باور شو چي هغه به يي ميراث خور شي.

**٥٦- عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ، وَقَالَ: «هُمْ سَوَاءٌ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

جابر بن عبد الله الأنصاري رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: رسول الله ﷺ په سود خور او سود خور ته په پور ورکوونکي او په سود ليکونکي او د سود په دوو ګواهانو لعنت ويلی او وې فرمايل: دوی ټول په ګناه کي سره برابر دي.

**٥٧- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ په هغو نارينه وو لعنت ويلی چي د ښځو غوندي ځانونه جوړوي او په هغو ښځو يي لعنت ويلی چي د نارينه وو غوندي ځانونه جوړوي.

**٥٨- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ : «لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عائشة رضي الله عنها او عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تبارك وتعالى لعنت دي وي په يهودو او نصاراوو هغوی د خپلو نبيانو قبرونه مسجدونه وګرځول .

**٥٩- عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ، فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

عمر رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي هغه وايي: تاسې زما په ستاينه کي دومره زيات توب مه کوئ لکه نصاراوو چي د مريم زوی (عيسی عليه السلام) ستايلو، زه صرف د الله

ﷻ بنده یم نو تاسې داسې وایاست: د الله ﷻ بنده او د هغه رسول.

**٦٠- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب د تصوير جوړوونكيو وي.

**٦١- عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ رضي الله عنها عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

د رسول الله ﷺ ځینی مېرمني رضي الله تعالي عنهن وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه څوک يوه نجومي يا کوډګر ته ورشي او د يوه شي پوښتنه ترې وکړي ، څلوېښت شپې يي لمونځ نه قبلېږي .

**٦٢- عن أَبي هُريرةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِها تَابَ اللهُ عَلَيهِ )) ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي مخكې له دې توبه وايستله چي لمر د لمر لوېديځ له خوا را پورته شي الله ﷻ يي توبه قبلوي.

**٦٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان لپاره همدغه دروغ بس دي چي څه يي واورېدل هغه بيانوي.

**٦٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «مَا أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزْارِ فَفِي النار». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه لنګ (پرتوګ) چي له پنډيو ښکته وي په اور کي به وي.

**٦٥- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ الْمُنْكَرَ فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوسعيد الخدري رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: له تاسې څخه چې يو چا کوم بد کار وليد نو په لاس دي يي بدلوي، که يي ونشواى کړى نو بيا په ژبه، او که يي ونشواى کړى بيا دي پخپل زړه (کرکه ور څخه وکړي) او دا د ايمان تر ټولو ټيټه درجه ده.

**٦٦- عَنْ تمَيِمِ بْنِ أَوْسٍ الدَّارِيِّ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

تميم بن أوس الداري رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دين نصيحت دى ، مونږ ورته وويل د چا لپاره؟ ده وويل : د الله تبارك وتعالى لپاره ، او د هغه د کتاب لپاره ، او د هغه د رسول ﷺ لپاره ، او د مسلمانانو د مشرانو لپاره ، او د عامو مسلمانانو لپاره .

**٦٧- عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللَّهُ رَعِيَّةً يمُوتُ يَوْمَ يمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ إِلَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

معقل بن يسار رضي الله عنه وايي : ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل هغه وايي: کوم بنده چې الله تبارك وتعالى په خلکو واکمن کړي بيا پخپل وخت پداسې حالت کي مړ شي چي له خپل ولس سره يي دوکه کړي وي الله تبارك وتعالى به جنت ور باندي حرام کړي.

**٦٨- عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِنَّهُ يُسْتَعْمَلُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ فَتَعرِفُونَ وتُنْكِرُونَ ، فَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ بَرِئَ ، وَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ سَلِمَ ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالوا : يَا رَسُولَ اللهِ ، أَلا نُقَاتِلهم ؟ قَالَ: لا، مَا أَقَامُوا فيكُمُ الصَّلاةَ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أم سلمة رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسې به واکمنان وګومارل شي تاسې به يي پېژنئ (چي د الله تبارك وتعالى حکمونه نه پلي کوي او فاسقان دي) خو نه به يي منئ، که چا (د

هغوی ناروا کارونه) بد و ایسول ځان یي وژغورلو، او چي چا یي ونه منل هغه روغ پاتي شو، مګر هغه څوک چي ورباندي خوشاله شو او دهغوی لاره یي ونیوله (هغه به هم د دې واکمنانو په بد برخلیک اخته کېږي)، دوی (اصحابو) پوښتنه وکړه: آیا ورسره جنګېږو نه اې د الله ﷻ رسوله؟ ده ﷺ وویل: نه تر هغه وخته چي په تاسې کي یي لمونځونه درولي وي.

**٦٩- عن حذيفة رضي الله عنه عن النَّبيِّ ﷺقَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتَأْمُرُنَّ بِالمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ المُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَاباً مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُوْنَهُ فَلا يُسْتَجَابُ لَكُمْ » (رَوَاهُ الترمذي).**

حذيفه رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دي قسم په هغه ذات وي چي زما ساه د هغه په واک کي ده يا خو به هرومرو تاسې د نېکو کارونو حکم کوئ او له بدو کارونو به منع کوئ يا خو نژدې دی چي الله ﷻ له خپله لوري يو عذاب در باندي را ولېږي بيا به هغه دربولئ خو دوعاګاني به مو نه قبلېږي.

**٧٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: بې شکه الله ﷻ د تاسې څېرو او شتمنيو ته نه ګوري بلکي د تاسې زړونو او عملونو ته ګوري .

**٧١- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: « أَفْضَلُ الجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ». (رَوَاهُ أبو داود والترمذي)**

أبوسعيد الخدري رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: بهتره جهاد د ظالم پاچا په وړاندي برابره خبره کول دی.

**٧٢- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

ابن عمر رضي الله عنهما وايي: د الله رسول ﷺ وفرمايل: مسلمان هغه څوک دی چي مسلمانان يي له

ژبي او لاس څخه روغ پاتي شي ، او مهاجر هغه څوک دی چي هغه څه پرېږدي چي الله ﷻ ورڅخه منع کړي وي .

**٧٣- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ قَالَ النَّبِيِّ ﷺ: « إِيَّاكُمْ وَالجُلُوسَ في الطُّرُقَاتِ فقالوا : يَا رَسُول الله ، مَا لنا مِنْ مجالِسنا بُدٌّ ، نتحدث فِيهَا . فَقَالَ رسولُ الله ﷺ : فَإِذَا أَبَيْتُمْ إلاَّ المَجْلِسَ ، فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ . قالوا : وما حَقُّ الطَّرِيقِ يَا رسولَ الله ؟ قَالَ : غَضُّ البَصَرِ ، وكَفُّ الأَذَى ، وَرَدُّ السَّلامِ ، وَالأمْرُ بِالمَعْرُوفِ ، والنَّهيُ عن المُنْكَرِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيهِ) .**

أبوسعيد الخدري ﷺ وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: پام کوئ په لارو کي مه کېنئ دوی ورته وويل: اې د الله رسوله ، له دې مجلسونو خو زمونږ چاره نشته ، خبري پکي کوو، بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: که مو له دې ډول مجلسه چاره نه وي بيا لاري ته خپل حق ورکوئ، دوی وويل: د لاري حق څه شی دی اې د الله رسوله؟ ده ﷺ وفرمايل: له حرامو کتلو د سترګو پټول، له لاري د ضرر لري کول، د سلام ور ګرځول ، په نېکو کارونو يو بل ته امر کول، او له بدو کارونو منع کول.

**٧٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حَزَنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةَ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره او أبوسعبد ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان ته چي هر ډول ستومانې، درد، پرېشاني، خواشيني، ځور او غم ورسېږي ان تر دې که يو ازغی هم ور جګ شي الله ﷻ يي ګناهونه ور باندي تويوي.

**٧٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ )**

أبوهريره ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن له يوه غاره دوه واري نه چيچل کېږي.

**٧٦- عَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ ﵂ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أم المؤمنين عائشة ﵂ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: بېشكه نرمي چي په هر شي كي وي هغه شی ښايسته كوي او چي له هر شي لري شي هغه بد ګونه كوي.

**٧٧- عَنْ عَائِشَةَ ﵂ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ، وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أم المؤمنين عائشة ﵂ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ نرمي او آسانتيا جوړوونكی دی نرمي خوښوي، او په نرمي هغه څه وركوي چي په نو طريقو يي نه وركوي.

**٧٨- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسُهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ زما أمت ته هغه خبري ور ښنلي چي په زړونو كي يي وي ترڅو يي چي يا په خوله نه وي ويلي او يا يي هم په عمل كي نوي پلي كړي.

**٧٩- عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ﵁ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ، وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عمرو بن العاص ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي واكمن له خپل كوشش سره يوه سمه فيصله وكړي دوه اجرونه يي دي، او كه له خپل كوشش سره غلطه فيصله وكړي يو اجر يي دی .

**٨٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ، فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا وَاسْتَعِينُوا بِالْغُدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دين آسانتيا ده او چي كله هم څوک په دين كي سختي جوړوي دين ور باندي برلاسی كيږي ، نو تاسې سم شئ، او سموالي ته نژدې شئ، په خلكو زېري وكړئ، او تاسې د ورځي د پيل او د ورځي د پای او د شپې د پای په څه عبادت سره مرسته وغواړئ.

**٨١- عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: «يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: آسانتيا جوړوئ، تنګي او سختي مه جوړوئ، د خوشالي زېري وكړئ او كركه مه خپروئ .

**٨٢- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ». قَالَهَا ثَلَاثًا. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هلاک دي شي سختي جوړوونكي (د دين او د دنيا په چارو كي) دا يي درې ځلي وفرمايل.

**٨٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «دَعُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِسُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ، فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ما پرېږدئ ترڅو چي ما پرې اېښي ياست، تر تاسې مخكې قومونه په دې وجه هلاک شول چي له خپلو نبيانو به يي پوښتني ډېري كولې او لانجې به يې ورسره جوړولې، كله چي مو زه له كوم كار څخه وژغورم ډډه ترې كوئ، او كله چي د كوم كار د كولو امر درته وكړم تر خپله وسه هغه كوئ .

**٨٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دا دنيا د مؤمن زندان او د كافر جنت دی .

**٨٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دوزخ په شهوتونو (نفساني غوښتنو) پوښل شوی دی او جنت د نفس په ناخوښو کارونو پوښل شوی دی .

**٨٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللَّهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دي قسم په هغه ذات وي چي زما ساه د هغه په واک کي ده که تاسې ګناهونه نه کولای الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ به تاسې لري کړي وای او داسې يو قوم به يي راوستی وای چي ګناهونه يي کولای او بيا يي له الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ښښنه غوښتلای او الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ښښنه ورته کولای .

**٨٧- عن ابنِ مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : أن النَّبيّ ﷺ ، قَالَ : «لَيْسَ مِنْ نَفْس تُقْتَلُ ظُلْماً إلاَّ كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأوْلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا ، لأَنَّهُ كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ القَتلَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيه)**

ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هر انسان چي په ظلم ووژل شي د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په مشر زوی يي يوه حصه ګناه لوېږي ځکه چي د لومړي قتل لاره هغه جوړه کړي وه .

**٨٨- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ أَحَدِكُمْ مِنْ أَحَدِكُمْ بِضَالَّتِهِ إِذَا وَجَدَهَا». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په ريښتيا الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ په تاسې کي د يو چا په توبه کولو تر هغه چا زيات خوشاله کېږي چي (له خوري سره) ورک خاروی ومومي.

**٨٩- عن ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال : قال رسول الله ﷺ: "مَنْ قَالَ : أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيهِ غُفِرَتْ ذُنُوبُهُ وإنْ كانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ". (رواه أبو داود والترمذي والحاكم)**

ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي " **أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ**

**الحَيُّ القَيُومُ وَأَتُوبُ إِلَيهِ"** ووايه ګناهونه يي ببښل کيږي ولو که د جګړې له ډګر څخه تښتېدلی هم وي.

**٩٠- عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْأَنْصَارِيِّ ﷺ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ فَقَالَ: «الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ، وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

نواس بن سمعان الأنصاري ﷺ وايي: له رسول الله ﷺ څخه مي د نېکي او ګناه پوښتنه وکړه ده ﷺ راته وويل: نېکي ښه اخلاق دي او ګناه هغه څه ده چي په زړه کي ځای ونيسي او ته دا نه خوښوې چي خلک ورباندي خبر شي .

**٩١- عَنْ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوذر الغفاري ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هېڅ نېک عمل سپک مه ګڼه ولو که ته له خپل مسلمان ورور سره په ويړه تنده مخامخ شې .

**٩٢- عَنْ أَنَسٍ ﷺعَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان چي يو نيالګی ولګوي يا کومه کرهڼه وکړي او بيا مرغان ، انسانان او څاروي ورڅخه خوراک کوي دا د ده لپاره يوه صدقه ده .

**٩٣- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُو لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ إِلَّا قَالَ الْمَلَكُ: وَلَكَ بِمِثْلٍ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبو الدرداء ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان چي خپل مسلمان ورور ته په غياب کي دوعا وکړي پرښته ورته وايي د تا لپاره هم دغه دوعا ده .

**٩٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي».( رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ به د قيامت په ورځ وو ايي : چېرته دي هغه څوک چي زما په لويي كي يي يو له بل سره مينه كوله، نن به پخپل سيوري كي ځاى وركوم دا هغه ورځ ده چي زما له سيوري پرته بل سيورى نشته.

**٩٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې به جنت ته تر هغه وخته دننه نشئ چي ايمان ونلرئ ، او تر هغه وخته به مؤمنان نشئ تر څو يو له بل سره مينه ونه ساتئ، آيا زه تاسې ته هغه څه در وښيم چي كه يي تاسې وكړئ يو له بل سره به مو مينه پيدا شي؟ پخپل منځ كي يو بل ته سلام ور اچوئ .

**٩٦- عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﵄ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ابن عمر ﵄ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان د مسلمان ورور دى نه به ظلم پرې كوي او نه به يي دښمن ته سپاري، څوک چي د مسلمان ورور حاجت پوره كړي الله ﷻ به د ده حاجت تر سره كړي، او څوک چي له مسلمان ورور څخه د دنيا يو ځور لري كړي الله ﷻ به له ده څخه د قيامت د ورځي يو ځور لري كړي او څوک چي په يوه مسلمان ورور پرده واچوي الله ﷻ به د قيامت په ورځ د ده پرده وساتي.

**٩٧- عَنْ أَبِي مُوسَى ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوموسى ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن د مؤمن لپاره داسې دى لكه په ودانۍ

کي خښتي چې ځيني يې ځيني نورې را ټينګوي.

**٩٨- عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

نعمان بن بشير رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ته به مؤمنان په خپل منځي زړه سوي، مينه او خواخوږي کي داسې وينې لکه يو بدن، کله چي د بدن يو غړی شکايت وکړي ټول بدن ورسره بې خوبه او رنځور شي.

**٩٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان په مسلمان پنځه حقونه دي: د سلام ورګرځول، د رنځور پوښتنه کول، جنازه کول، د مېلمستيا قبلول او د پرنجېدلو په وخت کي که څوک **"الحمد لله"** ووايي په **"يرحمك الله"** سره ځواب ورکول.

**١٠٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ – وَأَحْسِبُهُ قَالَ – وَكَالْقَائِمِ الَّذِي لَا يَفْتُرُ وَالصَّائِمِ الَّذِي لَا يُفْطِرُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د کونډې او يتيم په مرسته او چوپړ کي ځغاستونکی مسلمان داسې دی لکه د الله تعالى په لار کي جهاد کوونکی او وې ويل: داسې يي انګېرم لکه هغه لمونځ کوونکی چي هيڅ د سستي او ستوماني احساس نه کوي او لکه هغه روژه لرونکی چي کله هم روژه نه ماتوي.

**١٠١- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : که څوک دا خوښوي چي روزي يي پراخه شي او عمر يي اوږد شي نو خپلوي دي وپالي .

**١٠٢- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «أَبَرُّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ وُدَّ أَبِيهِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تر ټولو ستره نېکي داده چي يو څوک د پلار له دوستانو سره خپلوي وپالي.

**١٠٣- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دنيا د خوند او ګټي اخيستلو يو توکی دی او د دنيا غوره توکی نېکه ښځه ده.

**١٠٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ : لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : ښځه د دريو وجوهاتو په اساس په نکاح غوښتله کېږي: د مال ، نسب ، ښايست او ديانت په وجه ، ته په ديانت لرونکيه ښځه بر لاسی شه لاسونه دي سپېره شه .

**١٠٥- عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً هِيَ أَضَرُّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أسامه بن زيد بن حارثه رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ما له ما وروسته په نارينه وو باندي تر ښځو بله زياته ځوروونکيه فتنه بله نه ده پرې ايښي.

**١٠٦- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: له تي رودلو هغه څوک حرام ګرځي

چي له نسب څخه حرام کېږي.

**١٠٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ فَإِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : له ښځو سره ښه کوئ، ښځه له کږې پوښتۍ پيدا شوې ده او په پوښتيو کې تر ټولو کږه پوښتۍ پورتنۍ ده که ته وغواړې چې سيخه يې کړې ماتوې يې او که يې همداسې پرېږدې تو د تل لپاره به کږه پاتې وي نو تاسې له ښځو سره ښه کوئ.

**١٠٨- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرْعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : ځواکمن هغه څوک نه دی چې غېږې باسي بلکه ځواکمن هغه څوک دی چې د غصې په حالت کې خپل ځان په ولکه کې وساتي.

**١٠٩- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﵁ وَأَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ ﵁ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ أَيَّامًا يُرْفَعُ فِيهَا الْعِلْمُ وَيَنْزِلُ فِيهَا الْجَهْلُ وَيَكْثُرُ فِيهَا الْهَرْجُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﵁ او أَبو مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: بېشکه قيامت ته نژدې به داسې ورځې راشي چې علم او پوهنه به پکې پورته شي او جهل او ناپوهي به تيته شي او فتنې او قتلونه به زيات شي.

**١١٠- عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الْعِبَادَةُ فِي هَرْجٍ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

معقل بن يسار ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د فتنو جګړو او قتلونو په وخت کې لمونځ کول داسې دی لکه زما لور ته هجرت کول.

**١١١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺقَالَ: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې په نېکو کارونو د هغو فتنو مخنيوی وکړئ چي لکه د توري شپې تکي داسې به وي سهار به سړی مسلمان وي ماښام ته به کافر شي او ماښام به مسلمان وي سهار ته به کافر شوی وي خپل دين به د دنيا په نه څه پلوري.

**١١٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي سمي لاري ته خلک وبلل د ده به دومره اجر او ثواب وي لکه د هغه چا چي د ده يي ومنل او دا به د دوی په ثواب کي هيڅ کمښت نه راولي او چا چي بدي لاري او ګمراهۍ ته خلک وبلل د ده به همدومره ګناه وي لکه د هغه چا چي د ده يي ومنل دا به د هغو له ګناهونو څخه هيڅ نه کموي .

**١١٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: مَا عَابَ النَّبِيُّ ﷺ طَعَامًا قَطُّ إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ هيڅکله هم کوم خوراک بد نه دی بللی که به يي زړه ورته کېدو وبه يي خوړ او که به يي خوند ور نه کړ ايله به يي کړ.

**١١٤- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﵁ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ: نُهِينَا عَنِ التَّكَلُّفِ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

أنس بن مالك ﵁ وايي: مونږ له عمر بن الخطاب ﵁ سره ناست وو هغه وويل: مونږ له تکلف څخه ژغورل شوي يو.

تکلف : له معمول او عادت څخه زيات ځان ته ځور ورکول .

**١١٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ ،مَا زَادَ اللَّهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللَّهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: خيرات ورکول شتمني نه کموي، او په ببنـنه کولو الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى د بنده عزت زياتوي او څوک چي تواضع او خاکساري کوي الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى يي پورته کوي.

**١١٦- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللَّهَ فَلْيُطِعْهُ وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ فَلَا يَعْصِهِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: که څوک داسي نذر په ځان ومني چي د الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى اطاعت به کوي نو اطاعت دي وکړي او که څوک داسې نذر په ځان ومني چي ګناه به کوي نو ګناه دي نه کوي.

**١١٧- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه نعمتونه دي چي ډېرى خلک پکي دوکه شوي دي روغتيا او وزګارتوب (فراغت).

**١١٨- عَنِ صُهَيْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

صهيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: د مؤمن کار د تعجب وړ دی د ده هر کار خير دی، او دا (نېکمرغي) له مؤمن څخه پرته بل چا لره نشته که خوشالي ورباندي راشي د ده لپاره خير دی شکر باسي او که پرېشاني ور باندي راشي صبر وکړي د ده لپاره خير دی.

**١١٩- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «أَحَبُّ الْعَمَلِ إِلَى اللَّهِ مَا دَاوَمَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ وَإِنْ قَلَّ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره نېک عمل الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى ته هغه دی چي څوک يي

همېشه وکړي که څه هم کم وي.

**١٢٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ». قَالُوا: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبو هريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: مخکي شول "مفردون": (ځانګړي کسان) دوی وويل "مفردون" څوک دي يا رسول الله ده ﷺ وفرمايل: هغه نارينه او ښځينه چي الله تبارک وتعالی ډېر يادوي .

**١٢١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ». ر(وَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره او أبوسعيد رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي يوه ډله انسانان يو ځای سره کېني او الله تبارک وتعالی يادوي پرېښتې وربانديي را تاو شي ډاډ او سکون وربانديي راښکته شي او الله تبارک وتعالی يې د پرېښتو په محفل کي په فخر سره يادوي.

**١٢٢- عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لَا يَذْكُرُ رَبَّهُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبو موسی رضي الله عنه ويي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک چي الله تبارک وتعالی يادوي او هغه څوک چي نه يي يادوي د مړي او ژوندی مثال لري.

**١٢٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبو هريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه توري دي چي په ژبه باندي سپک په تله کي درانه او الله تبارک وتعالی ته ډېر خوښ دي هغه : "سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ" دي.

**١٢٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ فِي**

**الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةً حُطَّتْ خَطَايَاهُ ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبو هريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې په ورځ کې سل (١٠٠) واري "**سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ**" وويل ټول ګناهونه يې ښکته کيږي ولو که د سمندر د ځګ غوندې هم زيات وي.

**١٢٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لأَنْ أَقُولَ : سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبو هريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: که زه دا ووايم چې "**سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ**" دا ماته تر ټول هغه څه غوره دی چې لمر ورباندې را خيژي.

**١٢٦- عَنْ أَنَسٍ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ يَأْكُلُ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدُهُ عَلَيْهَا، وَيَشْرَبُ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدُهُ عَلَيْهَا ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أنس ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ له بنده په دې ډېر خوشاله کيږي چې کله خواړه وخوري بيا د الله ﷻ حمدوثنا (الحمد لله) ووايي او چې کله اوبه وڅښي بيا د الله ﷻ حمدوثنا (الحمد لله) ووايي.

**١٢٧- عَنْ عَائِشَةَ ﵂ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْكُرُ اللَّهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عائشه ﵂ وايي رسول الله ﷺ به هر وخت د الله ﷻ ذکر (يادونه) کاوه .

**١٢٨- عَنْ أَنَسٍ ﵁ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس ﵁ وايي: رسول الله ﷺ چې به کله بيت الخلاء ته ننوت دا دعا به يې ويله:

**«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ »**

اې الله ﷻ ته مې له ناپاکي او له ناپاکو شيانو وساتې .

**١٢٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ**

**حَتَّى يَتَوَضَّأَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسې کي چي د يو چا اودس مات شي لمونځ يي تر هغه وخته نه قبلېږي تر څو چي يي اودس نه وي کړی.

**١٣٠- عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عثمان بن عفان رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چي اودس وکړ او په ښه توګه يي وکړ له بدنه يي ټول ګناهونه وځي ترڅو چي يي له نوکانو ووځي.

**١٣١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل : هغه وفرمایل: زما امت به د قيامت په ورځ را وبلل شي او د اوداسه له وجهي به يي ټنډي او لاسونه تک سپين برېښني .

**١٣٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «وَيْلٌ لِلأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: د دوزخ له اور څخه د پوندو لپاره هلاکت دی.

(ځکه چي پوندي غالباً په ناخبرۍ کي په اوداسه کي وچي پاتي کېږي)

**١٣٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: که په تاسې کي يو څوک له خوبه را پاڅي نو لاس دي په لوښي کي تر هغو نه دننه کوي تر څو يي درې واري وينځلي نه وي ځکه چي هغه څه خبر دی چي لاس يي شپه چېري تېره کړي ده.

**١٣٤- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ**

**فِي طُهُورِهِ وَتَرَجُّلِه وَتَنَعُّلِه. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عائشه ﵂ وايي : رسول الله ﷺ ترڅو چي به يي کولای شوای د ژوند په ټولو چارو کي له ښي اړخه پیلول خوښول په اوداسه کي، د ږيري او د سر د ويښتانو په ږمنځولو کي او د موچڼو په اغوستلو کي .

**١٣٥- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ﵄ أَنَّ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرِبْ بِيَمِينِهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عبد الله بن عمر ﵄ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: که په تاسې کي څوک خوراک کوي نو په ښي لاس دې خوري او که اوبه څښي په ښي لاس دې څښي، ځکه چي شيطان په کيڼ لاس خوراک کوي او په کيڼ لاس اوبه څښي.

**١٣٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَوْ لَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: که زه پخپل امت له سختي جوړولو نه وېرېدلای ما به ورته د هر لمانځه لپاره د مسواک وهلو حکم کړی وای.

**١٣٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: «الْفِطْرَةُ خَمْسٌ: الِاخْتِتَانُ، وَالِاسْتِحْدَادُ وَقَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمُ الأَظْفَارِ وَنَتْفُ الإِبْطِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: پنځه شيان د فطرت مؤکد سنت دي : ختنه کول، تر نامه لاندي د تناسلي اندام خرييل، د برېتونو کمول، د نوکانو پرې کول، او د تخرګونو د ويښتانو کښل (خرييل)

**١٣٨- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ﵄ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ، وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُو الشَّوَارِبَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله بن عمر ﵄ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې له مشرکينو څخه خبرې بدلي

کړئ ډېري غټې کړئ او برېتونه وخرېيئ.

**١٣٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺقَالَ: «التَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ارمېږی له شيطان څخه دی نو کله چې په تاسې کي يو چاته ارمېږی ورشي چي څومره کولای شي ايسار دې کړي.

**١٤٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﵁ : «إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا، فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْئٌ أَمْ لَا فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسې کي يو چا په خېټه کي کوم څور وموند او پوه نشو چي څه ترې ووتل يا نه، نو له مسجد څخه دي تر هغه وخته نه وځي چي تر څو يي غږ نوي اورېدلی او يا يي بوی نوي ورغلی.

**١٤١- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوسعيد الخدري ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي تاسې د اذان کوونکي غږ واورئ نو چي هغه په اذان کي څه وايي هغه ورسره واياست.

**١٤٢- عَنْ أَنَسٍ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذَلِكَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي له يو چا څخه لمونځ هېر شو نو چي کله ور په ياد شي ودې کړي له دې پرته يې بله کفاره نشته.

**١٤٣- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﵁ قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ : أَيُّ الْعَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: «الصَّلَاةُ عَلَى وَقْتِهَا». قَالَ: ثُمَّ أَيُّ؟ قَالَ: «ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ». قَالَ: ثُمَّ أَيُّ؟ قَالَ: «الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله بن مسعود ﵁ وايي: له رسول الله ﷺ مي پوښتنه وکړه: کوم عمل الله ﷻ ته غوره دی؟ ده ﷺ راته وویل: لمونځ پخپل وخت باندي، بیا مي پوښتنه وکړه: بیا کوم عمل؟ وېل: له مور او پلار سره ښه کول، بیا مي پوښتنه وکړه: بیا کوم عمل؟ وېل: د الله ﷻ په لار کي جهاد کول.

**١٤٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ أَحَدِكُمْ وَحْدَهُ بِخَمْسَةٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسې کي د يو چا تر تنها لمانځه په جماعت سره لمونځ پنځه ويشت ونډې زيات بهتره دی.

**١٤٥- عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانٍ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ اللَّيْلَ كُلَّهُ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عثمان بن عفان ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د ماسخوتن لمونځ په جماعت سره وکړ لکه نيمايي شپه چي يي د ولاړي په عبادت تېره کړه او څوک چي ورسره د سهار لمونځ هم په جماعت سره وکړي لکه ټوله شپه چي يي د ولاړي په عبادت تېره کړه.

**١٤٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يو څوک چي سهار يا ماښام مسجد ته ځي الله ﷻ ورته په جنت کي مېلمستيا چمتو کوي کله هم چي سهار شي يا ماښام شي.

**١٤٧- عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ أَوْ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوحميد يا أبوأسيد الساعدي ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي له تاسې څخه

يو ځوک مسجد ته ننوځي نو وايي دي:

**اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ**

اې الله ﷻ ستا د رحمت دروازې راته خلاصې کړې ﷺ

او چې کله ځېني را وځي وايي دي:

**اللَّهُمَّ إِنِيِّ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ**

اې الله ﷻ ستا مهرباني غواړم .

**١٤٨- عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوقتاده رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې له تاسې څخه يو ځوک مسجد ته ننوځي نو تر کيناستلو مخکي دي دوه رکعته لمونځ کوي.

**١٤٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟ قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ، وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا زه تاسې ته هغه څه در وښيم چې الله ﷻ ورباندې ګناهونه ړنګوي، اصحابو ورته وويل: هو اې د الله ﷻ رسوله، ده ﷺ وفرمايل: د ځور په حالتونو کې د اوداسه تازه کول، مسجدونو زيات قدمونه اخيستل، او له يوه لمانځه وروسته د بل لمانځه انتظار کول ، دا د اسلام د بندر (پولې) ساتل دی.

**١٥٠- عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ).**

عبادة بن الصامت رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه چا لمونځ نه کېږي چې سوره فاتحه (الحمد لله) پکې ونه وايي.

**١٥١- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ وَلَا يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس بن مالك ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې په سجده کي اندامونه برابروئ او څوک دي دوه څنګلي په ځمکه د سپي غوندي نه لګوي.

**١٥٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده تر بل هر حالت الله ﷻ ته په سجده کي زيات نژدې وي نو تاسې په سجده کي دوعا ډېره کوئ.

**١٥٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسې کي يو څوک د لمانځه له وروستۍ ناستې فارغ شي نو په الله ﷻ دي له څلورو شيانو پناه وغواړي: د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، او د ژوند او مرګ له فتنې څخه، او د مسيح دجال له شر څخه.

**١٥٤- عَنْ ثَوْبَانَ ﵁ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ: «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ثوبان ﵁ وايي: رسول الله ﷺ چي به کله له لمانځه سلام وګرځاوه درې ځلي به يي **"أستغفر الله"** ووايه بيا به يي دا دوعا وويله:

**"اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامُ"**

**١٥٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ مَا لَمْ يُحْدِثْ، تَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ ».**

**(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: پرښتې لمونځ كوونكي ته تر څو چې هغه د لمانځه په ځاى كې وي او اودس يې نه وي مات كړى دوعاګانې كوي وايي: اې الله تبارك وتعالى ته يې وبښې اې الله تبارك وتعالى ته رحم وربانديې وكړې.

**١٥٦- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلاَةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلاَةٌ ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ : «لِمَنْ شَاءَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الله بن مغفل رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر اذان او اقامت په منځ كې يو (نفلي/ سنت) لمونځ شته د هر اذان او اقامت په منځ كې يو (نفلي/ سنت) لمونځ شته، او په درېيم ځل كې يې وويل: دا د هغه چا لپاره چې خوښه يې شي.

**١٥٧- عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضي الله عنها قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلَّهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ إِلَّا بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أم المؤمنين أم حبيبه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم مسلمان بنده چې په هره ورځ كې په فرض لمانځه سربېره دوولس ركعته نفل وكړي الله تبارك وتعالى په جنت كې يو كور ورته جوړوي.

**١٥٨- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَدَعُ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْغَدَاةِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ د ماسپښين تر فرض لمانځه د مخه څلور ركعته لمونځ او د سهار تر فرض لمانځه د مخه دوه ركعته لمونځ نه پرېښود.

**١٥٩- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د سهار دوه ركعته (سنت) تر دنيا او هغه څه چې

په دنيا کي دي غوره دي.

**١٦٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: أَوْصَانِي خَلِيلِي ﷺ بِثَلَاثٍ: صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَيِ الضُّحَى وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زما ملګري (جبريل ﵇) ما ته په هره مياشت کي د دريو روژو د نيولو او د څاښت د دوه رکعته لمونځ سپارښتنه وکړه او دا چي تر ويده کېدلو وړاندي وتر لمونځ وکړم.

**١٦١- عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﵄ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ابن عمر ﵄ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د شپې لخوا خپل وروستی لمونځ وتر وګرځوئ.

**١٦٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي د جماعت لمونځ ودرېږي بيا بل لمونځ نشته.

**١٦٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د جماعت يو رکعت لمونځ وموند نو د جماعت د لمانځه فضيلت يي وموند.

**١٦٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا تَمْشُونَ، عَلَيْكُمُ السَّكِينَةَ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره ﵁ وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي هغه وفرمايل: کله چي جماعت ودرېږي تاسې مه ورته را ځغلئ بلکه په ډاډمنه توګه ورته راځئ، کوم لمونځ چي مو وموند

هغه وکړئ او کوم چې در نه تېر شوی هغه وروسته بشپړ کړئ.

**١٦٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه غوره ورځ چې لمر ورباندې راخېژي هغه د جمعې ورځ ده، پکې آدم عليه السلام پيدا شوی، په همدغه ورځ جنت ته دننه شوی، او په همدې ورځ ځيني ايستل شوی، او قيامت به د جمعې په ورځ درېږي.

**١٦٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ: أَنْصِتْ، يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې امام خطبه وايي او ته خپل ملګري ته ووايې: چوپ شه؛ نو پالتو خبره دې وکړه.

**١٦٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ الْمُحَرَّمُ وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د رمضان له مياشتې وروسته بهتره روژې د محرم د مياشتې دي، او له فرض لمونځونو وروسته بهتره لمونځ د شپې دی.

**١٦٨- عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «ثَلَاثَةٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ هَذَا صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوقتاده رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هره مياشت درې روژې او د يو رمضان روژې د بل رمضان تر روژو پورې داسې دی لکه ټول وخت چې روژه نيوله شوې وي.

**١٦٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا، وَإِنْ يَكُ سِوَى ذَلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهَا عَنْ رِقَابِكُمْ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنازو کي بېړه کوئ که نېک انسان وي نو يو د خير کار دی چي ژر يي وکړئ، او که بل څه وي نو يو د شر پېټی دی چي له اوږو يي ښکته کړئ.

**١٧٠- عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اثْنَانٌ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أنس رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: له مړي سره دري شيان تر قبره ځي دوه يي بېرته را ګرځي او يو ورسره پاتي کېږي شتمني او خپلوان او عمل يي ورسره ځي، شتمني او خپلوان يي بېرته ځيني را وګرځي او عمل يي ورسره پاتي شي.

**١٧١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٌ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٌ صَالِحٌ يَدْعُو لَهُ . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي انسان مړ شي ټول عملونه يي تري غوڅ شي مګر دري شيان : همېشنی صدقه، يا هغه علم چي ګټه تري اخيستله کېږي، يا نېک زوی چي دوعا ورته کوي.

**١٧٢- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسي مړيو (مړدګانو) ته ښکنځل مه کوئ هغوی چي کوم عمل وړاندي کړی وو هغه ته ورسېدل.

**١٧٣- عن أبي بكر الصديق رضي الله عنه قَالَ: قَالَ: رَسُولُ الله ﷺ : "إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أوشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ" (رواه أبو داود والترمذي والنسائي)**

أبوبكر الصديق رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: خلک چي کله ظالم ويني او لاسونه يي

ونه نيسي نژدې دی چي الله ﷻ په دوی ټولو له خپل لوري عذاب راولېږي.

**١٧٤- عن أَبي أمامة إياس بن ثعلبة الحارثي رضي الله عنه : أَنَّ رَسُول الله ﷺ، قَالَ : "مَن اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِىء مُسْلِمٍ بيَمينه فَقدْ أوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ وَحرَّمَ علَيهِ الجَنَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ: وإنْ كَانَ شَيْئاً يَسيراً يَا رَسُول الله ؟ فَقَالَ : وإنْ قَضيباً مِنْ أراك" (رَواهُ مُسْلِمٌ)**

أبوأمامه رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يوه مسلمان وګړي حق په قسم ووهي الله ﷻ د دوزخ اور ورته واجب او جنت پرې حرام ګرځوي، يوه سړي ورته وويل: که لږ شی هم وي يا رسول الله؟ ده ﷺ وفرمايل: ولوکه د مسواک د وني يو نل (درګه) هم وي.

**١٧٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِن فيهِم الضَّعِيفَ وَالسَّقِيمَ وَالكَبِيرَ وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّل مَا شَاءَ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسې کي يو څوک د خلکو د لمانځه امامت کوي نو سپک لمونځ دي کوي ځکه چي په دوی کي به کمزوری رنځور او سپين ږيری وي او چي کله ځانته لمونځ کوي بيا چي څومره يي خوښه وي هغومره دې اوږد کړي.

**١٧٦- عن عبد الرحمن بن سَمُرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : "وَإِذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيراً مِنْهَا فَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيرٌ وَكَفِّرْ عَنْ يمِينِكَ" . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

عبد الرحمن بن سمرة رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي ته په قسم لوړه وکړې بيا يي سرچپه خوا خير ووينې نو هغه څه وکړه چي هغه خير وي او د قسم کفاره ادا کړه.

**١٧٧- عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : قالَ رسولُ اللهِ ﷺ : إذَا قَالَ الرَّجُلُ لأَخِيهِ : يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا فَإِنْ كانَ كَمَا قَالَ وَإلاَّ رَجَعَتْ عَلَيْهِ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي يو څوک خپل ورور ته ووايي: اې کافره

په یوه باندي ور ګرځي نو یا به هغه (مخاطب) همداسې وي لکه چې یې ورته ویلي وي او یا هم په ده باندي ور ګرځي.

**١٧٨- عن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا لَعَنَتْهَا المَلائِكَةُ حَتَّى تُصْبحَ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې نارينه خپله ښځه هم بستري ته وغواړي او هغه انکار وکړي او نارينه ورباندي شپه په غصه کي تېره کړي تر سهاره پرښتې لعنت ورباندي وايي.

**١٧٩- عن أبي هريرة رضي الله عنه أَنَّ رسُولَ الله ﷺ قَالَ: لاَ يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلاَّ بِإِذْنِهِ وَلاَ تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلاَّ بِإِذْنِهِ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ښځي ته چې نارينه يې په کور وي نه دی روا چې د هغه بې اجازې روژه ونيسي او نه به د هغه بې اجازې کور ته څوک دننه کوي.

**١٨٠- عن أَبي مَرْثَدٍ كَنَّازِ بْنِ الحُصَيْنِ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رسُولَ اللهِ ﷺ يقولُ: "لا تُصَلُّوا إِلَى القُبُورِ، وَلاَ تَجلِسُوا عَلَيْهَا" (رَوَاهُ مُسلِمٌ)**

أبومرثد کناز بن الحصين رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې هغه وفرمايل: تاسې قبرونو ته لمونځونه مه کوئ او مه سربېره ورباندي کېنئ.

**١٨١- عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسولِ اللهِ ﷺ قال: "لاَ يُشِرْ أحَدُكُمْ إِلَى أَخِيهِ بِالسِّلاحِ، فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِي لَعَلَّ الشَّيْطَانَ يَنْزِعُ فِي يَدِهِ، فَيَقَعَ فِي حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ" (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسې کي دي څوک خپل ورور ته د وسلې مخ نه ور اړوي دی څه خبر دی کېدی شي شيطان يې لاس ببواکه کړي بيا به د اور په يوه کندي کي ولوېږي.

**١٨٢- عن أسامة بن زيد رضي الله عنه عن النبيِّ ﷺ قَالَ: إِذَا سَمِعْتُمُ الطَّاعُونَ بِأَرْضٍ فَلاَ**

**تَدْخُلُوهَا وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وأَنْتُمْ فِيهَا فَلاَ تَخْرُجُوا مِنْهَا (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

أسامه بن زيد رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي تاسې په يوه سيمه كي د طاعون (وبا) واورئ نو هغې سيمى ته مه ور ننوځئ او كه په كومه سيمه كي چي تاسې ياست طاعون (وبا) وي نو بيا مه ځيني وځئ.

**١٨٣- عن حُذيْفَةَ رضي الله عنه: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقولُ : "لاَ تَلْبَسُوا الحَرِيرَ وَلاَ الدِّيبَاجَ وَلاَ تَشْرَبُوا في آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ وَلاَ تَأْكُلُوا في صِحَافِهَا" (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ)**

حذيفه رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې وربښم مه اغوندئ او مه د سرو او سپينو زرو په لوښو كي اوبه څښئ او مه يې په تاليو / غابونو كي خوراک كوئ.

**١٨٤- عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما قَالَ : رأى النَّبيُّ ﷺ عليَّ ثَوْبَينِ مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ : "أُمُّكَ أَمَرَتْكَ بِهَذا ؟ " قلتُ: أَغْسِلُهُمَا ؟ قَالَ: " بَلْ أَحْرِقْهُمَا " .وفي رواية فَقَالَ : " إنَّ هَذَا مِنْ ثِيَابِ الكُفَّارِ فَلاَ تَلْبَسْهَا ". (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ زما په تن دوه سرې جامې وليدلې راته وې ويل: آيا ستا مور د دې سرو جامو د اغوستلو درته وويل؟ ما وېل: آيا وېي وينځم؟ ده وېل: نه بلكه وېي سوځوه، په بل روايت كي راغلي چي راته وې ويل: دا د كافرانو جامې دي مه يې اغونده.

**١٨٥- عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسولِ اللهِ ﷺ قال: "أَحبُّ البِلادِ إلىَ اللهِ مَسَاجِدُهَا وَأبْغَضُ البِلاَدِ إلىَ اللهِ أسْوَاقُهَا" (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تبارك وتعالى ته په ټولو ځايونو كي خوښ ځايونه مسجدونه دي، او په ټولو ځايونو كي نا خوښه ځايونه بازارونه دي.

**١٨٦- عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسولُ اللهِ ﷺ: مَنْ لَزِمَ الاسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجاً وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجاً وَرَزَقَهُ مِنْ حَيثُ لاَ يَحْتَسِبُ . (رواه أبو داود)**

ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي استغفار همېشه وايي الله تبارك وتعالى به

له هرډول تنګي څخه د وتلو لاره ورته جوړه کړي او له هر ډول پرېشاني به خلاصون ورکړي او له داسې مدرکه به روزي ورکړي چې په خيال کي به يي نه ور ګرځي.

**١٨٧- عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: نَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الْأَضْحَى بَعْدَ ثَلَاثٍ فَكُلُوا وَتَصَدَّقُوا وَادَّخِرُوا » (رواه مسلم وغيره)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ما تاسې تر دريو ورځو زيات د قرباني د غوښو له ساتلو ژغورلي وئ، اوس يي هم وخورئ، هم يې خيرات کړئ او هم يې ذخيره کړئ.

**١٨٨- " عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ. (رواه مسلم)**

أبوقتاده رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زه په الله تبارك وتعالى دا يقين لرم چي هغه به د عرفات د ورځي د روژې په بدل کي د تير شوی او راتلونکي کال ګناهونه وبښي، او زه په الله تبارك وتعالى دا يقين لرم چي هغه به د عاشوراء د ورځي د روژې په بدل کي د تېر شوي کال ګناهونه وبښي.

**١٨٩- عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَأَمْرُهُ رَدٌّ . (رواه مسلم)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي يو داسې کار (د عبادت په نيت) وکړ کوم چي مونږ يي ورته حکم نه وي کړی نو هغه کار يي مردود دی (ګناه ده اجر نه لري)

**١٨٩- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ (رواه الترمذي وحسنه الألباني)**

أنس بن مالك رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ټول انسانان تېر وځي او غوره تېر وتی انسان هغه دی چي توبه کوونکی وي.

**١٩٠- عن أبي هريرة رضي الله عنه : أن أعرابيًا قال: يا رسول الله؛ متى الساعة؟: قَالَ: إِذَا ضُيِّعَتِ الْأَمَانَةُ؛ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ"، قال: كيف إضاعتها؟ قال: "إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلى غَيْرِ**

**أَهْلِهِ فانْتَظِرِ السَّاعَةَ"** » (رواه الإمام أحمد والبخاري)

أبوهريره ﷺ وايي: يوه اعرابي (پونده) له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي قيامت به كله وي؟ ده ورته وفرمايل: كله چي امانت ضايع شول د قيامت انتظار كوه، اعرابي بيا پوښتنه وکړه: د امانت ضايع كول څنګه وي؟ ده ورته په ځواب كي وويل: كله چي كار نا اهل ته وسپارل شي نو د قيامت انتظار كوه.

**١٩١- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ: مَنْ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ وَإِذَا أَمْسَى حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ سَبْعَ مَرَّاتٍ كَفَاهُ اللَّهُ مَا أَهَمَّهُ .**

أبوالدرداء ﷺ وايي: څوک چي سهار او ماښام دا دعا اوه ځلي ووايي الله تعالى به يې ټولي پريشانيوي ختمي كړي.

**«حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ»**

ما ته هغه الله ﷻ بس دی چي له ده پرته بل معبود نشته په هغه مي توكل دی او هغه د ستر عرش مالک دی.

**١٩٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ : تُعْرَضُ الْأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ .** (رواه الترمذي)

أبوهريره ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: عملونه د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ (الله ﷻ ته) وړاندي كېږي نو زما دا خوښېږي چي زما عمل په داسې حالت كي وړاندي شي چي زما روژه وي.

**١٩٣- عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ سُئِلَ عَنْ صَوْمِ الِاثْنَيْنِ فَقَالَ : "فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ"** (رواه مسلم)

أبوقتاده ﷺ وايي: له رسول الله ﷺ څخه د دوشنبې د ورځي د روژې په هكله پوښتنه وشوه ده په ځواب كي ورته ويل: دا هغه ورځ ده چي زه پكي زېږېدلی يم او په همدې ورځ قرآن كريم را باندي نازل شوی.

**١٩٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ مرفوعاً قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ : «أَحْبِبْ حَبِيبَكَ هَوْنًا مَا عَسَى أَنْ يَكُونَ بَغِيضَكَ يَوْمًا مَا، وَأَبْغِضْ بَغِيضَكَ هَوْنًا مَا عَسَى أَنْ يَكُونَ حَبِيبَكَ يَوْمًا مَا» (المعجم الأوسط للطبراني)**

أبوهريره ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: له خپل دوست سره مینه په اعتدال کي ساته کېدای شي يوه ورځ دي دښمن وګرځي او له دښمن سره دښمني په اعتدال کي ساته کېدای شي يوه ورځ دي دوست وګرځي.

(ځېني محدثين وايی دا د علي ﵁ قول دی)

**١٩٥- عن أبي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ» (رواه مسلم)**

له أبوهريره ﵁ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان نارينه دي له مسلماني مېرمني كركه نه كوي كه يې د هغې يو خوی بد واېسي بل خوی به يې خوښ شي.

**١٩٦- عن جابر ﵁ عن النبي ﷺ قال: يوم الجمعةِ اثنَا عَشَرَ سَاعَةً فِيهَا سَاعَةٌ لاَ يُوجَدُ مُسلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا شَيْئًا إلاَّ أعطَاه فالتَمِسُوها آخِرَ سَاعَةٍ بَعدَ العَصر (رواه أبو داود والنسائي)**

جابر ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې ورځ دوولس ساعته ده په هغو کي يو داسي ساعت دی چي بنده له الله ﷻ هر څه پکي وغواړي الله ﷻ يي ورکوي نو تاسې دا وخت د مازديګر په وروستي وخت کي لټوئ.

**١٩٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ: مَنْ اقْتَنَى كَلْبًا لَيْسَ بِكَلْبِ صَيْدٍ وَلا مَاشِيَةٍ وَلا أَرْضٍ فَإِنَّهُ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ قِيرَاطَانِ كُلَّ يَوْمٍ (رواه مسلم)**

له ابوهريره ﵁ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي يو سپی ساتي خو نه د ښكار كولو وي او نه د څارويو د ساتلو الله ﷻ به د ده د نېكو عملونو له ثواب څخه

هره ورځ دوه قیراطونه (برخې) کموي.

**١٩٨- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا، فَلَمْ تُطْعِمْهَا، وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الأَرْضِ (رواه البخاري)**

ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: يوه مېرمن پدې وجه دوزخۍ شوه چې خپله پشۍ يې تړلي وه نه خو يې پخپله خواړه ورکول اونه يې دېته پرېښودله چې د زمکي په مخ ځانته خواړه ومومي .

**١٩٩- عَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: اتَّقُوا دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهَا تُحْمَلُ عَلَى الْغَمَامِ يَقُولُ اللهُ جَلَّ جَلَالُهُ: وَعِزَّتِي وَجَلَالِي لَأَنْصُرَنَّكَ وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ (رواه الطبراني)**

خزيمة بن ثابت رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: دمظلوم له ښېرا ځانونه ساتئ ځکه چې هغه په اوريځو وړله کېږي الله تبارك وتعالى فرمايي: زما دي په خپل ځواک او لويي قسم وي چې زه به خامخا ستا (مظلوم) مرسته کوم که څه هم څه وخت واخلي.

**٢٠٠- عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: لَقِيتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَوْمًا فَقُلْتُ: مَا النَّجَاةُ؟ قَالَ: «يَا عُقْبَةُ، أَمْسِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ» (الطبراني والبيهقي )**

عقبه بن عامر رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ مي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: يا رسول الله خلاصون په څه کي دی؟ هغه راته وفرمایل: خپله ژبه تړلي وساته او په خپل کورکي غلی کېنه او په خپلوګناهونو ژاړه.

**٢٠١- عَن أَوْسٍ الثَّقَفِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ ثُمَّ بَكَّرَ وَابْتَكَرَ وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ فَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا» (رواه أبوداود)**

أوس الثقفي رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې هغه فرمايي: چا چې د

جمعې په ورځ سر ووينځلو او وې لامبل، وختي مسجد ته لاړ او دخطبې پيل يې ونيو، پياده تګ يې وکړ او سپور نه لاړ، امام ته نژدې کېناست د هغه خبرو ته يې غوږ ونيو، او (د خطبې په مهال يې) په خبرو يې ځان مشغول نکړ نو په هر قدم چې مسجد ته يې په لاره اخيستی وي د يو کال د روژو او لمونځونو ثواب ورکول کېږي.

**٢٠٢ - عن أبي أُمَامَةَ الْبَاهِلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: "اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لأَصْحَابِهِ" رواه مسلم**

أبوأمامه الباهلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل هغه وفرمايل: قرآنكريم واياست ځکه چې قرانكريم به د قيامت په ورځ د هغه د تلاوت کونکيو لپاره الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ ته سپارښتنه کوي.

**٢٠٣- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: "مَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا لَيْلَةَ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ وَقَالَ تَحَرَّوْهَا لَيْلَةَ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ". (أخرجه الطيالسى)**

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رسول الله ﷺ فرمايي: که څوک د ليلة القدر د شپې په لټه کي وي نو د (٢٧) اوه ويشتم په شپه دي د ليلة القدر شپه ولټوئ او ويې فرمايل: د اوه ويشتم (٢٧) په شپه د ليلة القدر هڅه وکړئ .

**٢٠٤- عن عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول: «نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِي فَوَعَاهَا وَحَفِظَهَا وَبَلَّغَهَا» (سنن الترمذي)**

عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې هغه فرمايي: د هغه چا څېره دې الله تَبَارَكَ وَتَعَالَىٰ تره او تازه وساتی چا چې زما وينا واورېدله او ځان يې پرې پوه کړ او په ياد يې وساتله او نورو ته يې ورسوله.

**٢٠٥- عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ أَهْلَ قُبَاءٍ اقْتَتَلُوا حَتَّى تَرَامَوْا بِالحِجَارَةِ، فَأُخْبِرَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِذَلِكَ، فَقَالَ: «اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ بَيْنَهُمْ» (رواه البخاري)**

سهل بن سعد رضي الله عنه وايي: د قباء د سيمي خلک پخپل منځ سره په جګړه شول حتى چې يو بل يې په ډبرو سره ويشتل کله چې رسول الله ﷺ پرې خبر شو وې ويل: مونږ ور ولځ چې تر منځ يې روغه وکړو.

**٢٠٦- عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: " تُفْتَحُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ يَوْمَ الاثْنَيْنِ، وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا، إِلَّا رَجُلًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيَقُولُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا (رواه أحمد ومالك في الموطأ)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوشنبه او پنجشنبه د جنتونو دروازې خلاصيږي هر بنده ته چي له الله تعالى سره يې شريک نه وي نيولی ببنښه کيږي خو مګر هغه سړي ته چي د ده او ورور تر منځ يې خپګان وي، الله تعالى ووايي. ببنښه يې وځنډوئ ترڅو چي پخپل منځ کي سره پخولا شي.

**٢٠٧- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ المَدِينَةِ، فَقَالَ: «إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا، مَا سِرْتُمْ مَسِيراً، وَلاَ قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ قَالَ: «وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ، حَبَسَهُمُ العُذْرُ» (رواه البخاري).**

أنس بن مالک رضي الله عنه روايت کړی چي ﷺ د تبوک له غزا څخه په واپسي کي چي کله مدينې منورې ته نژدې شو خپلو ملګرو ته يې وويل: "په مدينه منوره کي داسي کسان شته چي تاسو په کومه لاره تلئ او په کومه کنده پوري وتلئ هغوی له تاسې سره يوځای ول (ستاسي په اجر کي درسره شريک دي). صحابه وو ورته وويل: هغوی خو په مدينه کي پاته وو څنګه به له مونږ سره وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغوی عذر ګرځولي وو.

**٢٠٨- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «نَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُومِ الأَضْحَى بَعْدَ ثَلَاثٍ، فَكُلُوا وَتَصَدَّقُوا وَادَّخِرُوا » (رواه مسلم وغيره)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: ما تاسې تر دريو ورځو زيات د قرباني د غوښو له ساتلو ژغورلي وئ، اوس يي هم وخورئ، هم يې خيرات کړئ او هم يې ذخېره کړئ.

**٢٠٩- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : "مَنْ صَلَّى الْغَدَاةَ فِي جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ" (رواه الترمذي) .**

أنس رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړي او بيا تر څو چي لمر را وخېژي کېني او بيا دوه رکعته نفل لمونځ وکړي (درې ځلي يي وفرمايل) د بشپړ حج او عمرې ثواب يې دی

**٢١٠- عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ (رواه أبوداود)**

أبو أمامه رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د جنت په ښکته برخه کي د هغه چا لپاره د کور د لرلو ضامن يم څوک چي شخړه جوړول پرېږدي ولو که په حقه وي. زه د جنت په منځ کي د هغه چا لپاره د کور دلرلو ضامن يم چي دروغ ويل پرېږدي ولوکه په ټوکه کي هم وي. او زه د جنت په لوړه برخه کي د هغه چا لپاره د کور د لرلو ضامن يم د چا چي اخلاق ښکلي وي.

**٢١١- عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلاَقًا (رواه الترمذي)**

جابر رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: په ما باندي په تاسي کي تر ټولو زيات ګران او ماته د قيامت په ورځ په مجلس کي تر ټولو زيات نژدې هغه څوک دی چي اخلاق يې ښه وي.

**٢١٢- عن جابر رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: «يوم الجمعةِ اثنَا عَشَرَ سَاعَةً فِيهَا سَاعَةٌ لاَ يُوجَدُ مُسلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا شَيْئًا إلاَّ أعطَاه فالتَمِسُوها آخِرَ سَاعَةٍ بَعدَ العَصر»**

**(رواه أبو داود والنسائي)**

جابر رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: د جمعې ورځ دوولس ساعته ده په هغو کي يو داسي ساعت دی چي بنده له الله تعالی هر څه پکي وغواړي الله تعالی يي ورکوي نو تاسې دا وخت د مازدیګر په وروستی شېبه کي ولټوئ.

**٢١٣- عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: "يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلِ الإِيمَانُ قَلْبَهُ لاَ تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ وَلاَ تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ يَتَّبِعْ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعْ اللَّهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِي بَيْتِهِ". (أبو داود وصححه الألباني)**

أبوبرزة الأسلمي رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل : اې د هغو کسانو ډلګی چاچي په ژبه ایمان راوړی خو زړونو ته يې ایمان لا ندی ننوتلی، د مسلمانانو غیبتونه مکوئ ، د هغوی پټ عیبونه مه پلټئ . او څوک چي داسې کوي الله تعالی به يې عیبونه لوڅ کړي او د چا چي الله تعالی عیبونه لوڅ کړي هغه بیا د خپل کور په دننه کي رسوا کوي او شرموي يې .

**٢١٤- عن أم سلمة رضي الله عنها أن النبي ﷺ قال : «إِذَا رَأَيْتُمْ هِلاَلَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ ، فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ» (رواه مسلم)**

ام سلمه رضي الله عنها وایی: چی رسول الله ﷺ وفرمایل:" کله چي مو د لوی اختر میاشت ولیدله او په تاسې کي يو چا د اختر د قرباني اراده کړي وي نو خپل وېښتان او نوکان دي نه غوڅوي"

**٢١٥- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ» يَعْنِي الْعَشْرَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: «وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ» (رواه ابن ماجة و أبوداود وابن حبان)**

ابن عباس رضي الله عنهما وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی ته تر ټولو ورځو غوره ورځي د ذالحجې

لس ورځي دي چي الله ﷻ ته د بنده نېک عملونه ډېر پکي خوښ دي اصحابو پوښتنه وکړه چي يارسول الله د الله ﷻ په لار کي تر جهاد هم د دې ورځو نېک عملونه الله ﷻ ته غوره دي؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: هو د الله ﷻ په لار کي تر جهاد هم ورته غوره دي، مګر که څوک په خپل لګښت په خپله جهاد ته لاړ شي او بيا له هيڅ شي سره بېرته راونه ګرځي.

**٢١٦- عن سهل بن سَعْدٍ قال قال رسول الله ﷺ «فَوَاللَّهِ لأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلاً وَاحِدًا، خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ» (البخارى ومسلم)**

سهل بن سعد رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ فرمايي: زما دي په الله ﷻ قسم وي که الله ﷻ ستا په ذريعه يوه سړي ته هدايت وکړي دا تا ته تر دې زيات غوره ده چي سره اوښان ولرې.

**٢١٧- عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثٍ يَلْتَقِيَانِ: فَيَصُدُّ هَذَا وَيَصُدُّ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ " (صحيح البخاري)**

أبو أيوب الأنصاري رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ مسلمان ته نه دی روا چي له خپل مسلمان ورور څخه تر دريو ورځو زيات مرور پاتي شي پداسې بڼه چي کله دواړه سره مخامخ شي يو يې يوې خواته او بل يې بلي خواته مخ واړوي او په دواړو کي غوره هغه څوک دی چي لومړی سلام پيل کړي.

**٢١٨- عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلاً قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ قَالَ: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ»، قَالَ: فَأَيُّ النَّاسِ شَرٌّ؟ قَالَ: «مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ»: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» (رواه الترمذي)**

أبو بكرة رضي الله عنه وايي: چي له رسول الله ﷺ څخه يوه سړي پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله په خلکو کي څوک ښه دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چي عمر اوږد او عمل يې نېک وي. هغه سړي بيا ورڅخه وپوښتل : اې دالله رسوله په خلکو کي تر ټولو بد څوک دی؟ رسول

الله ﷺ وفرمایل: د چا چي عمر اوږد او بد عمله وي.

**٢١٩- عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: الكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتمَنَّى عَلَى اللَّهِ (رواه أحمد والترمذي)**

هوښیار هغه دی چي سر له اوسه یې له ځان سره حساب ونیو او د ابدي ژوند لپاره یي کار وکړ او عاجز هغه څوک دی چي د ځان یي ومنل او خپلي هیلي یي په الله تعالی پوري وتړلې (دا معنا چي وایي الله تعالی غفور اورحیم دی لکه ځېني کسان چي وایي)

د یوه کس په ګناه د پوره قوم ښکنځل کبیره ګناه ده.

**٢٢٠- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «إِنَّ أَعْظَمَ النَّاسِ فِرْيَةً لَرَجُلٌ هَاجَى رَجُلًا فَهَجَا الْقَبِيلَةَ بِأَسْرِهَا» (رواه ابن ماجة والبيهقي في السنن الكبرى)**

عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه سړی په ټولو خلکو کي لوی دروغجن دی چي له یو چا سره ښکنځلي بدلوي او ټول قوم ته یي ښکنځل وکړي.

یو کس وایي: خپه وم چي موچڼې مي نشته خو کله چي مي داسې یو څوک ولید چي دواړه پښې یي نه وې شکر مي وکړ چي زما رب څومره په ما مهربان دی په حدیث شریف کي راځي:

**٢٢١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلاَ تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَإِنَّهُ أَجْدَرُ أَنْ لاَ تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ. (رواه الترمذي) وابن ماجة وغيرهما)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه چاته ګورئ چي له تاسې ښکته وي او هغه چاته مه ګورئ چي له تاسې پورته وي، ځکه چي په تاسې د الله تعالی پېرزوینې د دې وړ دي چي تاسې یي سپکي ونه ګڼئ

**٢٢٢- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَتَوَفَّنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ، وَإِنَّ أَشْقَى الأَشْقِيَاءِ مَنِ اجْتَمَعَ**

**عَلَيْهِ فَقْرُ الدُّنْيَا وَعَذَابُ الْآخِرَةِ»** (رواه المستدرك على الصحيحين) **هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ.**

أبوسعيد رضي الله عنه وايي: له رسول الله ﷺ څخه مي واورېدل هغه وفرمايل: يا الله تبارك وتعالى د مسكنت ژوند راكړې په مسكنت كي مرګ راكړې او د قيامت په ورځ مي په مسكينانو كي را پاڅوې، او تر ټولو ستر بد مرغه هغه څوک دی چي د دنيا او اخرت دواړو په نېستئ باندي اخته شي.

**٢٢٣- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: " طَهِّرُوا هَذِهِ الْأَجْسَادَ طَهَّرَكُمُ اللَّهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ عَبْدٌ يَبِيتُ طَاهِرًا إِلَّا بَاتَ مَعَهُ مَلَكٌ فِي شِعَارِهِ لَا يَنْقَلِبُ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ إِلَّا قَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِكَ، فَإِنَّهُ بَاتَ طَاهِرًا "** (رواه الطبراني)

ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل ځانونه پاكېزه ساتئ الله تعالى مو پاک وساته څوک چي په اوداسه ويده شي يو فرشته يې په بستره كي دننه شپه ورسره تېروي چي كل هم دا ويده انسان اړخ بدلوي هغه فرشته وايې اې الله تبارك وتعالى ستا دې بنده ته بښنه وكړه ځكه چي په اوداسه وېده شوی دی.

**٢٢٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ لَا أَدَعُهُنَّ حَتَّى أَمُوتَ: «صَوْمِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَصَلَاةِ الضُّحَى، وَنَوْمٍ عَلَى وِتْرٍ»** (رواه البخاري)

ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چي رسول الله ﷺ د دريو كارونو وصيت راته كړی چي تر مرګه به يې پرې نه ږدم: هره مياشت كي درې ورځې روژه نيول، د څاښت لمونځ او د شپې لخوا تر ويده كېدلو مخكي د وتر لمونځ.

**٢٢٥- عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ، يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ»** (صحيح مسلم)

جابر رضي الله عنه وايي : ما واورېدل چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بېشكه په شپه كي يوه داسې شېبه شته كه مسلمان ته ور برابره شي او په هغې كي له الله تبارك وتعالى څخه د دنيا او اخرت هر

نېک حاجت وغواړي الله ﷻ يي ضرور ور کوي او دا شپېبه په هره شپه کي شته.

**٢٢٦- عَنْ جَرِيرٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَهُ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ: «اسْتَنْصِتِ النَّاسَ» فَقَالَ: «لاَ تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا، يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ». متفق عليه**

جرير رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ دحجة الوداع په موکه له ما وغوښتل چي خلک چوپ کړم، بيا يي حاضرينو ته په وينا کي وفرمايل: له ما وروسته کافران مه جوړېږئ چي يخپل منځ کي يو د بل غاړي وهئ.

**٢٢٧- عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: "لَقِيَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَبَا ذَرٍّ رضي الله عنه فَقَالَ: يَا أَبَا ذَرٍّ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ مِنْ غَيْرِهَا؟" قَالَ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: " عَلَيْكَ بِحُسْنِ الْخُلُقِ وَطُولِ الصَّمْتِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا تَجَمَّلَ الْخَلَائِقُ بِمِثْلِهِمَا " (الجامع الصحيح للسنن والمسانيد)**

أنس رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ او أبوذر رضي الله عنه سره مخامخ شول بيا يي ورته وويل: آيا هغه دوه خويونه در وښيم چي په شا باندي زيات سپک دي او په تله کي ډېر درانه دي؟

وېل: هو يا رسول الله؛ ده ورته وويل: ښه خويونه خپل کړه او اوږده چوپتيا خپل عادت وګرځوه زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما ساه د هغه په واک کي ده د دې دوو شيانو په څېر په بل هيڅ شي خلک نه دي ښايسته شوي.

**٢٢٨- عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ الْأَزْدِيِّ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ ﷺ: أَوْصِنِي، قَالَ: «أُوصِيكَ أَنْ تَسْتَحِيَ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، كَمَا تَسْتَحِي مِنَ الرَّجُلِ الصَّالِحِ مِنْ قَوْمِكَ» (الطبراني)**

سعيد بن يزيد الأزدي رضي الله عنه وايي: ما رسول الله ﷺ ته وويل: ما ته نېکه توصيه وکړه؛ ده راته وويل: زه دا توصيه در ته کوم چي له الله ﷻ څخه داسې حياء کوه لکه پخپل قوم کي چي يي له يوه نېک سړي څخه کوې.

**٢٢٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ لِي عَنْ أُمَّتِي مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَكَلَّمْ» (رواه البخاري)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تبارك وتعالى ماته زما د امت تر هغه څه را تېر شو چې د دوی په سینو کې د وسوسو په بڼه کې تېرېږي تر څو چې یې عملاً کړي نه وي او یا یې په خوله نه وي ویلي.

**٢٣٠- عن أبي سعيد الخدري وأبي هريرة رضي الله عنهما أن رسول الله ﷺ قال: « لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ لأَكَبَّهُمُ اللَّهُ فِي النَّارِ» (رواه الترمذي وصححه الألباني)**

أبوسعید الخدري او أبوهریره رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: که د اسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات د یوه مسلمان په ناحقه قتل کې شریک شي الله تبارك وتعالى به خامخا هغوی ټول (د همدې یوه قتل په سزا کې) په جهنم کې پړ مخې غورځوي.

**٢٣١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «إِنَّكُمْ لَا تَسَعُونَ النَّاسَ بِأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ لِيَسَعْهُمْ مِنْكُمْ بَسْطُ الْوَجْهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ» (شعب الإيمان للبيهقي)**

أبوهریره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسې هیڅکله نشئ کولای چې هرڅوک پخپله شتمنې خوشاله کړئ خو ستاسې له پراخې تندې او له ښو اخلاقو دې ضرور خوشاله کړل شي.

**٢٣٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: "أَوْصَانِي خَلِيلِي ﷺ بِثَلَاثٍ لَسْتُ بِتَارِكِهِنَّ: أَنْ لَا أَنَامُ إِلَّا عَلَى وِتْرٍ، وَأَنْ لَا أَدَعَ رَكْعَتَيِ الضُّحَى فَإِنَّهَا صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ وَصِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ " (رواه ابن خزيمة وصححه الألباني)**

أبوهریره رضي الله عنه وايي: ما ته زما دوست ﷺ د دریو کارونو سپارښتنه کړې چې کله به یې هم پرې نږدم: چې وتر لمونځ مې نه وي کړی نه به ویده کېږم، او د څاښت دوه رکعته لمونځ به نه پرېږدم ځکه چې دا د توبه ګارانو لمونځ دی او په هره میاشت کې درې روژې.

**٢٣٣- عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ»، قَالُوا: بَلَى، قَالَ: «صَلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ فَإِنَّ فَسَادَ ذَاتِ الْبَيْنِ**

**هِيَ الحَالِقَة لَا أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ». (رواه أبوداود والترمذي)**

أبوالدرداءﷺ وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسې ته هغه عمل در وښيم چي تر (نفلي) لمانځه، روژې، او خيرات غوره دی؟ مونږ ورته وويل: هو اې د الله رسوله، ده وفرمايل: د دوو لانجمنو خواوو تر منځ روغه كول، او يقيناً د دوو په منځ كي فساد اچول خرېيونكی دی، زه دا نه وايم چي وېښتان خرېيي بلكه دين خرېيي.

**٢٣٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ» قِيلَ: مَنْ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا، ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ» (رواه مسلم)**

له ابي هريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ و فرمايل : پوزه دې په خاورو سپېره شي بيا دې پوزه په خاورو سپېره شي بيا دې پوزه په خاورو سپېره شي چا چي خپل پلار اومور په لوی عمر كي يو او يادواړه وموندل او (د هغوی د خدمت او احسان په وجه ) جنت ته داخل نشو.

**٢٣٥- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ " رِضَا اللهِ فِي رِضَا الْوَالِدَيْنِ، وَسَخَطُ اللهِ فِي سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ " . (الحاكم والبيهقي)**

له عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل د الله ﷻ خوشالي د مور او پلار په خوشالي كي ده او د الله ﷻ غصه او قهر د مور او پلار په غصه كي ده .

**٢٣٦- عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «بَرُّوا آبَاءَكُمْ تَبَرُّكُمْ أَبْنَاؤُكُمْ، وَعِفُّوا تَعِفُّ نِسَاؤُكُمْ» (رواه الحاكم والطبراني)**

له ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل تاسي د خلكو له ښځو څخه پاك لمني شئ ستاسې ښځي به پاك لمني شي له خپلو پلرونو سره ښه سلوك او احسان كوئ ستاسي زامن به له تاسو سره ښه سلوك او احسان كوي.

**٢٣٧- عَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَامَ إِلَيْهِ بَعْضُ الْقَوْمِ فَقَالَ رَسُولُ**

**اللهِ ﷺ : «دَعُوهُ وَلَا تُزْرِمُوهُ» قَالَ: فَلَمَّا فَرَغَ دَعَا بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَصَبَّهُ عَلَيْهِ (رواه مسلم)**

أنس رضي الله عنه وايي: يو پونده په مسجد کي متياځي وکړې څه کسان ور پاڅېدل (چي ويي ترټي) خو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايله يي کړئ، او متياځي مه پرې غوڅوئ، أنس رضي الله عنه وايي: چي کله هغه پونده له متياځو کولو فارغ شو رسول الله ﷺ يوه بوکه را وغوښتلې او په هغه ځای يي توی کړې.

**٢٣٨- عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَمْ أَرَكَ تَصُومُ شَهْرًا مِنَ الشُّهُورِ مَا تَصُومُ مِنْ شَعْبَانَ، قَالَ: «ذَلِكَ شَهْرٌ يَغْفُلُ النَّاسُ عَنْهُ بَيْنَ رَجَبٍ وَرَمَضَانَ، وَهُوَ شَهْرٌ تُرْفَعُ فِيهِ الأَعْمَالُ إِلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ، فَأُحِبُّ أَنْ يُرْفَعَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ» (رواه النسائي)**

أسامه بن زيد رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ ته مي وويل : اې د الله رسوله، ته خو په يوه مياشت کي هم دومره روژې نه نيسې لکه په شعبان کي ، ده ﷺ راته وفرمايل: دا د رجب او رمضان تر منځ هغه مياشت ده چي خلګ ورڅخه په غفلت کي دي خو دا هغه مياشت ده چي رب العالمين تبارك وتعالى ته عملونه پکي پورته کېږي نو زه دا خوښوم چي زما عمل پداسې حال کي پورته شي چي زما روژه وي.

**٢٣٩- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ» (البخاري ومسلم)**

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که يوڅوک په دې خوشاله کېږي چي رزق يي پراخ او له برکته ډک شي او عمر يي اوږد شي نو له خپلوانو سره دي خپلوي پالي.

**٢٤٠- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ، وَيَقُولُ: «مَا أَطْيَبَكِ وَأَطْيَبَ رِيحَكِ، مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ،**

**لَحُرْمَةُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ حُرْمَةً مِنْكِ، مَالِهِ، وَدَمِهِ، وَأَنْ نَظُنَّ بِهِ إِلَّا خَيْرًا» (رواه ابن ماجة وصححه الألباني في صحيح الترغيب)**

عبد الله بن عمر ﭭ وايي: رسول الله ﷺ مي وليد په کعبه يي طواف کاوه او ويل يې: څومره پاکيزه يې او څومره ښه بوی دي ځي، څومره ستره يې او څومره ستر مقام دي دی، خو زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما ساه د هغه په واک کي ده د مؤمن مقام د الله ﷻ په نزد تر تا زيات ستر دی د شتمني يي او د ويني يي او دا چي مونږ به تل ورباندي د خير گومان کوو.

**٢٤١- عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ﭭ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "يَجِيءُ المَقْتُولُ بِالقَاتِلِ يَوْمَ القِيَامَةِ نَاصِيَتُهُ وَرَأْسُهُ بِيَدِهِ وَأَوْدَاجُهُ تَشْخَبُ دَمًا، يَقُولُ: يَا رَبِّ، قَتَلَنِي هَذَا، حَتَّى يُدْنِيَهُ مِنَ العَرْشِ " قَالَ: فَذَكَرُوا لِابْنِ عَبَّاسٍ التَّوْبَةَ، فَتَلَا هَذِهِ الآيَةَ: { وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُتَعَمِّداً فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خالِداً فِيها وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذاباً عَظِيماً. النساء: ٩٣ (رواه الترمذي وصححه الألباني)**

ابن عباس ﭭ وايي رسول الله ﷺ وفرمايل: مقتول به د قيامت په ورځ قاتل تر لاس نيولی الله ﷻ ته راولي په يوه لاس کي به يي خپل سر او ټنډه نيولي وي او له رګونو څخه به يي ويني داري وهي او وبه وايي: اې زما ربه زه دې سړي وژلی يم تر څو د الله تعالی عرش ته ور نژدې کړي، چا ابن عباس ﭭ ته ور په زړه کړه چي که يي توبه ايستلي وه هغه دا ايت تلاوت کړ:

**وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُتَعَمِّداً فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خالِداً فِيها وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذاباً عَظِيماً. } النساء: ٩٣**

چا چي يو مؤمن په قصد وواژه نو سزا يي دا ده چي د تل لپاره په جهنم کي دی الله ﷻ ورته په غضب دی، له خپله رحمته يي رټلی دی او ده ته يي ستر عذاب چمتو کړی دی.

**٢٤٢- عن البراء بن عازب رضي الله عنه أنَّ رسولَ الله ﷺ قال: "لزَوالُ الدنيا؛ أهْوَنُ على الله مِنْ قتلِ مؤمنٍ بغيرِ حقٍّ". رواه ابن ماجه ورواه البيهقي والأصبهاني وزاد فيه "ولوْ أَنَّ أهلَ سماواتِه وأهلَ أرضهِ اشْترَكوا في دَمِ مؤْمنٍ لأدْخلَهُم الله النارَ".وفي رواية للبيهقي: وهو حديث صحيح كما قال العلامة الألباني في صحيح الترغيب.**

براء بن عازب رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د ټولي دنيا ورانېدل الله تعالى ته تر دې زيات بې توله دی چي يو مؤمن په ناحقه څوک ووژني په بل روايت کي دا هم زيات شوي چي که د ځمکي او اسمانونو مخلوق ټول د يوه مسلمان د ويني په تويولو کي شريک شي الله تعالى به ټول د دوزخ اورته دننه کړي.

**٢٤٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ، تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ، وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ، لِلَّهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ» (رواه النسائي)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې ته د رمضان مياشت راغله، دا له برکتونو ډکه مياشت ده ، الله تعالى په تاسې د هغې روژې نېول فرض ګرځولي دي، د اسمانونو دروازې پکي پرانستلي کېږي، او د جهنم دروازې پکي تړلي کېږي، سرکښه شيطانان پکي ځولانه کېږي، خاص د الله تعالى لپاره پکي يوه شپه شته چي تر زرو مياشو غوره ده، څوک چي د هغې له برکتونو او ثوابونو بې برخي شو هغه د تل لپاره بې برخي شو.

**٢٤٤- عَنِ الْحَسَنِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : " رَحِمَ اللَّهُ يُوسُفَ لَوْلَا كَلِمَتُهُ مَا لَبِثَ فِي السِّجْنِ طُولَ مَا لَبِثَ، قَوْلُهُ {اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ} [يوسف: ٤٢] " ثُمَّ يَبْكِي الْحَسَنُ، وَيَقُولُ: وَنَحْنُ إِذَا نَزَلَ بِنَا أَمْرٌ فَزِعْنَا إِلَى النَّاس.(كتاب الزهد لأحمد)**

حسن رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى دي په يوسف عليه السلام رحم وکړي که يي دا خبره خپل بندي ملګري ته نه وای کړي چي

**(اذکرني عند ربك)**

" ما د خپل بادار په مخ کي ياد کړه"

دومره اوږد وخت به په زندان کي نه وای پاته شوی. بيا حسن رضي الله عنه وژړل او وې ويل: مونږ ته خو چي معمولي څور ورسيږي سمدلاسه خلګو ته شکايتونه پيل کړو.

**٢٤٥- عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الْجَدَلِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ رضي الله عنها: "كَيْفَ كَانَ خُلُقُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فِي أَهْلِهِ؟ قَالَتْ: «كَانَ أَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا لَمْ يَكُنْ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَلَا صَخَّابًا بِالْأَسْوَاقِ وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ» (الزهد للإمام أحمد)**

له ابوعبد الله الجدلي رضي الله عنه وايي: ما له عا~شه رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چي د رسول الله ﷺ څه ډول خويونه وو؟ هغې راته وويل: تر هر چا يي خويونه ډېر ښکلي وو، نه خو پوچ خولی وو او نه بد عمله وو او نه يي په بازارونو کي په لوړ غږ خبري کولې، نه يي د بدو بدله په بدو ورکوله بلکه بښنه او درګذر يي کاوه.

**٢٤٦- عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْأَسْوَدِ رضي الله عنه قَالَ: " قُلْتُ لِعَائِشَةَ رضي الله عنها: أَيُّ شَيْءٍ كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟ قَالَتْ: «كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ خَرَجَ فَصَلَّى» (الزهد للإمام أحمد)**

ابراهين بن اسود رضي الله عنه وايي: ما له عائشې رضي الله عنها څخه پو ښتنه وکړه رسول الله ﷺ چي به کله کور ته دننه شو څه به يي کول؟ هغې راته وويل: د کور په کارونو په کارونو کي به له مېرمنو سره لګيا وو او چي کله به د لمانځه وخت شو لمانځه ته به و ووت.

**٢٤٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: «مَا عَابَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ طَعَامًا قَطُّ كَانَ إِذَا اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَإِذَا لَمْ يَشْتَهِهِ تَرَكَهُ» (الزهد للإمام أحمد)**

ابوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ کله هم په خوراک کی عیبونه نه جوته کول که به يي زړه ورته کېدو و به يي خوړل او که به يي زړه نه ور ته کېدو ايله به يي کړ.

**٢٤٨- عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ لَهُ لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ: «إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ فَإِنَّ عِبَادَ اللَّهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ»(الزهد للإمام أحمد)**

معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي : کله چي رسول الله ﷺ زه يمن ته لېږلم راته وې ويل: ګوره چي په نعمتونو کي چړچې ونکړې ځکه چي د الله تعالی بندګان کله هم په نعمتونو کي چړچې نه کوي.

**٢٤٩- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ رضي الله عنه قَالَ: «مَا لِي، وَلِلدُّنْيَا إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رَاكِبٍ قَالَ فِي ظِلِّ شَجَرَةٍ فِي يَوْمٍ صَائِفٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا» (مسند أحمد)**

عبد الله رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زما او د دنيا يي څه، زما او د دنيا مثال داسې دی لکه يو سړی چي سپور په سفر روان وي او په ګرمي کي تر يوه ونه لاندي لږ وېده شي او بيا هغه ونه پرېږدي او ترې روان شي.

**٢٥٠- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ» (صحيح مسلم)**

عبد الله رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د خلکو تر منځ تر هر څه د مخه د وينو پرېکړي کېږي .

**٢٥١- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: "إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ" (مسلم)**

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺوفرمايل: کله چي انسان مړشي ټول عملونه يې ورڅخه غوځ شي له دريو شيانو څخه پرته (چي د هغو ثواب په قبر کي هم ورته رسېږي) روانه صدقه، هغه علم چي ګټه ورڅخه اخېستله کېږي او صالح اولاد چي هغه ته دعا وکړي.

**٢٥٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ، وَمَرَدَةُ الجِنِّ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ، وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الجَنَّةِ، فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ، وَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا بَاغِيَ الخَيْرِ أَقْبِلْ، وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ، وَلِلَّهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ، وَذَلكَ كُلُّ لَيْلَةٍ - (رواه الترمذي)**

أبوهريره ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي د رمضان د مياشتي لومړۍ شپه پيل شي شيطانان او ياغي پيريان ځولانه کړل شي، او د دوزخ دروازې وتړلي شي يوه يي هم خلاصه نه پاته کېږي او دجنت دروازې پرانيستلي شي او يوه يي هم تړلي پاته نشي، او يو اواز کوونکی اعلان وکړي : اې د خير تلاش کوونکيه را وړاندي شه او اې د شر غوښتونکيه لاسونه دي لنډ کړه او الله ﷻ ځېني بندګان د دوزه له اوره خلاصوي او دا کيفيت هره شپه وي.

**٢٥٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ، تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَتُغَلَّقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ، وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ، لِلَّهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ» (رواه النسائي)**

أبوهريره ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې ته د رمضان مياشت راغله چي برکتمنه ده الله ﷻ په تاسې د هغې روژې فرض کرځولي دي، د اسمانونو دروازې پکي خلاصېږي، او د دوزخ دروازې پکي تړلي کېږي، او ياغي شيطانان پکي ځولانه کېږي د الله ﷻ لپاره پکي يوه شپه ده چي تر زرو مياشتو غوره ده څوک چي يي له اجر څخه بې برخي شو هغه بې برخي پاته شو.

**٢٥٤- عَنْ عَرْفَجَةَ ﷺ قَالَ: عُدْنَا عُتْبَةَ بْنَ فَرْقَدٍ، فَتَذَاكَرْنَا شَهْرَ رَمَضَانَ، فَقَالَ: مَا تَذْكُرُونَ؟ قُلْنَا: شَهْرَ رَمَضَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: " تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ النَّارِ، وَتُغَلُّ فِيهِ الشَّيَاطِينُ، وَيُنَادِي مُنَادٍ كُلَّ لَيْلَةٍ: يَا**

**بَاغِيَ الْخَيْرِ هَلُمَّ، وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ " (رواه النسائي)**

عرفجه رضي الله عنه وايي: مو نږ د عتبة بن فرقد د رنځ پوښتني ته ورغلي وو، هلته مو د رمضان د میاشتي یادونه وکړه عتبه راته وویل: په څه کي بحث کوئ؟ مونږ ورته وویل: د رمضان په میاشت کي ، بیا ده راته وویل چي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه آورېدلي وو چي هغه وفرمایل: د جنتونو دروازې پکي خلاصېږي، او دجهنم دروازې پکي تړلي کېږي، او هره شپه یو اواز کوونکی اعلان کوي: اې د خیر غوښتونکیه هله ژر شه، او د شر غوښتونکیه لاس دي لنډ کړه.

**٢٥٥- عَنْ وَاثِلَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه وسلم قَالَ: " أُنْزِلَتْ صُحُفُ إِبْرَاهِيمَ أَوَّلَ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَأُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ لِسِتٍّ مَضَيْنَ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَأُنْزِلَ الْإِنْجِيلُ لِثَلَاثَ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ، وَأُنْزِلَ الزَّبُورُ لِثَمَانِي عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ وَأُنْزِلَ الْقُرْآنُ لِأَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ " (رواه شعب الإيمان للبيهقي)**

واثله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د إبراهیم علیه السلام صحیفې د رمضان په لومړۍ شپه را نازلي شوي وې، تورات د رمضان په شپږم را نازل شوی دی، انجیل د رمضان په دیارلسم را نازل شوی دی، زبور د رمضان په اتلسم را نازل شوی، او قرانکریم درمضان په څلورویشتم را نازل شوی دی.

**٢٥٦- عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم : «احْضَرُوا الْمِنْبَرَ» فَحَضَرْنَا فَلَمَّا ارْتَقَى دَرَجَةً قَالَ: «آمِينَ» ، فَلَمَّا ارْتَقَى الدَّرَجَةَ الثَّانِيَةَ قَالَ: «آمِينَ» فَلَمَّا ارْتَقَى الدَّرَجَةَ الثَّالِثَةَ قَالَ: «آمِينَ» ، فَلَمَّا نَزَلَ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهُ قَالَ: " إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَرَضَ لِي فَقَالَ: بُعْدًا لِمَنْ أَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يَغْفَرْ لَهُ قُلْتُ: آمِينَ، فَلَمَّا رَقِيتُ الثَّانِيَةَ قَالَ: بُعْدًا لِمَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ قُلْتُ: آمِينَ، فَلَمَّا رَقِيتُ الثَّالِثَةَ قَالَ: بُعْدًا لِمَنْ أَدْرَكَ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ عِنْدَهُ أَوْ أَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ قُلْتُ: آمِينَ (رواه الحاكم في المستدرك)**

کعب بن عجره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: منبر ته راشئ، مونږ منبر ته ورغلو بيا چي کله هغه لومړۍ زينې ته وخوت وې ويل: آمين، کله چي دوهمي زينې ته وخوت بيا يي وويل: آمېن، کله چي درېيمي پوړۍ ته وخوت بيا يي وويل آمېن، بيا چي کله راښکته شو مونږ پوښتنه ترې وکړه چي اې د الله رسوله ، مونږ نن داسي څه در څخه واورېدل چي بل وخت مو نه وو اورېدلي؟ ده ﷺ وفرمايل: جبريل عليه السلام مخي ته راغی او وې ويل: هغه څوک دي د الله تبارك وتعالى له رحمت څخه لري شي چا چي د رمضان مياشت وموندله او ښښنه ورته ونشوه، ما وويل آمېن، کله چي دوهمي زينې ته وختلم هغه وويل: هغه څوک دي د الله تبارك وتعالى له رحمت څخه لري شي د چا په مخکي چي ستا نوم واخيستل شي او هغه په تا درود ونه وايي ما ووېل آمېن ، او کله چي درېيمي زينې ته پورته شوم بيا يي وويل: هغه څوک دي د الله تبارك وتعالى له رحمت څخه لري شي چا چي مور او پلار د سپين ږيريتوب په حالت کي وموندل او دی يي جنت ته دننه نه کړ ما ووېل آمېن.

۲۵۷- **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ، وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ، وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الكِبَرَ فَلَمْ يُدْخِلاَهُ الجَنَّةَ (رواه الترمذي)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه چا پوزه دي په خاورو سپېره شي د چا په مخکي چي د ما نوم ياد کړل شي او په ما درود ونه وايي، او د هغه چا پوزه دي په خاورو سپېره شي چا ته چي د رمضان مياشت راغله او ووتله خو ده ته ښښنه ونه شوه، او د هغه چا پوزه دي په خاورو سپېره شي چا چي مور او پلار د سپين ږيري توب په حالت کي وموندل او دی يې جنت ته داخل نکړ.

۲۵۸- **عَنْ سَهْلٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "إِنَّ فِي الجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَقُومُونَ لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ (رواه**

البخاري ومسلم)

سهل رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي يوه دروازه ده چي ريان نومېږي او د قيامت په ورځ به روژه ساتونکي له همدې دروازې جنت ته ننوځي پدې دروازه به بل څوک نه ننوځي، اعلان به وشي: چېرته دي روژه ساتونکي، هغوی به ټول را پاځي خو بل څوک به له دې دروازې دننه نشي، کله چي روژه ساتونکي ټول دننه شي دا دروازه به وتړله شي او بيا به څوک ور څخه دننه نشي.

**٢٥٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ : "إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ يَوْمًا صَائِمًا، فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ، فَإِنِ امْرُؤٌ شَاتَمَهُ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ: إِنِي صَائِمٌ، إِنِيِّ صَائِمٌ" (رواه مسلم)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي په تاسې کي د يو چا په کومه ورځ روژه وي نو سپکي سپوري دي نه وايي، او په چا دي تېری نه کوي، که بل څوک ورته ښکنځل وکړي يا شخړه ورسره جوړوي نو ورته ودي وايي: زما روژه ده او زما روژه ده.

**٢٦٠- قَالَ عَبْدُ اللَّهِ رضي الله عنه: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ شَبَابًا لاَ نَجِدُ شَيْئًا، فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ البَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» (رواه البخاري)**

عبد الله رضي الله عنه وايي: مونږ څو تنه ځوانان له رسول الله ﷺ سره يو ځای وو چي هيڅ مو نه لرل، بيا رسول الله ﷺ راته وفرمايل: اې د ځوانانو طبقې، که په تاسې کي څوک بدني او مالي وس لري نو هغه دي هرو مرو ودونه وکړي ځکه چي واده کول د انسان سترګي او عفت ساتي او که بيا د چا وس نه وي نو هغه دي روژې ونيسی ځکه چي روژه د هغه ساتونکيه ده.

**٢٦١- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «مَا مِنْ عَبْدٍ يَصُومُ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ، إِلَّا بَاعَدَ اللهُ، بِذَلِكَ الْيَوْمِ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا» (رواه**

مسلم)

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هر بنده چي د الله تعالى د رضا لپاره يوه ورځ روژه ونيسي الله تعالى يي هرو مرو اويا كلونه د دوزخ له اور څخه مخ لري ساتي .

**٢٦٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ، فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ، فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، فَإِنمَّا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ» (رواه مسلم)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا چي روژه وي او په هېره خوراك او يا څښاك وكړي نو روژه دي بشپړه كړي دا په هېره خوراك يا څښاك د الله تعالى له خوا مېلمستيا وه.

**٢٦٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «مَنْ ذَرَعَهُ القَيْءُ، فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَمَنْ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ» (رواه الترمذي)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا ته چي په روژه كي قى ورغى نو وربانديي را ګرځول يي نشته او كه په قصد ځان ته قى ورولي او قى وكړي بيا دي هم دا روژه بېرته راوګرځوي.

**٢٦٤- عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالدٍ الجُهَنِيِّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ لاَ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا. (رواه الترمذي)**

زَيْدِ بْنِ خَالِدِ الجُهَنِيِّ رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي روژه لرونكي ته روژه مات وركړ د هغه د روژې هومره ثواب يي دى بې له دې چي د هغه روژه لرونكي له ثواب څخه څه كم كړل شي.

**٢٦٥- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: " الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَقُولُ الصِّيَامُ: أَيْ رَبِّ، مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ، فَشَفِّعْنِي فِيهِ، وَيَقُولُ الْقُرْآنُ: مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ، فَشَفِّعْنِي فِيهِ "، قَالَ: " فَيُشَفَّعَانِ " (رواه الإمام أحمد)**

عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: قران کريم او روژه به د قيامت په ورځ الله تبارک وتعالی ته د بنده سپارښتنه کوي، روژه به وايي: اې پروردګاره، ما په ورځ کي له خوراکونو او شوقونو اېسار کړی وو زما سپارښتنه ورته قبوله کړې، او قران کريم به وايي: ما دشپې له خوب کولو ايسار کړی وو زما شفاعت ورته منظور کړې، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: د دواړو سپارښتنه به ومنله شي.

**٢٦٦- عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا دَخَلَ العَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ، وَأَحْيَا لَيْلَهُ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ» (رواه البخاري)**

عائشه رضي الله عنها وايي کله چي به درمضان وروستنۍ لسيزه را ورسېده رسول الله ﷺ به خپل لنګ ټېنګ وتړلو او شپه به يي روښوله او د کور افراد يي هم راويښول.

**٢٦٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الغَضَبِ»**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک پهلوان نه دی چي هر چا ته په غېږه ورځي بلکه پهلوان هغه څوک دی چي د غصې په وخت ځان کابو کړي.

**٢٦٨- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «سَيُصِيبُ أُمَّتِي دَاءُ الأُمَمِ» فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا دَاءُ الأُمَمِ؟ قَالَ: «الأَشَرُ وَالْبَطَرُ وَالتَّكَاثُرُ وَالتَّنَاجُشُ فِي الدُّنْيَا وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ حَتَّى يَكُونَ الْبَغْيُ» (رواه الحاكم في المستدرك)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي هغه وفرمايل: زما امت ته به د تېرو امتونو رنځ ورسېږي، پوښتنه وشوه د تېرو امتونو رنځ څه وو اې د الله رسوله؟ ده وفرمايل: په دنيا نه مړښت، تکبر او غرور، د دنيا ډېرول، په اخيستلو او پلورلو کي دبل چا د توکي بيه لوړول، يو او بل بد ايسول، کينه کول، ترڅو يو په بل تېری وشي .

**٢٦٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ القِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ فِي الدُّنْيَا**

**يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ فِي الدُّنْيَا سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَاللَّهُ فِي عَوْنِ العَبْدِ مَا كَانَ العَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ» (رواه الترمذي)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچي له يو مسمان څخه ددنيا يوه پرېشاني لېري کړه الله تبارک وتعالی به له هغه څخه د آخرت يوه پرېشاني لېري کړي، اوڅوک چي په يوه مسلمان پرده واچوي الله تبارک وتعالی به يي په دنبا او آخرت کي پرده وساتي، اوڅوک چي په يوه تنګ لاسي انسان آساني جوړه کړي الله تبارک وتعالی به يی په دنيا او آخرت کي آسانتيا په برخه کړي، او الله تبارک وتعالی تر هغه وخته پوري د بنده مرسته کوي ترکومه چي هغه د خپل ورور په مرسته کي لګياوي .

**٢٧٠- عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ إِلَّا قَالَ: " لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ " (رواه أحمد)**

انس رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ به مونږ ته په زياترو خطبو کي داسې فرمايل: د هغه چا ايمان نشته  څوك چي امانت نه ساتي او د هغه چا دين نشته څوك چي وعده نه پالي.

**٢٧١- عَنْ أَبِي حَاتِمٍ الْمُزَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ، إِلاَّ تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَإِنْ كَانَ فِيهِ؟ قَالَ: إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. (رواه الترمذي)**

ابوحاتم المزني رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي تاسې ته داسي څوک راشي چي د تاسې د هغه ديانت او اخلاق خوښ شي نو ښځه ورپه نکاح کوئ که تاسې داسې ونکړئ نو په زمکه کي به فتنه جوړه شي او فساد به خپور شي دوی پوښتنه ترې وکړه ولو که پکي کوم بل عيب وي ؟ ده ﷺ بيا درې ځلي وفرمايل: کله چي تاسې ته داسي څوک راشي چي د تاسې د هغه ديانت او اخلاق خوښ شي نو ښځه ورپه نکاح کوئ.

**٢٧٢- عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مَؤُونَةً» (رواه أحمد)**

عایشه ﷞ وایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : بېشکه هغه نکاح کي ډېره برکتمنه وي چي د هغې څور کم وي.

**٢٧٣- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ وَقَفَ عَلَى نَاسٍ جُلُوسٍ، فَقَالَ: أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ؟ قَالَ: فَسَكَتُوا، فَقَالَ ذَلِكَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ رَجُلٌ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا، قَالَ: خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ، وَشَرُّكُمْ مَنْ لاَ يُرْجَى خَيْرُهُ وَلاَ يُؤْمَنُ شَرُّهُ. (رواه الترمذي)**

ابوهریره ﷛ وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم یوې ډلي کسانوته چي هغوی ناست وو ودرېدو او وې فرمایل : آیا زه تاسې ته په تاسې کي ښه او بد در وښیم ؟ هغه کسان چوپ پاته شول رسول الله ﷺ درې ځلي دا پوښتنه غبرګه کړه یوه سړي په ځواب کي ورته وویل: هو یا رسول الله دا چي په مونږ کي څوک ښه او بد را وښیه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسې کي ښه هغه څوک دی چي د خیر تمه ورته کېږي او له شر څخه یې ځان ساتل کېږي او په تاسې کي بد هغه څوک دی چي نه د خیر تمه ځیني کېږي او نه یې له شر څخه څوک په امن کي وي .

**٢٧٤- عَنْ عَائِشَةَ ﷞ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي، وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ» (رواه الترمذي)**

عائشه ﷞ وایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسې کي غوره هغه څوک دی چي له خپل کور والو سره ښه وي او زه په تاسې کي د کور له والو سره ډېر ښه یم او کله چي مو کوم ملګری مړ شي نو پرېږدئ یي (بد مه پکي وایاست).

**٢٧٥- عَنْ عَائِشَةَ ﷞ قَالَتْ: اسْتَأْذَنَ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَقَالَ: «ائْذَنُوا لَهُ، بِئْسَ أَخُو العَشِيرَةِ، أَوِ ابْنُ العَشِيرَةِ» فَلَمَّا دَخَلَ أَلاَنَ لَهُ الكَلاَمَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ،**

**قُلْتَ الَّذِي قُلْتَ، ثُمَّ أَلَنْتَ لَهُ الكَلاَمَ؟ قَالَ: «أَيْ عَائِشَةُ، إِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ، أَوْ وَدَعَهُ النَّاسُ، اتِّقَاءَ فُحْشِهِ» (رواه البخاري)**

عائشه ﷺ وايي چي له رسول الله ﷺ سره يوه سړي د مخامخ کېدلو اجازه وغوښتله رسول الله ﷺ وفرمايل: دا سړی د خاندان بد ورور يا بد زوی دی، خو کله چي هغه سړی را دننه شو رسول الله ﷺ ورسره خبري نرمي کړې، عائشه ﷺ وايي: ما پوښتنه تري وکړه چي مخکي دي څه په کي وويل او بيا دي خبري ورسره نرمي کړې؟ ده ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په وړاندي تر ټولو بدترين انسان هغه څوک دی چي خلګ يې له پوچ ويلو څخه د ځان ساتني له وجهي پرېږدي .

**٢٧٦- عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ ﷺ أن رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ: لاَ تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ القِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلاَهُ. (رواه الترمذي)**

أبو برزة الأسلمي ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان پښې به د قيامت په ورځ تر هغه وخته له ځايه ونه ښوري ترڅو چي يي دا پوښتني نه وي ځواب کړي: عمر يي په څه کي تېر کړ، او په علم يي څه وکړل، او شتمني يي له کومه تر لاسه کړه او په څه کې ولګوله، او بدن يي په څه کي بوډا کړ.

**٢٧٧- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَا مِنْ رَجُلٍ لَهُ مَالٌ لاَ يُؤَدِّي حَقَّ مَالِهِ إِلاَّ جُعِلَ لَهُ طَوْقًا فِي عُنُقِهِ، شُجَاعٌ أَقْرَعُ وَهُوَ يَفِرُّ مِنْهُ وَهُوَ يَتْبَعُهُ»، ثُمَّ قَرَأَ مِصْدَاقَهُ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) (رواه النسائي)**

عبد الله ابن مسعود ﷺ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي شتمني ولري او حق يي نه ادا کوي الله ﷻ به يي خپله شتمني په غاړه کي د يوه داسې نر ښامار زېندۍ جوړه کړي

چي کوپړۍ به یي له زهرو ډکه وي دی به ورځخه تښتي او دا ښامار به ورپسي ځغلي او بیا یي د دې خبري په پخلي کي دا آیت تلاوت کړ.

**﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾**

او چاته چې الله ﷻ له خپله فضله څه ورکړي وي او دوی بخل پرې کوي، هیڅکله دې دا ګومان نه کوي چې هغه به یې په خیر وي، بلکې هغه ورته شر دی ، ژر دی چې د قیامت په ورځ به یې هغه څه د غاړې امېل شي چې بخل یي پرې کاوه، او د اسمانو او ځمکې میراث الله ﷻ لره دی او الله ﷻ په هغه څه ښه خبر دی چې تاسې یې کوئ .

**٢٧٨- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «خَمْسٌ بِخَمْسٍ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا خَمْسٌ بِخَمْسٍ؟ قَالَ: «مَا نَقَضَ قَوْمٌ الْعَهْدَ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوُّهُمْ، وَمَا حَكَمُوا بِغَيْرِ مَا أَنْزَلَ اللهُ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الْفَقْرُ، وَلَا ظَهَرَتْ فِيهِمُ الْفَاحِشَةُ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الْمَوْتُ، وَلَا طَفَّفُوا الْمِكْيَالَ إِلَّا مُنِعُوا النَّبَاتَ وَأُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَلَا مَنَعُوا الزَّكَاةَ إِلَّا حُبِسَ عَنْهُمُ الْقَطْرُ» (المعجم الكبير للطبراني)**

ابن عباس رضي الله عنهما وايي رسول الله ﷺ وفرمایل: پنځه شیان په پنځو شیانو پوري تړلي دي ، اصحابو پوښتنه وکړه چي دا پنځه شیان په پنځو پوري څه دي؟ ده ﷺ وفرمایل: کوم قوم چي تړونونه ماتوي الله ﷻ دښمن وربانديې مسلط کړي، څوک چي د الله ﷻ په قانون پرېکړي نکوي نېستي پکي تیته کړي، په چا کي چي فحاشي ویره شي مرګونه پکي ډېر شي، څوک چي په تول کي خیانت پیل کړي وچکالي او قحط وربانديې راځي، څوک چي زکات ایسار کړي بارانونه وربانديې بند شي.

**٢٧٩- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ «إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ مِنْ تِلْقَاءِ وَجْهِهِ، وَلَكِنْ مِنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ، أَوِ الْأَيْسَرِ، وَيَقُولُ السَّلَامُ**

**عَلَيْكُمْ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ» وَذَلِكَ أَنَّ الدُّورَ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا يَوْمَئِذٍ سُتُورٌ (رواه أبوداود)**

عبد الله ابن بُسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ چي به کله د چا دروازې ته ورغی نو د دروازې مخي ته نه درېدو، ښي یا کیڼ اړخ ته به ودرېدو او ور غږ به یي کړل: السلام علیکم السلام علیکم، دا ځکه چي هغه وخت په کورونو پردې نه وې را ځوړندي.

**٢٨٠- عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلاً اطَّلَعَ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْ جُحْرٍ فِي حُجْرَةِ النَّبِيِّ ﷺ وَمَعَ النَّبِيِّ ﷺ مِدْرَاةٌ يَحُكُّ بِهَا رَأْسَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ تَنْظُرُ لَطَعَنْتُ بِهَا فِي عَيْنِكَ، إِنَّمَا جُعِلَ الاِسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ (رواه البخاري والترمذي)**

سهل ابن سعد الساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: یوه سړي تر یوه سوري د رسول الله ﷺ حجرې ته ورکتل او له رسول الله ﷺ سره ږمونځي ته ورته لرګی وو چي سر یي ورباندي ګرولو، رسول الله ﷺ ورته وویل: که ما ته پته وای چي ته را ګورې په دې لرګي به مي په سترګه کي وهلی وای، اجازه اخیستل خو خاص د سترګو له وجهي فرض ګرځول شوي ده.

**٢٨١- عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، صُبَّ فِي أُذُنِهِ الآنُكُ» (رواه الطبراني وغيره)**

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د چا په ناخوښي د هغوی خبرو ته غوږ نیسي د قیامت په ورځ به یي سیکه په غوږونو کي ور څڅوله کېږي.

**٢٨٢- عن النُّعْمَانِ بْنَ بَشِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: " أَلاَ وَإِنَّ فِي الجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الجَسَدُ كُلُّهُ، أَلاَ وَهِيَ القَلْبُ " (رواه البخاري ومسلم)**

نعمان بن بشیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسې دي خبر یاست چي په بدن کي د غوښي یوه ټوټه ده که هغه روغه شي ټول بدن ورسره سمبړي او که هغه خرابه شي ټول بدن ورسره خرابیږي تاسې دي خبر یاست چي هغه د غوښي ټوټه زړه دی.

**٢٨٣- عَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ أَبِيهِ ﵄ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ يَقْرَأُ: أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ، قَالَ: " يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي، مَالِي، قَالَ: وَهَلْ لَكَ، يَا ابْنَ آدَمَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ، أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ، أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ؟ " (رواه مسلم)**

مطرف ﵁ د خپل پلار له خولې نقل کوي چي رسول الله ﷺ ته راغلم هغه "ألهاكم التكاثر" تلاوت کړ او بيا يي وفرمايل: بنيادم وايي: زما شتمني او زما شتمني، بيا يي وفرمايل: اې بنيادمه آيا ستاشتمني هغه نه ده چي و دي خوړل او ضايع دي کړل يا دي واغوستل او زاړه دي کړل او يا دي خيرات کړل او د اخرت لپاره دي ذخيره کړل.

**٢٨٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁ قَالَ: قَالَ رسولُ لله ﷺ : يَتَقَارَبُ الزَّمانُ ويَنْقُصُ العَمَلُ ويُلْقَى الشُّحُّ ويَكْثرُ الهَرْجُ قَالُوا: وَمَا الهَرْجُ؟ قَالَ: القَتْلُ القَتْلُ. (رواه البخاري ومسلم)**

أبوهريره ﵁ وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: عمرونه به لنډ شي، او نېک عملونه به کم شي ، او له حرص سره بخيلتوب به په زړونو کي ځای ونيسي، او هرج به زيات شي ، اصحابو پوښتنه وکړه چي هرج څه شی دی؟ ده ﷺ وفرمايل: قتلول او وژل دی.

**٢٨٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﵁عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ كانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خيرًا أَوْ لِيصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ» (رواه مسلم)**

أبوهريره ﵁ وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: که خوک په الله ﷻ او د اخرت په ورځ ايمان لري نو ښه خبره دي کوي او يا دي چوپ اوسي، او که خوک په الله ﷻ او د اخرت په ورځ ايمان لري نو د خپل ګاونډي دي نازوي، او که خوک په الله ﷻ او د اخرت په ورځ ايمان لري نو خپل مېلمه دي نازوي.

**٢٨٦- عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ ﵁ قَالَ: قَالَ النَّبِيِّ ﷺ : «إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ» (رواه النسائي)**

أبوأمامه الباهلي رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: بيشكه الله تبارك وتعالی يواځې هغه نېک عمل قبلوي کوم چې سوچه وي او د الله تبارك وتعالی رضا پرې غوښتله شوي وي.

**٢٨٧- عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ اليَمَانِ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلاَ يُسْتَجَابُ لَكُمْ. (رواه الترمذي)**

حذيفه ابن اليمان رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما ساه دهغه په واک کې ده يا خو به تاسې هرو مرو يو او بل ته د نېکو کارونو د سرته رسولو حکم کوئ او له بدو کارونو به يې را ګرځوئ او يا خو به په لنډ وخت کې الله تبارك وتعالی خپل عذاب درته راولېږي بيا به تاسې هغه ته خواستونه کوئ خو هغه به يې نه مني.

**٢٨٨- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ، إِلَّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ» (رواه مسلم)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: له خيرات ور کولو څخه شتمني نه کمېږي، او په بښنه کولو الله تبارك وتعالی د بنده عزت زياتوي، او څوک چې دالله تبارك وتعالی لپاره خاکساري وکړي الله تبارك وتعالی يې قدر او درجې لوړوي.

**٢٨٩- عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا، وَأَنْ نَلْبَسَ الْحَرِيرَ وَالدِّيبَاجَ» ، وَقَالَ: «هِيَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَكُمْ فِي الْآخِرَةِ» (رواه أحمد)**

حذيفه رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ مونږ له دې منع کړي يو چې د سرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراک او څښاک وکړو او يا خالص او نا خالص ورېښم واغوندو او وې فرمايل: چې دا شيان په دنيا کې د دوی لپاره دي او په اخرت کې ستاسې لپاره دي.

**٢٩٠- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «مَنْ عَالَ ثَلَاثَةً مِنَ الْأَيْتَامِ كَانَ كَمَنْ قَامَ لَيْلَهُ وَصَامَ نَهَارَهُ، وَغَدَا وَرَاحَ شَاهِرًا سَيْفَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ،**

**وكُنْتُ أَنَا وَهُوَ فِي الْجَنَّةِ أَخَوَيْنِ كَهَاتَيْنِ أُخْتَانِ» وَأَلْصَقَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى "(رواه ابن ماجة)**

عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما وايي : رسول الله عليه السلام وفرمايل: چا چي درې يتيمان وپالل د هغه چا اجر او ثواب يي دی چي شپه او ورځ په عبادت بوخت وي او سهار او مابنام د الله تبارك وتعالى په لار كي په توره جهاد كوي او زه او هغه كس به په جنت كي داسې سره يو ځای يو او منځنی او سبابه ګوتي يي داسي جوختي ونيولې.

**٢٩١- عَنْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ عليه السلام : وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ رَجُلًا قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ عَاشَ، ثُمَّ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ عَاشَ، ثُمَّ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ عَاشَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ مَا دَخَلَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَقْضِيَ دَيْنَهُ» (رواه أحمد)**

محمد بن عبد الله بن جحش رضي الله عنه وايي : رسول الله عليه السلام وفرمايل: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما ساه د هغه په واک كي ده كه يو سړی د الله تبارك وتعالى په لار كي ووژل شي او بيا را ژوندی شي او بيا د الله تبارك وتعالى په لار كي ووژل شي او بيا را ژوندی شي د الله تبارك وتعالى په لار كي ووژل شي او بيا را ژوندی شي خر تر هغه وخته به جنت ته داخل نشي تر څو چي يي پور ادا كړی نه وي.

**٢٩٢- عن حُذَيْفَةَ قَالَ قال سمعت رَسُولَ اللَّهِ عليه السلام يقول : تُعْرَضُ الْفِتَنُ على الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فيه نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فيه نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ (صحيح مسلم)**

حذيفه رضي الله عنه وايي: چي ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل هغه وفرمايل : فتنې داسي په زړونو پوري نښلي لكه پوزی چي د خوب په حالت كي د انسان په بدن كي تكرار شوي نښي جوړي كړي نو هرزړه چي دا فتنې په مينه وريربردي تور ټكی پكي جوړ شي او هرزړه چي يي له منلو څخه انكار وكړي يوسپين ټكی پكي جوړ شي .

٢٩٣- عَنِ الْعِرْبَاض بْنَ سَارِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : "عَلَيْكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ عَبْدًا حَبَشِيًّا وَسَتَرَوْنَ مِنْ بَعْدِي اخْتِلَافًا شَدِيدًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَالْأُمُورَ الْمُحْدَثَاتِ فَإِنَّ كُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ" (رواه بن ماجة)

عرباض بن ساريه رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې له الله تبارك وتعالى څخه وېره خپله کړئ او ورته غوږشئ او ويي منئ ولو که يو حبشی غلام دربانديې واکمن شي، او تاسې به زما له مړېني وروسته سخت اختلافونه ووينئ نو په هماغه وخت کي تاسې زما په سنتونو او زما د راشدينو او په سمه لاره تلونکيو خلفاوو تګلاره ونيسئ غاښونه وربانديې ټينګ کړئ او په دين کي له نويو چارو ځانونه وساتئ ځکه چي هر بدعت ګمراهي ده.

٢٩٤- عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : " يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَيَشِبُّ مِنْهُ اثْنَتَانِ: الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ " (رواه الترمذي وابن ماجة)

أنس رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: بنيادم زړېږی خو دوه خويونه پکي ځوانېږي په شتمني نه مړېنت او په عمر نه مړېنت .

٢٩٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ» (رواه مسلم)

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو چي ايمانداره نشئ تاسې به جنت ته داخل نشئ او هغه وخت به د ايمان لرونکي شئ کله چي يو له بل سره مينه وکړئ ، آيا زه هغه څه تاسي ته ونښيم چي که يي تاسې وکړئ خپل منځي مينه به مو وربانديې زياته شي؟ پخپل منځ کي يو بل ته سلام اچوئ.

٢٩٦- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللهِ عَوْنُهُمْ: الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الأَدَاءَ، وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ العَفَافَ»

**(رواه الترمذي)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: د دريو كسانو مرسته په الله تبارك وتعالى باندي حق ده، څوک چي د الله تبارك وتعالى په لار كي جهاد كوي، او هغه غلام چي ځان له مالكه د پيسو په بدل كي خلاصوي، او هغه نكاح كوونكى چي له حرامو څخه د ځان ساتنه غواړي.

**٢٩٧- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ» (رواه مسلم)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان نارينه دي مسلمانه مېرمن بده نه ايسوي كه يي د هغې يو خوى خوښ نشي بل خوى به يي ضرور خوښ شي.

**٢٩٨- عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ رضي الله عنه عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟، قَالَ: «أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلَا تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ»، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: " وَلَا تُقَبِّحْ أَنْ تَقُولَ: قَبَّحَكِ اللَّهُ " (رواه أبوداود)**

حكيم بن معاويه وايي پلار مي راته وويل چي له رسول الله ﷺ څخه مي پوښتنه وكړه : اې د الله رسوله د يوه سړي د ښځي په خپل مېړه باندي څه حقوق دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: چي كله ته څه خوري نو ښځي ته هم هغه خواړه وركوه اوچي ته څه اغوندې نو ښځي ته هم هماغه ډول جامې د اغوستلو لپاره وركوه او په مخ يي مه وهه او د بدو ښېرا مه ورته كوه او له كوره د باندي مه ورڅخه مره وركېږه . أبوداود وايي د بدو ښېرا دا ده چي ورته ووايې : د الله تبارك وتعالى بده وايسې.

**٢٩٩- عَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " مَثَلُ الجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ، كَحَامِلِ المِسْكِ وَنَافِخِ الكِيرِ، فَحَامِلُ المِسْكِ: إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً، وَنَافِخُ الكِيرِ: إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً " (رواه البخاری ومسلم)**

أبو موسى رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل : د نېک اوبدملګري مثال داسي دی لکه د عطار او تېتار (پښ) ، عطر خرڅوونکی خو به يا څه عطر در ولګوي، او ياخو به يې په بيه ځيني واخلې او يا به يې خوشبويي درشي او تېتار خو به يا جامې در وسوځوي او يا خو به په ناولي بوی مزاج در خړپړ کړي.

**٣٠٠- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: "سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: الإِمَامُ العَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي المَسَاجِدِ، وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ، أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ " (رواه البخاري ومسلم)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: اُوه کسان دي چې الله تبارک وتعالی به يې په هغه ورځ د خپل رحمت په سيوري کي وساتي په کومه ورځ چې به د هغه له سيوري څخه پرته بل سيوری نه وي : عدل کوونکی واکمن (پادشاه) او هغه ځوان چې د الله تبارک وتعالی په عبادت او بندګي کي ستر شوی وي او هغه سړی چې زړه يې په مسجدونو پوري ځوړند وي او هغه دوه ملګري چې د الله تبارک وتعالی په مينه سره يوځای شوي وي او په هغې سره بېل شي او هغه نارينه چې د ښايست او منصب لرونکيه ښځه يې د بد کاري لپاره ور وبولي او دی انکار وکړي او ووايي چې زه له الله تبارک وتعالی څخه وېرېږم او هغه سړی چې خپل خيرات په داسې پټ شکل ورکړي چې کيڼ لاس يې په ښي لاس خبر نشي او بل هغه سړی چې په تنهايي کي الله تبارک وتعالی وريه ياد شي او له سترګو څخه يې اوښکي تويي شي .

**٣٠١- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِك رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ: "مَا مِنْ قَوْمٍ اجْتَمَعُوا يَذْكُرُونَ اللَّهَ، لَا يُرِيدُونَ بِذَلِكَ إِلَّا وَجْهَهُ، إِلَّا نَادَاهُمْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: أَنْ قُومُوا مَغْفُورًا لَكُمْ، قَدْ بُدِّلَتْ سَيِّئَاتُكُمْ حَسَنَاتٍ " (رواه أحمد في المسند)**

أنس رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي يوه ډله مسلمانان د الله تبارك وتعالى د يادولو په موخه سره راغونډ شي او دالله تبارك وتعالى خوشاله كول غواړي يو اواز كوونكى ورته اواز كړي پاڅئ ستاسې ګناهونه ټول وبښل شول او ستاسې ګناهونه په نېكيو بدل شول.

**٣٠٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ، قَالَ: " يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ: مَلاَئِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةٌ بِالنَّهَارِ، وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلاَةِ العَصْرِ وَصَلاَةِ الفَجْرِ، ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ، فَيَقُولُ: كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ (رواه البخاري ومسلم)**

أبوهريره رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې ته ، د ورځې پرښتې او د شپې پرښتې، په نوبت راځي او دمازديګر او د سهار په په لمانځه كي سره يو ځاى كيږي، كومو پرښتو چي شپه تېره كړي وي هغوى آسمان ته خېژي بيا الله تبارك وتعالى په داسې حال كي چي ستاسې په هر څه علم لري له دوى پوښتنه وكړي زما بندګان مو په څه حالت كي پرېښودل ؟ دوى ورته وايي: چي كله مونږ ورتلو هم هغوى په لمانځه ولاړ وو او چي كله ترې راتلو هم هغوى په لمانځه ولاړ وو .

**٣٠٣- عَنِ الأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: ذَهَبْتُ لِأَنْصُرَ هَذَا الرَّجُلَ، فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ فَقَالَ أَيْنَ تُرِيدُ؟ قُلْتُ: أَنْصُرُ هَذَا الرَّجُلَ، قَالَ: ارْجِعْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِ إِذَا التَقَى المُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالقَاتِلُ وَالمَقْتُولُ فِي النَّارِ»، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا القَاتِلُ فَمَا بَالُ المَقْتُولِ قَالَ: «إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ» (رواه البخارى)**

أحنف بن قيس رضي الله عنه وايي زه تلم چي د دې سړي علي رضي الله عنه مرسته وكړم أبوبكرة رضي الله عنه په مخه راغى ، پوښتنه يي وكړه : چېرته ځې؟ ما وېل: د دې سړي علي رضي الله عنه مرستي ته ورځم ده راته وويل : بېرته وګرځه ما له رسول الله ﷺ څخه آورېدلي دي چي هغه فرمايي: كله چي دوه مسلمانان يو د بل په وړاندې توري واخلي نو وژونكى او وژل شوى به دواړه په جهنم كي

وي، ما پوښتنه ترې وکړه : اې د الله رسوله قاتل خو به په دوزخ کي وي دا مقتول به ولي په دوزخ کي وي؟ ده راته وفرمايل: ځکه چي هغه هم دده د قتل هڅه کوله.

**٣٠٤- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَتْلُ مُؤْمِنٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ زَوَالِ الدُّنْيَا» (رواه النسائي والبيهقي في شعب الإيمان)**

عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وايي رسول الله رضي الله عنه وفرمايل: زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما ساه د هغه په واک کي ده د يوه مسلمان په ناحقه وژل د الله تعالى په نزد د ټولي دنيا تر ورانولو ستر او غټ جرم دی.

**٣٠٥- عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِثَلَاثٍ: أَنْ يَزْنِيَ بَعْدَمَا أُحْصِنَ، أَوْ يَقْتُلَ إِنْسَانًا فَيُقْتَلَ، أَوْ يَكْفُرَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ فَيُقْتَلَ " (رواه النسائي)**

عثمان بن عفان رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له دريو حالتونو پرته د مسلمان وينه تويول په بل هيڅ حالت کي نه ده روا لومړی هغه انسان چي واده ولري او زنا وکړي دوهم داچي کوم بل انسان په ناحقه ووژني او دريیم داچي  بېرته له اسلام څخه کفر ته واوړي .

محدثين او فقهاء وايي چي پدې دريو حالتونو کي هم يواځي مسلمان پاچا اودهغه شرعي قاضي د قتل دحکم د تنفيذ حق لري نور يي چا ته په خپل سر د سرته رسولو اجازت نشته.

**٣٠٦- عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: - «إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ، وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ، وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ، كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ، صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ، فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ». (رواه مسلم)**

نعمان بن بشير رضي الله عنه وايي: له رسول الله ﷺ څخه مي واورېدل : هغه وفرمايل: حلال کارونه څرګند دي او حرام کارونه څرګند دي او په منځ کې شکمن کارونه دي چي ډېر خلګ يي نه پېژني نو چا چي له شکمنو کارونو ځان وساتو خپل دين او عزت يي وساتو او که څوک په شکمنو کارونو بوخت شو په حرامو کي ولوېدو، لکه شپون چي د کروندې په خواوشا کي رمه پيايي نژدې وي چي رمه په کرونده ورګډه شي، هر پاچا يو حريم لري او د الله تعالی حريم د هغه حرام ګرځول شي کارونه دي، تاسي دي خبر ياست، چي په بدن کي يوه ټوټه غوښه ده که هغه روغه شي ټول بدن ورسره روغېږي او که خرابه شي ټول بدن ورسره خرابيږي او هغه ټوټه غوښه زړه ده.

**٣٠٧- عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ يَقُولُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ جَاءَ يَعْبُدُ اللهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ كَانَ لَهُ الْجَنَّةُ» فَسَأَلُوهُ عَنْ الْكَبَائِرِ، فَقَالَ: «الْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الْمُسْلِمَةِ، وَالْفِرَارُ يَوْمَ الزَّحْفِ» (رواه النسائي)**

أبو أيوب الأنصاري رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي پداسې حال کي راشي چي له الله تعالی سره يي شريک نه وي نيولي او لمونځ يي درولی وي ، زکات يي ورکړی وي او له کبيره ګناهونو يي ځان ساتلی وي جنت ورته واجب دی، چا د کبيره ګناهونو پوښتنه ترې وکړه ده وفرمايل: له الله تعالی سره شريک نيول، په ناحقه ديوه مسلمان وژل، او له کافرانو سره د جګړې له ډګره تېښته کول.

## ديني ليکني

### په قرآن کريم کي د کلماتو معجزه

ځېني توري چي په ټاکلي شمېر تکرار شوي دي:

دنيا – (الدنيا) ١١٥ ځله        آخرت – (الآخرة) ١١٥ ځله

ملائکه – (الملائکة) ۸۸ ځله          شیطانان – (الشیاطین) ۸۸ ځله

محمد – ۴ ځله          شریعت (شریعة) ۴ ځله

خلګ (الناس) ۵۰ ځله          انبیاء (الأنبیاء) ۵۰ ځله

سمون (صلاح) ۵۰ ځله          پسات (فساد) ۵۰ ځله

ابلیس ۱۱ ځله          پناه ورڅخه غوښتل- ۱۱ ځله

نارینه (رجل) ۲۴ ځله          ښځه (امرأة) ۲۴ ځله

ژوند (الحیاة) ۱۴۵ ځله          مرګ (الموت) ۱۴۵ ځله

نېکیوي (الصالحات) ۱٦۷ ځله          ګناهونه (السیئات) ۱٦۷ ځله

مصیبت (المصیبة) ۷۵ ځله          شکر (الشکر) ۷۵ ځله

هدایت (الهدی) ۷۹ ځله          رحمت (الرحمة) ۷۹ ځله

اوس ځینې توري او دهغو ضد (مقابل) توري وګورئ دغه شمېرني دا حقیقت جوته کوي چي قرآنکریم د الله تعالی کلام دی.

جزاء (بدل) ۱۱۷ ځله          او ښښنه (المغفرة) ۲۳۴ ځله

دوه ګونه ځکه دی چي د الله تعالی رحمت او ښښنه دهرشي لپاره پراخ دی

تنګي (العسر) - ۱۲          ځله آسانتیا (الیسر) – ۳٦ ځله

آسانتیا په تنګي ځکه درې ګونه زیاته ده چي په هري تنګي دوه اسانتیاوي برلاسي کېږي.

- ځېني نوري مهمي شمېرني وګورئ:

دلمانزه (الصلاة) توری ۵ ځله          لمونزونه (الصلوات) توری ۵ ځله په ورځ کي

د ورځ (یوم) توری ۳٦۵ ځله          او په کال کي ۳٦۵ ورځي دي

په قرآنکریم کي نوري الهي معجزې وګورئ:

د زمکي (أرض) توری ۱۳ ځله          او سمندر (بحر) توری ۳۲ ځله

که مونږ ددې شمېرني فیصدي نسبت راوباسو نو د (بحر) سمندر د توري تکرار ۷۱٪

رابښيي او د زمکي (أرض) ۲۹٪ رابښيي چي فعلاً پدې ستورتلېزه دسمندر او وچې زمکي همدا فيصدي علمي څېړنو هم جوته کړي ده.

اې زمونږ ربه ستا څومره لوړ شان دی.

**د ليلة القدر په هکله نوي علمي معلومات :**

علمې څېړنو جوته کړي چي هره شپه له اسمانه د زمکي په لور له ۱۰۰۰۰ څخه نېولي تر ۲۰۰۰۰ پوري د ستوريو ړزي کېږي خو د ليلة القدر په شپه يو ستوري هم وېشتل نکوي.

د امرېکا د علمي څېړنو مرکز ناسا دا علمي حقيقت لس کاله مخکي کشف کړی خو د ځېنو وجوهاتو په اساس يې پټ ساتلی هغوی وايي چي درمضان په وروستيو لسو شپو کي يوه شپه داسي ده چي ستوري پکي د زمکي په لور وېشتل نکوي.

دا خبره په مصر کي د هيئة الإعجاز العلمي للقرآن والسنة د علمي ټولني مشر دکتور عبد الباسط محمد السيد په يوه مرکه کي کړي چي په ۲۰۱۲ م کي د الجزائر په يوې ورځپاني "جريدة الشروق الجزائرية" کي خپره شوي هغه وايي:

ناسا د ليلة القدر ځېني حيرانوونکي حقائق معلوم کړي خو له خلکو يې ځکه پټ ساتلي دي چي بيا به نړی ټوله مسلمانه شي. کارنار د فضايي څېړنو يو ستر عالم دی، هغه چي کله د فضا په هکله معلومات را ټولول نور يې ونشوای کړای چي ځان په واک وساتي او په ډاګه يې کړه چي اسلام حق دين دی کله چي هغه ته جوته شوه چي د زمکي د فضايي پوښ کوني وړانګي تر اټومي وړانګو ډېري خطرناکي دي او فضا ته توغول شوي توغندويونه نشي کولای دا پوښ څيري کړي ځکه چي سوځل کېږي.

د زمکي پدې غلاف کي يوه دروازه يا کړکېن کشف شوي او (وان ألان) نومول شوي کارنار وايي چي دا کوم نوی انکشاف ندی ځکه چي دا دروازه لا مخکي د مسلمانانو په کتاب قرآنکريم کي ياده شوي الله تعالی فرمايي:

**(وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَاباً مِنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ، لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا**

**بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَسْحُورُونَ)**

او که پر هغوی مو د آسمان کومه دروازه پرانستی وای نو (ټوله ورځ) به په هغې کې ورختلای او خامخا به یې ویل چې یقیناً زموږ سترګې تړل شوې دي، بلکی موږ داسې خلک یو چې کوډې راباندې شوې دي.

هغه سمدلاسه په ناسا کي خپله دنده له لاسه ورکوي او د اسلام په دین مشرف کیږي، کارنر نور په اسلام کي خپلو علمي څیړنو ته دوام ورکوي، هغه د حجر اسد ښکلول او یا ورته اشاره کول څیړي، هغه وايي:

حجر اسود دا ځانګړتیا لري چي چا هم مخکي او اوس ښکول کړي او یا یې اشاره ورته کړي هغوی یي ټول ثبت کړي او لا یي هم ثبتوي. هغه د حجر اسود یوه ټوټه تحلیل کړي چي حجر اسود په هر لوري د لنډو څپو ٢٠ پټي وړانګي چي نه لیدلي کیږي لیږي او هره وړانګه له لس زرو (١٠٠٠٠) کسانو څخه لاره باسي، د کارنر دڅیړني حقیقت امام شافعي رحمه الله هم ذکر کړی وایي:

"هرڅوک چي مکې مکرمې ته د حج او یا عمرې لپاره ورشي حجر اسود یې یو ځل نوم ثبتوي او بیا چي هر څومره زیات حجونه عمرې او یا طوافونه کوي د هغو د شمېر په اندازه یې له نوم سره نښي ثبتوي ".

عبادة بن الصامت رضي الله عنه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

**"إِنَّهَا صَافِيَةٌ بَلْجَةٌ كَأَنَّ فِيهَا قَمَرًا سَاطِعًا ، سَاكِنَةٌ صَاحِيَةٌ لَا حَرَّ فِيهَا وَلَا بَرْدَ ، وَلَا يَحِلُّ لِكَوْكَبٍ يُرْمَى بِهِ فِيهَا ، وَمِنْ أَمَارَاتِهَا أَنَّ الشَّمْسَ فِي صَبِيحَتِهَا تَخْرُجُ مُسْتَوِيَةً لَيْسَ لَهَا شُعَاعٌ مِثْلَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَلَا يَحِلُّ لِلشَّيْطَانِ أَنْ يَخْرُجَ مَعَهَا يَوْمَئِذٍ" .أخرجه أحمد (٥/ ٣٢٤)**

دلیلة القدر د شپې د پیژندلو نښه داده چي اسمان روڼ وي هوا خوږه وي لکه سپوږمی چي پکي بریښي، ډاډمنه او ارامه شپه وي، نه یخني وي پکي او نه تودوخي، هیڅ ستوري

ته د زمکي په لور د وېشتلو واک نه وي، سهار يې لمر دا سي را پورته کېږي لکه د ځوارلسم سپوږمۍ او وړانګي نلري، شيطان ته په همدغه ورځ د وتلو اجازه نه وي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعاً لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴾

بيشکه چاچي خپل دين ټوټه ټوټه کړ او بېلي بېلي ډلي او ګوندونه وګرځېدل ته اې محمده له دوی په هېڅ کي نه يې ددوی چاره يوازي الله ﷻ ته دی بيا به يې الله ﷻ هرو مرو په هغه څه خبر کړي چي دوی به په دنيا کي کول.

---

الله ﷻ فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ(۱۰۵) ﴾

اې دايمانو خاوندانو په تاسو د خپلو ځانونو سمول لازم دی که تاسو سمه لاره ونيسئ څوک چي بې لاري دي هغوی تاسي ته زيان نشي اړولای، ستاسو ټولو الله ﷻ ته ورتګ دی بيا به مو هغه به هر هغه څه خبر کړي چي تاسي به په دنيا کي کول.

نن مونږ لمونځونه کوو .. سبا به زمونږ لمونځ کېږي ..

دا ژوند په خپګان نه ارزي

ددنيا سرليک دی :

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾

په ځمکه مېشت انسانان به ټول پنا کېږي.

او د اخرت سرليک دی:

﴿خَالِدِينَ فِيهَا حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴾

تل به (مؤمنان) په جنت کي وي هغه ښه هستوګنځی او ټاټوبی دی.

نېک کارونه کوئ .. ښښنه کوئ توبې باسئ ..

امام ابن القیم رحمه الله وايي: که په کال کي یوه شپه لیلة القدر وای ما به هره شپه روڼولای لس شپې خو ډېره لږه موده ده.

---

د لیلة القدر په هکله الله تبارك وتعالى فرمايي:

﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾﴾

په همدغه مبارکه شپه کي هر حکمت لرونکی چاره بېلېږي.

زیاتره مفسرین په دې باور دي چي د الله تبارك وتعالى مقصود پدې آیت کي د لیلة القدر شپه ده چي پکي د انسان د راتلونکي کال د بریا او نا کامي، دنېکمرغي او بد مرغي، د رزق، دخوشالي او خپګان، دمرګ او ژوند همدا راز د انسان د ژوند اړوند پرېکړي کېږي.

---

**توجه مو غواړم :**

له الله تبارك وتعالى سره په خواله کي ته پخپلو غوښتنو کي ادبي توریو، فصاحت، بلاغت او لغت پراني ته اړتیا نلرې هغه ستا تر غوښتني مخکي ستا په اړتیا خبر دی. بنده په سجده کي تر بل هرحالت الله تبارك وتعالى ته نژدې وي او دعاګاني یې قبلوي که دي په عربي ژبه کي مسنونه دعاګاني زده نه وي د نفلي لمانځه په سجدو کي پخپله مورنۍ ژبه چي زړه دي وي هغه مشروع حاجت غوښتلای شې، الله تبارك وتعالى د زړونو مالک دی هغه په غوښتلو ډېر خوشاله کېږي خپل ټول حاجتونه په عاجزي ترې وغواړئ.

---

**ځومره ښه او ستر ځښښتن تعالی لرم**

ولي خپه شم په هره شېبه کې الله ﷻ د ژوند تنگي رانه لېرې کوي.
ولي خپه شم رزق مي ليکلی عمر مي گڼلی او مرگ به پخپله نېټه راته رسېږي.
ولي خپه شم په تېخوره ماشوم تر مور زړسواند رب لرم.
ولي خپه شم کله چې استغفار induction وايم د گناه د بښلو تر څنگ مي ستر رب روزي هم پراخوي او پرېشاني مي هم ختموي.
ولي خپه شم کله چې زما رب څه وغواړي د سترگو په رپ کې يې سرته رسوي
ولي خپه شم پخپل رب جل جلاله ټېنگ باور او ښه گمان لرم ځکه خو مي خوښي تل په پرېشاني زياته وي.
چي کله ورژېږم خپل رب ته په سجده شم او ورته وژاړم چې اې ربه ته مي ورغوې.
که کله ظلم راباندي وشي ورته په سجده شم چې اې عادله ذاته مرسته مي وکړې.
چي کله لاره رانه ورکه شي په سجده شم چې اې ربه لاره راته رڼا کړې.
چي کله اړ شم په سجده شم وايم: اې ربه اړتيا مي بشپړه کړې.
يواځې زما رب زما دبشپړې مېني وړتيا لري.
که دنيا راباندي تنګه شي الله ﷻ تر بل هرچا راته نژدې مومم او د هغه د رحمت غېږې ته پناه وړم. او په همدې توگه د ژوند ټرالۍ ته په بريا سره دکه ورکوم.

---

**داختر په قرباني کي کوم ټاکلی وېش نشته.**

دا ضروري نده چې درېيمه ونډه به يې مسلمان خيرات کوي، بلکي چې څومره يې خوښه وي هغومره دي خيرات کړي . الشيخ الألباني رحمه الله وايي : " له قرباني څخه يوه برخه خيراتول ښه کار دی ده خو دا ضروري نده چې درېيمه حصه به يې وي لکه ځېني کسان چي اټکل کوي .
د قرباني ددرېيمي حصې خيرات کول واجب نده تاسې کولای شئ ټول وخورئ يا ټول

ذخیره کړئ بلکه دا مستحب کار دی چې یوه ونډه یې خیرات کړئ یوه ونډه یې وخورئ او یوه ونډه یې ذخیره کړئ.

**د انسان په ژوند کې دوه ستر ارمانونه وي**

د پرېشانۍ ختمېدل او په اخرت کې د ګناهونو ښښل او دا دواړه په رسول الله ﷺ په درود ویلو ترسره کېږي.

---

که یو څوک له غصې او ژر خښمېدلو شکایت لري هغه دې خپل لمونځونه په پابندۍ سره کوي چې اعصاب یې کنټرول کړي ځکه چې الله تبارک وتعالی فرمایي :

**"إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعاً - إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعاً - وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعاً - إِلَّا الْمُصَلِّينَ"**

بېشکه انسان ځان خوښوونکی پیدا شوی چې کله پرېشانۍ ورته ورسېږي بې زغمه وېرېدونکی او شکایت کونکی شي او که خو شالي او خیر ورته ورسېږي هغه ځان ته ګرځوي او په بل یې نه پېرزو کېږي خو لمونځ کونکي هیڅ کله داسي ندي.

---

**په تجارت کې دبرکت دعا**

رسول الله ﷺ دوو صحابه وو ته دا دعا کړې :

**"اللهُمَّ بَارِكْ لَهُ فِي صَفْقَةِ يَمِينِهِ"**

١- عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه

٢- عروة بن أبي الجعد الباقري رضي الله عنه

عروة بن أبي الجعد رضي الله عنه وايي: د کوفې په بازارګې کې به مې د څلوېښتو زرو دېنارو ګټه مخکې له دې چې کورته لاړ شم په یوه ورځ کې کوله، وايي: که به مې خاورې خرڅې کړې هم ګټه مې پکې کوله. عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه چې کله وفات شو څلور مېرمنې یې وې

هري يوې ته څلور مليونه دېناره د مېراث په حصه کي ورسېدل، سره له دې چي د مېرمني ونډه اتمه ده. په دې سربېره هغه خپله زياته شتمني د الله ﷻ په لار کي لګولي وه تاسو څه فکر کوئ چي ټوله شتمني به يې څومره وه ؟

که تاسي ځان ته دعا کول وغواړئ نو داسي واياست:

**"اللهُمَّ بَارِكْ لِيَ فِي صَفْقَةِ يمَينِي"**

اې الله ﷻ زما د ښي لاس په سودا کي برکت واچوې.

او که بل مسلمان ته دعا کوئ داسي واياست:

**"اللهُمَّ بَارِكْ لَهُ فِي صَفْقَةِ يمَينِهِ"**

اې الله ﷻ ته يي د ښي لاس په کاروبار کي برکت واچوې.

(دا قصه امام احمد او سنن البيهقي او سنن الدارقطني نقل کړي)

---

**رسول الله د جګړي له نوم څخه کرکه کړي ده.**

رسول الله ﷺ فرمايي :

**«وَأَقْبَحُهَا حَرْبٌ» (رواه أحمد و أبوداود)**

الله ته تر ټولو کرکجن نوم "حرب" جګړه ده .

جګړه چي د مسلمانانو تر منځ وي د دارينو تباهي ده

---

**د أبودجانة رضي الله عنه اتلولي:**

کنيت يې أبو دجانة او نوم يې سماك بن خرشة له خپل انصاري قوم خزرج سره يې يو ځای اسلام منلی، رسول الله ﷺ د ده او عتبة بن غزوان رضي الله عنه تر منځ ورورولي جوړه کړي وه له رسول الله ﷺ سره د بدر په غزوه کي شريک وو په ١٢ هجري کال کي وفات شوی (رضي الله عنه وعن صحابة رسول الله ﷺ أجمعين) دلته به د هغه د ژوند يوه پېښه چي تاريخ

الطبري نقل کړي را واخلو.

**قَالَ الزبير: عرض رسول الله ﷺ سَيْفًا فِي يَدِهِ يَوْمَ أُحُدٍ، فَقَالَ: مَنْ يَأْخُذُ هَذَا السَّيْفَ بِحَقِّهِ؟ قَالَ: فَقُمْتُ فَقُلْتُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَأَعْرَضَ عَنِّي، ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَأْخُذُ هَذَا السَّيْفَ بِحَقِّهِ؟ فَقُمْتُ فَقُلْتُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَعْرَضَ عَنِّي، ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَأْخُذُ هَذَا السَّيْفَ بِحَقِّهِ؟ قَالَ: فَقَامَ أَبُو دُجَانَةَ سِمَاكُ بْنُ خَرَشَةَ، فَقَالَ: أَنَا آخِذُهُ بِحَقِّهِ، وَمَا حَقُّهُ؟**

زبير ابن العوام رضي الله عنه وايي د اُحُد په جګړه کي رسول الله ﷺ توره په لاس کي وړاندېز وکړ څوک دی چي د دې توري حق ادا کړي؟ زه پاڅېدلم ما وېل: زه اې د الله رسوله؛ خو توره يې را نکړه. بيا يې وفرمايل: څوک دی چي د دې توري حق ادا کړي؟ بيا زه پاڅېدلم ما وېل زه اې د الله رسوله عليه السلام خو بيا يې هم را نکړه. بيا يې وفرمايل: څوک دی چي د دې توري حق ادا کړي؟ أبو دجانة رضي الله عنه سماك بن خرشة پاڅېده وېل زه به يې حق پر ځای کړم يا رسول الله؛ خو د توري حق څه دی اې د الله رسوله؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

**" حَقُّهُ أَلا تَقْتُلَ بِهِ مُسْلِمًا، وَأَلا تَفِرَّ بِهِ عَنْ كَافِرٍ"**

مسلمان به نه پرې وژنې او له کافره به تښتې نه .

کله چي ابو دجانة رضي الله عنه توره واخيستله دنګه يې برېښنوله او د کفارو په صفونو کي په نخرو روان وو چي کوم کافر به يې مخي ته راتو د هغه سر يې غوڅولو، رسول الله ﷺ چي کله دهغه د نخرو او غرور تګ ولېد وې فرمايل:

**"إِنَّهَا لَمِشْيَةٌ يُبْغِضُهَا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلا فِي هَذَا الْمَوْطِنِ".**

له دې ډول تګ څخه الله تبارك وتعالى کرکه کوي خو په داسې ځای کي نه. ما وېل چي وګورم نور په مخ څه کوي ؟

ګورم چي ابودجانة رضي الله عنه د غره په سر کي د مشرکېنو مېرمنو ته ورسېده هغوی دريابونه وهل او يوې ښځي دا سندره ورسره زمزمه کوله :

نَحْنُ بَنَاتُ طَارِقْ إِنْ تُقْبِلُوا نُعَانِقْ
إِن تَقبَلوا نُعَانِق وَنَبْسُطُ النَّمَارِقْ
أَوْ تُدْبِرُوا نُفَارِقْ فِرَاقَ غَيْرِ وَامِقْ

مونږ د طارق لوڼي په ورېښمو تګ کوو که مخه ووهئ غېږې در کوو او ورېښم درته غوړوو اوکه په شا شئ داسې در نه بېلېږو چې بیا به مو کله هم ونه وینئ .

أبودجانة رضي الله عنه په سندرغاړي ښځه توره پورته کړه تر څو یې سر غوڅ کړي خو ویې نه وهله، کله چې جګړه پایته ورسېده، ما ترې تپوس وکړ چې هره مېړانه مي دي ولیده خو هغه ښځه دي ولي پرېښوده ؟

ده راته وویل:

**«أَكْرَمْتُ سَيْفَ رَسُولِ اللَّهِ أَنْ أَقْتُلَ بِهِ امْرَأَةً».**

والله چې ما د رسول الله ﷺ د توري درناوی وکړ، او دا یې سپکاوی راته ښکارېده چې یوه ښځه پرې ووژنم.

---

**یو پټ شوی حقیقت :**

د ربیع الأول دوولسم د هجرت یوولسم کال وو د ټول انسانیت غوره شخصیت د دوشنبې په ورځ له خپل رب سره وصل او له فاني نړۍ وکوچېده. د عبد الله زوی او د عبد المطلب لمسی د اسلام ستر لاربښود محمد ﷺ په همدغه ورځ له دنیا سترګي پټي کړې. په همدغه ورځ په مدینه منوره توري تیارې پېڅول وغوړاوه.

ښځي ، ماشومان زاړه او واړه ټول د مدینې په ګلیو او کوڅو کي بهر راوتلي وو او ژړل یې. په همدغه ورځ له ځمکي آسماني وحی قطع شوه په همدغه ورځ عمر فاروق توره وایستله او وې ویل : که چا وویل چې محمد ﷺ مړ شوی دی سر به یې په دې توره غوڅ کړم.

ابوبکر صدیق مسلمانانو ته وینا واوروله او وې فرمایل:

**أَلا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا ﷺ فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لاَ يَمُوتُ.**

تاسو دي خبر یاست که څوک د محمد ﷺ بندګي کوي نو محمد ﷺ مړ شو او که څوک د الله ﷻ بندګي کوي نو هغه تل ترتله ژوندی دی او کله هم نه مړ کېږي.

په همدغه ورځ ځمکي له هغه غوره انسان سر د تل لپاره خدای پاماني واخیستله چاچي به خپل مبارک قدمونه ور باندي ایښودل او آسمانونو یې د مبارک روح هرکلی وکړ.

آیا هم دا ورځ باید داسي ولمانځله شي چي مسلمانان پکي خوشالي او جشنونه جوړ کړي او حلواګاني پکي ووېشي؟ ټول محدثین او مؤرخین پدې اتفاق دي چي د ربیع الأول دوولسم هغه ورځ ده چي رسول الله ﷺ پکي وفات شوی او د هغه مبارک د مولد (زېږتون) په مورد کي پنځه اختلافي اقوال راغلي دي ځېني علماء دا هم لیکي چي هغه په ربیع الأول کي هډو زېږېدلی ندی....

دا زمونږ د هغه تېت او پرک امت حال دی چي د هغه د زېږېدلو ورځ د هغه د مړیني په ورځ لمانځي او د هغه مبارکو سنتونو ته مو شا ور ګرځولي ده.

همدغه ورځ د مولد په پلمه د عیاشي او بدعتونو مناسبت نه دی چي د عیسایانو د کرېسمس او یا د هندوانو او نورو ادیانو د جشنونو په توګه ولمانځل شي.

له دې مناسبت څخه د تجدید عهد او د هغه مبارک د سنتونو د راژوندي کولو او له هغه سره د حقیقي میني د را پیدا کولو کار باید واخیستل شي.

الله ﷻ فرمایي:

**﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (٣١) قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ (٣٢)**

ورته ووایه اې محمده که تاسې (ربښتیا) له الله ﷻ سره مینه لرئ نو ځما په لاره لاړ شئ په الله ﷻ به ګران شئ او ستاسې ګناهونه به در وبښي او الله ﷻ ډېر ښښونکی او ډېر مهربان

دی، که دوی مخ واړوي (ونه مني) نو بېشکه الله ﷻ کافران نه خوښوي.

## عمر بن عبد العزيز رحمه الله

د اختر په ورځ أمیر المؤمنین عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه کور ته راننوت ګوري چي ماشومه لور يې ژاړي ويې پوښتله چي ولي ژاړي؟

ماشومي په سلګیو کي په اوښلنو سترګو ورته وویل:

د کلي ټولو ماشومانو نوي جامې اغوستي دي او زه د امیر المؤمنین لور یم او جامې مي زړې دي .

امیر المؤمنین هم سخت خپه شو او د بیت المال خزانچي ته ورغی ورته وې ویل: ایا ستاسو اجازت دی چي زه له بیت المال څخه څه واخلم د راتلونکي میاشتي له تنخواه یې بیا بېرته درکړم؟

خزانچي ورته وویل: ولي نه اې امېر المؤمنین ؛؛

خو په یو شرط هغه داچي ته ماته د دې ضمانت راکړې چي تر راتلونکي میاشتي پوري به ته ژوندی يې تر څو ته بیا د هغې د تنخواه په بدل کي کار وکړې ؛؛

عمر هم داسې تش لاس ترې رهي شو کورته راغی ماشومانو ورته وویل :

څه دي وکړل پلاره ؟

ده ورته وویل: ایا تاسو صبر کولای شئ چي ټول بیا جنت ته لاړ شو او که د بې صبري په نتېجه کي مو پلار جهنم ته لاړ شي ؟

ټولو په یوه خوله ورته وویل:

هو پلاره مونږ صبر کوو خو ته مو په دوزخ نه پېرزو کېږې.

دا شخصیت د امویانو اتم د خلفاء راشدینو پنځم خلیفه عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه وو.

**باوري علمي سرچيني وايي:**

که يوڅوک له سپېده چاوده وروسته تر لمرختو وېښ پاته شي ټوله ورځ به زړتنګي ونه ويني.

يو مسلمان مشهور اروا پوه وايي: ځما ۲۰ کاله کېږي چي د اروا پوهني د مادې په تدريس بوخت يم . هغه زياتوي ۱۷ کاله کېږي چي د رواني ناروغانو درملنه کوم کله هم داسي کوم رواني ناروغ نه دی راغلی چي هغه په دې وخت کي د وېښ پاته کېدلو عادت لري او رواني شکايت دې راته کړی وي.

هغه وايي: چي د ټولو اديانو اتباع يهود او نصارا په دې حقيقت ټېنګار کوي او د يوه دېني حقيقت په توګه نه بلکه د يوه علمي او تجربه شوي حقيقت په توګه حتی د اروپا او امرېکا سترو پوهنتونونو هم دا حقيقت جوته کړی دی .

رسول الله ﷺ هم مونږ مسلمانانو ته څوارلس پېړۍ وړاندي په خپلو شريفو احاديثو کي په دې وخت کي د وېښ پاته کېدلو سپارښتنه کړي .

د مسلمان لپاره د سهار له لمانځه وروسته تر لمرختو وېښ پاته کېدل د اجر او ثواب تر څنګ رواني او روغتيايي ګټي هم زياتي لري سر له نن څخه يې تجربه کړئ په تېره هغه وروڼه چي له زړتنګي او پرېشاني څخه شکايت کوي.

---

**د "الصلاة خير من النوم" څه معنا ده ؟؟**

(الصلاة خير من النوم)

لمونځ تر خوب غوره دی :

ځکه چي خوب د نفس غوښتنه ده ، او لمونځ د الله ﷻ غوښتنه ده.

ځکه تر خوب غوره دی: چي خوب مړينه او لمونځ ژوند دی.

ځکه تر خوب غوره دی: چي خوب د بدن هوساينه، او لمونځ د روح هوساينه ده.

ځکه تر خوب غوره دی : چې مسلمان او کافر دواړه په خوب کې سره شریکان دي ، او لمونځ یواځې مسلمان کوي. په همدې اساس خو اذان کونکی وايي:

**( الصلاة خیرٌ من النوم )**

لمونځ تر خوب غوره دی.

دسهار لمانځه ته پرېښتې حاضرېږي

په جماعت سره د سهار لمونځ کونکی ټوله ورځ د الله ﷻ په ساتنه کې وي.

د سهار وخت د برکت وي ارزاق پکې وېشل کېږي

هغه څوک ډېر بختور دی چې د سهار لمونځ بلا ناغه په جماعت سره ادا کوي

څوک چې د سهار له لمانځه وروسته تر لمرختلو کېني او ذکر کوي او بیا دوه رکعته نفل لمونځ وکړي ټوله ورځ به زړتنګي او پرېشاني ونه ویني او له ښې روغتیا به برخمن وي.

---

**زېرى د قرآن په وینا**

**وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ» سورة الأنبياء**

مونږ په زبور کې له یادولو وروسته لیکلي چې بې شکه به د ځمکې واکمني زمونږ نېکانو بندګانو ته په مېراث پاته کېږي .

دا ورځ هرو مرو راتلونکیه ده خو دا هغه وخت چې مسلمانان نېکان شي او په ځان کې د ځمکې د وراثت او د بشریت د قیادت وړتیا پیدا کړي.

امام مالک رحمه الله فرمايي:

**«لا تصلح آخر هذه الأمة الا بما صلح به أولها»**

د وروستی زمانې امت به هغه وخت د بشریت د رهبرۍ وړتیا مومي کله چې د لومړي امت تګلاره خپله کړي .

## د سهار په لمانځه کي د ګډون کوونکیو لپاره لس زېري

د رسول الله ﷺ په مبارکو ویناوو کي

١) د قیامت په ورځ به له بشپړه نوره برخمن وي .

**قال النَّبِيِّ ﷺ :"بَشِّرِ الْمَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ ، بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". (رواه أبو داود والترمذي)**

د شپې په تیارو کي مسجد ته تلونکیو ته د قیامت په ورځ د بشپړي رڼا زېرى ورکړه.

٢) دسهار دوه رکعته لمونځ تر ټوله دنیا و ما فیهاغوره دي.

**قال النَّبِيِّ ﷺ:"رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا". (رواه مسلم)**

د سهار دوه رکعته (سنت) تر دنیا او هغه څه چي په دنیا کي دي غوره دي.

٣) په هر ګام لس نېکیوي ورته لیکلي کېږي ، ناسته یې په عبادت کي شمېرله کېږي او وخت یې ټول په لمانځه کي شمېرل کېږي.

**قال النَّبِيِّ ﷺ :"مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى الْمَسْجِدِ كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا عَشْرُ حَسَنَاتٍ، وَالْقَاعِدُ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ كَالْقَانِتِ، وَيُكْتَبُ مِنَ الْمُصَلِّينَ، حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ". (أخرجه أحمد)**

څوک چي له کوره مسجد ته د تګ په نیت ووځي په هر ګام چي اخلي یې لس نېکیوي ورته لیکلي کېږي او څوک په مسجد کي د بل لمانځه په انتظار ناست وي لکه په عبادت چي بوخت وي او چي تر څو کور ته بېرته راګرځي په لمونځ کوونکیو کي لیکل کېږي.

٤) دسهار لمانځه ته پرښتې چي د الله ﷻ مقرب او منونکي بندګان دي حاضرېږي .

الله ﷻ فرمایي:

**" إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوداً ". الإسراء**

بېشکه چي د سهار لمانځه ته پرښتې حاضرېږي.

٥) دوزخ ته به کله هم دننه نشي.

**قال رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : "لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا، يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ". (رواه مسلم)**

څوک چې د سهار او مازدیګر لمونځ وکړي کله به هم دوزخ ته داخل نشي.

٦) ټوله شپه یې په عبادت کې ګڼله کېږي.

**قال النَّبِيِّ ﷺ : "مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ". (رواه مسلم)**

څوک چې د ماخوستن لمونځ په جماعت سره ادا کړي لکه د شپې تر نیمایي پورې چې په عبادت ولاړ وي او چې بیا د سهار لمونځ هم په جماعت ادا کړي لکه ټوله شپه چې یې عبادت کړی وي.

٧) پرښتې ورته دعاګاني کوي:

**قال النَّبِيِّ ﷺ : "مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ جَلَسَ فِي مُصَلاَّهُ، صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلاَئِكَةُ، وَصَلاَتُهُمْ عَلَيْهِ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ". (رواه أحمد)**

څوک چې د سهار له لمانځه وروسته د لمانځه په ځای تر لمر ختلو کېني پرښتې ورته داسې دعا کوي: اې الله ته ښښنه ورته وکړې اې الله ته ورباندې رحم وکړې.

٨) د قبول شوي حج او عمرې ثوابی یې دی.

**قال النَّبِيِّ ﷺ : "مَنْ صَلَّى الْغَدَاةَ الفجر فِي جَمَاعَةٍ، ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ". (رواه الترمذي)**

چا چې د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړ او بیا تر لمر ختلو کېناست او تر لمر ختلو یې د الله ﷻ ذکر وکړ او بیا یې دوه رکعته لمونځ وکړ (او بیا یې درې ځلي وفرمایل) د بشپړ حج او عمرې ثواب یې دی.

٩) د الله ﷻ په ساتنه کي وي:

**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : "مَنْ صَلَّى صَلاَةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ". (رواه مسلم)**

څوک چي د سهار لمونځ په جماعت ادا کړي هغه د الله ﷻ په ځانګړي ساتنه کي وي.

١٠) څوک چي د ماښام او سهار لمونځ په پابندي سره په جماعت ادا کوي دقیامت په ورځ به د الله ﷻ په دېدار کي ورته ستونزه نه وی داسې به يي ويني لکه د څوارلسم سپوږمۍ.

**عَنْ جَرِيرِ بن عبد الله رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةً - يَعْنِي الْبَدْرَ - فَقَالَ : " إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لاَ تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لاَ تُغْلَبُوا عَلَى صَلاَةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا" متفق عليه .**

جرير بن عبد الله رضي الله عنه وايي مونږ له رسول الله ﷺ سره ناست بيا يي د څوارلسم د شپې سپوږمۍ ته وکتل او وې ويل : تاسې به خپل رب داسې وينئ لکه دا سپوږمۍ چي وينئ هيڅ به يي په ليدلو کي درته ځور نه وي نو که مو وس رسي چي د سهار او مازديګر په لمونځونو مغلوب نشئ نو کوئ يي.

په دې ذکر شويو دنيوي او اخروي ګټو سربېره سهار وختي پاڅېدل او د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کول او بيا تر لمر ختو نه ويده کېدل د انسان صحت او روغتيا ته هم زياتي ګټي رسوي علمي سرچينو دا حقيقتونه جوته کړي دي.

## د جمعې مازديګر د دعا د قبلېدلو وخت دی:

طاووس بن کيسان رحمه الله چی به کله د جمعې په ورځ د مازديګر لمونځ وکړ د قبلې لورته به کيناست او تر ماښامه به يې له چا سره خبري نه کولې.. (تاريخ واسط ).

يو بزرګ وايي : "چي کله مي هم د جمعې په ورځ د مازديګر او ماښام تر منځ کومه دعا غوښتي الله ﷻ ضرور قبوله کړي ده اوس شرمېږم چي اضافه نور څه غواړم".

ابن عساکر رحمه الله پخپل کتاب کي وايي :

"صلت بن بسطام ، په دواړو سترګو ړوند شو وروړه یې د جمعې په مازدیګر کېناستل او د هغه لپاره یې دعاګاني پيل کړې او تر ماښام د مخه هغه وپرنجېده او د سترګو بینایي یي بیرته برحال شوه" ( کتاب تاریخ دمشق )

ابن القیم رحمه الله وايي: "د جمعې د ورځې د مازدیګر وروستۍ شېبې په ټولو مذهبونو کي عظمت لري". (زاد المعاد)

سعید بن جبیر چي به کله د مازدیګر لمونځ وکړ تر ماښامه پوري به یې له چا سره خبري نه کولې او په دعاء کولو کي به بوخت وو. (زاد المعاد)

---

## زرعه بن ابراهیم رحمه الله وايي :

عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته یو سړی راغی او ورته وې ویل :

مور مي سپین سري شوه او خپل ټول ضرورتونه ځما په شا سرته رسوي او زه یې سورلي یم او خپلي سترګي پټي کړم او هغه وېنځم او اودس ورکوم نو آیا ما به یې حق ادا کړی وي؟

عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل : هېڅکله نه، هغه سړي ورته وویل : ولي خو په شا یې ټوله ورځ ګرځوم ځان او وخت مي ټول د هغې چوپړ ته وزګار کړی دی؟

عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل : ستا مور ته هم داسې ته پخپله شا ګرځولې او ستا د ژوند او پایښت تمنا او دوعا یي کوله خو ته یي په شا ګرځوې او د مرګ تمنا یي کوې .

روایت دی چي یوه سړي د ووړي په موسم په ټکنده غرمه او زیاته تودوخه کي خپله مور په شا کړي وه او په کعبه یي راتاووله، له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما یي پوښتنه وکړه چي آیا ستاسې په ګومان به مي د خپلي مور حق ادا کړی وي ؟

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ورته وفرمایل : چي ستا د ولادت په وخت کي د هغې د دردونو د یوه اسوېلي حق دي هم نه دی بشپړ کړی (برالوالدین لابن الجوزي)

ته چي کله يو رنځور ووينې چي د روغتيا له نعمت څخه محروم وي، داسې يو څوک ووينې چي اندامونه يي نيمګړي وي، يو داسې څوک ووينې چي له فقر او لوږي سره ډغري وهي، داسې يو څوک چي د ناپوهي او بې سوادي په رنځ اخته وي، په قتل، غلا او نور جرمونو ککړ لاسونه ګورې، په اخلاقي رنځونو مبتلا انسانان ګورې، پردېس انسانان ګورې چي د مسافري په اور کي کړېږي، د اسلام له نعمت څخه بې برخي او د ګمراهيو په تروږميو کي ايسار انسانان وينې په ځان د الله ﷻ شکر وکړه او په دوی زړه وسوځوه، رسول الله ﷺ فرمايي چي په دې وخت کي دا دعا ووايه:

**الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلاَكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلاً**
**(رواه الترمذي وابن ماجة)**

بشپړه ستاينه هغه ذات لره ده چي زه يي له هغه څه روغ ساتلی يم چي ته يي پرې اخته کړی يې او تر ډېرو مخلوقاتو يي په ما زياتي ښېګڼې لورولي دي)

څوک چي دا دعا ووايي چي ترڅو ژوندی وي له همدغو رنځونو به ساتلی وي.

---

**آيا ته خبر نه يې چي ته په قرآن کريم کي ياد شوی يې؟**

وګوره چي ته څوک يې؟

الله تعالی فرمايي :

**"لقد أنزلنا إليكم كتابا فيه ذكركم"**

مونږ تاسې ته داسې يو کتاب رالېږلی دی چي په هغه کي ستاسې يادونه شوي.

(١) لومړی کته ګوري داسې کسان ذکر شوي:

١- د شپې لخوا ويښ وي عبادتونه کوي

٢- د سهار په وخت کي له الله ﷻ بښنه غواړي.

٣- په ښکاره او پټه کي د ﷻ په لار کي لګښتونه کوي.

٥- له کبیره ګناهونو ځانونه ساتي.

٦- د غصې په وخت کي ببښنه او درګذر کوي.

٧- په نورو يي تر ځان زيات لوروي.

٨- هم يي خپل خويونه ښه وي او هم خلک نېکي لاري ته رابولي.

٩- له بې ګټي کړنو او ويناوو ډډه کوي.

دې ډلي ته د ثوابونو او جنتونو زېرى وركول شوى دى .

(٢) دوهمه کته ګوري داسې کسان ذکر شوي:

١- چي کله توحيد ته را وبلل شي مخونه واړوي.

٢- لمونځونه نه کوي

٣- مسکينانو ته ډوډۍ نه ورکوي.

۴- خلګ له نېکو لارو را ګرځوي.

٥- بې حيايي او بد اخلاقي د مسلمانانو ترمنځ تيتوي.

٦- په نېکانو او مسلمانو ملنډي وهي.

٧- مسلمانان په فتنو کي ښکېل کوي.

٨- ولسونه په ډلو او ټپلو وېشي .

دا ډله کسان په عذابونو ګواښل شوي دي.

(٣) درېيمه کته ګوري داسي کسان هم ذکر شوي:

چي په خپلو نيمګړتياوو او ګناهونو اعتراف کوي نېک کارونه هم کوي ګناهونه هم کوي دې ډلي ته د الهي ببښني تمه شته.

**"وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ" سورة التوبة**

او نور داسې انسانان دي چې په خپلو ګناهونو اعتراف کوي ښه او بد کارونه يې ګډوډ کړي ښايي چې الله ﷻ يې توبې قبولې کړي بېشکه الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی.
پوښتنه دا ده چې ته څوک او له کومې ډلې انسانانو څخه يې؟

---

د قرآن له مخې مسلمانان په دوو شيانو په دښمن برلاسی موندلی شي:
۱-د دښمن تشخيص او پېژندنه
۲-خپل منځي عمومي خواخوږي

**أشداء على الكفار رحماء بينهم**

مؤمنان په کافرانو ډېر بې رحمه او پخپل منځ کې خواخوږي او زړه سواند وي.

---

الله تعالی مشرکينو او کافرانو ته مسلمانان له ښکنځلو منع کوي فرمايي:

**وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۰۸) سورة الأنعام**

(ژباړه) تاسې هغه چاته ښکنځلې مکوئ څوک چې له الله ﷻ پرته نور خدايان ور بولي بيا به هغوی په ناپوهي کې د غچ اخيستلو په وجه الله ﷻ ته ښکنځلې وکړي همدا سې مونږ هر قوم ته خپل کړنه ښايسته ګرځولې ده بېرته به د خپل رب خوا ته د دوی ور ګرځېدل وي بيا به يې په هغه څه خبر کړي کوم چې دوی به په دنيا کې کول.
که الله تعالی مونږ مشرکينو او کافرانو ته له ښکنځلو کولو ژغوري آيا هغه څوک چې احنافو، متصوفينو، سلفيانو، اخوانيانو، د أهل السنت والجماعت بېلابېلو مسلمانو مسلکونو او د مذهبونو اتباعو ته ښکنځلې کوي په کوم مخ به الله تعالی ته ورځي؟

**يهود او نصارا هفته د رخصتی ورځ لمانځي :**

**وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ (٦٥)**

د دې ایت په تفسیر کي امام طبري رحمه الله لیکي:

الله ﷻ هر پیغمبر ته توصیه کړي چي خپلو پیروانو ته د جمعې د ورځي غوره والی څرګند کړي ترڅو هغوی یې درناوی وکړي په همدې توګه یي موسی او عیسی علیهما السلام ته وویل چي خپلو اتباعو ته د جمعې د ورځي غوره والی بیان او څرګند کړي خو هغوی سر غړونه وکړه او د جمعې په ځای یي د خپلو ګېډي دلائلو په بنیاد هفته د اونۍ د لمانځني ورځ وګرځوله بیا الله ﷻ د هفتې په ورځ چي د دوی د خپل انتخاب وو د کبانو ښکار حرام کړ چي د الهي حکم سره سم به کبان ټوله اونۍ پټ ول او یواځي د هفتې په ورځ به راڅرګند شول یهودو سر غړونه وکړه او د هفتې د ورځي حرمت یې د کبانو په ښکار کولو مات کړ چي بیا الله ﷻ د دې سر غړوني په وجه دوی سرتېټي بېزوګیان وګرځول.

ځکه خو د هفتې ورځ د رخصتي په توګه لمانځل د یهودو او نصاراوو مذهبي ورځ ده چي مسلمانانو ته یي لمانځل نه دی روا.

داسې وانګېره چي ته په لاره روان یې او مخته دي یوه لوحه راغله چي ورباندي لیکلي دي (خبردار!! دې سیمه کي ماینونه دی) څومره به په زړه کي له هغه چا مننه وکړې چا چي دا لوحه درولي ده ځکه چي هغه ستا ژوند وژغورلو.

په دې وخت کي به کله هم داسې فکر ونکړې چي دې لوحې ستا مخه ډب کړي او یا یې هم ستا آزادي او خپلواکي محدوده کړي ده.

همدا ډول د الله ﷻ دا حکم چي فرمایي:

**"تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا"**

دا د الله ﷻ پولي دي مه ور نژدې کېږئ

د الله ﷻ دا حکم ستا ازادي نه محدودوي بلکه ستا ژوند ژغوري فرمایي:

**"وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ".**

څوک چي د الله ﷻ له پولو اوړي بېشکه چي په خپل ځان ظلم کوي.

**إذا رأيت الرجل يدافع عن الحق فيشتم ويسب ويغضب، فاعلم أنه معلول النية؛ لأن الحق لا يحتاج إلى هذا. (الإمام مالك رحمه الله)**

امام مالک رحمه الله وايي: که تاسې داسې يو څوک وليد چي له حق څخه د دفاع په غرض يې ښکنځلي کولې، سپکي سپوري يې ويلې، غصه يې څرګندوله پوه شه چي نيت يې خراب دی ځکه چي حق دې ډول بدو خويونو ته اړتيا نلري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**« فَإِنَّهُ لَا يُعَذِّبُ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ» (رواه ابوداود وابن حبان)**

په اور باندي عذاب يواځې د اور مالک الله تبارک وتعالی ورکوي.

ښه مي په ياد دي کله چي ماشوم وم چي کومه ژوندۍ خزنده به مو په اور کي اچوله زما پلار (مولانا صاحب رحمه الله) به چي د سيمي او هېواد نامتو عالم وو راته ويل: په اور سوځول د الله تبارک وتعالی ځانګړې صفت دی مونږ ته نه دی روا چي ژوندي ساه په اور وسوځوو.

که غواړئ چي متې مو ځواکمني شي او رزق مو پرېمانه شي له بوډاګانو، مساکينو، مجبورو او بېوسو سره تل مرسته کوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ» (رواه البخاري)**

ستاسې چي نصرت کېږي او روزي در کوله کېږي دا صرف ستاسې د بېوسو په برکت ده.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د څلورو کسانو د بې کچي احسان پوروړی يم

**" ثَلَاثَةٌ لَا أُكَافِئُهُمْ: رَجُلٌ وَسَّعَ لِي فِي الْمَجْلِسِ لَا أَقْدِرُ أَنْ أُكَافِئَهُ وَلَوْ خَرَجْتُ لَهُ مِنْ جَمِيعِ مَا أَمْلِكُ، وَالثَّانِي مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ بِالِاخْتِلَافِ إِلَيَّ فَإِنِّي لَا أَقْدِرُ أَنْ أُكَافِئَهُ وَلَوْ قَطَرْتُ لَهُ مِنْ دَمِي، وَالثَّالِثُ لَا أَقْدِرُ أُكَافِئُهُ حَتَّى يُكَافِئَهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ عَنِّي مَنْ أَنْزَلَ بِي الْحَاجَةَ لَمْ يَجِدْ لَهَا مَوْضِعًا غَيْرِي " (شعب الإيمان)**

۱- چا چي ماته په مجلس کي د ناستې ځای ارت کړ
۲- د چا چي زما د اړتیا په پوره کولو کي پښې سپېرې شوې
۳- او د څلورم کس له ما سره د احسان بدل یواځې الله ﷻ ور کولای شي: هغه څوک چي بل څوک یي و نه موند او زه یي د خپلي اړتیا د پوره کولو وړ وبللم .
(ژباړه یي د انجنیر عبد الله ګل ریان رحمه الله په غوښتنه په ۲۰۱۵/۵/۹ شوي)

---

## د بې ګناه مسلمان ناحقه قتل:

الله تعالی فرمایي:

**«وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا» (۹۳) النساء**

څوک چي یو مسلمان په قصدي توګه ووژني سزا یې جهنم دی چي تل به پکې وي او الله ﷻ به وربانديي غصه وي او د هغه له رحمته به رټلی وي او د هغه لپاره یې ستر عذاب چمتو کړی دی.

په بل ایت کي فرمایي:

**مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا (۳۲) المائدة**

څوک چي بې بدلې په نا حقه او یا د فساد (ګډوډي جوړولو) په موخه یو انسان ووژني داسې دی لکه ټول انسانان چي یې وژلي وي او څوک چي د یوه انسان ژوند وژغوري داسي دی لکه ټول انسانیت چي یې ژغورلی وي.

که په کومه ګناه اخته یې او غواړې چي لاس ترې واخلې د څاښت لمونځ په پابندي کوه ځکه چي دا د توبه ګارانو لمونځ دی "صلاة الأوابين" معنا د توبه ګارانو لمونځ.

اسانه عمل او ستر اجرونه.

سلف صالحين په دې اتفاق دي چي له هغو شرعي مناسبتونو پرته چي په هكله يي كره روايات راغلي دي د نورو ورځو او مناسبتونو لمانځل بدعت دى رسول الله ﷺ فرمايي:

**« وَشَرَّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلَّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ» (النسائي)**

او تر ټولو كارونو بد هغه نوي كارونه دي چي په دين كي وي او په دين كي هر نوى كار بدعت دى او هر بدعت ګمراهي ده او هره ګمراهي به په دوزخ كي وي.

په بل حديث كي فرمايي: **«مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ» (البخاري ومسلم)** چا چي يو داسي كار په دين كي (د عبادت په نيت) وكړ چي مونږ يي ورته حكم نه وي كړى هغه كار مردود ( نه قبلېدونكى عمل) دى.

---

**د شعبان د پنځلسم شپه (شب برات)**

أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها د شعبان د مياشتي په فضيلت كي فرمايي:

**"ما رأيت رسول الله استكمل صيام شهر قط إلاّ رمضان، وما رأيته في شهر أكثر صياماً منه في شعبان". (صحيح مسلم)**

ما كله هم رسول الله ﷺ نه دى ليدلى چي د رمضان له مياشتي پرته دې د كومي بلي مياشتي روژې بشپړي نيولي وي او ما كله هم نه دى ليدلى چي د كال په نورو مياشتو كي دې له شعبان څخه پرته زياتي روژې نيولي وي.

امام ابن القيم رحمه الله وايي: چي د شعبان د مياشتي روژې د رمضان د مياشتي په درناوي، تعظيم او هركلي كي نيولي كېږي

ابوهريره رضي الله عنه وايى ما له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه

**قلتُ يا رسولَ اللهِ: مالي أراك تصومُ في شهرٍ ما لم أرَكَ تصومُ في شهرٍ مثلَ ما تصومُ فيه؟ قال: أيُّ شهرٍ؟ قلتُ: شعبانَ، قال: شعبانُ بين رجبَ ورمضانَ، يغفلُ**

**الناسُ عنه، تُرفَعُ فيه أعمالُ العبادِ، فأُحِبُّ أن لا يرفع عملي إلا وأنا صائمٌ). رواه الألباني في السلسلة الصحيحة**

زه دي وينم چي په يوه مياشت کي تر نورو مياشتو روژې نيسې دا ولي؟ ده ﷺ راته وويل: کومه مياشت؟ ما ورته وويل شعبان، ده ﷺ راته وويل: شعبان د رجب او رمضان په منځ کي ده چي خلگ ور څخه غافل دي، په دې مياشت کي د بندگانو عملونه الله تعالى ته پورته کېږي او زه دا د ځان لپاره خوښوم چي زما عمل پداسې حالت کي الله تعالى ته پورته شي چي زما روژه وي.

دا خو د شعبان د ټولي مياشتي د فضيلت په هکله هغه صحيح روايتونه وو چي هيڅوک پکي اختلاف نلري او ټول علماء ورباندي متفق دي.

**د شعبان پنځلسم يا شب برات .**

د شعبان د پنځلسم د شپې په غوره والي او فضيلت کي په مختلفو کتابونو کي ډېر روايات او اثار را نقل شوي چي محدثينو او د اهل الجرح والتعديل محققينو علماوو هغه ټول ضعيف او کمزوري گڼلي دي او وايي چي هيڅ کوم داسي کره او صحيح حديث ندی راغلی چي د شعبان د پنځلسم د شپې غوره والی او فضيلت په نورو شپو جوته کړي .

خو زمونږ د حنفي فقهي د علماوو په نزد په ضعيف حديث هم د يوه عمل او کار د استحباب لپاره حجت نيول کېدلای شي تر څو چي له يوه قوي نص سره ټکر نه وي، هغوی وايي چي دا مختلف روايتونه او احاديث چي کتابونو ذکر کړي ولو که ضعيف دي خو د دې شپې د فضيلت لپاره کافي دي او گڼ والی يي په مجموع کي صحت افاده کوي چي بايد دا شپه په عبادتونو ، نفلونو، تلاوت، ذکر او دعاگانو روڼه شي او په ورځ يي روژه ونيوله شي.

هغه حديث چي تر يوه حده يی صحت جوته شوی او علماء دليل ورباندي نيسي او صحيح ابن حبان، صحيح ابن ماجة ، مسند الامام أحمد او سنن الترمذي را نقل کړی معاذ

بن جبل رضي الله عنه وايي: چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

**«يطلع الله إلى خلقه ليلة النصف من شعبان، فيغفر لجميع خلقه إلا المشرك أو المشاحن»، وفي رواية أحمد: «أو قاتل نفس».**

الله تبارک وتعالی د شعبان د پنځلسم په شپه خپل مخلوق ته را څرګندېږي او ټولو خلکو ته ښښنه کوي له هغه چا پرته چي له الله تبارک وتعالی سره يي شريک نيولی وي او ياهم له خپل مسلمان ورور سره په زړه کي کينه ساتي. او د امام احمد په روايت کي راغلي دي او چاچي ناحقه قتل کړی وي.

دا حديث په مختلفو خو يو بل ته نژدې الفاظو او عباراتو ګڼو صحابه وو را نقل کړي دي چي د هغوی له جملې څخه أبوموسى الأشعري، او أبوهريرة، او أبوبكر الصديق، اوعوف بن مالك، ام المؤمنين عائشة، او أبوثعلبة الخُشَني، اوعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنهم أجمعين دي او د علي رضي الله عنه هغه حديث چي سنن ابن ماجة را نقل کړی پدې ډول دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

**«إذا كان ليلة النصف من شعبان فقوموا ليلها وصوموا نهارها، فإن الله تعالى ينزل فيها لغروب الشمس إلى سماء الدنيا، فيقول: ألا مِن مستغفر فأغفر له، ألا مِن مسترزق فأرزقه، ألا من مبتلى فأعافيه، ألا كذا ألا كذا حتى يطلع الفجر».**

**( سنن ابن ماجة)**

کله چي د شعبان د نيمايی شپه شي نو تاسي يي شپه د ولاړي په عبادت رونه کړئ او په ورځ کې روژه ونيسئ ځکه چي الله تبارک وتعالی له لمر لوېدلو سره سم بلا کيف د دنيا اسمان ته راښکته کېږي او وايي چي څوک دی چي ښښنه غواړي او زه ښښنه ورته وکړم څوک دی چي رزق غواړي او زه رزق ورکړم څوک دی چي رنځور وي او زه روغتيا ورکړم او څوک دی او څوک دی او تر څو چي سهار کېږي دا وايي.

دا حديثونه ولوکه د اهل الجرح والتعديل محققينو او محدثينو علماوو رحمهم الله په هر

يوه کي څه نا څه ويلي دي خو کمزوري او ضعف يي قوي ندی جوته کړی او ځېني روايتونه يي ځينو نورو ته ځواک او طاقت ورکوي چي کمزوري يي له منځه وړي.

لکه څرنګه چي دا د محدثينو تګلاره ده کله چي يو حديث ولو که راوي يي يو هم وي خو چي له ګڼو مدرکونو را نقل شي قوي ګرځي او که راويان هم زيات شي او مأخذونه يي هم ګڼ شي بيا هغه حديث ته د حسن لغيره مقام ورکوي.

هغو محدثينو چي د شعبان د پنځلسم د شپې په فضيلت کي يي حديثونه را نقل کړي دي له هغوی څخه يو هم حافظ ابن الدبِيثي (ت سنة ٦٣٧هـ)، ، او بل هم علامة محدث عبدالله بن محمد بن الصديق الغماري، چي پدې هکله يي مستقل کتاب ليکلی او نوم يي دی «**حسن البيان في ليلة النصف من شعبان**».

شيخ محمد ناصر الدين الألباني په خپل کتاب السلسلة الصحيحة کي د دې حديثونو د رانقلولو او تحقيق په پای کي ليکي :

کوم حديث چي د شعبان د نيمايي د شپې په فضيلت کي له ګڼو صحابه کرامو څخه رانقل شوی يو روايت يي بل قوي ګرځوي چي صحت افاده کوي او بېشکه او بې شبهې صحيح دی او د يوه حديث د صحت لپاره د اصول الحديث له مخي له دې هم کم کفايت کوي تر څو چي قوي ضعف نه وي پکي جوته شوی لکه همدا د معاذ بن جبل حديث چي کوم دی. شيخ الباني رحمه الله د هغه چا په رد کي چي وايي د شعبان د نيمايي د شپې په فضيلت کي هيڅ صحيح حديث وجود نلري وايي: دي ډول خبرو ته اعتبار نشي ورکول کېدلای او چا چي دا ډول خبره کړي هغه بېړه کړي او تحقيق او څېړني ته يي بشپړ وخت کما حقه ندی ورکړی.

ډېرو سلف صالحينو دا شپه په عبادتونو لمانځلي ده او پدې برخه کي زيات اثار رانقل شوي دي ابن رجب الحنبلي په لطائف المعارف کي ليکي: د شام تابعينو لکه خالد بن معدان، مکحول، لقمان بن عامر او نورو به دا شپه ډېره ستره ګڼله او ددې شپې په عبادت

کي به زيات زيار ايست.

محمد بن اسحاق الفاکهي رحمه الله چي د مکې مکرمې مشهور تاريخ پوه تېر شوی دوولس پېړۍ مخکې ليکي :

چي د مکې خلګ له پخوا تر نن ورځې پوري کله چي به د شعبان د پنځلسم شپه شوه نر او ښځې به ټول مسجد حرم ته راغلل چا به لمونځونه کول، چا به طوافونه کول، چا به تلاوتونه کول تر څو به يې ټول قرانکريم ختم کړ.

دا د امت د مخکنيو پړګنو حالت وو مونږ چي وروستی امت يو او له هر ډول ستونزو او ګواښونو سره لاس او ګرېوان يو يقينا دېته مو تر بل هر وخت زياته اړتيا ده چي په همدغه شپه خپل رب تبارک وتعالی ته وژاړو له هغه څخه د خپلو ګناهونو او تېروتنو ښښنه وغواړو تر څو پخپل بيساري رحمت او کرم له دې ځوروونکي حالت څخه نجات راکړي.

د دې بحث او خبرو خلاصه دا ده چي نور ټول روايات چي د دې شپې په فضيلت کي راغلي دي کمزوري او ضعيف دي خو يواځې هغه حديث چي له ګڼو صحابه وو او له ګڼو مأخذونو څخه د عباراتو له معمولي توپېر سره رانقل شوی او علماء يي په صحت او ضعف کي اختلاف لري او الباني په صحيح الترغيب کي هم راوړی دی او صحيح يي بللی دی هغه دا دی چي:

**«يطلع الله إلى خلقه ليلة النصف من شعبان، فيغفر لجميع خلقه إلا المشرك أو المشاحن»** **(صحيح ابن ماجة)**

الله تبارک وتعالی د شعبان د نيمايي په شپه کي خپل مخلوق ته را څرګندېږي بيا ټولو خلګو ته ښښنه کوي له مشرک او کينه ساتونکي انسان څخه پرته.

دا شپه کوم مخصوص عبادات او مخصوص لمونځونه نلري، عبادات يي فرض يا واجب نه دي ، که يي څوک وکړي ښه کار دی او که يي ونکړي ګناه يی نشته .

**د ساه لنډي کورنۍ اسانه نسخه:**

د هغه چا لپاره چې د ساه لنډي په رنځ اخته وي د الله ﷻ په فضل يو مخيز علاج.

يو سوډانی انجنير چې له ډېره وخته د ساه لنډي په رنځ اخته وو او د موسمونو د بدلون په مهال به يې دومره ځور زيات شو چې د مرګ تمنا به يې کوله. هغه له دې علاج سره دالله ﷻ په فضل او کرم يو مخيز جوړ او روغ شو او له تاسې سره خپله مجربه نسخه په دې ډول شريکوي.

" دا نسخه مي ډېرو ناروغانو ته ښودلی چې فائده يې ورسره شوي، په هغوی کې داسې ناروغان او ناروغاني مېرمني هم وې چې هره ورځ به روغتون ته د اکسيجن د اخيستلو لپاره بېول کېدل".

(٦) شپږ دانې د تازه لونګو مېخونه به واخلې او ګول سرونه به ځېني غوڅ کړې سرونه به پرېږدې او دلونګو پاته تنې به د چايو په نيم ګلاس نارمل اوبو کې ماښام واچوې سهار چې له خوبه را پاڅېدلې په تشه خېټه به هغه اوبه وڅښې. دا نسخه به پنځلس (١٥) ورځې پرله پسې تکرار کړې .

(ضروري يادونه) زه دا نه وايم چې ساه لنډي کموي بلکه د الله ﷻ په امر يې بالکل له مېنځه وړي.

**سلګۍ چې په انګليسي کې** HICCUP په اردو کې "هچکي" په عربي کې "حازوقة" يا "شهاق" ورته وايي هغه هوا ده چې دخوراک په نالۍ کې ايساره شي وځي او بېرته ننوځي دا کله نا کله انسان ډېر وځوروي لويان او ماشومان ټولو ته وريپښيږي.

د تجربې مطابق ورځخه د خلاصون غوره طريقه يې داده چې اوږده ساه چې خېټه

وېرسوي دننه د يوې دقيقې لپاره ايساره کړې او درې ځلي دا طريقه پرلپسې پداسې بڼه تکرار کړې چي بيا د سلګۍ پيل کېدلو ته وخت ورنکړل شي په هماغه شېبه به إن شاء الله ﷻ ختمه شي.

---

## د اوړي او د زيتون د تېلو روغتيايي ګټي:

دزيتون تېل او اوړه دواړه په خپل طبيعي جوړښت کي داسي ګڼ قوي ضد سرطاني مواد لري چي انساني جسم له بېلابېلو سرطاني رنځونو څخه ساتي په تېره بيا مېرمني د سينې له سرطان څخه ژغوري او د سينې په وده کې رغنده رول لري .

١- اوړه او ورسره زيتون په نهاره خوړل د زړه له ناروغيو لکه د زړه دردزا، جټکې او زړه تنګي انسان ساتي.

٢- د اوړي او زيتون هره ورځ په منظم شکل خوړل په وينه کي تاواني غوړتيا (چربي) يا کوليسټرول په کنترول کي ساتي چي له همدې لاري د زړه د ناروغي په مخنيوي او درملنه کي مرسته کوي.

٣- د خوږې او شکري ناروغانو ته هم ګټه رسوي خوږه په وينه کي کنترولوي او د خوږې فيصدي د وخت په تېرېدلو سره طبيعي حالت ته راګرځوي.

٤- په انساني جسم کي د هر ډول هغو ناروغيو په وړاندي دفاعي ځواک پياوړی کوي کومي چي د انسان روغتيا ته ګواښونه پېښوي،

٥- د يخ په موسم کي د زکام او نزلې په وړاندي ماشومانو ته ګټه رسوي کوم چي د دفاعي ځواک د کمزورتيا له امله وربانديي اخته کېږي.

٦- د خېټي بېلابېلې ستونځي لکه بد هضمي، پاړسوب، ګاز، د معدې جوش او نوري ستونزي له مېنځه وړي د خوراک په هضملو کي مرسته کوي او د معدې د سېستم دندې فعالوي.

۷- د خولې او اوریو التهاب او د خولې بد بویي ته د پای ټکی ږدي ځکه چي په خېټه کي هغه میکروبونه او بکتیریاوي وژني د کومو له امله چي خوله او ساه بدبويي جوړوي.
۸- سوء تغذیه او کم خوني له منځه وړي کوم چي زیاتره ماشومان وربانديي اخته کېږي.
۹- سرخوږی او نیم سرخوږی له منځه وړي او دواړه طبیعي مسکنات دي چي خوږ او دردونه ختموي.
۱۰- د اعصابو د التهاب مخنیوی او درملنه کوي او هډوکي پیاوړي کوي.
۱۱- له اخیستونکیو ناروغیو څخه انسان ساتي او له ټولو زړو (مزمنو) ناروغیو څخه انسان ته روغتیا وربښي .
۱۲- همدا راز وینه صفا کوي، اینه صفا کوي او د ګردو ډبري ماتوي،

**د استعمال طریقه:**

یوه اندازه (تقریباً ۲۵۰ ګرام) اوره سپینه کړه په خلاط ((Mixer کي یي واچوه په یوه اندازه د زیتون تېل (چي اوره پکي پټه شي او یو انچ وربانديي پورته شي) ورسره واچوه او بیا یي ښه میده کړه، بیا یې د شیشې په یوه لوښي (مرتبان) کي سرپوښ وربانديي په پرېشر بندېږي واچوه او په یخچال کې کېږده.

**دخوراک طریقه:**

هر سهار په نشه خېټه یوه قاچوغه په یو ګلاس نیم ګرمو اوبو کي حل کوه او یوه یا دوه قاچوغي د بېري اصلي شات/ یا سپین اصلي شات ورسره ګډ کړه او په بسم الله یي وڅښه ان شاء الله ﷻ چي ډېره روغتیایي ګټه به درته ورسوي.

ته کولای شې د ملهم په توګه هم کار ترې کار واخلې د خوړلو او مالش له لاري بواسېر هم ختموي، همدا راز د خوړلو او غوړولو له لاري د ویښتانو توئېدل او رژېدل ختموي او که د چا بندونه درد کوي کولای شي په دې معجون روزانه بندونه مالش کړي.

**په نوم یا ناف کي د شاتو څڅول**

دا یوه ډېره زړه د چینائي درملني تګلاره ده، د سعودي عربستان یو مشهور معالج ډاکټر ماهر صیدم وایي

چې د پنځه دېرشو (۳۵) ناروغیو په درملنه کې یې اغېزمن او معجزانه رول لوبولی دی، تاسي په یوټیوب کې د هغه څرګندوني اوربدلای شئ.

زیاتره مراجعین ورته ټلفونونه کوي چې هغوی دا نسخه کارولي ده هم پخپله روغ شوي دي او هم یې په کور کلي او ګاونډ کې چې چاته وربښودلي هغوی هم دالله ﷻ په فضل په لنډ وخت کې روغ رمټ شوي دي.

یوه مېرمن دټلفون په کرښه ورته وایي چې پنځه وېشت ناروغانو ته یې پخپل کلي کې دا نسخه وربښودلي او ورسره صحت یاب شوي دي.

ډاکټر ماهر صیدم وایي چې که یې یوڅوک په پابندي سره هره شپه تر دوو میاشتو پوري وکاروي کومه ناروغي چې لري هغه به یې ختمه شي که وکولای شي د سهار له خوا یې هم وکاروي نوري به یې هم اغېزي ببړنی شي(ان شاء الله ﷻ)

کېدای شي د کارولو په پیل کې په خېټه کې دردونه، ګډوډي یا عکس العمل پیدا کړي د مثال په توګه درد او یا اسهال چې دا یي د تاثیر ګټور پیل دی.

د لویانو لپاره یې د کارولو طریقه دا ده چې په ۲۵۰ ګرامه د ببري په اصلي شاتو کې دوه وړې قاچوغي د زنجبیل (ادرک / سونډ) پاوډر واچوې ښه یې سره ګډ کړې او هرماخوستن تر وېده کېدلو دمخه یو یا دوه څاڅکی په ناف کې وڅڅوې د دې لپاره چې کالي دي ورباندي ککړ نشي برسېره ورباندي سرېښ لرونکی توکی یا کاغذ ولګوې .

د ماشومانو لپاره یواځې د ببري شات په ناف کې ورڅڅوئ او سونډ مه ورسره ګډوئ هغه شېرخواره ماشومان چې د خېټي د پاړسوب بد هضمي او دستونو شکایت لري او موراو پلار یې د شپې لخوا په ژړا او چیغو بېخوبه او ناکراره کړي وي د شاتو له څڅولو سره یې تکلیف ختمېږي او خوب به یې ډېر ارام وي په تېره بیا چې سورة الفاتحه ورباندي ۷ (اوه)

ځلي وويلي شي او ورباندي چوپ کړل شي بیا هم دم او هم دوا شوه.
هغه ناروغیوي چي د ناف شاتو یې په درملنه کي رول لوبولی ځېني یې په لاندي ډول دي.
١- زوړ او پخوانی سرخوږی
٢- د سترګو خوږ
٣- د سترګو داخلي التهاب او ناروغي
۴- د خټ او اوږو دردونه
۵- ساه لنډي، د غاړي او سینې تکلیف او خوږ
٦- د نری ملا دردونه
٧- د معدې او ترېخي دردونه
٨- د کولمو او قولنج دردونه
٩- زوړ قبض او یا دستونه
١٠- د وېني د پشار لوړوالی او ټیټوالی
١١- د زنګونونو / سترګیو/ ګونډو دردونه
د سعودي یوه مېرمن (ام بندر) وایي: شل کاله مي د کولنجو ناروغي وه په نو کي دشاتو له ښځولو دوه هفتې وروسته یې په فایده پوه شوم دخپل کلي په ٢٥ کسانو مي چي مختلفي ناروغی یي لرلې دا نسخه د بې باوري په فضا کي تطبیق کړه چي د هیڅا هم زړه ته نه لوېدو چي لدې سره به جوړېږي خو جوړ شول.
د شوګر لرونکي دوه ناروغان چي له لسو کالونو یې شوګر له ۴٠٠ نه راښکته کېدلو دوه میاشتي وروسته اوس شوګر ١٢٠ دی چي اوس هېڅ ډول نوري دوا ګاني نه کاروي،
د ساه لنډي یو ناروغ چي له کلونو را په دې خوا یې روزانه په مصنوعي او طبي اکسیجن ګوزاره کوله دوه میاشتي وروسته روغ شو او اوس بې اکسیجنه ژوند کوي.
یوه پنځوس کلنه مېرمن چي له کلونو راهیسي د زنګنونو او لېنګو په ناروغی اخته وه په نو

کي د شاتو له څڅولو سره روغه شوه اوس يې هغه تکليف ختم شوی او پخپلو پښو ګرزي.
يوه اته کلنه ماشومه چې (دمه) نفس تنګي يې له اوږدې مودې وه او ټول ډاکټران ورباندې ستړي شوي وو روغه رمټه شوه.

**ډاکټر رايمونډ فرانسيس درې ډېر ښکلي او ارزښتمن کتابونه ليکلي:**

١- کله هم مه رنځور کېږه

٢- له سرطان څخه مه وېرېږه

٣- بيا ځان مه چاغوه

نوموړی چې کله د څلوېښتو کلونو شو سخت ناروغ شو ان تر دې چې ډاکټران يې له درملني ناهيلي شول بيا يې خپلې تجربې وکړې. نن هغه د ٧٥ کلونو دی او هېڅ ناروغي نلري او په تېرو پنځلسو کلونو کي هېڅ ډول رنځ ندی ور وړاندې شوی له زکام څخه پرته هغه هم صرف يو ځلې.

د روغتيا هغه راز چې نوموړي پخپلو دريو کتابونو کي ياد کړی په دې ډول يې خلاصه کړی.
له خوږې څخه د تل لپاره ډډه کول په هغه سربېره روزانه ورزش او داسې خوراک چې د بدن اړتياوې پوره کړي .

ډاکټر رايمونډ وايي : خوږه د زکام او غاړې لامل جوړوي . يوه قاچوغه خوږه د بدن دفاعي ځواک ﷺ ٥٠ را ټيټوي، يو بوتل کوکاکولا له ٦ تر ٨ ساعتونو د بدن دفاعي ځواک ټيټ ساتي ځکه چې په هغې کي د خوږې کچه زياته وي . د خوږې ناروغي انسان د زهايمر (همېشني هېرښت) په ناروغي اخته کوي. خوږه د سرطاني حجراتو خوراک ده له سرطان څخه د ځان د ساتلو او درملني لپاره د خوږې له خوراک سره د تل لپاره په مخه ښه کول ضروري دی . له خوږې څخه د زړه ټولي ناروغيوي پيدا کيږي. خوږه د جسم وزن زياتوي. خوږه وازګه ذخيره کوي. هره ناروغي چې انسان ته پيښيږي له خوږې سره تړاو لري .

هغه زیاتوي: پلرونه زامنو ته د سګرېټو د څکولو او د شرابو د څښلو اجازت کله هم نه ورکوي خو هغوی ته خوارېه شیان ورآخلي خو د خوړو زیان او خطر تر شرابو او سګرېټو زیات دی.
ډېر ښکلي او ګټور کتابونه یې لیکلي چې خلاصه یې داده که څوک بشپړه روغتیا غواړي د خوړې له خوراک څخه دې ډډه کوي

---

## مستې د کلسیوم غني مصدر دی

یوه پیاله مستې باید د ورځنی غذاء لازمي برخه وګرځوله شي غوره مستې هغه دي چې ملایي او چربي ونلري .
پودېنه که د چای غوندې روزانه بې خوږې وڅښله شي زړه فعالوي او د وینې جریان ته طاقت ورکوي ، په عین وخت کې معده او کولمې نرموي، د معدې تېزابیت ختموي، که په غاښونو وژووله شي دغاښونو درد او د خولې بدبویي ختموي، ستوماني لېري کوي، اینه او بنکریاس طاقتور کوي، د اعصابو ستوماني لېري کوي.
غازي مشروبات لکه سیون آپ، پیپسي، کوکاکولا، ډېو و غیره هډوکې کمزوري کوي، زړه او بډوګو ته تاوان پېښوي، انسان چاغوي، انسان د خوږې په ناروغي اخته کوي، غاښونه په چېنجو وهي، په ماشومانو کې د مرګ مفاجات سبب ګرزي ځکه چې د هغوی د زړه حرکت زیاتوي.
د شین چای څښل انسان له سرطاني ناروغیو ساتي .
دیرش دقیقې روزانه تګ کول انسان د زړه له ناروغیو، د خوږې له ناروغي، د وینې دپشار له لوړېدلو او د تاواني کولیسټرول له زیاتوالي ساتي .
اوږه دفاعي ځواک پیاوړی کوي څوک چې یې په منظم شکل خوري ډېر لږ د دې چانس لري چې په سرطان اخته شي .
ماښام وخت کې د تازه سونډ (زنجبیل) تود چای څښل وازګې وېلي کوي او له بدن څخه

زهرجن مواد باسي، جنسي ځواک پیاوړی کوي په تېره بیا که د بېړي په شاتو خوږ شي نور علی نور دی.

سهار چي کله له خوبه را پاڅې یو یا دوه ګلاسه اوبه څښل په جسم کي د مائعاتو د کمښت مخه نیسي او جسم له زهرجنو موادو پاکوي په پابندي یې تل څښئ.

---

## د اوږې او مزغي درد

یو کس وایي: تېر کال مي په اوږه کي ډېر سخت درد پیدا شو، ډېري دواګاني، ګولۍ او ستني مي ولګولې هېڅ ګټه یې ونکړه، روغتون ته ولاړم هلته مي د خپل نوبت انتظار اېست چي غږ مي واورېد یو څوک راته نارې وهي، چي ومي کتل یوه بوډۍ ښځه چي په خوځنده کرسۍ کي ناسته وه راته وې ویل:

بچیه ؛ څه در پېښه ده؟ ما وېل : مورې څو ورځي کېږي په دې اوږه کي مي درد دی مړ یې کړم، وېل د ما زوی هم له دې درد څخه شکایت درلود د الله ﷻ په فضل ور څخه جوړ شو زه به نسخه در وښیم هغه وکاروه الله ﷻ به دي ښه کړي.

نسخه یې راوښودله چي کورته ورسېدلم هغه مي جوړه او وکاروله پدې سبا درد ډېر آرام شو، دوه ورځي وروسته بالکل ختم شو اوس چي هغه بوډۍ نشته خو زه په غیاب کي دعاګاني ورته کوم.

**نسخه :** یوه پیاله د زیتون تېل دوه قاچوغي سونډ پاوډر، دوه قاچوغي مالګه، دوه قاچوغي زېره پاوډر، دوه قوطي ویکس .

### د تیارولو اواستعمال طریقه :

هرکاره به واخلې د زیتون تېل به پکي واچوې په اور به یې کېږدې چي ګرم شي بیا به مالګه ورواچوې بیا به سونډ ورواچوې بیا به زېره وراچوې خو هر یو چي ور اچوې په قاچوغه به یې سره ګډوې او ښوروې او په ترتیب به هر یو یو په بل پسې وراچوې، بیا به اور ووژنې

او دوه قوطي ویکس به ورواچوې په چمچه به يې ښه ولړې چې ښه سره ګډ شي بیا به يې د شیشې په یوه مرتبان کي واچوې او سر به ټینګ پسي وتړې بیا به په دې ملهمو اوږه په ورځ کي یو یا دوه ځلي مالش کوې تر لسو دقیقو پورې او چې تر څو بشپړ روغیږي دا نسخه کاروه.

پاته ملهم وساته بل وخت يي هم کارولی شې.

---

سپین شات : White Raw Honey

**وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ (٦٨) ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (٦٩) سورة النحل**

اوستا رب ﷻ مچیو ته وښودل چې له غرونو، ونو او له هغو تختو څخه خپل کورونه جوړ کړئ چې خلک يې در ته ږدي بیا له ټولو مېوو خواږه خورئ بیا په اساني سره د رب ﷻ په در ښودلو لارو ځئ. د دوی له خېټو داسي څښناک راوځي چې بېلابېل رنګونه لري او د خلګو لپاره په هغه کي روغتیا او درملنه ده بېشکه پدې کي دهغه چا لپاره دالله ﷻ د قدرت نښي دي څوک چې سوچ او فکر لري.

**عن بن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ "عليكم بالشفاءين العسل والقرآن" (أخرجه بن ماجه بإسناد جيد)**

ابن مسعود رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمایل په دوو شیانو خپله درملنه کوئ شات او قرانکریم.

شات د جسماني ناروغیو علاج دی او قرانکریم د قلبي ناروغیو درملنه کوي لکه ابن مسعود رضي الله عنه چي فرمايي:

**إن العسل فيه شفاء من كل داء والقرآن شفاء لما في الصدور .**

بېشکه شات د هري بدني ناروغي علاج دي او قرانکریم د زړه د ناروغیو درمل دی

سپین شات چي د روسیې له قرغېزستان څخه نوري نړۍ ته صادرېږی سپین رنګ لري، درانه وي، تر نورو شاتو زیات خواږه وي، له سپینو پولېنډي ګلانو څخه یې مچۍ تولېدوي دا ګلان د پسرلي په مهال د لنډ وخت لپاره د غرونو په دډو کي را زرغونېږي ځکه خو دا شات ډېر لږ موندل کېږي. دا شات زیاتي روغتیایي ګټي لري: که غذاء الملکات ( Royal Jelly) ورسره ګډ کړل شي د انسان د مجامعت ځواک پیاوړی کوي او د کمزورتیا مخ یې نېسي.

هغه څوک چي زیات وخت یې په فکري فعالیتونو کي لګېږي تالیف او ترجمه یا لیکل هغوی ته هم زیاته ګټه رسوي ځکه دا شات په فاسفورو بډای شات دي.

د غاښونو د ماتېدلو او د لېنګیو د کږېدلو مخه نېسي ځکه چي کالسیوم په پراخه کچه لري.

شات تل باید په نهاره او تر خوراک مخکي وخوړل شي ترڅو د معدې افرازات فعال کړي په تېره بیا دهغه چا لپاره چي د معدې له کمزورتیا او له بد هضمۍ شکایت لري.

علمي څېړنو جوته کړي چي په سپینو شاتو کي د استروجین د مشتقاتو جنسي هورمونونه زیات وي ځکه خو تناسلي نظام که د نارېنه وي او که د ښځي پیاوړی کوي.

همداراز پکي عطري عناصر زیات وي کوم چي د انسان د روغتیا او د هغه د صحتمن ژوند لپاره اړین وي.

په سپینو شاتو کي د انټرفیرون ماده هم وي کوم چي وائرسونه او مېکروبونه وژني او سپین شات یواځېنی طبیعي ماده چي همدغه دفاعي ځواک الهي قدرت پکي خوندي کړی دی.

کومي څېړني او تجربي چي د سپینو شاتو په هکله شوي لاندي ګټي یې جوته شوي دي: د زړه عضلات تقویه کوي ، د زړه ناروغیوي او لوړ پشار کنترول کوي، د ټیټ پشار درملنه کوي، نفس تنګي ټوخی او بلغم ختموی، د پوزي د انسداد مخه نیسي، د ستوني التهاب د ستوني وچوالی، ستوماني له منځه وړي، د معدې ناروغي او زخم یې جوړوی، سر درد ختموی، د تناسلي الاتو، او مثانې ناروغیوی، د نرتوب کمزورتیا ، د پښتورګو ډبري، د

پښتورګو زړې او نوی ناروغيوي، د مثانې زخم د مثانې کمزورتيا، د بندونو دردونه، د غاښونو ماتېدل او يا چېنجي وهل، په متيازو نه کنترول، د سوځېدلو او له عملياتو وروسته د پرهارونو روغول، د خولې سرطان، د پوستوکي سرطان، د رحم ناروغيوي، د حمل د تسمم مخنيوی، د حمل په وخت کي د معدې جوش، د سترګو کمزورتيا د سترګو التهاب، د پوزې دننه التهاب، د غوږونو، پوزي او ستوني د التهاب، د وېښتانو ماتېدل او لوېدل.

---

**د سرکې (Vinegar) ګټي:**

هغه سرکې چي شرکتونه يې جوړوي له معلوماتو سره سم کېمياوي مواد پکي کاروي او د هغو سرکو په نسبت يې روغتيايي ګټي لږ وي کومي چي له پنساريانو سره وي او ترټولو غوره سرکې هغه دي چي په کورونو کي او يا په لاس جوړي شوي وي.

رسول الله ﷺ فرمايي: **"نِعم الإدامُ الخلُّ" الحديث (رواه مسلم)**

ښه کتغ (سالن) سرکه ده

په بل حديث کي فرمايي:

**"اللهم بارك في الخلِّ فإنَّه كان إدام الأنبياء قبلي" (رواه ابن ماجة)**

اې الله ﷻ په سرکه کي برکت واچوې سرکه تر ما وړاندي دانبياوو سالن وو.

علمي څېړنو جوته کړي چي سرکه ستري روغتيايي ګټي لري:

که يوه قاچوغه سرکه هروه ورځ په منظم شکل د سبزي په سلاته واچوې د وينې وازګه ويلي کومي چي د شريانونو د بندېدلو لامل جوړېږي .

محدثين ليکي چي رسول الله ﷺ به سرکه د زيتون له تېلو سره خوړله او عمر بن الخطاب رضي الله عنه په عام الرماد کي کله چي مسلمانانو ته غوښه نه رسېدله پخپله يې هم د غوښي خوړل پرېښودل او د زيتون له تېلو سره به يې په سرکه ګوزاره کوله.

علمي او طبي څېړني وايي چي تر ټولو غوره سرکه د مڼې (سېب) سرکه ده چي زياتره

غذايي ايسيدونه يې په جوړښت کي شتون لري .

**ډاکټر جارفيس د "کورنۍ درملني" په کتاب کي ليکلي:**

سرکه کولمې له جراثيمو پاکوي، پښتورګي او مثانه پاکوي او په متيازو کي موجود جراثيمي انفکشنونه ختموي. هغه ناروغيوي چي د مهو (سېبانو) سرکه يې په درملنه کي ګټه رسوي. تر ٥ کلونو پورته د ماشومانو دمه (نفس تنګي) لپاره چي ٥٣ ګرامه سرکه په ١٠٠ ګرامه اوبو کي اچوله کېږي او ٢٠ ګرامه عسل (شات) ورسره ګډېږي او دوه يا درې ځلي په ورځ کي غرغره کېږي ګټه ورته رسوي.

کوم ځای چي وسوځل شي مخکي لدې چي تناکي جوړي شي سوځېدلی ځای په سرکه لوند کړئ د تناکو مخه نيسي او سوځېدل کموي.

هغه څوک چي د خولې او يا اوريو ناروغي لري هغوی که ٣٥ ګرامه سرکه په ١٠٠ ګرامه اوبو کي واچوي او هره ورځ يې په خوله کي د څه وخت لپاره (مضمضه کوي) رغړوي په تدريجي بڼه يې د خولې ناروغيوي ختمېږي .

که څوک د بد هضمي شکايت ولري او يا غوښي وخوري يا کوم بل دروند خوراک وکړي يوه قاچوغه سرکه دي په يوګلاس ګرمو اوبو کي واچوي او له خوراکه وروسته دې وڅښي د خوراک په هضمولو کي مرسته ورسره کوي.

که يو څوک هر سهار په تشه خوا دوه قاچوغي سرکه په يو ګلاس ګرمو اوبو کي وڅښي د مثانو او پښتورګو ناروغيوي ختموي.

**ډاکټر جارفيس زياتوي:**

په متيازو کي ډبرېن يا شګېن ترسبات ختموي.

که نيمه د چای قاچوغه له دوو قاچوغو د زيتون له تېلو سره په تشه خوا سهار او ماښام تر يوې مياشتي پوري وخوړل شي کولسټرول يو مخېز ختموي.

که د يو چا وزن زيات وي له هره خوراکه وروسته دي دوه قاچوغي سرکه په يو ګلاس ګرمو

اوبو کي اچوي او ودې څښني د بدن چربي يې ختموي چي په نتيجه کي يې زيات چاغښت راکموي.

دا يې ځېني عمده ګټي وې چي مونږ ياد کړې سرکه څرنګه چي په نبوي طب کي مهم ځای لري پدې اساس ګټي يې زياتي دي چي په کار ده د خپل ورځني خوراک يوه برخه يې وګرځوو او نقصان يې هېڅ نشته ان شاء الله ﷻ.

## د عرق النساء درملنه:

ابن القيم رحمه الله د نبوي طب په يوه برخه کي ليکی:

د عرق النساء د ناروغي لپاره لاندي طريقه تجربه شوي او کاميابه درملنه ده :

يو کليوالی وړوکی پوسه چي لم يې نيمه کيلو يا څه دپاسه وي حلال کړئ لم يې درې ونډي کړئ هرسهار يې يوه ونډه ويلي کړئ او په تنشه خوا يې تېل (مو) وڅښئ درې ورځې دا عمليه تکرار کړئ دستونه ناروغ ته ورولي او دا يې مثبته اغېزه ګڼله کېږي له درې ورځو وروسته به دالله ﷻ په اراده او رحمت د عرق النساء ناروغي ختمه شي.

## په نهاره د زيتون د تېلو د خوړلو ګټي

(د يوې عربي مسلمان خور ليکنه)

يو امرېکايي دهډوکو د سرطان په ناروغي اخته شو ډېر درملونه يې وکارول خو ګټه يې ورته ونکړه هغه وايي:

د زيتون تېلو ته مي مخه کړه يوه قاچوغه به مي سهار په نهاره (تنشه خېټه) او يوه قاچوغه به مي د شپې لخوا تر وېده کېدلو دمخه خوړل دوه مياشتي مي پرله پسې دا نسخه وکاروله له يادي شوي ناروغي څخه رک روغ شوم.

زه داسي کسان پېژنم چي د کوليسټرول له زياتوالي يې سر ټکاوه يوه مياشت يې د زيتون

تېل يوه قاچوغه سهار په تنشه خوا او يوه قاچوغه ماخوستن تر وېده کېدلو د مخه خوړل کولسټرول يې دالله ﷻ په فضل يو مخيز ختم شو.

ډېر کسان وايي چې مونږ په خوړو کي تل زيتون کاروو خو د خوږې ناروغي ته يې کومه ګټه نده رسولي خو حقيقت دادی چې هرڅه خپله طريقه لري.

دلته د سهار وخت او نهاره خپلي ځانګړتياوي لري چې د ناروغيو په درملنه کي اغېزمن رول لري. ايا کجوري خوړل دصحابه کرامو رضوان الله عليهم أجمعين همېشنی خوراک نه وو؟ خو سره لدې هم رسول الله ﷺ ورته تل داسي فرمايل:

**عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه أن النبي ﷺ قال : مَنْ تَصَبَّحَ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعَ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً ،لَمْ يَضُرَّهُ فِي ذَلِكَ اليَوْمِ سُمٌّ وَلاَ سِحْرٌ (رواه البخاري ومسلم)**

سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه وايي : رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي هره ورځ سهار وختي اوه (۷) عجوه خورماوي په نهاره وخوړلې په همدغه ورځ کي به زهر او جادو کوم ځور ور ته و نه رسوي..

په دې حديث کي رسول الله ﷺ د "من تصبح" توري ياد کړي چي معنا يې ده "چا چي خپل سهار وختي وخوړلې" او زهر چي محسوسه ناروغي ده او جادو چي معنوي او روحي ناروغي ده يادي کړي. د دې معنا داده چي که يې څوک د ورځې په نورو وختونو کي هر څومره وخوري خو ذکر شوي ګټي نلري.

**دا مسلمانه خور زياتوي:**

ما وليدل چي ځما د شوګر ناروغي به کله ۵۰۰ درجو ته وختله خلګو به ډول ډول مشورې راکولې او خپلي تجربې يې راسره شريکولې، ټېنګ پرهېز او ورزش مي پيل کړ، او مياشت وروسته ۳۰۰ درجو ته راټيټ شو او د روژې په حالت کي به کله ۲۰۰ درجې شو ډېر کورني درملونه مي وکارول خو کومه د پام وړ ګټه يې راته ونکړه. له ځان سره مي پرېکړه وکړه چي دخوږې دناروغي د درملني لپاره دا درې حل لاري وکاروم او هري طريقې ته يوه هفته وخت

ورکړم. ۱/ ټېنګ پرهېز او ورزش ۲/ دزيتون تېل ۳/ د روغتون درملونه.

لومړی هفته: ټېنګ پرهېز او ورزش مي يوه هفته پرله پسې وکړ کومه د پام وړ ګټه يې ونکړه او ډېر لږ توپير مي چي په نشت حساب وو محسوس کړ.

دوهمه هفته : د زيتون د تېلو کارول: هر سهار په تنشه خوا مي دوه قاچوغي د زيتون تېل خوړل درې ورځي وروسته مي خپله ناروغي ټېسټ کړه ۱۸۰ درجې وو هک پک شوم چي يو دم ۱۲۰ درجې راټيټ شوی وو. د اونی په پای کي چي مي بيا ټېسټ وکړ ۹۳ درجې وو پداسي حال کي چي روژه مي هم نه وه او هرڅه مي خوړل.

زما د تجربې له مخي د زيتون ښه تېل هغه دي چي تازه او يا د همدغه کال وي چي د ستيل يا المونيوم په ډبو کي پيک شوي او سم ساتل شوي وي.

پوښتنه داده چي ايا د زيتون تېل مؤقت حل دی او وروسته پرېښودل کېږي او که تل بايد وکارول شي؟

آيا د زيتون تېل د پنکرياس غباندي فعالوي تر څو شوګر کنټرول شي؟

او که د زيتون تېل په وينه کي زياته خوږه ځان ته جذبوي؟

زه وايم چي هر ناروغ خپل ځان او خپله ناروغي ښه پېژني مهمه داده چي په وينه کي مي شوګر يومخېز کم شوی او په بدن کي مي د ناروغي نښي او نښانې له منځه تللي دا مهمه نده چي څه ډول يې دا ناروغي کنټرول کړه خو کومه تګلاره چي ما د زيتون د تېلو په خوړلو کي کارولي هغه په لاندي ډول ده.

دوه يا درې قاچوغي سهار په تنشه خېټه خوړل همدا راز دوه يادرې قاچوغي ماخوستن تر وېده کېدلو د مخه خوړل . ما پخپله تر يوې هفتې پوري ماخوستن تر وېده کېدلو د مخه خوړل خو وروسته مي پرېښودل او دسهار له خوا په خوړلو مې دوام وکړ چي د سهار لخوا په تنشه خوا خوړل يې مهم او زيات اغېزمن دي. دا چي زما د خوږې د ناروغي کچه راټيټه شوي آيا د زيتون د تېلو د خوړلو اغېزه ده؟

هو زه پدې باور يم چي دا د زيتون د تېلو اغېزه ده ما چي کله له نورو ناروغانو سره تماس ونېو او ومي ليدل چي هغوی ته يې هم ګټه کړي نور هم باوري شوم چي دا يې بريالی او تر ټولو آسانه او د کم لګښت لرونکی علاج دی.

زه وايم چي که د سهار د لمانځه په وخت د زيتون تېل وخوړل شي او نور خوراک يا ناشته يو ساعت يا زيات وخت وروسته وکړل شي نوره به يې هم اغېزه زياته وي تر څو د زيتون تېل د ناروغ بدن ښه جذب کړي.

ما دا ليکنه درې مياشتي وروسته کړي او اوس مي هم د شوګر د درجو شمېرې طبېعي او نارمل دي .

چا چي د خوږې د ناروغي په درملنه کي د زيتون تېل کارولي هغوی بېلابېل غبرګونونه ښودلي دا ځکه چي هر انساني جسم بېل بېل خصوصيتونه لري خو په لنډو ټکو کي دهغوی غبرګونونه په لاندي ډول وو.

ځېنو داسي وويل چي په لومړۍ ورځ يې شوګر ۱۰۰ درجې راټيټ شوی چا ويل چي درې ورځي وروسته يې بريالی نتېجې ليدلي، ځېنو چي د کولنجو په ناروغي اخته ول شکرونه يې اېستل چي ټول دردونه او کولنج مي ورسره ختم شول.

ځېني نور ناروغان چي د شپې لخوا يې د پښو له تودوالي او سوړوالي يې شکايتونه درلودل او يا يې زياتي متيازي کولې هغوی وايي چي ډېره ګټه يې ورته کړي.

ځېني نور نژدې ملګري چي د شوګر ګولۍ به يې خوړلې وايي چي کله مو د زيتون د تېلو له خوړلو فايده محسوسه کړه د ګوليو خوړل مو پرېښودل او د زيتون د تېلو په خوړلو مو بسنه وکړه.

چاچي د انسولين ستني لګولې هغوی وايي چي د ستنو د لګولو کچه مو راټيټه کړي او کوشش مو دا دی چي يو مخېز يې پرېږدو. د چا چي د شوګر ناروغي نه وه خو د زيتون د تېلو خوړل يې پيل کړي وو وايي داوږو، لېنګو او ګونډو دردونه يې راکم کړل. خو څومره کسان

چې زه یې پېژنم او د زیتون تېل یې په یاده شوي توګه پرله پسې خوړلي او دوام یې ورباندې کړی هېڅا یې هم د منفي او بدو اغېزو شکا یت ندی کړی او دا دالله ﷻ ستر رحمت او نعمت دی.

---

**دګرمو اوبو دڅښلو ګټې :**

د اوبو توری په قرآنکریم کي ٦٣ ځلي ذکر شوی دی چي یو ځل یادونه یې هم په دې ایت کریمه کي شوي ده:

**وجعلنا من الماء كل شيء حي أفلا يؤمنون .**

او مونږ هرڅه د اوبو په ذریعه ژوندی ګرزولي دي آیا دوی ایمان نه راوړي؟

په بل ایت کریمه کي د اوبو داسي یادونه شوي ده:

**ويُنزّل عليكم من السماء ماءً ليُطهركم به ويُذهب عنكم رجز الشيطان وليربط على قلوبكم ويثبت به الأقدام (سورة الأنفال)**

او په تاسې له اسمانه اوبه راتویوې چې ورباندې پاك مو کړي، د شیطان پلیتي درنه یوسي، زړونه مو پرې قوي او پښې مو ورباندې ټینګې کړي .

په بل آیت کریمه کي راغلي :

**أفرأيتم الماء الذي تشربون.**

آیا تاسو هغه اوبه کتلي دي چي تاسو یې څښئ؟

له دې سره سره چي اوبه نه رنګ لري اونه بوی او نه کوم ځانګړی خوند خو بیا هم الله ﷻ له مونږ څخه د هغې په هکله پوښتنه کوي ځکه چي اوبه د انسان د ګټي لپاره له سترو پټو رازونو څخه برخمني دي په څومره اندازه چي انسان د اوبو په ګټو خبرېږي او د هغو په هکله یې معلومات او پوهنه زیاتېږي په هماغه کچه یې د اوبو په هغو معجزانه اسرارو ایمان او باور پخېږي کومي چي الله ﷻ پخپل بېساري قدرت پکي خوندي کړي دي.

د اوبو روغتیایي ګټې هغه وخت نورې هم زیاتېږي کله چې حرارت ور زیات کړل شي تر څو تودې اوبه ځېني جوړې شي او تودې اوبه یوازینۍ هغه عنصر دی چې زمونږ په اجسامو کې تاواني بکتېریاوې له منځه وړي، زهرجن مواد وژني او وازګې وېلې کوي. په دې سربېره تودې اوبه هغه طبیعي ماده ده چې تاوان یې هیڅ نشته او روغتیایي ګټې یې نورې هم ډېرې زیاتې دي.

کله چې د یو چا روغتیا د تودو اوبو په برکت پیاوړې شي او له روغ بدن څخه برخمن شي بیا د هغه د بدن غړي زیات فعال او خپلې دندې په بشپړه توګه سمې سرته رسولای شي چې په نتیجه کې د هغه د جسمي روغتیا په برکت د هغه فکر او ذهن هم په غښتلې بڼه ګټورې دندې تر سره کولای شي.

یو امریکایي ایراني الأصل **ډاکټر أف.باتمانګلیډې** په یو څېړنیز مقال کې لیکي:

هغه عضلات چې بدن خوځوي ٪۷۵ اوبه لري، هغه وینه چې خوراکي مواد لېږدوي ٪۸۲ اوبه لري، سږې چې اوکسیجن تولیدوي ٪۹۰ اوبه لري، مازغه ٪۷٦ اوبه لري هډوکي ٪۲۵ اوبه لري.

---

**دتودو اوبو د څښلو ګټې:**

١- د ګڼو هغو ناروغیو مخنیوی کوي د کومو په وجه چې په نړۍ کې هر کال په ملیونونو انسانان ژوند له لاسه ورکوي

٢- د ګڼو رنځونو، ساري ناروغیو ، د ولادت د ناروغیو، د بوډاتوب د ناروغیو، لکه د اعصابو ناروغیوې، د پوستکي د ناروغیو او د بندونو او هډوکو د دردونو (وجع المفاصل) همدا راز د ملا د درد مخنیوی کوي.

٣- د انساني جسم چربې، وازګې او هغه فضله مواد ختموي کومې چې ګڼ رنځونه زېږوي لکه ساه لنډي، د شوګر ناروغي، د ویني پشار او کولسټرول او داسې نور.

هغه ناروغیوي چې د تودو اوبو په وسیله یې درملنه شوي او له منځه وړلي شوي دي.

١- ساه لنډي

٢- د ويني لوړ پشار

٣- شوگر (د خوږې ناروغي)

٤- سر خوږی او نیم سر خوږی

٥- د ويني کمښت

٦- د ملا همېشنی درد

٧- د پښتورگو ډبري او درد

٨- د مثانې التهاب

٩- د ويني د پشار لوړوالی او کولیسټرول

١٠- د متیاځو دنالۍ ځور

١١- د بندونو او هډوکو دردونه

١٢- شل توب

١٣- سستي او ستوماني

١٤- د ستوني ناروغیوي

١٥- غذايي تسمم

١٦- د خوب نشتوالی یا د خوب ناکراري

١٧- د يخ زکام او تبه

١٨- د معدې سوځېدل

١٩- همېشنی قبض

٢٠- د اعصابو ناروغي

٢١- پک والی یا د وېښتانو لوېدل

۲۲- د پوستکي ناروغیوي

۲۳- د زهایمر (د مازغو ګډوډي) ناروغي

۲۴- د زړه ناروغیوي

۲۵- د سرطان ناروغیوي

د ذکر شویو نارغیو لرونکي ناروغان د ګرمو اوبو له دائمي څښلو سره کاملا روغ شوي او ناروغیوي یې د الله ﷻ په فضل له منځه تللي .

**څه ډول تودې اوبه:**

اوبه باید په دومره اندازه تودې وي چي ستونی یې تودوخه احساس کړي او بدن یې څښل ومني او چي څومره زیاتي تودې وي په هماغه کچه یې ګټه زیاته ده او د تودوخي درجه یې باید د ۳۵ او ۵۰ تر منځ وي او تودوالی یې اقلاً د بدن تر داخلي تودوالي کم نه وي او د اوبو دڅښلو د کوپ حجم ۲۴۰ تر ۳۰۰ ملليتره پوري وي.

**د تودو اوبو د څښلو طریقه:**

۱- یو یا دوه کوپه اوبه له خوب څخه سمدلاسه د پاڅېدلو په وخت کي سهار وختي او په ولاړو باندي څښل.

۲- دوه کوپه اوبه د سهار له لمانځه وروسته او تر ناشته مخکي.

۳- درې کوپه اوبه له ناشتې دوه ساعته وروسته د غرمې تر ډوډۍ پوري.

٤- یو کوپ اوبه تر ډوډۍ مخکي.

۵- د غرمې له خوراک څخه دوه ساعته وروسته له دوو تر څلورو کوپه اوبو پوري تر ماښامه پوري څښل.

٦- یو کوپ ماخوستن تر ویده کېدلو مخکي څښل.

پټه دي نوي چي تودې اوبه په بدن کي د ویني جریان د بدن ټولو برخو ته پراخوي چي په نتیجه کي د وېښتانو ریښې یا عصبونه تقویه کوي، وېښتانو ته ښکلا وربښي او د وېښتانو

د لوېدلو مخنيوى او په وده ورکولو کي يې مرسته کوي.

د تودو اوبو د څښلو بله ګټه داده چي انسان د معدې او کولمو له دردونو ساتي د کولمو وچوالى کېداى شي د قبض تر څنګ انسان ته نوري ستونځې هم ور پيښني کړي مونږ کولاى شو د تودو اوبو په وسيله په خېټه کي خوړل شوي خواړه په اساني سره هوار کړو ترڅو بدن مو روغ او خېټه مو فعاله وساتي.

او به بايد معدني يا د چينو وي او يا هم د معتمدو شرکتونو د بوتلونو فلټر شوي اوبه وي په ذکر شوي اندازه تودې وي هغه څوک چي د بدن چربي او وزن يې زيات وي بايد په سهار وختي اوبو کي يو دانه لېمو يو څو څاڅکي سرکه او دوه قاچوغي د بېري شات هم واچوي همدا راز ماخوستن تر وېده کېدلو د مخه په يو کوپ تودو اوبو کي د بېري دوه قاچوغي شات اچول د خوراک په هضمولو کي مرسته کوي اعصابو ته سکون وربښي او دخوب ناکراري له منځه وړي .

---

## د يخو اوبو د څښلو تاوان:

څېړنو او تجربو جوته کړې چي د خوراک په منځ کي او له خوراکه وروسته د يخو اوبو څښل کېداى شي د خوراک استهلاکي مواد کرل کړي کوم چي د خوراک د عبور او مرور په لارو کي او د کولمو او معدې په داخلي دېوالونو باندي د غوړزګنو او وازګېنو موادو يوه طبقه يا استر جوړوي کوم چي کېداى شي په نتېجه کي يې انسان د کولمو او يا هم معدې په سرطان اخته کړي خو که د يخو اوبو په ځاى تودې اوبه وڅښلي شي هغه وازګېن استر ويلي کوي چي د سرطان په مخنيوي کي ښه رول لوبولاى او ستونزه ختمولاى شي.

## د تجربې له مخي په تودو اوبو علاج

په لاندي ټاکليو وختونو کي د لاندي ناروغيو په درملنه برلاسي شوي دي :

- د خوږې (شوګر) ناروغي ٣٠ ورځو کي.

- لوړ فشار په ۳۰ ورځو کي.
- د معدې ستونځي په ۱۰ ورځو کي.
- هر ډول سرطان (کېنسر) ۹ میاشتو کي.
- د سل او دق (TB) ناروغي په ٦ میاشتو کي.
- قبض او پېچ په ۱۰ ورځو کي.
- د پېښتورګو او مثانې ناروغیوي په ۱۰ ورځو کي.
- د پوزي ، غوړونو او ستوني ناروغیوي په ۲۰ ورځو کي.
- د ښځو د میاشتني دورې ستونځي په ۱۵ ورځو کي.
- د زړه هر ډول ناروغیوي په ۳۰ ورځو کي.
- سرخوږی په ۳ ورځو کي.
- د ویني کمښت په ۳۰ ورځو کي.
- زیات چاغښت په ٤ میاشتو کي.
- مېرګی او ګوځن (فالج) په ۹ میاشتو کي.
- د تنفس ناروغیوي په ٤ میاشتو کي.

په عربي کي متل دی : إذا لم یسرك لن یضرك (که یې خوشاله نکړې ځوروي دي کله هم نه) دا نسخه هم پخپله عملي کړئ او هم یې ستاسو په خواوشا کي ناروغانو ته ورسوئ .

## د پېښتورګو (ګردو) ډبري

د پېښتورګو (ګردو) او د مثانې د ډبرو لپاره د مولۍ تجربه شوي کامیابه نسخه :

سپینه مولۍ به له پاڼو سره پاکه ووینځې او میده میده به یې کاټ کړې او بیا به یې په اوبو کي د لسو دقیقو لپاره وایشوې او هغه اوبه به تودې تودې حسب ضرورت د نورو اوبو په

ځای ځبنې ان شاء الله چي په لنډ وخت کي به مو تړي وباسي. د دې نسخې ګټه او فايده يقيني ده او تاوان يې نشته.

**په ورځ کي يو ساعت پياده تګ کول د لاندي رنځونو مخه نيسي :**

۱- پرېشاني او زړ تنګي

۲- د هډوکو کمزورتيا او ډنګروالی

۳- د شوګر د ناروغي پېبنېدل

۴- د زنګونونو التهاب

۵ - د زړه ناروغېوي

٦- د ملا دردونه

۷- د زهايمر (يو مخېز هېربنت)

**ځانګړي روغتيايي شلومبې**

مستې څلور کيلو

ادرک يو پاو

دهنيا يوه ګېډۍ

پودينه يوه ګېډۍ

اوږه يو پاو

د ليمو جوس يو د چايو ګلاس

سرکه ۲۵۰ ګرامه

زيتون تيل ۵۰۰ ګرامه

بادرنګ يوه کيلو

پالک نیمه کیلو

داټول په مکسر کي واچوه ښه يي واړه کړه او روغتیا ښښونکي چکني ترې جوړي کړه په يخچال کې درته وساته د اړتیا په وخت کي دوه برخي اوبه له یوې برخي چکني سره ګډوه او دا خوندوري شلومبې په مزه مزه په ورځ کي درې څلور واري په مزه مزه څښه هم تنده ماتوي او هم دي روغتیا ته ګټه رسوي

**(نوټ)** مالګه پکي نشته ځکه چي مالګه سپين زهر بلل شوي سرکه او لیمو هم د مالګي ځای نیسي او هم يي ذائقه زياته خوندوره کوي.

---

## د ترېخي ډبري :

په ترېخي کي وړې وړې ډبري له کولیسټرول څخه پيدا کېږي د دې ډول ډبرو دردونه او خوږ ډېر ځورونکي او سخت وي او د همدغو ډبرو د علاج لپاره د درملتونونو دواګاني د انسان په جسم او روغتیا ناوړه منفي اغېزي Side effects پرېږدي .

مونږ به دلته تاسې ته یو کورنی درمل در وښيو چي په عربی نړۍ کي ازمويل شوي او ويل شوي چي په څلورويشتو ساعتونو کي دا ډبري رژوي او راباسي يې ان شاء الله ﷻ چي ستاسي ناروغانو ته به هم سريع الأثر ګټه او فايده وکړي .

### تيارول:

- يو لوښی سره له سرپوښه يوه
- د چاي کوپ د زيتون کورني تيل
- د اپسوم (epsom) مالګه چي په درملتونونو کي پيدا کېږي.
- د ګرېپ فروټ (چکوتره) جوس.

### دجوړولو طريقه :

تر علاج پيلولو یوه شپه مخکي به د هر ډول ګوليو او دواګانو له خوړلو ډډه وکړې او ډېر لږ به

داسي خواړه وخورې چې غوړ ونلري د علاج تر پیلولو په وړاندي ورځ کي به د ماسپښین له ۲ بجو وروسته هېڅ شی نه خورې که غواړې چي روغتیا ومومې او علاج دي کامیاب شي ټکي په ټکي دا لاربښووني عملي کړه.

درې ګلاسونه به اوبه کړې په جوسر ماشین (Mixer) کي به یې واچوې څلور قاچوغي د اپسوم (epsom) مالګه به هم پکي واچوې او په یخچال کي به یې کېږدې. دا محلول به په پنځو خوراکونو ووېشې مابنام په شپږ بجې به لومړی خوراک تیار شوي اوبه وڅښې .

ماخوستن په اته بجې به دوهم خوراک بیا وڅښې پام مو وي چي نور به هېڅ ډول خواړه د ماسپښین له دوو بجو وروسته د علاج تر پایته رسېدلو پوري نه خورئ .

په ۹:۴۵ پاو کم لس بجې به د چکوترې جوس جوړ کړئ د زیتون تېل به ورسره ګډ کړئ او هغه پاته محلول اوبه به هم ورسره کړئ او په جوسر کې به یې ښه سره ګډ کړئ او پنځلس دقیقې وروسته به همدا محلول یو خوراک وڅښئ.

د هغه نه وروسته به د نیم ساعت لپاره هوار ستوني ستغ ارام وکړئ په همدغه شپه به مو خوب ډېر لږ وي ځکه چي ټوله ورځ مو څه ندي خوړلي سهار په ناشته به بیا همدغه محلول بل خوراک وڅښئ او د پاته محلول وروستی خوراک به ماسپښین په دوه بجې وڅښئ وروسته به دستونه در شي تربخی به مو له اسهال سره پاک شي او ډبري به مو له تربخي ووځي د علاج له ختمېدلو وروسته به دوه وخته نرم خواړه وخورئ .

---

## دخوب په مهال دخېټي دوازګي دویلي کولو جادویي شربت:

مونږ چي کله د نارینه او ښځینه د چاغښت خبره کوو ترټولو زیات خطرناکه د خېټي سیمه ده چي بېلابېل لاملونه خېټه غټوي لکه حمل، د عمر زیاتوالی، زاړه پاړسوبونه او هم داسې نور. تاسو به باور ونکړئ چي یوه داسې نسخه هم شته چي د خوب په مهال ستاسې د خېټي وازګه ویلي کوي دا هغه وخت چي تاسې دا نسخه کټ مټ وکاروئ دا شربت به

تاسو تر وېده کېدلو درې ساعته مخکې څښئ د کېوي (KIWI) مېوه نه یواځې دا چې وازګه او کالري په طبیعي شکل سوځوي بلکه ټول هغه طبیعي ویټامېنونه هم لري کوم چې انساني جسم ورته اړتیا لري.

نسخه دا ده :

- درې دانې کېوي  په پښتو کې نوم نلري

- یو دانه لېمو

- نیمه نارنګۍ

- یوڅو دپالکو پاڼې

- یوه وړه قاچوغه بذر الکتان / په پښتو کې نوم نلري.

نارنګۍ او لېمو به دواړه ونښتېځې او دا نور مواد به وړې وړې ټوټې کړې او په برقي مکسر کې به یې واچوې وروسته د مالتې او لېمو اوبه ور واچوه بوره مه پکې ګډوئ که غواړې چې یوڅه خوږ شي یوه چمچه اصلي د بېري شات ور ګډ کړه ټول مواد ښه سره ګډ کړه او هر ماسخوتن دا روغتیا ببښونکی او په ویټاميني موادو بډای یو ګلاس شربت څښه.

د دې شربت څښلو ته تر هغه وخته دوام ورکړئ ترڅو چې خېټه مو نارمل حالت ته راګرځي.

---

په سلاته باندې د زیتون تېل او سرکه اچول نه یواځې دا چې د سلاتې خوند سموي بلکه له بدن سره د هغو معدني موادو په جذبولو کې مرسته کوي چې د سلاتې په پاڼو کې خوندي وي .

په عین وخت کې دا ډول سلاته چې سرکه او زیتون ورسره ګډ شوي وي د سرطان او د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي او ذائقه یې هم ډېره جالبه وي.

(American Journal of Clinical Nutrition)

**پیاز او د غوږ درد**

زیاتره زمونږ تنکي ګلان ماشومان د غوږ د درد د ناروغي ښکار کیږي او په کلپوالي سیمو کي چیرته چي ډاکټر او درملتون ته لاس رسی ستونځمن وي مور او پلار لالهانده او پریشانه وي. هغوی کولای شي چي د پیاز په وسیله د غوږ د ناروغي درملنه وکړي .

نویو څیړنو جوته کړي چي پیاز د غوږونو په درملنه او د درد په کمولو کي رغنده رول لري.

دحیرانتیا ځای خو دادی چي پیاز به څه ډول د غوږ د درد لپاره کاروي؟

پیاز به وړې وړې ټوټې کړې او په یوه ټوکر کي به یي واچوې او بیا به یې په بخار تاوده کړې او په غوږ به یې کیږدې. بله طریقه یې داده چي د پیاز د منځ برخه به وړه ټوټه له تودولو وروسته د غوږ د سوري په اندازه واخلې او تر ویده کیدلو د مخه به یي ناروغ ته د غوږ په سوري کي ور کیږدې.

تجربې ښودلي چي په یاد شویو طریقو پیاز د غوږ په دننه کي د سریښ لرونکي مادې پنډوالي نرموي او له همدې لاري د غوږ په دننه کي هغه التهاب چي د غوږ د درد لامل جوړیږي له منځه وړي. تاسې کولای شئ دا عملیه تر هغه وخته تکرار کړئ ترڅو چي د غوږ درد بشپړ ختم شي او بیا را ونه ګرځي. پټه دي نه وي چي پیاز په ځینو مواردو کي د کورنی غوره او وړیا درملو تر څنګ د علمي څیړنو له مخي یو قوي انتي بیوتیک (میکروب وژونکی) هم دی.

**د لیمو روغتیایي ګټي:**

لیمو یوه داسې میوه ده چي نن سبا هر چیرته په پراخه کچه موندل کیږي د لیمو میوه له عربو هیوادونو څخه اروپا او نوري نړۍ ته لیږدول شوي . د لومړي ځل لپاره په اسپانیا کي په یوولسمه پیړۍ کي دا میوه را څرګنده شوه.

کرېستوفر کولمبوس د نورو مېوو او سابو تر څنګ لېمو هم له ځان سره په ۱۴۹۳ کال کې نوي نړۍ امریکا ته وړی وو چې بیا یې د لومړي ځل لپاره په شپاړسمه پېړۍ کې د امریکا د فلوریډا په ایالت کې کرهڼه پیل شوه. لېمو د زیاتي کچې ویټامین C تر څنګ نور هم هغه حیاتي مواد چې انساني جسم ورته بنسټېزه اړتیا لري پخپل ځان کې لري.

**په لاندې کرښو کې د لېمو ګټې جوته کوو**

- لېمون د پراخي کچې ویټامین C لرلو په برکت د التهابونو، اوږد مهالو ناروغیو او د وختي بوډا توب مخه نیسي.

- د یخ موسم په پیل کې د زکام او انفلوینزا د مخنیوي او د جسم د دفاعي ځواک د پیاوړتیا په موخه په کار ده لېمو په خوراک او سلاته کې زیات وکارول شي.

- لېمو پخپل جوړښت کې د لېمونین تر څنګ ۲۲ داسې نور مواد هم لري چې په بدن کې د سرطاني ځالو د خپرېدلو مخه نیسي.

- لېمو د نورو مېوو په پرتله د بدن ټولو برخو حتی دماغ ته اکسیجن لېږدوي چې د انسان عقلي ځواک پیاوړی کوي او له سستي او تنبلي یې راګرځوي او له خوبه یې ژر راوېښوي.

- زمونږ د بدن هغه اړتیاوې چې مونږ یې له بېلابېلو سابو، لندو او وچو مېوو څخه لاسته راوړو هغه تر ډېري کچې یواځې په لېمو کې شته چې د شکري او د زړه د ناروغیو په مخنیوي کې له مونږ سره مرسته کولای شي.

- لېمو د انسان مزاج برابروي، د طاقت کچه یې لوړوي او د پرېشاني او دېغت مخه یې نیسي.

- لېمو په خپل جوړښت کې په زیاته کچه پوټاسیوم لري چې د وینې نالی نرمي او پستې ساتي چې له همدې لاري د لوړ فشار په را ټیټولو کې مرسته کوي او ورسره د زړه روغتیا ته د پام وړ ګټه رسوي.

یادي شوي ګټې یې په پام کې ونیسئ او لېمو د خپل ورځني خوراک یوه حتمي برخه

وګرځوئ.

د شوروا په ډوډئ او سالن يې دراچوئ او په سلاته کي يي کاروئ هم يي خوند سموي او هم ستاسې روغتيا ته ګټه رسوي. پورتنۍ ګټي يي د نارمل استعمال دي چي له هر خوراک سره د يوه کس لپاره يوه دانه وکارول شي او غوره داده چي د لېمو د پوستوکي اوبه هم وايستلي شي ځکه چي په پوستکي يې ګټي تر مغز څو چنده زياتي دي ډېر زيات څښل يي ويل کېږي نارينه کمزوری کوي خو په علمي بڼه دا خبره نه ده جوته شوي خو د لېمو په تنها کارولو کي افراط کول کېدای شي انسان ته د خېټي تکليف ور پيدا کړي.

---

**کورنۍ جوشانده.**

د ژمي په موسم کي زکام زيات وي خو چي کله يې هم په عوارضو پوه شئ سم د لاسه لاندي جوشانده پيل کړئ دا به ستاسې زکام نارمل کړي او د ستوني د التهاب او تبي مخه به ونيسي او ان شاء الله چي په دوو دريو ورځو کي به ستاسې بشپړه درملنه هم وکړي.

**د جوشاندې د تيارولو طريقه:**

يوه وړه قاچوغه پاوډر شوی لايچي نيمه قاچوغه لونګ پاوډر د نيمي هګۍ په اندازه تازه ادرک او په دوو ګوتو کی نيول شوي زعتر (سونګری) او يوه دانه اوږه / ثوم يوځای په آونګ کي ونټکوئ بيا يي په يو ليتر اوبو کي په نرم اور وايشوئ دوه دانې لېموګان په چاينك کي ونښتېځئ پوستکي يې ايشېدلو اوبو ته واچوي اوبه د يوې دقيقې لپاره نوري هم وايشوئ او بيا يې په ګلاس يا چاينك يا ترموز کي چاڼ کړئ او يوه يا دوه د مستو چمچه د بېړي شات پکي حل کړئ او د زکام د علاج لپاره دا ګټوره او روغتيا ښښونکي جوشانده په ورځ کي دوه ځلي جوړوئ او ګرمه ګرمه يې څښئ . يو لېتر ترموز ډک جوړ کړئ او وقفه وقفه وروسته يې څښئ ان شاء الله ﷻ چي نورو درملو ته به مو ضرورت نه پېښېږي او ژر به روغ شئ .

سعتر، يا زعتر يو خوشبو لرونکی بوټی دی چي پاڼي يې د مسالې په توګه په خوراک کي

کارول کېږي په پښتو کي یې زمونږ د سیمي محلي نوم فکر کوم سونګری دی او زمونږ په هېواد کي شته او پنساریان یې د سعتر په نوم پېژني. که مو پوزه زیاته بهېږي او ورڅخه په ځور یاست: حبة السوداء یا کلونجي یو دوه قاچوغي په اور نیني کړه او د کاټن په یوه نرم ټوکر کې واچوه او په سپېنسي یې وتړه ټوله ورځ یې بویوه او یا یې په وقایوي ماسک کي دننه له سپږمو سره جوخت کېږده ان شاء الله ﷻ چي په دوو دریو ورځو کي به دپوزي بهېدل هم ودرېږي.

---

## داستنشاق (په پوزه داوبو رغړولو) حکمت او راز:

یو ځوان وایي پنځه کاله د سر بدالي په رنځ اخته وم ځان به مي نشو ټینګولای خپل توازن مي بایللی وو سر به را باندي څرخېدو ډېر علاجونه مي وکړل او ډېرو متخصصینو ته ورغلم فایده یې ونکړه. عمرې ته ولاړم او په دې حدیث چي ﷺ فرمایي:

**"وَبَالِغْ فِي الْمَضْمَضَةِ وَالِاسْتِنْشَاقِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا"**

که دی روژه نه وه په خوله او پوزه کی په اوبو غرغره کولو زیاتی او مبالغه کوه

مي د عمل کولو په نیت په پوزه د اوبو په سوغولو کي مبالغه کوله خو چي کله به مي بېرته ټک وهله خړي ختې په ځېني را وتلې څلور ورځي مي پنځه وخته دا عملیه تکرار کړه هغه تکلیف مي یو مخېز ختم شو . څلور کاله پرلپسې ځور په ډاکټرانو او روغتونونو ګرځېدل او لګښتونه او په څلورو ورځو کی بې لګښته له رنځ څخه خلاصون او روغتیا ترلاسه کول د حیرانتیا خبره ده.

پوزه څلور کڅوړي لری او د دې کڅوړو د صفا کولو او وینځلو لپاره غربي نړۍ کي داسې کوزړي جوړ شوي چي د هغو په وسیله په یوه سپنګه اوبه ور دننه کوي او په بله یي ترې راباسي تر څو د پوزي کڅوړي ووینځي خو زمونږ ګران پیغمبر ١۴٠٠ کاله مخکي په پوزه او خوله د اوبو په رغړولو کي د مبالغې امر کړی.

هغه ورونه چې له همېشني سر درده او د سر له چکر او تېلبه تېلبه کېدلو شکايت لری که د زمزم اوبه ورته ونه رسېږي په هر اوداسه کي دې پاکي اوبه داسې استنشاق کوي چې ستوني ته يې اوبه ورسېږي او بيا دې بېرته تېک وهي ان شاء الله چې ډېر ژر به يې صحت ته ګټه ورسېږي او له رنځه به خلاص شي.

---

**الصمغ العربي يا عربي کنډ :**

عربي کنډ هغه د روغتيا پټه خزانه ده چې د انسان دفاعي ځواک پياوړی کوي او د جسم په دننه کي هغو ګټورو بکتېرياوو ته وده ورکوي کوم چې د ناوليو مېلمنو جراثېمو او ناروغيو مخه نيسي .

عربي کنډ Acacia Gum د اکاسيا د وني کنډ دي چې هر چېرته په پراخه کچه پيدا کېږي دې وني ته په عربي ژبه کي شجرة الهشاب په پښتو کي او په اردو کي کيکر او په انګلېسي کي Acacia وايي د نوري نړی په پرتله يې ٨٠٪ توليد په سوډان کي کېږي ځکه ورته الصمغ العربي يا عربي کنډ وايي همدغه کنډ د سوډان د ولس د اکثريت د رزق مصدر ګڼل کېږي چې لويه ونډه يې دسوډان د دولت له لاري اروپا او لوېديځې نړی ته لېږدوله کېږي چې هلته د خوراکونو، دواګانو او رنګونو په جوړښت کار ترې اخېستل کېږي.

کله چې امرېکا په سوډان اقتصادي بندېزونه ولګول يواځېنی شی چې له دغو بندېزونو ځخه مستثنا وو هغه همدغه کنډ / سرېښ و ځکه چې امرېکايي شرکتونه يې له سقوط سره مخامخ کول او وروسته يې هلته هم په پراخه کچه کرهڼه پيل شوه .

**د الصمغ العربي (عربي کنډ) روغتيايي ګټې:**

- په جسم کي دکوليسټرولو کچه را ټيټوي چې له همدې لاري د زړه او د شريانونو د ناروغيو مخه نيسي.
- په بدن کي ګټورو بکتېرياوو ته وده ورکوي چې په پايله کي د همدغه بکتېرياوو له لاري د

جسم دفاعي ځواک پياوړی کوي او د سرکښنو ناروغيو لکه سرطان، د شکري ناروغي او د بهوګو د ناروغيو مخه نيسي.

• دا کنډ له هغو پرېمانه غذاني او معدني عناصرو څخه برخمن دي کوم چي انساني جسم تل ورته اړتيا لري او په اوبو کي ويلي کېږي چي په همدې وجه له جسم سره د هاضمې په عمليه کي په فعاله توګه ونډه اخلي.

• د خېټي او کولمو د سرطاني دانو او پاړسوبونو مخه نيسي .

• دائمي قبض او اسهال دواړه ختموي او د خېټي سيستم فعال او روغ ساتي.

• په پراخه کچه کلسيوم لري او د شيدو په پرتله څو ځلي زيات کالسيوم لري چي په همدې اساس د هډوکو او غاښونو روغتيا ته ګټه رسوي.

• ويلای شو چي عربي کنډ د انساني جسم لپاره د غذاء يو بشپړوونکی عنصر دی چي جسم ته وده او ځواک وربښي.

• له زياترو ناروغيو لکه د شکر ناروغي او لوړ پشار څخه انسان ساتي.

• هغه انزايمونه په جسم کي توليدوي چي په جسم کي چربي ويلي کوي او هغه څوک چي له چاغښت څخه سر ټکوي د هغه وزن راټيټوي او په وينه کي د خوږې کچه کنټرولوي چي په همدې اساس د چاغښت او شکري ناروغانو ته ګټه رسوي.

• د ټوخي او ساه لنډي ناروغانو ته هم ګټه رسوي.

• په ورځنی بڼه په منظم شکل کارول يې اعصابو او دماغ ته ګټه رسوي.

• دائمي او منظم استعمال يې د معدې حساسيت چي ځېني خوراکونه په ځېنو کسانو بد لګېږي له منځه وړي.

• د پوستوکي ناروغيوي ختموي .

• د وېښتانو توييدل او د سر کرخه له منځه وړي

• په پای کي به ووايو چي رښتيا هم د کيکر کنډ د روغتيا يوه داسي پټه خزانه ده چي بې

شمېره نوري ګټې هم لري او هيڅ ډول منفي اغېزې نلري او نه يې تراوسه جوتې شوې دي خو د احتياط له مخې ويل کېږي چې له جراحي عملياتو وروسته او حاملې مېرمنې دې نه کاروي .

**دخوراک طريقه:**

دا کنډ له پنساريانو سره وچ موندل کېږي لومړی به دا کنډ واړه کړئ او پوډر به ترې جوړ کړئ او بيا به يوه غټه قاچوغه (١٥ ګرام) سهار په تشه خوا په تودو اوبو کې حل کړئ او وبې څښئ او يوه قاچوغه ماخوستن تر ويده کېدلو د مخه په ورته شکل په اوبو کې حل کړئ او وې څښئ. که تازه يا لامده يې له ونې مستقيماً ترلاسه کړئ بيا يې په ياده شوې اندازه ماخوستن په اوبو کې اچوئ سهار ته به ويلې شوې وي او د ماخوستن لپاره يې سهار په اوبو کې اچوئ. ماشومانو ته پنځه ګرامه په اوبو کې اچوئ .

---

**تلبينه (د اوربشو د کڅ خول شوروا)**

تلبينه په عربي ژبه کې د اوربشو د دانو د پوستوکي شوروا يا سوپ ته وايي او دا په دې ډول تيارېږي چې دوه يا درې قاچوغې د اوربشو د دانو پوستوکي (کڅ خول) به واخلې په يوه ګيلاس اوبو کې به يې واچوې په نرم اور به يې د پنځو دقيقو لپاره کېږدې او په لړوني به يې لړې بيا به يو ګيلاس شيدې او يوه يا دوه قاچوغې شات ور واچوې او د دوو دقيقو لپاره به يې نور هم په اور پرېږدې او چمچه به پکې ښوروې او بيا به يې په يوه لوښي کې واچوې . تاسي کولای شئ د خوند د سمولو او د ښکلا لپاره وربانديې ټوټه ټوټه شوي چار مغز ، بادام يا پسته او کشمش هم واچوئ.

د خوراک غوره او ګټور وختونه يې د سهار د ناشتې په ځای يا د ماخوستن د ډوډۍ په ځای خوړل دي،

عائشة رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ فرمايي:

**" التلبينةُ مُجمةٌ لفؤادِ المريضِ تذهب ببعضِ الحزنِ" رواه البخاري.**

تلبينه د رنځور زړه هوسا کوي او پرېشاني يي کموي.

د اور بشو د کڅ خول اوګره يا په اصطلاح تلبينه دانسان جسم ته لاندي روغتيايي ګټي رسوي:

١) د انسان د لوږي احساس کموي ځکه چي هغه په پراخه پيمانه د کروميوم معدنيات لري کوم چي په جسم کي د انسولين فيصدي کنترولوي ځکه خو څوک چي دا اوګره وخوري د ډېر وخت لپاره نه وږى کېږي او د مړښت احساس کوي او بل دا چي دا اوګره په هغو خوراکي اسيدونو بډايه ده چي انسان چاغوي نه خو کولمې له کنګال کېدلو څخه ساتي ځکه خو انسان د مړښت احساس کوي.

٢) تلبېنه له جسم څخه پالتو اوبه باسي دا ځکه چي د اوربشو کڅ خول په پراخه کچه پوټاسيوم لري چي د انسان په جسم کي د سوډيوم ځاى نيسي ځکه خو د سوډيوم مالګه چي له پالتو اوبو سره ګډه وي د متياځو له لاري باسي .

٣) سهار وخت د ناشتې په ځاى ددې سوپ خوړل دانسان وزن کموي، جسم ته زيات ځواک او طاقت ورکوي  د اوربشو د کڅ خول سوپ يا اوګره هيڅ غوړزګن او وازګين مواد پخپل جوړښت کي نلري او د سهار په وخت کي خوړل يي د انساني جسم ځواک پياوړى کوي او په هيڅ شکل په وينه کي د شوګر فيصدي نه زياتوي.

٤) تلبېنه د انسان جسمي او رواني غذاء ده ځکه چي هغه په پراخه کچه پوټاسيوم او مګنيسيوم لري او ددې دواړو موادو کمښت په انسان کي پرېشاني زياتوي او عصبانيت او غصه يي پاروي چي دا د انسان په جسماني صحت ناوړي اغېزي اچوي، کېداى شي د زړه ځور ورته پيښ کړي، په دماغي سکته يي اخته کړي، د معدې په ناروغيو لکه د معدې سوځېدل، د معدې زخم، او اپنډکس يي اخته کړي.

٥) د جسم دفاعي ځواک پياوړى کوي دا ځکه چي په وينه سپين حجرات فعالوي کوم

چي دفاعي ځواک زياتوي او د بېلابېلو ناروغيو او د هغوی د عواملو مخه نيسي، همدا راز تلبينه پخپل جوړښت کي د بيتاګلوکان ماده لري کومه چي د جسم ويجاړ شوی نسيج ډېر ژر بېرته جوړوي.

٦) تلبينه د تاواني کوليسټرول فيصدي را ټيټوي او د زړه د ناروغيو درملنه کوي، د پراخو غذايي موادو او ويټامينونو او انتي اکسيدي موادو د لرلو په وجه په جسم کي سرطاني حالي له منځه وړي او د وختي بوډاتوب مخه نيسي.

**عَنْ عَائِشَةَ ﵂: أَنَّهَا كَانَتْ إِذَا مَاتَ المَيِّتُ مِنْ أَهْلِهَا، فَاجْتَمَعَ لِذَلِكَ النِّسَاءُ، ثُمَّ تَفَرَّقْنَ إِلَّا أَهْلَهَا وَخَاصَّتَهَا، أَمَرَتْ بِبُرْمَةٍ مِنْ تَلْبِينَةٍ فَطُبِخَتْ، ثُمَّ صُنِعَ ثَرِيدٌ فَصُبَّتِ التَّلْبِينَةُ عَلَيْهَا، ثُمَّ قَالَتْ: كُلْنَ مِنْهَا، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «التَّلْبِينَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ المَرِيضِ، تَذْهَبُ بِبَعْضِ الحُزْنِ» (رواه البخاري ومسلم)**

عائشه ﵂ وايي: کله چي به مي په خپلوانو کي څوک مړ شو نو ښځي به را غونډي شوې بيا به نوري ښځي ولاړې يواځي نژدې خپلوان او د کور مېرمني به پاته شوې بيا به يې يو چا ته د تلبينه د کټوی د پخولو امر وکړ بيا به يې ډوډۍ میده کړه او تلبينه به يي پرې توی کړه بيا به يې ښځو ته وويل ويي خورئ ما له رسول الله ﷺ څخه آورېدلي وو چي هغه وفرمايل: تلبينه د رنځور زړه هوسا کوي او غم يي سپکوي.

---

## د روغتيا پالني اصول

انسان که د عمر په هره مرحله کي وي يواځينۍ هېله يي دا وي چي تل روغ رمټ او ځوان پاته شي او د دې لپاره وخت او سرمايه دواړه لګوي او په هيڅ شکل دې ته تيار نه وي چي يا خو ناروغ شي، يا بوډا شي او يا يي ځواني ختمه شي په عين وخت کي مسلمانه ټولنه داسې افرادو ته تل ضرورت لري چي روغ رمټ او په روغتيا بسيا وي لکه چي وايي:

**العقل السليم في الجسم السليم.**

روغ عقل په روغ جسم کي وي.

مونږ به دلته ځيني هغه اصول ذکر کړو چي هغه له يوې خوا ځواني سالمه ساتي او له بله پلوه د اسلامي شريعت له اصولو سره څه ټکر نلري ، لاندني اصول په پام کي ونيسی ستاسي دفاعي سيستم به قوي وي وظايف به په سليمه توګه اجراء کوي او د رنځونو مخنيوی به کوي .

صحتمنه غذاء تر هر څه د مخه بنيادي محور ده چي انسان د نېکمرغه ژوند د خپلولو، د ځواني د پاللو او د رنځونو په مقابل کي د دفاعي نظام د پياوړتيا لپاره ورته اړتيا لري لاندي پندونه په پام کي تل نيسئ:

١- په الله ﷻ ټينګه عقېده ساته او په هغه خپل ځان سپاره

٢- د لمانځه پابند اوسه اوپه هر حالت کی د الله ﷻ حمدوثنا او شکر ادا کوه

٣-د الله ﷻ بې شمېره احسانونه هر وخت په ياد ساته چاچي روغ او په ښکلي څېره پيدا کړی يې .

٤- هغه اميدونه مه ساته چي ستا له وسه وتلي وي بلکه د ځان لپاره ځيني واقعي هدفونه وټاکه او د تحقق لپاره يې لېځي درونغاړه .

٥- خپل هرڅه د ښه سوچ او عقل په رڼا کي سرته رسوه

٦- له ګاونډي سره ښه کوه او قدر يې کوه او هر مسلمان ته هغه څه خوښوه چي ځان ته يې خوښوې

٧- خپل جسم او ذهن دواړه تل فعال ساته.

٨- خپل ورځني ورزشي تمرينونه جاري ساته چي هره ورځ څه ناڅه تګ کول دی .

٩- له تازه هوا او د لمر له وړانګو څخه هره ورځ په کافي اندازه ګټه آخله.

١٠- تل صحت منه غذاء خوره او دا د ژوند معمول وګرځوه

١١- د خوراک هضمېدل له خولې څخه پيل کېږي په همدې اساس خوراک ښه زويه او

غاښونه صفا ساته.

۱۲- ډېر ساړه او ډېر تاوده مشروبات مه څښه او د خوراک په مینځ کي هم اوبه او یا مشروبات مه څښه .

۱۳- چي کله له خوبه راپاځي او یا د خوب لپاره بستر ته ځې دروند خوراک مه خوره .

۱٤- ترڅو چي وږی شوی نه یې څه مه خوره او تر مړښت مخکي له خوراک څخه لاس آخله.

۱۵- په اونۍ کي یوه ورځ ځان هوسا ساته او هیڅ کار مه کوه .

۱٦- غوړ لرونکي خواړه مه خوره .

۱۷- طبیعي خوراکونه چي په کوم شکل الله ﷻ پیدا کړي دي هغه خوره.

۱۸- په ډبو کي د تیارشویو خوراکونو له خوړلو څخه ځان ساته .

۱۹- ساړه شوي خواړه مه خوره ځکه چي انزایمونه او ګټي یې له مینځه تللي وي.

۲۰- د خپل خوراک ﷺ ۵۰ سبزیجات او تازه شنه سابه و ګرزوه .

۲۱- خپل خوراک په بخار پخوه او شنه سابه نیمه پخوه تر څو یې مواد ونه سوځول شي.

۲۲- څلور سپین شیان په خوراک کي لږ یا مه استعمالوه مالګه ، بوره ، اوړه او وریجي .

۲۳- د خپل بدن نظام تل د روژې له لاري ریفریش کوه او روژه ماتي په طبیعي تازه اوبو او یا پاکو مشروباتو کوه .

۲٤- هغه خوراکونه چي غازونه او کیمیاوي مواد لري مه استعمالوه .

۲۵- هغه خوراکونه چي حافظه او یا مصنوعي مواد ورسره وي مه خوره

۲٦- دنشه یې شیانوله اعتیادڅخه لکه الکولیک مشروبات، پان ، نسوار او سګرېټ څکولو ځان ساته

۲۷- تور ټېنګ چای او یا دشپدوچای مه څښه او په ځای یې شین چای او یا غرنۍ پاڼي استعمالوه او هغه خوراک چي ویټامېنونه لري هره ورځ استعمالوه .

٢٨- معدني او يا فلټر شوي اوبه په زياته اندازه هره ورځ څښنه .

٢٩- كه ممكنه وي هره ورځ درې ځلي حمام ته د كولمو د تشولو لپاره ځه او دا خپل عادت جوړ كړه .

٣٠- تر لامبلو مخكي هره ورځ خپل ځان ته مالش وركړه او لاسونو او پښو ته په مالش كي زياته پاملرنه كوه.

٣١- هره ورځ اوه (عجوه) كجوري په تشه خوا خوره .

٣٢- په هره مياشت كي لږ تر لږه درې ورځي روژه نيسه .

٣٣- لږ تر لږه هره لسمه ورځ يوه قاچوغه عسل په تشه خوا خوره .

٣٤- په تودو اوبو له لامبلو څخه ځان ساته او په يخني او تودوخي كي په يخو اوبو لامبه.

٣٥- هره ورځ يو خيريه نېک عمل سرته رسوه چي دا صحت ته ډېره ګټه رسوي .

٣٦- له بې ګټي سوچونو او فكرونو څخه ځان ساته ځكه چي دا ذهن ستومانه كوي ، وخت ضايع كوي ، صحت ته نقصان رسوي اوهاضمه كمزوري كوي.

په ورځ كي يا لږ تر لږه په هفته كي د خپلو خپلوانو او نېكانو دوستانو ليدني ته ورځه.

**عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ» (البخاري ومسلم)**

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه يوڅوک په دې خوشاله كېږي چي رزق يي پراخ او له بركته ډک شي او عمر يي اوږد شي نو له خپلوانو سره دي خپلوي پالي.

**دا شعر مي په ٢٠٠٩ كال كي ليكلى:**

اې زما د قلم رازه اې زما مرحومه پلاره

ستاپه پلونو مې پل ایښی څه خوږه دې ده تګلاره

ملغلري دې شېندلې د رایق بحر له مېنځه

ګرمي ګرمي مسألې وې له مُختاره تر مُحتاره

فانوسونه ځلېدلو پرې حلقه وو پتنګان ستا

ستا د علم شوګیرې وې له مابنامه تر سهاره

چې را یاد کړمه وختونه ستا د علم مجلسونه

تخیل کې چې مې ته شې زړه مې ووځي له اختیاره

چې دې وینمه په خوب کې زړه مې غواړي تل وېده وای

په ژړا او په سلګو کې شم له خوبه رابیداره

له سنګر نه یې راغلی چې دې ووېنم په خوب کې

زه دې پرېښودم یواځې درته وکړم دا کوکاره

تل خوره خوږه موسکا وي ستا په ښکلي ټنډه باندې

جنتونه یې نصیب کړې اې زمونږ پروردګاره

**زما د پلار مولانا حبیب الله سلیمان خیل روح ته ډالۍ**

## ګټور پندونه

**یوولس حقیقتونه چې باید وپېژندل شي:**

۱) دا ستر ټولنېز ظلم دی چې والدین خپل نا اهل زوی ته د نېکې نجلۍ تلاش کوي .

۲) کله چې ټولنه په پېغور وروزله شي بیا د تعجب وړ نده چې یوسړی به لمونځ نه کوي

خو مېرمني ته به وايي چې پرده کوه.

۳) بېسواده هغه څوک ندی چې لیک او لوست یې نوي زده بلکه هغه چې قبله پیژني خو لمونځ نکوي .

۴) درې شیان بېرته نه راګرځي : خبره چې له خولې ووتله .. وخت چې تېر شي .. باور چې ختم شي ..

۵) ژوند سوپر مارکېټ دی پکي ګرځه چې زړه دي وي هغه شی واخله خپله ټرالۍ ډکه کړه خو دا په یاد ساته چې مخکي حساب شته چې څه دي اخېستي وي بیه به یې ورکوي.

٦) له مور او پلار سره ستا چلند یو داستان دی چې ته یې لیکې او ستا اولادونه به یې لولي.

۷) یوڅوک چې کوم شی در نه پټ ساتي پوښتنه یې مه ترې کوه چې تاته ښکاره نه وي هغه غالباً په تا پوري اړه نلري.

۸) مرګ ستا د سموالي انتظار نکوي ته سم شه او د مرګ انتظار کوه .

۹) کله چې یو مظلوم ووایي "الله ﷻ خو شته" د دې معنا دا ده چې هغه خپله دوسیه له زمکي اسمان ته ولېږله .

۱۰) ځېني کسان تر دې چې الله ﷻ غوره ساتونکی دی په دې زیاته عقیده لري چې نظر حق دی.

۱۱) ګونګ د دې ارمان کوي چې کاش د قران کریم تلاوت یې کولای شوای .. کوڼ یې د آورېدلو ارمان کوي .. ړوند یې د لوستلو ارمان کوي .. (او مونږ موبایلونو تباه کړو)

**یوه پاچا خپل وزیر ته وویل :**

یوه ګوتي راته جوړه کړه او په غمي یې داسې څه ولیکه چې که خپه یم خوشاله مي کړي او که خوشاله یم خپه مي کړي، وزیر ګوتي ورته جوړه کړه او په غمي کي ورته دا توري ولېکل:

**"داوخت به هم تېر شي"**

سختي شېبې تل د نویو خوشالیو زېرې‌وونکیه وي او مونږ ټول پوهېږو چې د ترږمۍ درنې

شېبې تر سپېدو مخکې د شپې پای وي، چې کله هم خوشالي زمونږ په برخه کېږي ترې د مخه يې خواشينيو ګالو، ځکه چې په ژوند کې مونږ د هرڅه بيه ورکوو. خوشالي او خپګان د لنډ وخت لپاره وي او تېرېږي، مونږ خو يې نه دروﻻی شو او نه يې بدلوﻻی شو مونږ يواځې دومره کوﻻی شو چې په هوښياري او حکمت ورسره چلند وکړو مونږ بايد نه خو په ښه حال مغروره شو چې ډاډه واوسو چې تل به داسې خوشاله يو، او نه مو بايد غمونه دوکه کړي تر څو هيلي مو ورژوي او حوصلې مو ماتي کړي، مونږ ولي په خوشالي او خپګان دواړو کې راتلونکی وخت او ورپسې سبا هېروو؟

وايي يوه هوښيار سړي ټوکه وکړه ټولو حاضرينو په کړس کړس وخندل خو چې دوهم ځل يې بيا همدغه ټوکه تکرار کړه هېچا ونه خندل، ده ورته وويل: ولي مو دوهم ځل ونه خندل په داسې حال کې چې تاسې په يوه غم تر سل واري زيات خواشيني ښکاره کړې؟

مونږ زياتره وختونه همدا سې يو چې تل په تېر شوي غم چې را په زړه يې کړو خواشيني شو ځان ته ځور ورکوو، حاﻻت، چاپېريال او نور ملامتوو چې هغوی دا ټول کانې را باندې وکړې، ولي مونږ د ستونزو ريښې نه پلټو تر څو يې درملنه وکړو.

زه وايم راشئ غمونه او پرېشانيوي څنګ ته کړو او ﻻملونه يې وپلټو او هغه سوړې وټړو کومې چې مونږ ته ستونزې ايجادوي ته چې کله يوه دروازه وتړې الله ﷻ تر هغې څو ځلې زياته غوره دروازه درته خلاصوي،

هو ښياران وايي: چې کله کومه دروازه درته وتړله شوه ګوره چې دوهم ځل يې ونه ټکوې، د غمونو دا درانه پېټي له اوږو ښکته کړئ، يوه داسې ﻻره ونيسئ چې هېڅ له تېر وخت سره تړاو ونلري، داسې يوه ﻻره چې ته يې پخپل ثبات او استقامت ورغوې، تېر وخت پرېږده او هېر يې کړه، ته انسان ځکه نومول شوی يې چې تېر به هېروې.

---

**د هر توکي د ارزښت په اساس د هغه لپاره تول ټاکل کېږي:**

اوسپنه په ټن تول کېږي

مېوه په کیلو

سره زر په ګرام

الماس په عیار / مثقال

او د اخرت عملونه په ذره الله ﷻ فرمايي:

**«فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرّاً يَرَهُ»**

چا چي د یوې ذرې په تول نېکي کړي وي وبه یي ویني او چا چي د یوې ذرې په تول بد کړي وي وبه یي ویني.

دا ځکه چي د الله ﷻ توکی ډېر ارزښت لري او بیه یې تر بل هر توکي لوړه ده او دالله ﷻ توکی د هغه جنتونه دي. د جنت د ګټلو لپاره سیالۍ په کار ده ژوند یو غوره فرصت دی.

---

له یوه هوښیار سړي، څخه یو چا د اوداسه پوښتنه وکړه ده ورته ووېل:

زړه دي تر بدن مخکې او ژبه دي تر لاسونو مخکې ووینځه او په هر چا ښه ګومان کوه ..

دا نړۍ یو ښوونځی دی... چي وخت یي اداره کوي... ښوونکي یي اخلاق دي... او انسانان یي زده کوونکي دي ...

له نا پېژاندو خلکو سره مخامخ کېږو ... او د دوستانو په ښه کي ژوند کوو ... که هر څومره وخت ژوند وکړو خو له وفاء پرته بل څه نه پاته کېږي .

زړه یوښه لارښود دی... ښه اخلاق ښه ملګری دی.... عقل ښه انډېوال دی ... او ادب ښه میراث دی....

که ژوند دي هر څومره بېخونده شي خو په خبرو د چا زړه مه ماتوه هر څوک حوصله افزايي ته اړتیا لري یا خو یې مرسته وکړه او یا چوپ واوسه.

غصه وزغمه ... په تېروتنو ستر ګي پټوه ... چي څوک دي وځوروي ځان ناګاره اچوه...

غلطي وبښه.... او د خلګو عیبونه مه لوڅوه د هر چا به خوښ یې .
که غواړې چي خوشاله ژوند وکړې د پرون هرڅه له پرون سره پرېږده سبا ته یې مه درسره وړه ....
ځېني خبري تیارې رڼا کوي خو ځېني نوري بیا قبرونه کیني... ژبه دي په ولکه کي ساته مخکي له دې چي یو څوک د خبرو په قبر کي خښ کړې.
مونږ په یوه داسي ټولنه کي ژوند کوو چي دخلګو خبرو ته ځېر اوسي خو د احساساتو پام یې نه ساتي. ځېني زړونه داسې دي چي هرڅومره بد ورسره وکړې خو بد دي نه اېسوي او ځېني بیا داسې دي چي هرڅومره ښه ورسره وکړې خو مېنه نه پېژني ...

---

## ته ځوان یې که بوډا؟

د روغتیا نړی والي ټولني د انسان عمر په څو مراحلو وېشلی دی. هغې خبرتیا خپره کړي، او د عمر مراحل یي داسي وېشلي دي:
له پیدایښته تر ۱۷ - کلونو پوري غیر قانوني سن دی .
له ۱۸ تر ٦٥ کلونو پوري د ځواني عمر دی .
له ٦٦ تر ۷۹ کلونو پوري متوسط (منځنی) عمر دی.
له ۸۰ تر ۹۰ کلونو پوري د سپین ږیرېتوب مرحله ده .
له ۱۰۰ کلونو پورته د بوډاتوب عمر دی.
ته لا تر اوسه ځوان یې (شنې چیچه)

---

## غل دی خو په انصاف....

په امرېکا کي یوه غله له یوه موټر څخه کېمره غلا کړه خو چي کله خبر شو دا کېمره د یوې داسي ناروغي مېرمني ده چي د سرطان په ناروغي اخته ده او پدې کېمره خپلو وړو

ماشومانو ته خپل یاد ګاري تصویرونه اخلي بېرته یې له معذرت سره دهغې کور ته ور وړه.

---

په سوېډن کي د پوهنتون له استاد څخه د لاس بکس په داسي ځای کي پاته شو چي د ساتلو یې هېڅوک نه وو غل راغی بکس یې خلاص کړ او لپ ټاپ یې ورڅخه وتښتاوه، استاذ چي راغی ګوري چي بکس شته او لپ ټاپ نشته سخت خپه شو ځکه چي د ۱۰ کلونو علمي تحقیقات او لیکچرونه یې ټول په همدې لپ ټاپ کي ول. غله چي کله په کور کي لپ ټاپ پرانېست هلته موجود مواد یې ارزښتمن وګڼل او احساس یې کړه چي مالک به یې ډېر پسي غمجن وي، په فلاش مېموري کي یې ټول مواد کاپي کړل او د استاد کور ته یې ورولېږل.

---

په المان کي غل یوه کور ته دننه شو د هغه کور په چپړاسي مېرمن یې توپانچه ونېوله چي چوپ واوسي خو دوه ماشومان ورته راغلل هغوی چي په کوزړي کي څه پیسې جمه کړي وې هغه یې غله ته ونېولې چي دا واخله خو مونږ ته ځور مه رسوه غل بې لدې چي غلا وکړي د ماشومانو له وړاندېزه وشرمېدو او منډه یې واخېسته.

په استرالیا کي د یوه موټر شیشې خلاصې وې غل راغی او یو موبایل او بټوه یې وتښتول، غله چي کله په کور کي موبایل خلاص کړ ګوري چي د ټیلېفون ۴٦ کلن مالک ور کي د تنکیو ماشومانو بربنډ تصویرونه ساتلي چي ده ورسره ناروا جنسي اړیکي ساتلې، غصه یې وپارېدله او نږدې د امنیت مرکز ته یې ځان وسپاره اعتراف یې وکړ چي دا موبایل یې غلا کړی خو د دې لپاره راغلم چي پولیس د ټیلیفون مالک ونیسي او ددې جرم سزا ورته وکړي چي بیا د ټیلېفون مالک د تحقیقاتو په نتیجه کي په بند محکوم شو.

---

یوه غله په کوم بل هېواد کي موټر غلا کړ خو چي کله یي ولېد چي د شا په سیټ کي یي یو

وړوکی ماشوم دی ژر یې بېرته موټر هماغه ځای ته راوست چېرته چې مخکې ولاړ وو او هلته یې والدین پرېشانه ولاړ ول هغوی یې وترټل چې ولې یې وړوکی ماشوم یواځې په موټر کې پرې اېښی او وتښتېده.

اوس تاسې زمونږ غله ورسره پرتله کړئ.

ځکه خو وایي: «**دزد باش به انصاف**»

---

**عقل درې کټګورۍ لري :**

ستر عقلونه چې افکار وړاندي کوي.

منځني عقلونه چې پېښني څاري.

واړه عقلونه چې انسانان څاري.

---

انسان د خبرو زده کولو لپاره دوو کلونو ته اړتیا لري .

خو د چوپتیا زده کولو لپاره شپېتو کلونو ته.

**ستر پند:**

یو سړی عبد الملك بن مروان ته ور په غوږ شو وېل: که ستا اجازت وي یوه پټه خبره درته کوم؟ هغه ورته وویل:

خبره وکړه خو چې دروغ، غیبت او نفاق پکې نه وي.

هغه ورته وویل: بیا نو اجازت راکړه چې لاړ شم.

---

له دروغي (موضوعي) روایاتو، اسلام ته دومره زیان نه دی اوښتی، څومره چې له هغو روایاتو ورته رسېدلی، چې غلط تعبیر شوی.

---

**ژوندۍ تجربه :**

کوم کشران چې ستاسي بې ادبي او يا توهين کوي کېدای شي د کورنۍ مشرانو يې د دوی په مخ کي ستاسې بار بار غيبتونه کړی وي.

---

ضروري نه ده چي زيات عقل ولرې همدا کفايت کوي چي خدای درکړی عقل سم وکاروې.
که د رزق آدرس درته معلوم نه وي مه وېرېږه ځکه چي هغه ته ستا ادرس معلوم دی که ستا لاسرسی ورته ونشو هغه خپله ځان در رسوي.
ډاډه انسان کله هم داسي مه انګېرئ چي څه غم نلري بلکه کېدای شي د هغه کوګل د غمونو ګودام وي خو په الله ﷻ د ايمان له ځواکه برخمن وي.

---

**دار المجانين** (لېونتون / پاګلخانې) ته د يوه هېواد ولس مشر ورغی لېونيانو ته يي په وينا کي وويل: آيا تاسې خبر ياست چي زه د دې هېواد ولس مشر يم؟
يوه لېونی ورته وويل: صيبه، مخکي له دې چي زه دلته راوستل شم ما هم دا ډول توپونه ويشتل چي زه د دې هېواد ولس مشر يم.

**په شپږو حالتونو کي د انسان اخلاق پېژندل کېږي:**

په مخالفت کي، په سفر کي، په زندان کي، په معاملاتو کي، په ګاونډيتوب کی او په کاروباري شراکت کي.

---

**د دريو اوښکو له څڅولو ځان ساته :**

١ـ مظلوم

٢ـ يتيم

۳ـ والدین.
که دي په دې دریو اښکو کي یوه هم وڅڅوله پوه شه چي دجهنم ټکټ دي واخېست الله ﷻ مو وساته.

---

ته چي څه لرې دوی یې نلري، ته خوشاله یې او نور خپه دي، ته روغ یې او نور ناروغان دي، ته خاندې او نور غمجن دي،
تل د الله ﷻ نعمتونه بیا بیا په ځان کي شمېره او وایه : "الحمدلله دائماً وأبداً".

---

له شیخ محمد الغزالي رحمه الله څخه چا فتوا وغوښته چي که یو سړی بې نمازه وي څه حکم یي دی؟ جواب: ترلاس یې ونېسه او مسجد ته یې درسره بوزه.

---

کله هم مأیوسی ته مه تسلیمېږه دمأیوسی ژوند بیه او تول نلري .
زغم خپل کړه، مقاومت وکړه، ټېنګ شه او پرله پسې زیار وباسه الله ﷻ درسره دی کوم ګوذار چي ستا ژوند وانخلي تا نور هم ځواکمن کوي.
کله کله خو د ډېرو انسانانو په منځ کي یو څوک ساه ډوبی وي او د تنهایي احساس کوي او کله کله بیا یواځې له یوه انسان سره د ډېري خوښۍ احساس کوي.
په تا دي را تاو کسانو شمېر ارزښت نلري ارزښت هغه څوک لري چي ستا ترڅنګ ودرېږي.
حسن بصري رحمه الله وایي: ښه ملګری یوه ډېوه ده چی کله دنیا درباندي تروږمۍ شي له رڼا به یې ګټه واخلې.

---

ځینو ته به تقواداره او ځینو نورو ته به ګنهکار ښکارېږې.
خو تاته خپل ځان ښه معلوم دی.

هغه راز چې له تا پرته څوک پې خبر ندي هغه ستا له رب ﷻ سره ستا اړیکي دي.
ځکه خو مه د ستایونکو په ستاینه مغروره کېږه او مه په تا کي د بد ویونکیو په بده وینا خپه کېږه.

**«زر چي پاک وي له اوره یې څه باک»**

---

ویل کېږي چي په یوه علمي درسي ناسته کي د یونس بن عبد الأعلى رحمه الله او دهغه د استاذ امام شافعي رحمه الله تر منځ د یوې مسألې په سر اختلاف جوړ شو . یونس په غصه کي هغه علمي ناسته پرېښوده او کور ته لاړ، کله چي شپه شوه دروازه وټکېدله، یونس چي د دروازې ټکا واورېده ور غږ یې کړ څوک یې؟

دادرېس زوی محمد یم. یونس وایي زه په سوچ کي شوم چي دا محمد بن ادریس خو زما په شناخته وو کي له امام شافعي رحمه الله څخه پرته بل څوک نشته یواځي هغه محمد بن ادریس الشافعي دی. یونس وایي: کله مې چي دروازه ورته خلاصه کړه هغه زما استاذ امام شافعي رحمه الله وو او له روغبړ وروسته یې راته وویل:

یونسه؛ په سلهاوو مسائلو کي په یوه نظر وو او په یوه مسأله کي مو اختلاف راغی. یونسه؛ په هر مخالفت کي د برلاسي هڅه مه کوه کله کله خو د موقف تر ګټلو د زړونو ګټل زیات ارزښت لري.

یونسه؛ کوم پلونه چي جوړ کړې او وربانديي تېر شې مه یې نړوه کېدای شي یوه ورځ د بېرته راتګ په وخت کي بیا ورته اړ شې.

یونسه؛ له ګناه کرکه کوه خو ګنهګار بد مه ابسوه.

یونسه؛ ګناه بده اېسوه خو په ګنهګار زړه خوږوه، په خبره نېوکه او تنقید کوه خو دویونکي یې درناوی کوه، زمونږ دنده دا ده چي د رنځ علاج وکړو نه داچي رنځوران ختم کړو.

---

په غربي نړۍ کي چي يو څوک وحشيانه قاتلانه جرم وکړي ګوري که مسلمان وي وايي تروريست دی او که نا مسلمان وي وايي په عصبي رنځ اخته وو.

کله چې اشغالګر تا دومره خوار کړي چې په خپل فرهنګ او تاريخ باندې وشرمېږې، هغه بيا د ستا د نيولو لپاره زندان او انکړيو ته اړتيا نلري.

---

له خوښۍ او نېکمرغۍ پوښتنه وشوه چي ته څه وخت دانسان په زړه کي ځای مومې؟ وېل:

**چي کله درې شيان خپل کړي:**

١- په تېر خپه نشې

٢- د راتلونکي په هکله پرېشان نشي

٣- د الله ﷻ په وېش خوښ واوسي.

---

**مونږ که هر څومره پیاوړي شو.....**

خو کله هم د ژوند پنډي په يواځې سر نشو وچتولای ....

مونږ تل داسي يو چا ته اړتيا لرو چي هغه له مونږ سره مرسته وکړي ...

کوشش وکړئ چي خلګ تر مخګېني حالت په ښه حال پرېږدئ ....

مات شوي زړونه په غېږ کي ونېسئ ...

څوک چي ژوند ستومانه کړي وي هغه ته اميد ورکړئ،...

له تنها انسان سره ملګري شئ ...

چاچي لاره ورکه کړي هغه ته لاره وښاياست....

روغه او ګډوره مشوره ورکړئ...

له خلګو سره د ژوند په ستومانيو مه غړېږئ ...

هغوی ته هغه رب ﷻ ور په زړه کړئ کوم چې ټول اسباب او امکانات د هغه په ولکه کې دي او چې کله د هغه لور ته پناه یوسي هرڅه به ومومي.

---

ښه اخلاق یوه الهي پېرزوینه ده چې کله یې په چېړاسي ولوروي خو عالم او فیلسوف ځینې محروم کړي.

---

**یوه هندي ډاکټر د خپل کلېنک**

(کتنځي) په انتظارګاه کې یوه لوحه را ځړولې ورباندې لیکلي وو چې په لوستلو او له ځان سره په ساتلو باندې ارزي.

۱- له مناسبې جوړې سره واده وکړه هغه به د ژوند تر پایه یا خو تا ۹۰ فیصده خوشاله وساتي او یا خپه.

۲- یو داسې کسب خپل کړه چې ته مینه ورسره لرې او د دې وړتیا ولري چې خپله ځواني او انرژي په هغه کې ولګوې.

۳- په ژوند کې لوی هدف دا وټاکه چې د کور د افرادو خیال وساتې او هغوی خوشاله ژوند وکړي.

٤- خپلو دوستانو، خپلوانو او هېواد ته تر هغه څه زیات ورکړه چې دوی یې تمه لري.

٥- ځان ته سزا مه ورکوه او دځان او نورو تېري تېروتنې وبښه.

٦- هره ورځ یوه انسان ته خیر رسوه او تر اخیستلو د مخه له ورکولو خوند واخله.

۷- که د لوړې او پور اخیستلو تر منځ خوښ رضا شې نو لوږه خوښه کړه.

۸- د دې لپاره چې وږی او چاته اړ نشې د خپلې آمدني یوه برخه ولوکه ډېره لږ هم وي ذخیره کوه.

۹- له ناکامو ملګرو ځان ساته او کامیاب ملګري له ځان سره ساته تر څو د اړتیا په وخت

کي دي مرسته وکړي.

١٠-له هر چا سره داسې چلند کوه لکه يو ښه ملګری چي دي له کلونو وروسته ليدلی وي.

١١- کله چي د يوه کار د کولو اراده وکړې يا درته وسپارل شي په اخلاص او امانتداری يي په بشپړ ډول سرته رسوه.

١٢- تل منظم او د ابتکار خاوند اوسه ولوکه تېروتني هم وکړي.

١٣- زړه ور اوسه او د خپلو تېروتنو پړه يواځې پخپله غاړه آخله.

١٤- تر هر چا خوش باوره او مثبت اوسه او خپله هره ورځ په نوي پاڼي پرانيزه.

١٥- د کار له ملګرو سره تل وفادار ايماندار او خوش اخلاقه اوسه.

١٦- خوشالي له شتمني او واکمني سره اړيکه نه لري بلکه له هغه زاويې سره يې لري چي ته له هغې ژوند ته ګورې.

١٧- ستا په هکله د نورو نظر بابيزه مه ګڼه هلته ځېني نېمګړتياوي شته چي ته يې په ځان کي نه وينې.

١٨- او په پای کي کله هم داسې کار مکوه چي مور دي وربandي ونه وياړي او يا دي پلار ورباندي سرټيټی وي.

## دالمان امپراطور دوهم ګليوم

په کال ١٨٩٨ مېلادي کي دالمان امپراطور دوهم ګليوم له خپلي مېرمني "اوګوستا فکتوريا" سره دمشق ته سفر وکړ، د دمشق اوسېدونکيو يې ډېر تود هرکلی وکړ. د هرکلي په وخت کي له کلا د باندی د ګليوم د مېرمني په يوه سپين ښايسته خره سترګي ولګېدلې او ډېر ښه ورته ښکاره شو. دهماغه وخت د دمشق له والي مصطفی عاصم باشا يې وغوښتل چی دا خر ونيسي ترڅو يې دا له ځان سره د يادګار په توګه المان ته بوزي.

والی د خره د مالک په تلاش ولاړ هغه يې وموند "أبوالخير تللو" نومېدو او ورته وې ويل چي

خپل خر د امپراطور مېرمنی ته ډالی کړي هغه معذرت وغوښت، والي غصه شو او ورته وې ویل: چي بیه یې کړه چي څومره قېمت ته ورته ټاکې زه یې در کوم خو هغه یو مخېز انکار وکړ او ورته وې ویل:

والي صیب؛ شپږ بهترین عربي آسونه لرم هغه ورته ډالی ورکړه او قېمت یې هم نه غواړم خو خر نشم ورکولای، والی د هغه ځواب ته هک پک شو او د لامل تپوس یې ترې وکړ، "تللو" په موسکا کي ورته وویل:

"صیبه؛ هغوی چي خر بوځی دا د امپراطور مېرمن ده سبا به د نړی ټولي ورځپاڼي او رادیوګانی دا خبر خپور کړي، خلګ به تپوسونه کوي چي دا یې له کومه راوستی؟ دوی به ورته وایي چي له شام څخه یي راوستی دی، بیا به د شامي خره کېسه د هر چا په ژبه څرخي، کېدای شي چي ډېری خلګ یې ټوکه او خندا وګرځوي،

خلګ به وایي: چي آیا دا عقل منی چي د المان ملکې ته په شام کي له خره پرته بل هېڅ شی خوند ورنکړ او نه یې کوم بل شی له ځان سره د راوړلو وړ وموند په همدې اساس یې نه ورکوم او نه یې خرڅوم.

والي لاړ او امپراطور او د هغه مېرمني ته یې کیسه تېره کړه دواړو سخت وخندل او د خره د خاوند ځواب ډېر خوند ورکړ. امپراطور د خره خاوند "تللو" ته د دې عاقلانه ځواب په بدل کي بیا هغه ته د سرو زرو فخری مډال ورکړ.

**کیسه ډېره له پنده ډکه ده :**

اصیل خلګ د خپل هېواد په بدنامي تر دې حده وېرېږی چي څوک یې په سپکه نوم وانخلي. او ځېني نور بې ضمیره نامردان یې بیا له هرڅه سره په وړیا بیه پلوری.

---

## د سلف صالحینو په ویناوو کي

له ښه ملګری کله په ورور او کله بیا په مخلص ملګري تعبیر شوی.

عمر فاروق بن الخطاب رضي الله عنه وايي :

"له اسلامه وروسته بنده ته له نېکه وروره ماسوا بل غوره نعمت ندی ورکړل شوی که په تاسي کي يوچا ته د مېني لاس ورکړل شي ټېنګ دې ونيسي" .

امام شافعي رحمه الله وايي:

"که داسي يو ملګری ولرې چی په طاعت کي ستا مرسته کوي لاس يې ټېنګ نېسه ځکه چي د ملګري موندل سخت او بېلول يې آسان کار دی".

حسن بصري رحمه الله وايي :

"زمونږ وروڼه.مونږ ته تر خپلوانو او اولادونو زيات ګران دي ځکه چي خپلوان دنيوي ژوند رايادوی او وروڼه مو اخرت را په زړه کوي او د هغوی يوه ځانګړتيا دا وي چي ترځان يې په تا لوروي"

لقمان عليه السلام خپل زوی ته وايي :

"زويکه؛ له ايمانه وروسته ستا ستره لاسته راوړنه دا ده چي رښتونی ورور ځانته ونيسې ځکه چي هغه د مېوه لرونکي وني مثال لري يا به يې د اړتيا په وخت کي له سيوري ګټه واخلې او که.وږی شې مېوه به يې وخورې او که يې کومه ګټه درته ونه رسېږي له ضرره به يې ساتلی يې"

امام أحمد رحمه الله يوه ورځ د بستر رنځور شو، امام شافعي رحمه الله يې پوښتني ته ورغی، کله چي يې په هغه د سختي ناروغي نښي وليدلې سخت خپه شو، څه وخت وروسته امام شافعي رحمه الله رنځور شو، امام احمد رحمه الله چي خبر شو پخپل رنځ کي د هغه تپوس ته ورغی، کله چي د امام شافعي رحمه الله سترګي پرې ولګېدلې ورته وې ويل:

**مرض الحبيب فزرته فمرضت من اسفي عليه**

**شُفي الحبيب فزارني فشُفيت من نظري إليه**

ګران می ناروغ شو زه يې تپوس ته ورغلم ګران مي روغ شو زما تپوس ته راغی خو چي

سترګي مي پرې ولګېدلې زه هم روغ شوم.

---

## يوستر حقيقت.

(ايټالوی پېژندل شوی ارواه پوه "سافار" وايي: د هغو کسانو قدر وکړئ چې ژر په غوسه کېږي او خپل غبرګون په غوسه کې ښيي.... دوی په اصل کې هيڅ نه پټوي... دوی په هماغه شېبو کې چيغې وهي... رنګ يې تک سور اوړي... زړه يې درد کوي... لاسونه يې رېږدي اما... دوی هېڅکله د تاسې پر ځمکه ويشتلو او کسات اخيستلو لپاره په پټه طراحي نه کوي، د دوی ټول غبرګون هماغه غوسه ده او بس. لنډه يې دا چې ژر غوسه کېدونکي کسان هغومره چې حساس دي، همدومره رقيق، مخلص او زړه سواند هم دي.

---

## له يوې مېرمنې پوښتنه وشوه:

ولي دي وزن کم شوی او ډنګره يې؟

خاوند مي ژوند را تريخ کړی ډېر بد اخلاقه او کنجوس دی چي کله هم ورته وګورم اشتها مي بنده شي.

ښه نو بيا ولي ورته ناسته يې ؟

غواړم شپږ کېلو وزن نور هم کم کړم.

---

## عجيبه ورځنی پېښې:

- چي کله دانتظار په کتار کي يې او بل کتار ته لاړ شې لومړی کتار به تر دوهم کتار تېز درومي

- چي کله هم غلطو نمبرو ته زنګ ووهې کله به هم مشغول نه وي

- چي کله هم يو شی جوړوې او لاس دي خيرن يا ککړ شي په همدې وخت کي به دي پوزه

يا غوږ خارښت وکړي

- چي کله يو ماشين جوړوي او نټ دي له لاسه غورځار شي تر هغو به رغړې ترڅو داسي ځای ته ورسېږي چي ستا لاس نه ورته رسي

- چي کله له دفتره يا له مکتبه غير حاضر شې او مدير ته يوه بهانه جوړه کړې سبا ته به په هماغه رنځ اخته يې

- چي کله لمبېږي پدې وخت کي به پرلپسې ستا ټلفون زنګ وهي

- چي کله دي يو برقي شی خراب وي او مستري ته يې وروړې هلته به کار شروع کړي

- چي کله له يوچا سره خبري کوې او کوشش کوې چي شناخته ګان دي ونه ويني پدې وخت کي به له يوې او بلي خوا دربانديي راځي

- چي کله ډېري چابياني درسره وي او کولپ پې خلاصوې کومه چاپي چي کولپ پرې خلاصېږي هغه به تر ټولو اخېرنی وي

- چي کله دي ډېره بېړه وي چي کوم ټرافيکي سګنل ته رسېږې هغه به سور کېږي

-چي کوم شی دي په کار وي او پسي ګرزې نه به موندل کېږي او په نورو ورځو کي به دي هرساعت مخي مخي ته کېږي

- چي کله يوه ډوډۍ واخلې زړه دي غواړي چي يوه بله هم واخلې او چي کله په يوځل دوه واخلې په يوه به موړ شې.

- چي د نسوارو ډبی غواړې ښه به پسي ستړی شې خو چي دوهم ځل يې بيا وګورې هغه به ستا په جېب کي وې.

- داسي هم پېښېږي چي يو وړوکی شی چي ستا ورته فوري ضرورت وي غواړې يې او پسي ګرزې نا ببره به دي پام شي چي هغه ستا په لاس کي دی .

---

**د يوه سړي نه (۹) زامن وزېږېدل:**

په لسم وار یې لور پیدا شوه کله چې خبر شو سخت غمجن شو ځکه چې لونې یې نه وې خوښې او په سړه ساه یې وویل:

«اوووففففففففف زما توري شپې»

شپې او ورځې تېرېدلې کلونه تېر شول پلار بوډا شو، په سترګو ړوند شو، زامنو یې ودونه وکړل، جلا شول، هر یو د خپل ژوند په ستړیو بوخت شو، په اولادونو او دوستانو او پخپل ژوند مشغوله شول، ړوند پلار یې هېر شو.

یواځې لورکۍ یې تر څنګ پاته شوه، هغې د پلار چوپړ واهه، یوه ورځ د پلار اطاق ته ورتله تر څو هغه ته دارو درمل ورکړي،

پلار چې یې په سترګو نابینا وو وویل: څوک یې ؟

. زه ستا هغه توره شپه یم ..... پلار جانه

پلار یې پداسې حال کې چې پخپله وینا سخت پښېمانه وو په شرمندګي کې وویل: (( کاش چې ټولې شپې توري وای))

الله تعالی فرمایي:

**« عَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ »**

ډېر ځله تاسې یو شی نه خوښوئ خو هغه ستاسې لپاره خیر وي.

**یوه ښایسته پېغله**

چې د سپوږمۍ غوندې ځلېدله دکان ته راننوته ګوري چې د ۷۰ کالو یو سپین ږېری په دخل ناست دی .

پېغله پوښتنه کوي: کاکاجانه دا دکان ستا دی؟

سپین ږېری ورته وویل: هو د خدای مال دی دغه دکان هم زما دی، دوه دکانونه مې نور دي هغه مې په کرایه ورکړي دي، دوه غټ کورونه او دوه موټرونه لرم او په دې هرڅه سربېره په بانک کې لس ملیونه روپۍ هم لرم اوس د بل واده کولو تیاری نېسم .

ډېر ښه کاکاجانه زه سپوږمۍ نومېږم د ماليې ماموره يم او دماليت (Tax) دغونډولو لپاره راغلي يم.
زه دوړن شابدين (شهاب الدين) يم چې په ټول ژوند مي رښتيا ولاکه ويلي وي دا مي لومړۍ ځل دی رښتيا وايم: "زه دوړن شابدين يم"
که دي بيا هم باور نه راځي له کلېوالو پوښتنه وکړه ټول مي "دوړن شابدين" بولي هغوی به دي زما په لاپو او ګوزونو خبره کړي.
(پند) څو پوري چې مو څوک بشپړ پېژندلی نه وي د زړه بوخڅه مه ورته خلاصوئ .
هره ښکلي ځواني هم ستاسې د خوبونو ښاپېرۍ نشي جوړېدلای.

---

څومره ښه يې ويلي: "سياستمداران داسي دي لکه په کرونده کي بېزوګيان چي کله يې سره جګړه شي کرونده خرابه کړي او که سره روغ وي حاصلات يې خوري"

---

مشهور لبنانی جلا وطن شاعر رشيد سليم الخوري چي په کليوال شاعر يې شهرت درلود په ۱۸۸۷ مېلادي کي زېږېدلی او په ۱۹۸۴ کي وفات شوی په مذهب عيسايي وو.
د رسول الله ﷺ د مولد په مناسبت د أمريکا د "سان باولو" په ښار کي د مسلمانانو له لوري يوې جوړي شوي غونډې ته بلل شوی وو او ځيني وغوښتل شول چي حاضرېنو ته خپله وينا واوروي هغه داسي وويل:
اې مسلمانانو؛ اې عربو؛ محمد ﷺ هر کال د يو ځل لپاره ستاسو په ژبو زېږي خو په زړونو، عقلونو او کړنو کي مو هره ورځ سل ځلي مري،
که هغه ستاسي په ارواګانو کي زېږېدلای تاسو به هم ورسره زېږېدلاست، نن به ستاسو هر يو تن يو وړوکی محمد وای، نړۍ به لا پخوا يو ستر اندلس وای، لا به ډېر وختي ختيځ او لوېديځ سره مښلېدلی وای، د لوېديځي نړۍ ماده پرستي به له ختيځ سره هډ او پوستکی

شوي وای عقل او زړه به د ژوند تر پایه لاس تر لاس نېولي تلای.

اې مسلمانانو؛ ستاسې دښمنان ستاسې هره تېروتنه او نېمګړتیا ستاسې دین ته منسوب کوي، او ستاسې دېن د هغوی له تورونو ډېر پاک دی، خو تاسې دې تېروتنو او د هغوی تورونو ته په خپلو کړنو کي د حقېقت پوښ وراغوندئ، ستاسې دین دپوهي او زدکړي دېن دی خو تاسي جاهلان یاست، ستاسې دېن د اساني دېن دی خو تاسې یې سختوئ، ستاسې دین د مېني او احسان پیغام دی، خو تاسي کرکي اچوئ ستاسې دېن د بریا دېن دی خو تاسو سرټېټي یاست او ماتي مو خوړلي ده، ستاسو دېن د لګښت او په بل دلوروني دېن دی خو تاسي کنجوسان یاست.

اې محمده؛

اې د الله رښتوني پیغمبره؛

اې دفلاسفه وو فیلسوفه؛

اې دعربو او ټول انسانیت ویاړه؛

تا په جسماني شهوتونو روح ندی وژلي، او نه دي د روح د عظمت لپاره جسم بې ارزښته کړی. ستا دېن د روغ فطرت دېن دی، پداسې حال کي چي بشریت له ټولو فلسفو، عقائدو او علومو مایوسه شوی، او د پوهانو له ټولو مفکورو او معتقداتو ناهیلي شوی، زه په بشپړ باور او ډاډ سره ویلای شم چي له دې پیچومو د وتلو او د روح د هوساینې او د چارو د سمون لپاره د اسلام غېږي ته له ستنېدلو پرته بله هېڅ چاره او لاره نلري، په هماغه ورځ به یې سر وچت او په لوړ غږ به له ډکو سینو دا شعر زمزمه شي:

عِـيدُ البَرِيَّـةِ عِـيدُ الـمَوْلِـدِ الـنَّـبَـوِيِّ     فِـي الـمَشْرِقَيْنِ لَـهُ وَالـمَغْرِبَيْنِ دَوِيِّ

عِـيدُ الـنَّبِيِّ ابـنِ عَـبْدِ اللهِ مَـنْ طلعَتْ     شَـمْسُ الهِـدَايَةِ مِنْ قُـرْآنِـهِ الـعلوَيِّ

يَـا فَـاتِـحَ الأَرْضِ مَـيْدَانـاً لِـدَوْلَـتِـهِ     صَارَتْ بِـلادُكَ مَـيْدَانـاً لِـكُلِّ قَـوِيِّ

يَـا حَـبَّـذَا عَـهْـد بَـغْـدَادٍ وَأَنْـدَلُـسٍ     عَـهْـدٌ بِرُوحِـي أُفَـدِّي عَــوْدَهُ وَذَوِيِّ

مَنْ كَانَ فِـي رِيْبَةٍ مِنْ ضَخْمِ دَوْلَتِهِ — فَلْيَتْلُ مَا فِـي تَوَارِيخِ الشُّعُوبِ رُوِي
يَا قَوْمُ هَذا مَـسِيحِـيٌّ يُـذَكِّرُكُمْ — لا يُنْهِضُ الشَّرْقَ إلاّ حُبُّنَا الأَخَـوِيّ
فَـإِنْ ذَكَــرْتُمْ رَسُولَ اللهِ تـكـرِمَـةً — فَبَلِّغُوهُ سَلامَ الـشَّـاعِـرِ القَرَوِيّ.

**ژباړه:**

د رسول الله ﷺ د مولد جشن د ټول انسانيت جشن دی چې په ختيځ او لوېديځ کې يې څوړ دی، دا عبد الله د زوی د مولد جشن دی د چا له آسماني قرآن څخه چې د هدايت لمر وځلېده، اې د خپل دولت لپاره د ځمکې فاتح انسانه؛ نن ستا ښارونه د هر يرغلګر ځواک د جګړې ډګر ګرځېدلی دی، د بغداد او اندلس څومره ښکلی دور وو ځان ترې ځاروم، کاش هغه تېر برم بېرته را وګرځي، که چاته د هغه د پراخي واکمنۍ په هکله شک وي د تاريخ پاڼو ته دې مراجعه وکړي هلته هر څه ليکلي دي، اې خلکه؛ دا يو مسيحي دی چې تاسې ته دا دريادوي: کله به هم د ختيځ ولسونه تر هغو نه را پاڅي چې تر منځ مو د ګډې ورورولي مينه نه وي را کې پيدا کړي، که تاسې رسول الله ﷺ په درناوي سره کله هم ياداوه نو د دې کليوال شاعر سلام ورته رسوئ.

---

**الأم مدرسة إذا أعددتها — أعددت شعبا طيب الأعراق**

مور يو ښوونځی دی که سمه وروزله شی يو اصيل پاک نسله قام دې چمتو کړ.

**قم للمعلم وفه التبجيلا — كاد المعلم أن يكون رسولا**

د ښوونکي په درناوي کې ولاړېږه ښوونکی د دې وړتيا لري چې د الله ﷻ استاځی شي.

له نيکه مې پوښتنه وکړه چې ته دا روپۍ ولې په قرآنکريم کې ږدې وېل: ځکه چې هغه ته تاسې لاس نه وروړئ په سوچ کولو ارزي دردونکی حقيقت دی

په کلېواله سېمه کې مې يو د ١٠٠ کلونو سپين ږيری وموند ماوېل د صحت راز مو په څه کې دی؟ وېل : حسد مې پرېښود جسد مې په ګټه کې روغ راته پاته شو

که مونږ په هغه څه خبروای چي زمونږ په هکله په غیاب کي ویل کېږي په ټول ژوند به مو نه وای خندلي.

له یوه سپین ږېري پوښتنه وشوه چي دا آسمان ولي دومره صاف وي؟ وېل: ځکه چي هلته انسانان نه اوسي

لږ اوبه ژوند دربښي او ډېري دي غرقوي .

دا یاد ساته چي تل په هغه څه بسنه کوه چي لرې یې.

ددې لپاره چي په ژوند کي تل بریالی واوسې دوه شیان خپل کړه :

ناپوهي عیب دی او ځان ناپوهه اچول کمال دی، غفلت تاوان دی خو ځان غافل اچول هوښیاري ده

بې موجبه پرېشاني کېدای شي سبب یي ستا هغه ګناهونه وي چي استغفار ویل غواړي

قران کریم ستا درېیم سږی دی؛ کله چي د ژوند له لوخړو ساه ډوبی شې تلاوت یي ګټه رسوي، شفاعت دي کوي، درجې دي لوړوي مه یې پرېږده

ته حاسد انسان ته تل مغرور ښکارې خو ستا مینه والو ته درونډ انسان ښکارې

مه خپه کېږه که یو څوک ستا غوره والی نه مني، د څراغونو رڼا په ورځ کي نه ښکاري

په رسول الله ﷺ یو ځل درود ویل چي کله آسمان ته وخېژي لس رحمتونه درباندي را اوروي ګوره په خپل ځان کنجوسي مکوه.

یوه ونه چي را پرېوزي ټول یې غږ اوري خو ځنګل له دنګو ونو ډک وي څوک یې غږ نه اوري خلګ ستا ځانګړتیاوو ته نه ګوري خو د لوېدلو لپاره دي انتظار کوي د فاسد فطرت خاوندان هم داسي وي

ځیني پیچومي ډېر سخت وي خو هدف ته د رسېدلو لپاره په هغو تګ کول لازمي وي

په قسمت کي کله هم بد مرغي نه وي بد مرغي هغه پر لپسې ګناهونه زېږوي کوم چي مونږ یې زیاتره هېر کړي وي.

[گناهونه نعمتونه له منځه وړي]

. "واده کول يو ښه مثال دی " په صدر اسلام کي حلال وړيا وو ځکه حرامو ته لاسرسی ستونځمن وو... نن چي د حلالو بيه لوړه شوه حرامو ته لارسی وړيا شو

يوه مسکېن ځوان نجلۍ غوښته ور يې نکړه بل بېډېنه ځوان وغوښتله ور يې کړه: وېل الله ﷻ به هدايت ورته وکړي لومړي ته يې ولي نه ويل چي الله ﷻ به روزي ورکړي .. آيا هدايت کونکی الله ﷻ روزي ورکونکی ندی ؟

تاسو به پام کړی وي مونږ په جېب کي ماتي وړې روپۍ ګورو چي مسکېن ته يې په خيرات کي ورکړو ، بيا له الله ﷻ فردوس جنت غواړو ، په کمه بيه لوړ بيه جنت غوښتل آيا دا انصاف دی ؟

ښځو ته کله هم دروغ مه واياست هغوی د حقېقت په کشف کولو کي بېساری ځواک لري بيا به مو په ځان شکمن هم نکړي چي حقېقت ورته معلوم شوی دی.

د بريا مقام ته تر هغه وخته نشئ رسېدلای، څو چي د ستومانۍ، ماتي او مايوسۍ په تم ځايونو تېر شوئ نه يې، د قوي عزم خاوندان کله هم په دې تم ځايونو کي د ډېر وخت لپاره نه درېږي.

## د البرت انېشتائن عينکي

البرت انېشتائن به تل خپلي عينکي له ځان سره ساتلې يوه ورځ يوه رېستورانت ته ورغی چي کتل يې عينکي يې ورسره نشته، د رېستورانت چپړاسي ورته دخوراکونو کتالوګ مخي ته کېښود ترڅو يې هغه وګوري او دخپلي خوښي دخوراک فرمائش ورکړي، انېشتائن ورته وويل :

ته يې راته ولوله. چپړاسي ورته وويل: ښښه غواړم زه هم ستا غوندي بېسواده يم.

(عبرت) څوک چي خپل هرڅه سمبال نه ساتي بيا دي بل نه ملامتوي چي ورباندي بد

ګومانه شي.

---

## د مېلمانه لپاره هم برستنه

امرېکايي لېکوال ((مارک ټوين)) له آرام او هوساتوب سره ډېره مينه درلوده، هغه چې به کله څه لېکل يا لوستل په برستنه کي به پروت وو، او د خوب له اطاقه ډېر لږ راووت،

يوه ورځ يو خبريال له هغه سره د مرکې کولو لپاره راغی مېرمني يې ورته وويل: خبريال راغلی له تا سره مرکه کوي، ده ورته وويل : را دننه دي شي،

ښځې يې په غصه کي ورته وويل : آيا دا مناسبه ده چي ته داسي په برستنه کي پروت يې او هغه ولاړ وي او مرکه در سره کوي ؟ ده ورته وويل هو دا خو ښه وايې : ربښتيا هم ښه کار ندی چي زه پروت يم او دی ولاړ وي خو چپړاسي ته ووايه چي ده ته دي هم برستنه راوړي.

په ژوند کي په هيڅا هم زيات اعتماد مکوه ستا خپل سيوری هم تا په تياره کي يواځې پرې ږدي .

که څوک داسې خبره درته وکړي چي ستا له شان سره نه ښايي د غصې په ځای ورته وخانده ځکه چي هغه د خپل شخصيت په در پيژندلو کي له تا سره مرسته وکړه.

که ژوند وځورولې مه خپه کېږه هغه هم د مور غوندي مجبور دی تا ووهي تر څو د بل وار لپاره يې زده کړې .

بالښت د هيڅا سر نه شړي، د بډای، مسکين، مشر، کشر، چپړاسي او پاچا خو په خواږه خوب يواځې هغه څوک ويده کېږي چي ضمير يې ډاډه وي.

کله چي هغه نعمتونه چي ته يې تمنا لرې له بل چا سره ووينې حسد مه ورسره کوه په ښه نيت او پاک زړه دوعا ورته وکړه ترڅو يې الله ﷻ په تا هم ولوروي او ووايه : اې ربه ته يې همېشني ورته وګرزوه او زما يې هم نصيب کړې

هغه انسان کله هم له پامه مه غورزوه کوم چي له تاسره مينه لري او ستا درناوی کوي،

کېدای شي يوه ورځ ته را پاڅې او هغه په دې نړۍ کې بيا ونه وينې.

---

ستا نېکي او ښه چلند نه هېرېږي، په هغو وختونو مه پښېمانه کېږه چې يو څوک دې پکې خوشاله کړي وي ولوکه يې هغه وړتيا نلري، که دي څوک پېژني او که نه، خو ته يې په ژوند کې مثبت رول لوبوه همدا بسنه کوي چې ستا رب ﷻ د ښو بدل په ښو ورکوي، که څوک ستا د ښو خبرو درناوی ونکړي همدا بسنه کوي چې الله ﷻ ته ستا ښې خبري پورته شي.

(إِلَيهِ يَصعَدُ الكَلِمُ الطَّيِّبُ)

الله ﷻ ته ښې خبري پورته کېږي.

ابن القيم وايي " دين ټول أخلاق دی که د چا اخلاق درنه لوړ وي پوه شه چې په ديانت کې هم درنه لوړ دی "

**ښځه:** لور، خور، مېرمن، مور او انا ده او د عمر په دې ټولو مراحلو کې يې نارېنه په احسان، پاللو او حسن معاشرت شرعاً مکلف دی .

د پاچاهانو د قصرونو په دروازو لېکلي وي : "نژدې کېدل او عکاسي کول منع دی" خو دپاچاهانو پاچا رب العزت وايي: "سجده وکړه او رانژدې شه" سورة العلق

د اخلاقي پرمختنګ په لور ستا لومړی ګام دا دی چې د نورو له نېمګړتياوو سترګې وتړې او دا په پام کي وساتې چې پوره يواځې الله ﷻ دی.

په زړه کي هېچا ته کينه مه ساته ځکه چې خوشالي دي لوټوي چې چا بد درسره کړي وي ښه ورسره کوه، ځور مه ورته رسوه، مونږ ټول له دې نړۍ کوچېدونکي يو

د بل په خوله کله هم په چا قضاوت مکوه پخپله يې وګوره، ويې تله، ويې ازمايه

ډېرځله برېښنده ډاګونو مونږ دوکه کړي يو او ګومان مو کاوه چې د روڼو اوبو ويالې دي.

---

ویل کېږي چي د کوریا اوسېدونکي چي کله روغبړ درسره کوي ستا د نوم تر پوښتلو وړاندي ستا د عمر پوښتنه کوي تر څو پداسې بڼه خبري در سره پیل کړي چي ستا له عمر سره وړ وي .

عربان بیا د مېلمانه د قام، قبیلې او خاندان معلومات کوي ترڅو د دې پرېکړه وکړي چي داحترام وړ دی او کنه .

دلته بیا نن سبا نرخ بدل شوی دی خلک ستا د ګوند، ډلي او فرقې پلټنه کوي تر څو ټاپه در باندي ولګوي چي کافر یې که مسلمان، مرګ دي ورته روا دی کنه.

---

## عبرتناکه قصه:

یوه ځوان غوښتل په فیسبوک کي له یوې نجلۍ سره خبري وکړي په ماسنجر کې ورته ولېکل:

آیا کولای شو یو له بل سره وپېژنو ؟

نجلۍ : هو ولي نه لومړی به زه ځان در وښیم زه هغه حواء یم چي ستا له پوښتۍ پیدا شوي یم او ستا د بدن یوه برخه یم تر څو ته ځور ورنکړې ،

چي کله ته له جنته یواځي را وشړل شوې او ژړل دي ترڅو داسي یو ملګری ولرې چي په نابلده نړۍ کي ستا ترڅنګ پاته شي زه هغه الهي نعمت یم چي تاته ډالۍ شوم.

زه ستا مور، خور، لور او هغه مېرمن یم چي ستا کور درته ساتي .

زه هغه څوک یم چي د قرآنکریم سورة النساء او سورة المجادلة او سورة النور او سورة الطلاق او سورة مریم زما په هکله او زما په نوم را نازلي شوي دي .

زه هغه څوک یم چي که ستا مور شم جنت به زما تر پښو لاندي وي.

زه هغه څوک یم چي الله ﷻ د مېراث درېیمه برخه ما ته راکوي له دې کبله نه چي ځما ونډه کمه او ما سپکه کړي بلکه زما ټول لګښتونه یې ستا په غاړه در اچولي دي.

زه هغه څوک یم چې رسول الله ﷺ به په هره موکه ویل :

**إستوصوا بالنساء خیراً .**

ښځې خوشاله ساتئ او خیر ورته غواړئ .

زه هغه څوک یم چې که نیکه یم تر زرو بدو نارینه وو مې مقام لوړ دی.

که ته دحیواني شهوت لیونی یې د نټ نوري پلیدي پاڼې ولټوه، زه او زما غوندې نوري خوندې په فیسبوک کې د دې لپاره یو چې د الله ﷻ د پاکې کلمې د لوړتیا او سپیڅلتیا لپاره چوپړ ووهو او ستا غوندې بې ادبو ته نبوي اخلاق ور وښیو .

اوس که ته ځان راوپیژني محترمه؛

ځوان په دوو جملو کې ځان داسې ور وپیژاند : "زه الله ﷻ ته توبه ایستونکی ګنهګار انسان یم او هغې مور ته دې سلام وي چې ستا غوندې لور یې زیږولې او روزلې ده"

---

زما تګلاره د اولاد او د کور د افرادو په روزنه کی داده چی زما او د هغوی تر منځ د ویرې او تهدید حجاب نشته ځکه خو غالبا دروغ نه راته وایي ځکه چې پوهیږي پلار مو په لومړۍ تېروتنه کې سزا نه راکوي او که دروغ را باندې واوړي بیا د نه ښښنې وړ ګرځو.

دوهم دا که راته جوته شي چې دروغ یې راته ویلي بیا دوه ګونه سزا ورکوم یوه د جرم بله د دروغو. ځکه خو که یې هرڅومره غټ جرم کړي وي په لومړۍ پوښتنه کې برملا اعتراف کوي که یې دجرم دا لومړی ځل وي حتماً یې ښښم او د اینده لپاره ورته د هغه کار منفی اړخونه او تاوان ښیم ترڅو یې بیا تکرار نکړي په دوهم ځل یې هم غالبا ښښم. او له دوهم په تېره بیا له دریېم ځل تکراره یې دوی پخپله هم کلکه ډډه کوي ځکه چې د دریېم ځل تکرار په صورت کې د ښښلو چانس ډېر کم وي.

---

د خزان په موسم کې چې کومه پاڼه ونه لوېږي د نورو پاڼو په نظر کې خائنه وي، د وني په

فکر وفاداره او د مني د موسم په نظر سرکښه ښکاري. هر څوک له خپلي زاويې ورته ګوري او دريغ نيسي .

ځکه خو ته هغه څه ارزښت مه ورکوه چي ستاسې په هکله ويل کېږي يواځي دا په پام کي نېسه چي وجدان ته ملامت نه يې او الله ﷻ ته دي تنده سپينه وي.

کوم لوښی چي مات شي مه پرې ژاړه، له سخت زړه انسانه مه ناهيلي کېږه، د خائن او غدار سپارښت مه کوه، داسي مه وايه چي ملګری مي يواځي پرېښودلم، داسي وايه څوک چي زما په فکر پرېښته وو هغه اخېر انسان وخوت .

د نورو د احترام معنا دا هيڅکله نده چي ته دوی ته اړ يې، دا ستا خپل اخلاق دي ولو که يې دوی وړتيا نلري .

---

يوه ځوان د خپل واده په شپه د مور په کټ باندي د ګلونو ګېډۍ کېښودله چي ورباندي لېکلي وو (ته د تل لپاره زما په ژوند کي تر ټولو ښکلي ښځه يې)

له مور پوښتنه وشوه په اولادونو کي دي کوم يو خوښ دی؟ وېل : ناروغه چي ترڅو روغ شي، مساپر چي ترڅو کورته راشي، ماشوم چي تر څو ستر شي او ټول چي تر څو زه مړه شم.

ماشوم ته داسي کله هم مه وايه چي مسجد ته لاړ شه، ورته وايه : مسجد ته مي ملګری شه چي دواړه يوځای جنتيان شو، د ښکلو جملو انتخاب ژوره اغېزه لري.

دوه کسان د کار ځای ته ناوخته ورسېدل د لامل پوښتنه ترې وشوه : يوه يې ويل: له مور سره مصروف شوم بل وېل : مور مي مصروف کړم د ادب او بې ادبي توپير .

له يو چا پوښتنه وشوه : په کور کي يواځي څنګه وخت تېروې؟ وېل: زه له خپل رب ﷻ سره مشغول يم که غواړم چي خبري راته وکړي تلاوت پيل کړم، او که وغواړم چي زه خواله ورته وکړم دوه رکعته لمونځ وکړم .

کله چې لوړ مقام خپل کړې دوستان دې وپېژني خو کله چې ولوېږي نه دوستان وپېژنې .
محمد بن مناذر رحمه الله وايي: له خليل بن أحمد رحمه الله سره په لاره روان وم موچڼه مې پرې شوه، په لاس کې مې واخېسته ابېلي پېښې تلم، هغه هم خپلي موچڼې واېستلي او ابېلي پېښې راسره روان شو ما وېل دا دې څه وکړل؟ وېل : غواړم چې سره برابر شو آيا مؤمنان پخپل منځ کې سره ورونه ندي؟

د څه وخت لپاره بايد د هغه چا له ترټني لاس واخلې چې تاته ارزښت نه درکوي د جنريتور غږ ته د هېچا پام نه وي چې کله ودرېږي ور پام يې شي .

که له داسي يو چا سره ښکېل يې چې تل دې ورسره لانجې وي پوه شه چې ارزښت درته لري او بې هغه پاته کېدل درته ګران دی .

متخاصم کسان پداسي حال کې چې يو بل ته مخامخ او نږدې وي ولې يو بل ته په لوړ غږ خبري اوروي ؟

ځکه چې د زړونو تر منځ يې واټن زيات وي دې ته اړ وي چې په لوړ غږ خبري وکړي تر څو د يو بل زړونو ته يې ور واوروي . همدا وجه ده چې دوستان تل په ټيټ غږ يو بل ته خبري کوي او کله په کتو او اشارو کې يو بل پوهوي ځکه چې زړونه يې تر غوږونو مخکې خبري آوري .

چاته چې مخامخ يې او ستا په ارزښت نه پوهېږي کله چې ځېنې غائب شې ستا په له لاسه ورکولو به پښېمانه شي . له هغه چا سره تل پاته کېږه چې ستا ارزښت پېژني .

دا ښه خوی ندی چې د يو چا په غياب کې هغه څه وايې چې ورته مخامخ يې د ويلو جرأت نلرې .

ستا بيه ته پخپله ټاکې، کله چې نور پنډ انسانان ووينې خپل ځان کم مه احساسوه او خپل ارزښت مه بايله، که بيه په تول پېژندل کېدلای د هبرو بيه به تر الماسو لوړه وای .

کوم ماهی چې خوله تړلي ساتي هېڅوک يې نشي ښکار کولای، خوله دې وتړه، هېر داسې

کسان شته چې د دې انتظار باسي چې ستا تېروتنې په نښه کړي .

که یو سړی درته خواله کوي ښه غوږ ورته ونېسه، هغه د نورو له منځه ته خوښ کړې، په لا پروايي يې زړه مه ماتوه.

لرګي مېخ ته ویل زخمي دي کړم، مېخ ورته ویل: که تا ته د هغه ګوذار درد معلوم وای کوم چې ما په سر خوړلی دا ګیله به دي نه وای کړي، تل په خلګو ښه ګومان کوه ته دهغوی په حال څه خبر یې .

له یوه نېک سړي پوښتنه وشوه چې مسجد ته تر اذان مخکې ولې ځې؟ وېل : اذان د غافلانو لپاره وي او زه نه غواړم چې په هغو کې وګڼل شم

که وژاړې دا ستا حق دی که خپه شې دا ستا حق دی خو پام کوه چې مات او په شا نشې.

---

**یوه ورځ د ځنګل باچا زمري اعلان وکړ :**

۱. مورېک د فیل په ځای تعین شو ؑ

۲. شغال د پړانګ په ځای تعین شو

۳. باز د بلبل پر ځای .....

زمري په نظام کې ځینې نور ګډوډ تغیرات هم راوستل . د دوی له جملې څخه یواځې باز نوي دندې ته زړه ښه نه کړ.

زمري حکم وکړ چې باز عاجل راوغواړئ، بازه خواره واره وزرونه دربار ته حاضر شو زمري ورته وویل : ته ولې زما حکم نه منې؟

باز ورته وویل: زه د بلبل دنده سر ته نشم رسولی سمه ده چې زه قوي یم، مګر هغسې د نرمې مشوکې خوږې نغمې، زما پلنه مشوکه نه شي غږولی، ما پریده چې د دنګو غرونو سرونه وڅارم. زمري چې څومره پشار او ټینګار پرې وکړ خو باز نوې دنده ونه منله.

پدې وخت کې زمري پوښ له سر څخه لرې کړ او په عاجزی یې ورته وویل:

دغه ده وګوره زه هم خر یم خو د زمري دنده مخته وړم، په تاڅه شوي دي؟ باز وویل: زه آن لا د مخه د اعلان په آوریدو پوه شوی وم چې دا ټول تغیرات راوستل د زمري کار نه بلکې د خره کار دی.

## چې کله هم جهالت عام شي خرافات زیات شي

وېل کېږي چې د امریکا د وچې موندونکی کریستـوفر کولمبس سره هندوان وګوابنل چې که دومره خوراکي مواد ورته چمتو نکړي چې هغه د ده او د لښکر ژوند وژغوري سپوږمۍ به چې هغوی په خدایي منلي وه ترې غلا کړي .

سرو هندوانو د هغه دا اختار هسي بابېزه وګاڼه، او باور یې نه وو چې هغه به دا ستر کار سرته ورسوي، هغه نجومیان چې له کریستـوفر کولمبس سره ملګري وو ده ته یې ویل چې څو ورځې وروسته به سپوږمۍ بشپړه تندر ونېسي .

کله چې سپوږمۍ تندر ونېوله سره هندوان بېچاره ګان په ژړا ورته راغلل چې سپوږمۍ بېرته راوله ستا ټولي غوښتني منو، دوهمه شپه سپوږمۍ بېرته بشپړه ښکاره شوه کولمبس د هندوانو په ګومان بېرته ورته راوستله چې له ده یې مننه وکړه او د ده غوښتني یې په پټو سترګو ټولي ومنلې.

سرو هندوانو ته سپوږمۍ اوعبادت یې په ګټه کي پاته شول خو ستره زرخېزه قاره امرېکا یې له ټولو ذخائرو او شتمنیو سره وبایلله.

ستر عرب فیلسوف ابن رشد وایي : په کومو ټولنو کي چې جهالت زیات شي هلته په دېن تجارت کول یو دود وګرزي هغه وایي: "که وغواړې چې یو جاهل د تل لپاره پخپله ولکه کي وساتې هره ناروا په دین ورته پوښه"

**په لندن کي د يوې وينا اته ګټوري کرښي :**

۱- اولادونو ته دا چلونه مه ښيه چي څه ډول شتمن شي هغوی ته د خوشاله ژوند کولو چمونه وښيه چي کله ستر شي بيا به د هرڅه ارزښت پېژني نه يې بيه.

۲- خواړه داسي خوره لکه درمل کنه نو بيا به درمل داسي خورې لکه خواړه.

۳- څوک چي تاسره مېنه لري هغه تا کله هم يواځې نه پرېږدي ولوکه د پرېښودلو سل لاملونه وي هغه به له تاسره د پاته کېدلو يو لامل ضرور وموږي.

۴-د انسانيت او انساني چلند تر منځ ستر توپير دی خو ډېری کسانو ته دا توپير نه مالومېږي .

۵- ته چي کله پيدا شوې هرچا درسره مېنه کوله او چي مړ شې هم داسي به مېنه درسره پالي خو پدې شرط چي د پيدايښت او مړيني تر منځ د خپل محبوبيت کچه لوړه وساتې.

٦- که غواړې چي ګړندی لاړ شې يواځې لاړ شه او که غواړې چي لېري لاړ شې ملګری ضرور درسره کوه .

۷- په نړۍ کي شپږ غوره طبيبان : د لمر وړانګي، هوساتوب، ورزش، خوراک، په ځان باور او دوستان . د ژوند په ټولو مراحلو کي يې په پام کي ونېسه او له صحت منه ژونده مزې واخله.

۸- ته چي کله سپوږمۍ ته ګورې د الله ﷻ ښکلا وينې ، که لمر ته وګورې د الله ﷻ قدرتونه وينې ، که په هېنداره کي ګورې د الله ﷻ تر ټولو ښکلی مخلوق وينې ځکه خو په ځان باور ساته او کله هم حوصله مه بايله.

---

**آيا ته تر هرچا هوښيار او پوه يې ؟**

الله تعالی فرمايي :

**وما أوتيتم من العلم إلا قليلاً.**

تاسو ته لږ پوهنه درکړي شوي ده.

د پوه او هوښيار انسان چې څومره د پوهنې کچه لوړېږي په هماغه کچه یې په خپله ناپوهي باور زیاتېږي امام شافعي رحمه الله فرمایي :

**كلَّما أدَّبَنِي الدّهْــرُ        أراني نَقْصَ عَقْلِي**

**وإذا ما ازدَدْت عِـلْماً        زادني علْماً بِجَهْلِي**

څومره چې مې له وخت سره ډېري خوړلې هغومره د خپل عقل په نېمګړتیا خبرېدلم او څومره چې مې د معلوماتو کچه لوړېدله پخپله کم علمي مې باور زیاتېدو.

کله هم مه مغروره کېږئ پاڼې هله لوېږي کله چې فکر وکړي طلا شوي دي .

---

## ښځې یې ورته وویل:

که زه مړه شوم ته به څه وخت بل واده کوې؟

خاوند : چې کله ستا د قبر خاوري وچې شي.

مېرمن : وعده ده ؟

خاوند وخندل هو ولې نه.

کله چې څه زمانه وروسته یې مېرمن وفات شوه خاوند یې هر سهار د قبر زیارت ته تلو خو قبر به هماغسې لوند وو تر دې چې پوره کال تېر شو سړی حیران وو چې دا څه چل دی؟ یو شپه یې زړه شو چې راشه دا ځل به د شپې له مخې هدېرې ته لاړ شم که ګوري په مقبره کې یې د خپلي وفات شوي میرمني ورور ولید، او ورته ویې ویل: دلته څه کوې؟ هغه ورته وويل: د خپلي خور وصیت پر ځای کوم، هغې وصیت راته کړی و چې هره شپه به مې پر قبر خامخا اوبه اچوې.

---

## د شیخ شعراوي دا خبره مې خوښه شوه ....

که د بل چا کار درته ارزښت درلود پوه شه چې د اصېل مزاج څښتن یې.

که دي په بل چا کي ښکلا ولېده پوه شه چي کوګل دي ښائسته دی.
که د وروروليي خوښېدله پوه شه چي د نور په منارو یې.
که دي ځان د بل د احسان پوروړی ګاڼه پوه شه چي وفادار یې.
داسي ورځ هم راتلونکي ده چي یو څوک به د دې لپاره چي ستا په شونډو موسکا ویړه کړي قرباني ورکولو ته چمتو شي ځکه خو د زړه دروازه مه تړه تل هم داسې نه وي چي یو څوک یي د دې لپاره ټکوي چي زخمي یي کړي.
تل هم هر چا ته د زړه دروازه مه ور خلاصوه ځېني داسي وي لکه ماشومان چي دروازه وټکوي وتښتي .
کله هم د شا لور ته مه ګوره یا خو به دي تېر وخت مزغی در مات کړي او یا به د آینده له دېوال سره ټکر شې.
ځېني داسي پاک زړونه هم شته چي په چوپتیا سره دردونو ته هرکلی وایي او په ښه نیت د نورو تېروتنو ته عذرونه لټوي .
ښښنه کوئ د ژوند مزل لنډ دی، یو بل ته نژدې شئ عمر یو څو شېبې دی، ټول به کډه کېږو خو نېټې به بېلا بېلې وي،
**منزل د ټولو یو دی خو سفر جدا جدا.**
تېروتنه کول فطرت دی، په تېروتنه اعتراف فضیلت دی، تل کول یې حماقت او ورته اړ اېستل یې رذالت دی.
د هغه چا لپاره ناشونی کار مکوه څوک چي ستا لپاره ممکن نشي کولای .
که ښکلي خبره نشې کولای په چوپتیا کي ښکلا څرګنده کړه .
د ګران په خبره دوه ځلي خوږېږم یو یې په خبره او بل دا چي هغسي ځواب نشم ورکولای.
ژوند ډېر لنډ دی، په حسد، خپګان، پرېکړون او دښمني کولو نه ارزي سبا به مو یو څوک یادوي او مرګ له چا اجازه نه غواړي، وخاندئ او چا چي بد درسره کړي ښښنه ورته وکړئ.

## ځواني یو تېرېدونکی پسرلی دی

ستا ژوند به تل هم پسرلی نه وي څلور موسمونه به در باندې هرو مرو راځي د خوښيو پسرلی، د غمونو تودوخي، د تنهايي کنګلونه او دوچو خوبونو د پاڼو رژېدل .

پرون هم ډېر مړه شول، خو مونږ لا ژوندي پاته یو، نن هم ډېر د شپې له خوارړه خوبه راپورته نشول، خو مونږ را پاڅېدلو، دا زمونږ مېړانه او توره نده، دا د الهي رحمت لورونه ده . د بشپړې ستاینې وړ هغه ځواکمن ذات دی چې مونږ هر یوه ته یې خپله ننداره ټاکلې ده .

## ته پنسل یې:

انسان پخپل ژوند کې د پنسل غوندې دی، تېروتنې یې د پنسل تراښونکي غوندې رژوي ترڅو په ښکلې بڼه لیکنه وکړي په همدې توګه به ورو ورو ستا پنسل رژېږي تر څو ختم شي او ښکلي نښې یې د ژوندیو خپلوانو او دوستانو په زړونو کې خاطرې، ستا لپاره په عملنامه کې ګټه او د راتلونکیو نسلونو لپاره د تاریخ په پاڼو کې د عبرت یو همېشنی درس پاته شي .

دا نړۍ همېشنی ټاټوبی نه ده دا د لنډ مهال لپاره د آزمویني یو ډګر دی ، همېشنۍ خوشالي به د هغه چا په برخه وي چاچې خپلې پاڼې په نېکو او ګټورو کړنو او ویناوو ډکې کړې، او تر ټولو بد مرغه هغه څوک دي چاچې دا د ازمویني سپینې پاڼې د انسان ځورونې په چټلو عملونو او ویناوو او بد اخلاقیو ولړلې .

ځکه خو تل د نېکو او ګټورو کارونو د سرته رسولو هڅه کوئ او که مو ښه په وس کې نه وي دالله ﷻ بندګانو ته بې موجبه او په ناحقه ځور مه رسوئ، د سبا ورځې لمر غروب نلري، د سبا ورځې سخت حساب، اوږد مزل او دروند پېټی په پام کې ونېسئ

د بد ګومانو انسانانو په حالت دي الله ﷻ رحم وکړي د دوی او د خوشالي تر منځ غرونه غرونه اوږده واټنونه وي.

کمزوري انسانان غچ آخلي او زورور خلګ ښښنه کوي خو هوښياران بيا ځانونه ناګاره اچوي.

نصيحت ورته وکړه خو رسوا کوه يي مه.

ويي ترټه خو داړه يي مه .

د چاپه تېر نه په اوسني حالت چلند ورسره کوه عمر ته يې نه عقل ته يې ګوره او که چاته د خير رسولو وړتيا نلرې ضرر مه ورته رسوه .

---

ته چي کله د تنازلاتو په چکړو کي ونښلې بيا په هغه چا د افراطيت تور مه لګوه څوک چي په اصولو ټېنګ ودرېږي بلکي د خپلو پښو تم ځای ته وګوره چي ته چېرته ولاړ يې.

حرام کله هم په دې وجه نشي حلال کېدلای چي کوونکي يې ډېر دي، مونږ مکلف يو چي هغه څه وکړو چي زمونږ دين يي حکم يې راته کړی دی نه هغه څه چي زمونږ زړه يې غواړي.

---

د اړيکو او تعلقاتو په فن کي د مناسبو واټنونو ساتل ضروري وي مه خو چاته دومره نژدې کېږه چي عيبونه يې ووينې او مه دومره ترې لري کېږه چي ټول ښه يې هېر کړې .

ابراهيم بن ادهم رحمه الله ته چا وويل: د شپې لمانځه ته نشم پاڅېدلای يوه نسخه راته وښيه .

ده ورته وويل: په ورځ کې د الله ﷻ حکمونه منه نافرماني يي مکوه چي د شپې د پاڅېدلو توفيق درکړي. د شپې لمانځه ته را پاڅېدل يو د عزت مقام دی او دا مقام د نافرمانو بندګانو نه نصيب کېږي.

---

**لږ وخانده :**

۱ - په خوست کې یو پولیس خپل ټوپک بوجۍ کې ګرځوي .

۲ - دوستم د پکتیا پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي څخه لیدنه وکړه، ورته یې وویل شاباس سم درس ووایئ، چې طب ته بریالي شئ .

۳ - کوچیان په دین سر ورکوي، خو زده کوي یې نه .

۴ - له احمقانو سره بحث کول داسې دي لکه د سړي چې ګرمه تبه وي .

۵ - د اوبو څخه مېښه، او د بنجاره دوکان څخه ښځه، هیڅکله نه وځي .

٦ - عجیب خلک یو، د سر ویښتان په لکونو لګوو او د ږیرې ویښتان مفت لرې کوو.

۷ - غریب سړی په دوو وختونو کې چرګ خوري، کله چې دی پخپله مریض شي او یا کله چې یي چرګ مریض شي .

۸ - ریل ګاډی هیڅکله نه پنچرېږي .

۹ - په افغانستان کې میندې خپل بچیان د ورځې څلور ځلې شماري .

۱۰ - موبایل له پیغلې نجلۍ سره داسې دی لکه: دویم میړه .

۱۱ - په کوچني عمر کې د هلکانو د واده تر ټولو لوی تاوان دا دی، چې له خپلو بچو ټول پاپړ او بسکوټ په خپله وخوري .

۱۲ - یو څلوېښت کلن خیاط، یو سړي ته کالي ګنډلي و، دواړه یې پرتوګونه ګنډلي وو.

۱۳ - یو کس لیکلي و، ښځه د کور رڼا ده، بل کس په کمنټ کې ورته لیکلي و، سړی د کور جنراتور دی .

۱۴ - ډیر خلک لور نه غواړي، خو ښځه غواړي .

۱۵ - له یو هندو څخه پښتون پوښتنه وکړه، چې (I m going) څه مانا ؟

هندو ورته وویل: زه ځم . پښتون ورته وویل: هغه پلار دي ولاکه لاړ شي، چې ځواب رانه کړې.

---

د ککړو زړونو انسانان کله هم د پاکو زړونو څښتنتان نشي زغملای همدا زمونږ د خپل منځي تربګنیو اساسي لامل دی.

په محکمه کي دښځو ترمنځ شخړه وه قاضي حکم وکړ: په تاسوکي مشره دي خبري وکړي، ټو لي چوپ شوې، لانجه ختمه شوه او دوسیه د تل لپاره وتړله شوه.

---

**"رضی الناس غایة لا تدرك"**

د ټولو خلګو خوشاله ساتل ناشونی دی.

یا خو د فتنو په دې اوسني عصر کي سکوت غوره کړه دا نبوي سیاست هم دی .

**"امسك علیك لسانك"**

خوله دي وګنډه .

پښتانه وایي: چي خبر شي بې اثره تر هغه پټه خوله بهتره .

چي سر دي نه خوږېږي داغ مه پې ږده.

چي نه کار په هغه څه کار

او یا هم سپین وایه چي وجدان ته ملامت نه یې

**"قل الحق ولو علی نفسك"**

سپین وایه که دي سر په بیه هم وي په دې پسي مه ګرځه چي چا وستایلې او چا وغېندلې څوک خوشاله شول څوک خپه شول.

مرګ پخپله نېټه راځي.

که ته خپله لور او یا مېرمن باهر ته له وتلو راوګرځوې او یا په پرده کي او له محرم سره په وتلو یې مکلفه کړې نو یوه پېغله یا مېرمن دي وساتله. او که خپل نارینه اولاد د سترګو په پټولو او له حرامو نظرونو په ټېټ ساتلو وروزې ټولي پېغلي او مېرمني دي بچ کړې .

---

## عذر ويل او د ښېښني غوښتل

څوک دي چي نه تېروځي ؟ مونږ ټول لېوني تېروځو ....

که زه تېروځم نو بايد دا کوم عيب ونه ګڼم چي ښښنه وغواړم .....

که ته تېروځې نو هم عيب يې مه ګڼه که ښښنه وغواړې ....

راشه چي په نېمه لار کي سره يو ځاى شو .....

څه ته شه او څه به زه شم ....

راشه د تماس نقطه بېرته خپله کړو چي هغه د عقل نقطه ده .....

د ښښني غوښتل دا معنا هېڅکله نلري چي ته مات شوې .....

خو ته غواړې چي له مقابل لوري سره د اړيکو ساتلو ته په ځان غوښتنه ارزښت ورکړې ....

ښښنه غوښتل ستا کرامت نه داغداره کوي ....

بلکه د مقابل لوري په سترګو کي ستا قدر زياتوي .....

ښښنه غوښتل هغه خوشبويي ده چي د حماقت زياتره شيبې په يوه ښکلي تحفه بدلوي

له خپل مېنه وال څخه ښښنه وغواړه ..

چوپ مه اوسه ...

خبري وکړه او ورته ووايه زه راغلى يم چي له تا ښښنه وغواړم ....

ښښنه غوښتل لوړ اخلاق دي ....

ناپوهه انسان تل داسي فکر کوي چي ښښنه غوښتل يي سپکاوى دى .....

که تاسي ته ښښنه غوښتل دروند کار ښکاري .....

نورو ته ستاسي تېروتنه زياته درنه ښکارېږي ......

خپل زړتېري ته په زغرده ووايه .....

زه تېروتى وم او ښښنه درنه غواړم .....

بيا وګوره چي د هغه په سترګو کي څومره ستا تله درنېږي ...

**ښايي دا مي د نجات سبب شي**

ستړی کورته راغلې پېټی دي هم درونډ دی مور دي درته وايي:

بچیه زما لپاره دي شيدې راوړې؟

په موسکا کي ورته ووايه : همدا اوس يي ژر راوړم

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

پلار دي درته ووېل: پلانکيه راشه ما ډاکټر ته ورسوه، خپل ټول مصروفيتونه شاته کړه او په خوشاله ټنده يې غوښتنه ومنه

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

په لمانځه ولاړ يې، وړوکی ماشوم دي په خوا کي سات تېروي چي ته کله په سجده شې يو دم دي په څټ کي در سپرېږي، مه غصه کېږه، ماشومتوب يي وزغمه او سجده اوږده کړه.

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

ستړی مزدور دي وليد چي لمر سوځولی او له تندي هوکه دی يخي اوبه دي ورکړې.

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

يو ځای دي د غنمو يا وريځو دانې وشيندلې تر څو مرغان يي وخوري

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

په لاره کي دي کچره او يا هم د لارويو لپاره ضررناکه شی وليد لري دي کړ .

(ښايي دا دي د نجات شبب شي)

پشيانو ته دي پاته شوی خواړه واچول .

(ښايي دا دي د نجات شبب شي)

چا سپکي سپوري درته وکړې تا ورته ووېل الله ﷻ دي وبښه .

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

پخپل موټر کي سپور يې د لمر تودې څرېکي وچ او لانده ټول سوځوي يو سړی دي وليد په لاره روان دی او خولې يې جامې ور وينځي بده يي مه ګڼه د موټر دروازه ورته خلاصه کړه.

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

د قران کريم تلاوت کوې سترګي دي اوښلني شوې .

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

بې پردې ښځه دي وليده په لاره ځي سترګي دي ښکته کړې .

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

يو چا ستا په حق کي تېری وکړ غواړې: ويي ترټې، سپک يي کړې او يا يي هم ووهې خو د الله ﷻ په وړاندي د غصې د زغم او د ښښني ستر اجر او ثواب در په زړه کېږي خپله غصه وزغمې او هغه ښښې.

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

د يو چا په يوه ګناه خبر شوې پټه دي وساتله پرده دي پرې واچوله .

(ښايي دا دي د نجات سبب شي)

قسم په الله ﷻ که د يو مېږي ژوند هم وژغورې خو ستا دا عمل دالله ﷻ په وړاندي نه ضايع کېږي.

ته څه خبر يې چي ستا هغه عمل چي تاته بې ارزښته وي د قيامت په ورځ ستا تله درنه کړي.

نېکي که وړه هم وي سپکه يې مه ګڼه هر وخت د هر نېک کار د کولو په وخت کي دا سوچ کوه چي ښايي دا مي د نجات سبب شي.

بيا به وګورې چي ژوند دي خومره د نېکو کارونو د سيالۍ ډګر ګرځي.

ستونځه په مونږ کي وي خو لاملونه يې په نورو ورتپو:

الله ﷻ فرمايي:

**«وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ»-**

تاسي ته چي کوم ځور رسيږي لامل يې ستاسې د لاسونو کړنه ده .

له الله ﷻ سره د اخلاص لوړه مرتبه همدا ده چي خپل عبادتونه او د خير او ثواب کارونه هم داسې په پټه کي سرته ورسوې لکه څومره چي ګناه په پټه کي سرته رسول غواړې

مونږ په حقيقت کي خپل ځانونه تېر باسو، مونږ له مسکنته شکايت کوو خو علت يې زمونږ تنبلي وي، د سمون او اصلاح تمه لرو خو يو بل تېر باسو، د بېوسي او مجبوري له امله په نېستي ګوزاره کوو او بيا د قناعت پوښ وراغوندو، پخپلو چارو کي تنبلي او لاپروايي کوو او بهانه مو توکل وي، اسباب په کار نشو اچولای او وايو دالله ﷻ به همداسې خوښه وي ټولي تېروتني پخپله خوښه کوو او پړه يې په تقدير ور اچوو

---

دبدن هوسايي دخوراک په کمښت کي وي او دځان خوشالي د ګناهونو په کمښت کي وي کله چي حق ويونکي له حق ويلو ژبي وتړي دروغ ويونکي داسي فکر کوي چي دوی په حقه دي.

**له والدينو سره د چلند ٣٨ خويونه :**

١) په مخکي يي د موبايل بندول .

٢) خبرو ته يي په بشپړه توجه غوږ نيول .

٣) د هغوی رای ښه ګڼل او منل .

٤) هره خبره يي ښه ګڼل .

٥) په مينه ورته کتل .

٦) هر وخت يي مخامخ او په غياب کي ستايل.

٧) د خوشالي خبري ورته رسول.

٨) د خپګان د خبرو له ورته رسولو ډډه کول.

٩) د هغوی د دوستانو او مينه والو ستايل.

١٠) د هغوی د کارنامو يادول او ستايل .

١١) د هغوی خبري که تکراري هم وي خوښي پرې څرګندول.

١٢) د هغوی د ژوند د ناکاميو او تېروتنو نه يادول .

١٣) له بېځايه خبرو ډډه کول.

١٤) په مخکي يې په احترام کېناستل.

١٥) د هغوی د افکارو احترام کول او کم نه ګڼل.

١٦) د هغوی د خبرو نه پرې کول .

١٧) د هغوی د عمر مراعات کول او په لمسيانو نه ځورول.

١٨) په مخکي يې د لمسيانو نه ترټل .

١٩) د هغوی د نصيحت او لارښوونو منل .

٢٠) د دوی په حضور کي د مجلس د مشرتوب حق ورکول .

٢١) په حضور کې له په زوره غږېدلو ډډه کول .

٢٢) تر دوی مخکی او وړاندي تګ نه کول .

٢٣) تر دوی د مخه خوراک نه کول .

٢٤) په برګو سترګو نه ورته کتل .

٢٥) همېشه ورباندي فخر کول.

٢٦) د دوی په مخکي پښې نه غزول او شا نه ورګرځول .

٢٧) په بل چا ښکنځل نه ورته کول .

۲۸) هر وخت دعاء ورته کول .

۲۹) د ستوماني له څرګندولو او له تروې تندي ډډه کول .

۳۰) په تېروتنه او خطايي يې نه خندل .

۳۱) د دوی تر غوښتلو مخکي يې خدمت کول.

۳۲) هر وخت يې ملاقات کول او نه غصه کول .

۳۳) په خبرو کي ورسره د ښو الفاظو انتخابول .

۳٤) د هغوی په خوښ نامه ورته اواز کول .

۳۵) په هرڅه کي او ترهرڅا د مخه هغوی ته وړانديتوب ورکول .

۳٦) چي کله له کوره باهر ځې يا له باهر څخه کورته راشې د هغوی د لاسونو ښکلول.

۳۷) د کور د ټولو افرادو په حضور کي د والدينو په وړاندي خاکساري کول.

۳۸) خپل ماشومان او مېرمني د هغوی په خدمت ګومارل.

مور او پلار د ځمکي په سر ستاسې لپاره يوه داسې خزانه دي چي کېدای شي اوس يې تول او برکت احساس نکړې خو چي کله له دنيا کډه وکړي بيا به يې ستره تشه احساس کړې او پوه به شې چي بې والدينو ژوند عذاب دی ژوند يو ښه فرصت دی ګټه ترې واخله.

اې الله د مسلمانانو اولادونو د والدينو داحسان توفيق ورکړې.

**رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ.**

اوبه چي کله ابشي ته پکې خپل انځور نشې لېدلای همدا راز ته دغصې په وخت کي حقيقت نشې درک کولای...

کېدای شي ته په يوه ښکلي قصر کي اوسې خو زړه دي تنګ وي او کله بيا په يوه تنګ غار کي دي الله ﷻ زړه خوشاله کړي...

کېدای شي کله د ورونو په منځ کي ځان تنها احساسوې... او کله بيا په تنهايي کي دي زړه تر بل هر وخت ډاډمن وي...

کېدای شي کله دي دوستان په شا کي مېخونه ټومبي... او کله دي بیا دښمنان ژوند وژغوري...

کله به بډایان ګورې چي رشوتونه آخلې او کله به بیا مسکینان ګورې چي خیراتونه کوي...

ځکه خو دنیا نومولي شوي ده ... ستا ښېګڼه او ښه چلند کله هم نه هېرېږي...

په هغو شېبو کله هم مه پښېمانه کېږه چي څوک دي پکي خوشاله کړي وي ولو که يې هغوی وړتیا نلري...

ته یوه ښکلا جوړه شه ولو که خلګ د ښکلا مستحق نه وي همدا بسنه کوي چي ته ښکلی او د ښکلا وړ يې او د الله ﷻ په نزد ذره نېکي هم نه ضایع کېږي.

---

## په ریاضي کي اختلاف او اتفاق

زه وایم ٥ + ٥ = ١٠ ته وایې ٦ + ٤ = ١٠ هغه وايي ٣ + ٧ = ١٠ دا وايي ١ + ٩ = ١٠ تاسي وایاست ٢ + ٨ = ١٠ ټول سم وايي خو طرېقې بېلي دي.

کله چي زه در سره اختلاف ولرم د دې معنا دا هېڅکله نده چي زه تېروتی یم او یا ته تېروتی يې زما او ستا تر منځ صرف د نظر توپیر دی.

زما او ستا تر منځ درناوی او احترام لازمي دی ځکه چي د اختلاف د حل پایله مو یوه ده.

زمونږ او د دوستانو تر منځ د زیاترو شخړو لامل دوه شیان وي:

١- موخه چي ونه فهموله شي

٢- هغه څه فهمول چي موخه نه وي.

حل په دوو شیانو کي دی :

١- د موخي پوښتنه ترې وکړه.

٢- ښه ګمان پرې وکړه.

الله ﷻ په سورة الحجرات کي فرمایي :

**" فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ"**

تاسې پلټنه وکړئ داسي نه چي چاته په ناخبري کي ځور ورسوئ بیا به مو په کړي کار پښېمانه یاست.

**" يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ"**

اې مؤمنانو له ډېرو ګمانونو ځانونه ساتئ ځکه چي ځېني ګمانونه ګناه وي.

**خلاصه دا ده : -**

که زه خپله موخه سمه نشم تعبیر کولای... ته یې سمه تشریح وکړه.

نن په یوه صف کي لمونځونه کوو ... خو سبا به د یو او بل د جنازې لمونځونه کوو ...

مرګ یو دی خو لاملونه او نېټې یې بېلي دي.

په دنیا کي زیاتره شیان د اختلاف وړتیا نلري په کار نده یو بل بد واېسوو .

ښه کوئ ، ښښنه او درګذر کوئ ، سترګي پټوئ ، له الله ﷻ ښښنه غواړئ ، خیر او خیرات کوئ او د بېوزلو مرسته کوئ ځکه چي دا ژوند د کروندې ځای دی او سبا به یې رېبئ.

---

**امام شافعي رحمه الله وایي :**

که څوک دا سي ګومان کوي چي په ما کي دي څوک خبري نکوي هغه لېونی دی.

د الله ﷻ په ذات کي خبري وشوې چي (ثالث ثلاثة) درېیم خدای ونومول شو.

په رسول الله ﷺ کي خبري وشوې چي کوډګر او لېونی دی.

ته بیا څوک یې چي په تا کي به څوک خبري نکوي.

د خلګو خبري داسي دي لکه غټي غټي ډبري یا خو به یې په شا ګرزوې تر څو دي ملا درماته کړي او یا به هم ترې دنګه چوتره جوړوي ترڅو دنګو ودانیو ته ورباندي وخېژې.

د خلګو د خبرو پروا مه ساته چي څه وایي هغه دي وایي د هغه څه خیال ساته چي ستا رب ﷻ یې ویني .

پښتانه وايي: د خلګو په خولو پاستي نه لوېږي. زر چې پاک وي له اوره يې څه باک.
چې د رب مختورى نه يې له پاچا مه ډارېږه.

## د يوه ماشوم بوټان سيند يوړل:

ماشوم د سيند په څنډه په شګه وليکل: سيند غل دى... کب نيوونکي په هغه ورځ ښه ډير کبان ونيول په شګه يې وليکل: سيند سخي دى....
د يوه ځوان مور د سيند اوبو يوړه هغه بيا په څنډه وليکل: سيند وژونکى دى...
يوه بوډا په سيند کې ملغلره موندله په شګه يې وليکل: سيند بښونکى دى...
د سيند يوه آرامه څپه راغله ليکنې يې ټولي ووينځلې له ځان سره يي په کراره وويل:
که غواړې چې سيند واوسې د خلکو د قضاوت پروا مه کوه...
ته هم سيند شه خپل کار کوه خلګ پرېږده او خبري يې.

## ښه انسان:

په ټولو انسانانو کي لوړ او دروند هغه څوک دى چي په نورو کي لږ خبري کوي.
ښه انسان هغه دى چي چا ته يي ځور نه رسېږي.
پاک انسان هغه دى چي په نورو د ښو ګمان کوي.
او پرهېزګار انسان هغه دى چي د نورو چوپړ ته يې خپل وخت وقف کړى وي.
د هر سهار له نسيم سره په ډاډمنه فضا کي د مظلومو او بېوسه ځورېدليو انسانانو ربړېدلي لاسونه هغه چاته په دعاګانو لپه وي چي د هغوى زړونو ته يې په مرسته، خواخوږي او ډاډېيني ټکور ورکړى وي.

## له هر زړه زړه سره په پسته ژبه خبري کوه

په زړه کي یوه د هیلو او آرمانونو غوټۍ ده چه په خوږو خبرو غوړېږي
ښکلي خبري د سرو اوبو چینې دي چي له نازکو څپو سره د زړونو تنده ماتوي.
ستا خوږه موسکا خیرات دی .... ستا خوږه خبره خیرات ده .
خپله ژبه په خوږو او پستو خبرو ښایسته کړه.

---

**ښښنه کول د ځواک لوړ مقام دی.**

نن یو نیالګي وکره چي سبا یې په سیوري کي خوشاله یې.
په زړه کي د یو چا په ضد غوټه مه پرېږده.
ښښنه کوه، په ناخوالو پېښه تېروه او په هر مسلمان ښه ګمان کوه.
د انسان نېکمرغي او خوشالي په درګذر، ښښنه، شکر، صبر، او استغفار کي ده.
ښه کار دی چي د یو چا په غوښتنه د هغه اړتیا پوره کړې خو ترې غوره دا ده چي د هغه تر غوښتني وړاندي یې اړتیا احساس کړې او بې غوښتني یې پوره کړې.
دا په یاد ساته چي حسد کول هیڅ بدلون نشي راوستلای څوک چي له تا په ښه حال دی هغسي به وي که هر څومره حسد ورسره وکړې ځکه خو هغو نعمتونو ته ګوره چي ته ځېني برخمن یې په نورو کي سترګي مه خښوه دا دي د زړه په رنځ اخته کوي.
څومره چي خلګو ته نژدې کېږو باور مو پخېږي چي اخلاق هم کټ مټ د رزق غوندی دي.... چي په الهي وېش ترسره شوي دي...
ځېني یې بډایان او ځېني نور بیا پکي مسکینان دي..
کله چي الله ﷻ خپل ګران استاځی محمد ﷺ ستایي د هغه څېره، قوم، خاندان او شتمني او مادي مقام نه ستایي بلکه فرمایي:
[[ وَإنَّكَ لعَلى خُلُقِ عظيم ]]
او بېشکه چي ته په سترو ښو خویونو سېنګار شوی یې.

ته چي کله له دښمن سره مينه کوې هغه په ځان کي د نه وړتيا احساس کوي.
او کله چي ته د شا له خوا داړل کېږې پوه شه چي مخته يې.

**ولي نا اميد شو... ؟**

په کوم کال کي چي موسی عليه السلام زېږي فرعون د بني اسرائيلو په سلګونو ماشومان وژني ... دا هرځه د يوه ماشوم د بچ کېدلو لپاره تر څو بيا يو داسې پيغمبر او د رحمت پرښته ترې جوړ شي چي د ځمکي حالات سم کړي او ظلم او بې عدالتۍ ته د پای ټکی کېږدي ...
کله کله خو د الهي حکمت دا غوښتنه وي چي د سلګونو کسانو د نجات لپاره د زرګونو کسانو ارواحونه آخلي تر څو په زړهاوو نوي او ښکلي داستانونه پېښ شي خو مونږ تل ببړه کوو او د الهي حکمتونو د پرلپسې داستانونو يواځې لومړۍ برخه ګورو.... زړتنګي کېږو.... خپه کېږو ..... او خواشيني ځرګندوو.... صبر وکړئ .... انتظار وکړئ او په الهي پرېکړو مه غصه کېږئ....
په دې ډول سريالونو کي پرېکړې په پايلو باندي کېږي او دالهي حکمت د داستان د وروستۍ کړۍ انتظار وکړئ....
په خپل رب تبارک وتعالی ټېنګه عقيده وساتئ چي هغه کله هم ظالم نه دی او نه ظلم خوښوي بلکه بشپړ عادل ذات دی.... مؤمن تل پدې عقيده وي چي که د خپل ټاټوبي پرېښودلو ته ايسار کړل شي نو په هجرت کولو کې خير دی .... که څوک مړ شي نو مرګ ورته خير دی .... که څوک غرق شي غرقېدا ورته خير دی .... که يتيم شي يتيم توب کې خير دی .... که کونډ شي کونډتوب کې خير دی.... که نېستمن شي نېستي کې خير دی ....
هغوی د دې لپاره په ازمېيښتونو اخته شوی ترڅو که د الله تبارک وتعالی خوښه شي د جنتونو دروازې وټکوي..... که دالله تبارک وتعالی نېکان بندګان وی درجې يې پې لوړي شي ... که ګنهکاران

وي د ګناهونو پېټي يې پې سپک شي..... ته چي کله د دنيا مصيبتونه ګورې چي خلګ وژل کېږي .... کډه کېږي .... حلالېږي .... غرقېږي ... پوه شه چي الله ﷻ څوک آخلی ددې لپاره چي نور ژوند وکړي ... څوک تاواني کوي ترڅو نورو ته ګټه ورسېږي.... د ځېنو ونډه کموي ترڅو د نورو ونډه زياته کړي او د الله ﷻ راتلونکيه پېرزويني تر شته بايلنو څو چنده زياتي دي ..

دې کي شک نشته چي ځېني پيښي ډېري دردونکي وي خو دردونه بيا د سترو لاسته راوړنو او الهي پېرزوينو لامل جوړ شي ....

ته چي کله په الهي حکمتونو يوه داسي پخه عقيده وساتې ، چي له هري تنګي وروسته پراخي، له هره ځوره وروسته هوسايي، له هره غمه وروسته خوشالي او له هري تيارې وروسته رڼا وي بيا به ضرور د الله ﷻ هره پرېکړه او فيصله يوه ستره لاسته راوړنه او پېرزونه انګېرې.

الله ﷻ فرمايي:

«لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ»

تاسو يې د ځان لپاره بد مه ګڼئ بلکه دا ستاسو لپاره خير دی.

---

له علامه طنطاوي رحمه الله څخه يوچا پوښتنه وکړه :

پخپل ژوند کي دي تر ټولو غوره کوم خبر لوستی دی؟

ده وويل: اويا کاله مې لوست او مطالعه وکړه پکې تر ټولو غوره وينا د ابن الجوزي رحمه الله دا ليکنه وه:

"د عبادت ځور به تېر شي خو ثواب به يې پاته وي او د ګناه خوند به ختم شي خو ځور او عذاب به يي پاته وي له خپل رب سره اړيکي ټېنګي کړه او د هيڅ شي پروا مه کوه او د شپې په تربرمی کي د دعا لپاره لاسونه الله ﷻ ته لپه کړه او ووايه:

اې د کائناتو مالکه؛ دنیوي ژوند ستا په یادولو خوند کوي ،

اخروي ژوند ستا په ښښني سره او جنت ستا په لیدلو سره"

له مرور مسلمان ورور سره د لاس روغبړ وکړه ، ویې ښښه ، ښښنه ترې وغواړه.

الله ﷻ او مخلوق یې سره پرېږده ، مونږ او دوی ټول به یوه ورځ کړه کوو.

د خیر کار که هر څومره وړوکی وي مخ مه ترې اړوه ، ته څه خبر یې چي کومه نېکي به دي جنت ته بوځي.

---

**هره څپېړه تاته یو سبق درښیي ....**

هر پرېوتل تاته په پښو د درېدلو نوی چل درښي.....

هره سخته تجربه ستا په پوه اوعقل کي د پام وړ پخوالي راولي .....

هره ضربه ستا ملا ټینګوي.....

هره نا کامي تا کامیابي ته نژدې کوي....

کله هم له ټکرونو مه ډارېږه مه وار خطا کېږه .......

که د ژوند ټکري نه وای مونږ به تل د اوږده وخت لپاره دوکه شوي پاته وای.......

هو ټکري سختي وي ... خو په حقیقتونو بناء وي

**اسلام د تکبیرونو، شعارونو، بېنرونو، جلسو او جلوسونو نوم نه دی.**

له اسلام سره اصل مینه او تعهد پالنه داده چي تر بل یې لمړی په ځان بشپړ عملي کړې د الله ﷻ او د رسول ﷺ هر حکم ته غاړه کېږدې کنه نو هسي تشي لاپې دي د خلګو په ځورولو او غولولو څوک نه مسلمانېږي بلکه لا زیات د الهي قهر او جهنم مستحق ګرځي.

**ځان پخپله خوشاله ساته**

که فلانی رانه خوشاله شي هوسا به شم .....

که ترقي وکړم خوشاله به شم ...
که نوی موټر واخلم هوسا به شم ...
نېکمرغه انسانان کله هم خپله خوشالي په بهرنیو شیانو پوري نه تړي او نه خپله هوساینه د بل په واک کي ورکوي ....
هو ځېني بهرني شیان شته کېدای شي ستا خوشالي زیاته کړي خو کله هم خپله خوشالي مه ورپوري تړه .....
ځکه کوم شي چي ته یې نن خوشاله کړې کېدی شي سبا نه وي...
یواځي ته کولی شې خپل ځان نېکمرغه او خوشاله وساتې ...

---

دوه شیان مؤمن ته ګټه رسوي : ښه أخلاق ، او ښه مزاج.... دوه شیان د مؤمن قدر زیاتوي : خاکساري ، او دخلګو د اړتیاوو پوره کول .... دوه شیان بلاء چپوي: خیرات او خپلوي پالنه....
یوه خبره تل یاد ساته : "پام کوه چي کوم غریب ، مسکین، کونډه، یتیم، بېوزله او مظلوم دي الله ﷻ ته شکایت ونکړي (په ټول ژوند د نامي مسلمان زړه مه آزاروه)

---

## د رسول الله ﷺ په هکله د امریکایی لیکوال مایکل هارټ څرګندوني

دا سړی (محمدﷺ) دروغجن نشي کېدای زمونږ مسلمانانو لپاره د فخر مقام دی چې د داسې هستۍ امتیان یو.
مایکل هارټ ۲۸ کاله د هغه کتاب پر لیکلو تېر کړل، چې نوم یې "سل ستر انسانان " دی.
کله چې یې کتاب مکمل کړ نو ټولني ته راووتی او یوې غونډې ته یي په وینا کي وویل:
"د انسانیت په تاریخ کې تر ټولو ستر انسان محمد ﷺ دی."
په لندن کې په عام محضر کې ودرېدی خلګو لاسونه پرې پړقول، د هغه د خبرو د غوڅولو په پار یې نارې وهلې خو ده خپله خبره پوره کړه او ویې ویل:

"محمد په ٦١١م کال کې په يوه وړوکي کلي (مکه) کې ودرېدی او خلګو ته يې وويل:
"زه تاسي ته د الله ﷻ له لوري را استول شوی رسول يم".
هغه مهال ٤ کسانو ايمان پرې راوړ، يوه يې مېرمن، يو يې ملګری او دوه ماشومان وو.
دادي ١٤٠٠ کاله تېر شول او د مسلمانانو شمېر په مليونونو دی او لا هم زياتيږي.
دا ممکنه نه ده چې دا سړی دي دروغجن وي، ځکه چې هيڅ ډول درواغ ١٤٠٠ کاله ژوندي نشي پاتي کېدلی او نه ممکنه ده چې يو انسان دي په مليونونو خلګو ته دوکه ورکړي.
بله خبره دا ده چې دومره زمانه تېره شوه او په مليونونو مسلمانانو د هغي کلمې لپاره قربانۍ ورکړې او لا يي هم ورکوي ، کومه چې د هغوی نبي راوړې ده .
آيا يو مسيحي هم شته چې داسي وکړي؟؟؟
خبره يې په داسي حال کې پوره کړه چې پر ټوله غونډه ژوره خاموشي خوره وه او نوموړی ترې روان شو.

---

## دا دنيا زمونږ همېشني کور ندی .....

دلته مونږ د څه وخت لپاره يو يوه ورځ به کډه ترې کوو ....
هرڅه به شاته پرېږدو ......
يواځې ښې او بدي خاطرې به مو د خلګو په يادانښتونو کي د لنډ وخت لپاره پاته وي.....
هغه څه چي مونږ به يې له ځانه سره وړو نېک او بد عملونه دي چي يا به په هغه ابدي ژوند کي د تل لپاره زمونږ د تلپاتي خوښۍ او يا هم د دائمي بد مرغۍ سبب وي.

---

## نېکان ملګري او دوستان:

الله تعالی فرمايي:
**"الأَخِلاَّءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلاَّ الْمُتَّقِينَ" (الزخرف:٦٧)**

د قیامت په ورځ به له تقوا لرونکو مؤمنانو پرته د دنیوي ژوند ټول دوستان یو د بل دښمنان وي.

رسول الله ﷺ فرمايي:

**«إِنَّكَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ» (رواه البخاري)**

د قیامت په ورځ به ته له هغه چا سره یو ځای یې چې په دنیا کې دې مینه ورسره لرله.

تل له نېکانو ملګرو او دوستانو سره اړیکې ساتئ....

که ځېنې ورک شئ پوښتنه به مو وکړي....

که غافل شئ را وېښوي مو....

که ځان ته دعا کوي تاسې هم نه هېروي....

هغوی د ستورو غوندې دي که د ژوند په سمندر کې ستاسې بېړۍ لاره ورکه کړي د نجات لاره درته ښيي....

او سبا به د عرش تر سیورې لاندې ستاسې د ښه راغلاست لپاره انتظار کوي ...

آیا ستاسې لپاره دا کافي نده چې د الله ﷻ لپاره یې مېنه درسره ساتلې ده.

الله ﷻ د اعمالو قبولتیا پټه ساتلې ...

ترڅو زړونه تل په وېره کې پاته شي ....

د توبې دروازه یې پرانیسته پرې اېښې ترڅو انسان مایوس نشي....

او اعتبار یې خاتمې ته ورکړی ترڅو څوک پخپل عمل مغرور نشي ....

که د شکل او جسم ارزښت تر روح لوړ وای ....

روح به آسمان ته نه پورته کېده ....

او جسم به تر خاورو لاندې نه خښېده ....

شته داسې کسان چې په زمکه کې خړپړ او سپېره ګرځي او خلک یې له دروازو شړي خو د آسمان مخلوق او د جنت نعمتونه یې د هرکلي او ښه راغلاست انتظار کوي....

ډېر کسان په ځمکه کي شهرت لري خو د آسمانونو مخلوق يې نه پېژني.....
د الله ﷻ په نزد معيار طاعت دی طاقت ندی .....
"إن أكرمكم عند الله أتقاكم"
دالله تعالی په نزد په تاسې کي عزتمن هغه څوک دی چي تقوا ولري
وګوره چي د الله ﷻ په تله کي ستا تول څومره دی؟

---

**مالك بن دينار ﷻ وايي :**
دنيا وال له دنيا لاړل خو تر ټولو خوندور شی يې ونه څکلو..
چا ترې وپوښتل چي دا ترټولو خوندور شی څه شی دی؟..
وېل: د الله تعالی پېژندنه

---

**يوه عالم خپلو شاګردانو ته**
د بخاري درس وايه يوه ملحد (سيکولر) ورته وويل:
غربيان سپوږمۍ ته ورسېدل تاسي ملايان لا د بخاري په لوست بوخت ياست .
شيخ ورته وويل: دې کي د تعجب څه خبره ده هغوی مخلوق دي بل مخلوق ته ورسېدل او مونږ غواړو خلګ خالق ته ورسوو.
خو افسوس ستا په حال دی چي نه له هغوی سره سپوږمۍ ته لاړې او نه دي له مونږ سره د بخاري د درس او تدريس شرف تر لاسه کړ.
ځېني کسان ددې په ځای چي يو ګټور کار وکړي يواځي نيوکي کوي او د نورو په سپکاوي او د عزت په لوټولو کي تل لګيا وي.

---

يوه ورځ به پوه شې چي ستا زياته پرېشاني بې ځايه وه او الله ﷻ دي ټولي چاري تر هغه

تصور زياتي درته چمتو کړې چي تا يې تمنا لرله....

الله دي رانيسي ترڅو تا وآزمويي....

د دې لپاره چي د صبر په نتيجه کي دي بيا ونازوي....

او بيا يې ته شکر ادا کړې او په نتيجه کي د نعمتونو باران درباندي واوروې....

ته د ګناهونو مغفرت وغواړې او هغه ببنه درته ورکړي....

د خلګو په منځ کي دي قدر زيات کړي.....

مادي او معنوي ښکلا دي نصيب کړي....

هغو زړونو ته سلام چي د الله تعالی په دې مبارک کلام خوځيږي :

﴿ وَتِلكَ الأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بين النَّاسِ ﴾

او همدا ورځې مونږ د خلګو تر منځ اړوو را اړوو.

همدغه زړونه پدې باور وي چي خبره د ورځو ده د مياشتو او کلونو نده او ژر دی چي دا د ځور او آزمېيښت ورځې به لنډې او تېري شي او کړاوونه به يې ختم شي.

سلام هغو پاکو سينو ته چي د الله ﷻ د دې مبارک کلام مصداق وي او د دعاګانو په غوښتلو ډاډه وي :

﴿وَلَمْ أَكُن بدُعائكَ ربِّ شقِيّا ﴾

اې زما ربه زه له تا په غوښتلو کله هم بدبخته نه وم.

هغو ارواګانو سلام ته چي غمونو کړولي او پرېشانيو لړزولي وي خو بيا يې هم د الله ﷻ په حمد او ستاينه پېڅ ساتي او تل يې ژبه پدې ذکر لنده وي چي «**الحمدالله رب العالمين**».

---

## د ماشوم سالمه روزنه او تربيه د ټولو ګډ مسئوليت دی.

ماشوم هغه څوک دی چي کله يو انسان ورته وګوري په هغه کي هيلي، اميدونه، ځلانده سبا او رسالت ويني، ماشوم هغه انسان دی چي لا اوس هم د بلوغ سن ته نه دی رسېدلی،

ماشوم په اوس مهال کي د راتلونکي وخت سفير دی، د ماشوم توب په مهال ماشوم په يوه له خوښيو ډکه نړۍ کي ژوند کوی، پدې مهال کي هغه د نړۍ ستونزي، د ظلم او وحشت تياري او د زړه‌بوګنکو جګړي نشي درک کولای، هغه په يوه له خوشاليو او خنداګانو ډکه نړۍ کي ژوند کوی، د هيواد او ټاټوبي د ميني او د رسالت د سرته رسولو او د اميدونو او هيلو غوټۍ په ډېره خوښۍ پکی سپړېږي ، او بيا ورو ورو وده کوي نو چي څه ډول کرل شوی وي د هماغه کرهڼي ميوه ورڅخه لاس ته رواړله کېږي .

ماشوم د سبا اتل او د راتلونکي وخت پلار دی، هغه دراتلونکي وخت انجنير او طراح دی، هغه د مستقبل وزير دی او هغه بېشکه د راتلونکي وخت ولس مشر دی، ځکه خو په هر انسان لازمه ده چي هغه ته د خپل نظر د څرګندولو، د ابتکار ، نوي جوړښت او انکشافاتو وخت او حق ورکړي، ماشوم له خپلي زېږېدني سره سم دوه تخمونه په خپل جوړښت کي لري چي يو د خير او بل د شر تخم دی، پدې وخت کي والدين مسئول وي چي د ماشوم په جوړښت کي د خير زړی اوبه کړي او وده ورته ورکړي ترڅو ماشوم په سالمه توګه او په پر امنه فضا کي، په روغه بڼه او داسي چاپېريال کي ستر شي چي د راتلونکي وخت غوښتنو، د آينده نسل قيادت او د والدينو هيلو او اميدونو ته په بشپړه توګه تحقق ورکړي .

له بده مرغه ځيني وختونه والدين په غير قصدي توګه د ماشوم په روزنه کي د سترو اشتباهاتو مرتکب کېږي پداسي حال کي چي هغوی يې بڼه ګڼي او پدې ډول د هغه د مستقبل لاره د دې په ځای چي هواره يې کړي نوره هم اغزنه او ناهمواره کوي او دا د ماشوم د روزني په وخت کي د والدينو د هغه منفي سلوک نتيجه وي کوم چي د هغوی په ګمان غوره تګلاره وه او پدې توګه د ماشوم په خټه کي د شر تخم ته وده ورکوله کېږي .

د ماشوم روزنه تر والدينو پوري ايساره نه وي بلکه کله چي هغه کوڅې ته راوځي مکتب او مدرسې ته ځي د هغه د روزني د مسئوليت دائره ټولني ته پراخېږي ، چي بيا ټولنه او چاپېريال د ماشوم په سالمه روزنه کي مهم عنصر بلل کېږي په کار دی چي ماشوم ته

داسي ټولنېز چاپېريال چمتو کړل شي چې هغه د ژوند پدې مرحله کې پداسې وسله سمبال کړي چې د راتلونکي وخت د جګړې د ډګر يو ننګيالی اتل ورڅخه جوړ کړي .

لومړی داسمه خبره نده چې وايې : زما يې په پردي زوی څه، هر څوک بايد داسې فکر وکړي چې الله ﷻ دا ټول انسانان له يوه نارينه او ښځې څخه بيدا کړي دي او هر ماشوم له ټولنې سره تړاو لري د ماشوم له مستقبل سره د ټول انسانيت برخليک تړلی دی.

دوهمه خبره داده چې که يوڅوک غواړي خپل ماشوم يې دمستقبل اتل او برخليک جوړوونکی شي ورته په کار ده د نورو ماشومانو په هکله هم ورته رغنده نظر ولري ځکه مونږ ټول د ژوندانه په منطقي مفهوم کې يو له بل سره مبنلېدلي او مشترک مسئوليت لرو او د الله ﷻ په وړاندې به را څخه د بل انسان ورور په هکله هم هرو مرو پوښتنې کېږي .

له عادت سره سم کله چې ماشوم پوښتنه کوي نو مشران يې ترټي چې هلکه چُپ شه؛ او د همدغه منفي سلوک په نتيجه کې د ماشوم په زړه کې ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاته کېږي ځکه چې هغه د پوښتنې کولو جرأت له لاسه ورکوي او داسې فکر کوی چې که پوښتنه وکړي له ترټنې سره مخامخ کېږي او دا ډول سلوک د ماشوم په روزنه منفي اغېزه کوی.

په کار دا ده چې د ماشوم پوښتنوته ولو که ډېرې او بې ځايه هم وي غوږ کېښودل شی او هره يوه يې په مشفقانه کې انداز کې د هغه له ذهني سويې سره سم ځواب کړل شی، که هغه تېر وځي بايد سمه لاره ورته وښودله شي، هغه ته د دې وخت او جرأت ورکړل شي چې څه غواړي هغه په ازادي سره ووايي، حتی الامکان وسائل او امکانات ورته چمتو کړل شي، کوم کار چې هغه يې سرته رسول غواړي ورته اسان کړل شي تر څو د جسمي ودې تر څنګ يې ذهن او عقل هم وده وکړي .

دا ماشوم دی، هغه له دې نړۍ څخه نشي بېلېدلای او هرڅه ته چې پخوا او شا کې يې پېښېږي پخپلو ماشومانه نظرونو او واړه عقل او پاک روح سره ګوري، غواړي چې ځان ورباندې پوه او خبر کړي، هغه د خپلو مشرانو سترګو ته په وار وار ځېر ځېر ګوري او غواړي

چې هغه څه بیان کړي کوم چې یې په زړه څرخېږي خو له تعبیر څخه یې عاجز وي، هغه د پلار سترګو ته ځکه ګوري چې غواړي هغه یې په تعبیرولو کې ورسره مرسته وکړی.

دا ماشومتوب دی او ماشومتوب د انساني ژوند هغه مرحله ده چې غواړي دا نړۍ پکې ځان ته لوڅه کړي او ټولي چارې یې په ساده انداز کې څاری، هغه تل هڅه کوي چې په چارو یې ځان پوه کړي خو خپل احساسات نشي څرګندولای دا د ژوند ډېره خوندوره مرحله وي کله چې ماشوم په خپلو پاکو نظرونو سره په هغه راتاو نړۍ ته په ډېر ساده انداز کې ګوري .

مشران له خپلو ماشومانو سره ولي پداسي بڼه خبري کوي لکه هغوی چې هېڅ ماشوم توب لېدلی نه وي؟

هغوی ولي خپل عقلونه یوځل په شا نه ځغلوی ترڅو هغه نړۍ وګوري کوم چې دوی هم یو وخت ماشومان وو، لوبي به یې کولې، ځغاستل به یې، ټوپونه به یې وهل او له یو بل سره به یې کله ناکله جګړي هم کولې؟

هغوی ولي نن دا خپل نازک ګلان په ډېرو وړو وړو خبر او کارونو ترټي او تهدېدوي یې ؟

هغوی ولي دا هېروي چې دوی هم یو وخت ماشومان وو او تېر وتل به؟

ماشوم ته خپله تېروتنه ساده ښکاري او ګناه یې نه ګڼي لکه یو وخت چې د نن پلار په ماشومتوب کې تېروتلو.

مشران ولي دخپلو ماشومانو تېروتني داسي ساده نه انګېري لکه څرنګه چې یې ماشوم ساده ګڼي؟ ترڅو سمه او چپه لاره د ترټني او وهلو په ځای د ماشوم له ذهني سویې سره سم په مینه او شفقت کې ور وښیي.

داخو دعامو ماشومانو په هکله خبري وې اوس راشئ هغه ماشوم وګورو کوم چې خواشیني او وېرجن دی، دچا چې پلار شهید شوی، دچاچې مور رنځوره ده، دچاچې د اغوستلو کالي او د لوبو نانځکي نشته، هغه ماشومان کوم چې په سترګو ړانده، په اندامونو

معذور او فالج وهلي دي، هغه ماشومان چي پدې پرمختللي نړۍ کي لا تراوسه له ښوووني او روزني څخه محروم دي، د هغوی د دې ټولو محروميتونو او بد حالت مسئوليت د مشرانو په غاړه پروت دی ، زمونږ دا واړه ګلان او د سبا اتلان د مشرانو د ناسمو کړو وړو او غير عادلانه چلند په نتيجه کي پدې برخليک اخته شوي دي .

که همداسي بې پروايي دوام وکړ او د ماشومانو لورته پاملرنه نه وي ډېر بوږنوونکي نتائج او ستره غمېزه را مېنځ ته کوي .

مونږ دلته په پای کي تاسو ته دماشوم په ژبه وايو: زما مشره؛ ماته قلم او کاغذ راکړه چي ليک او لوست زده کړم، زه پدې نړۍ کي ډېر څه ګورم چي ځان ورباندي پوهول غواړم ما ته په مينه غوږ شه، زما پوښتني ځواب کړه او ما ورباندي پوه کړه، که زه تېروځم نو دا زما ساده توب دی ته مي د ترټلو په ځای په خوږه ژبه پوه کړه، ماته د نهال لګول راوښيه چي اوبه ور واچوم ترڅو ستره ونه شي او بيا يې مېوه وخورم، د هغې تر سيوري لاندي کېنم، او د هغې شنو پاڼو او ګلانو ته وخاندم او خوشاله شم ، که نن زما خوا ته پاملرنه ونکړې نو زما د راتلونکيو ټولو بدمرغيو لومړنی عامل به ته اوستا دا جامد سلوک وي.

---

د "**بسم الله الرحمن الرحيم**" داعجاز په هکله :

د عربي ژبي له اته وېشت توريو (حروفو) څخه لس توري داسي دي چي هېڅ داسي عربي او يا اسلامي نوم به نه وي چي په هغه کي له دې لسو توريو څخه به يو توری نه وي راغلی تاسو کولای شئ چي عملاً يې تلاش وکړئ توري دا دي :

ب ، س ، م ، ا ، ل ، هـ ، ر ، ح ، ن ، ي

تاسو تجربه وکړئ چېرته به داسي عربي يا اسلامي نوم ونه وينئ چي په هغه کي له دې لسو توريو څخه يو نه وي راغلی او که په ځېر نظر ورته وګورو نو دا د "**بسم الله الرحمن الرحيم**" توري دي .

**هره خبره تر اورېدلو وړاندي باید فلتر کړئ**

تاسو چې کله هم یوه خبره واورئ نو مخکې له دې چې نشر یې کړئ د سقراط حکیمانه لطیفه در په یاد کړئ، ویل کېږي :

د لرغوني یونان فیلسوف سقراط چې په ۳۹۹ قبل المیلاد کې زیږېدلی او په ۴٦۹ قبل المیلاد کې وفات شوی په زیاتي پوهي، علم او هوښیارۍ سره پېژندل شوی وو.

یوه ورځ له یوه دوست سره مخامخ شو هغه په ډېره نرمه او خوږه لهجه ورته وویل :

سقراط؛؛ آیا ته په هغه څه خبر یې چې ستاسو له یوه شاګرد څخه مي ستاسې په هکله اورېدلي دي ؟

سقراط د یوې شېبې لپاره غلی شو او بیا یې خپل ملګري ته وویل :

زه غواړم مخکې له دې چې تاسې ما ته زما د شاګرد خبره وکړئ له تاسې څخه درې فلټرېزه ازموینه واخلم آیا تاسې دې آزموینې ته چمتو یاست ؟

ملګري یې ورته وویل ولي نه مهرباني وکړئ ؛؛؛

لومړی فلټر د رېښتونولي دی: ایا تاسې ډاډه یاست هغه څه چې ماته یی ویل غواړئ هغه سل په سلو کي رېښتیا دي ؟

ملګري ورته وویل : نشم ویلای خو زه چي څه ویل غواړم هغه مې له بل چا څخه اورېدلي دي .

سقراط وویل : ډېر ښه ، ستا دخبري موخه داده چې څه ویل غواړئ دهغه له رښتیا والي څخه بشپړ ډاډه نه یاست.

دوهمه پوښتنه درڅخه کوم : تاسې چې زما د شاګرد په هکله څه ویل غواړئ ایا د خوشالي خبره یا کوم زیری دی؟

ملګري یې وویل : نه سرچپه د خواشینۍ خبره ده .

سقراط ورته وويل : ستاسو له ځوابونو څخه دا جوته شوه چې تاسو چې زما دشاګرد په هکله څه ويل غواړئ نه خو يې له ربښتيا والي څخه بشپړ ډاډه ياست اونه کوم دخوښۍ زېرى دى؟

په دې وخت کې د سقراط ملګرى ډېر تر ذهني فشار لاندې راغى او خولې ورباندې راماتي شوې خو سقراط ورته په ډاډمنه لهجه وويل : اوس به درېيمه پوښتنه وکړم لا هم د دې چانس شته چې تاسو په دې آزموينه کې بريالي شئ هغه پوښتنه داده :

آيا کومه خبره چې تاسې زما د شاګرد نه اورېدلي ده او ماته يې کول غواړئ تا ته يا ماته کومه ګټه رسوي ؟

ملګري يې ورته په ځواب کې وويل : په حقيقت کې هغه خبره ماته يا تاسې ته هېڅ ډول ګټه نه رسوي .

سقراط ورته وويل : داچې تاسو کومه خبره اورېدلي او ماته يې کول غواړئ نه خو يې له صحت څخه ډاډمن ياست او نه کوم د خوشالي زېرى دى او نه کومه ګټه رسوي بيا يې ولي راته کوئ ؟

له همدغي شېبې څخه د سقراط ملګري خپله پړه ومنله او په ټيټو سترګو يې له هغه سره په مخه ښه وکړه .

د سقراط له دې حکيمانه چلند څخه مونږ دا نتيجه لاس ته راوړو چې کومه خبره رېښتيا، خوشالي ببښونکې نه وي او ګټه ونلري بايد نه يې واورو او نه يې چاته ورسوو .

---

ته چي کله وزېږې نو ستا په غوږ کي اذان ويل کېږي او چي کله ومرې نو بې اذانه لمونځ در  پسي کېږي، د دې معنا دا ده چي ستا ژوند هغه لنډ مهال ته ورته دى چي د اذان او لمانځه په مېنځ کي وي او تلپاته ژوند د اخرت دى د هغه لپاره پدې لنډ مهال کي تياري ونيسه.

**امام ابوحنیفه رحمه الله فرمايي :**

علماء د الله تبارك وتعالى دوستان او په هغه ډېر ګران دي او که علماء دالله تبارك وتعالى دوستان نشي نو الله تبارك وتعالى په زمکه کي بېخي دوستان نلري.

یو حدیث شریف دی چي د علماوو هستوګنځایونه د اسمان مخلوق ته داسي ښکاري لکه د زمکي اوسېدونکیو ته چي د اسمان ستوري ښکاري.

علامه ابن عساکر رحمه الله فرمايي : څوک چي په علماوو پسي ناوړه ژبه کاروي نو هغه ته ووایه چي د علماوو غوښي زهرجني دي چا چي وخوړلې الله تبارك وتعالى به يې د بدن تر مړيني مخکي د زړه په مړينه اخته کړي اوڅوک چي د علماوو نېمګړتیاوي په ګوته کوي الله تبارك وتعالى به يې هرومرو رسوا او ذلیل کړي.

**د ورځني ژوند څلوېښت (۴۰) ګټوري لارښووني:**

۱- لس دقیقې هره ورځ پټه خوله کېنه

۲- په ۲۴ ساعته کي ۷ ساعته خوب کوه .

۳- له ۱۰ تر ۳۰ دقیقو داسي تګ کوه چي موسکا دي په شونډو وېړه او ژبه دي د الله تبارك وتعالى په ذکر ښوري . . .

۴- د الله تبارك وتعالى شکر ګذار اوسه او چي چا ښه در سره کړي مه يي هېروه

۵- تر تېر کال زیات کتابونه مطالعه کړه.

٦- څه وخت د روح غذاء ته ورکوه ( لمونځ ، تسبیحات، تلاوت، سوچ، خپلوان)

۷- څه وخت له داسي کسانو سره کېنه چي عمرونه يې تر ۷۰ کلونو پورته وي او څه وخت له هغه چا سره چي عمرونه يي تر ٦ کلونو کم وي.

۸- خپلو خوبونو او امیدونو ته د عمل ښه ور اغونده.

۹- قوطي بند خواړه مه خوره طبيعي خواړه تل خوره.

۱۰- اوبه زياتي څښنه او په تشه خېټه.

۱۱- له هر خوراکه وروسته تر دوو ساعتونو اوبه مه څښنه.

۱۲- له داسي کسانو سره هم د څه وخت لپاره کېنه چي يا خو تا وخندوي يا يې ته وخندوې.

۱۳- خپل ګټور وخت پداسې څه کي مه لګوه چي ګټه يي نه وي.

۱۴- ستونځي هېروه او چاته د هغه تېري تېروتني مه ور يادوه

۱۵- ګوره منفي سوچ د فکر اشغال نکړي تل د مثبت سوچ لرونکی اوسه.

۱٦- ځېرک او زيارکښ اوسه ژوند ښوونځی دي او ته پکي شاګرد يې، ستونځي پکي د آزمويني پوښتني دي چي له تا حل او ځوابونه غواړي.

۱۷- ناشته د پاچاهانو، د غرمې ډوډۍ د عامو خلکو او د ماخوستن ډوډۍ د غريبانو غوندي خوره.

۱۸- مسکين ته خيرات ورکوه، د يتيم په سر لاس تېروه،

۱۹- ژوند لنډ وخت دی په دښمني او کرکه کي يي مه تېروه.

۲۰- هرڅه په جديت مه څاره ساده خو هوښيار اوسه.

۲۱- ضروري يي مه انګېره چي په هره لانجه کي به ته بر لاسی يې.

۲۲- تېر وخت او ترخې خاطرې يې هېروه تر څو دي شنه او راتلونکی ژوند خړپړ نکړي.

۲۳- له نورو سره خپل ژوند مه پرتله کوه .

۲۴- ستا د خوشاله ژوند مسئول يواځي (ته يې)

۲۵- چي هر څومره چا بد درسره کړي وي بې توپيره ټول وبښه .

۲٦- نور چي ستا په هکله څه فکر کوي په هکله يي سوچ مه کوه.

۲۷- په خپل رب ﷻ تل خوش باوره اوسه يواځي هغه هرڅه کولای شي.

۲۸- حالات که هر څومره ښه وي او که بد خو پدې باور وساته چي بدلیږي.

۲۹- ستا کاروبار په ناروغي کي ستا خیال نشي ساتلای بلکي خپلوان او دوستان به په ښمره درځي، ځکه خو د هغو خیال ساته.

۳۰- له هغو شیانو ځان لري ساته چي خوند، ګټه او ښایست ونلري.

۳۱- حسد وخت ضایع کوي او زړه خوري یواځي ته خپلي ټولي اړتیاوي بشپړولای شې.

۳۲- زړه خوشاله ساته ښه وخت ضرور راځي (ان شاء الله)

۳۳- چي په هر ډول احساس اخته یې خو حوصله مه بایله، را پاڅه او په مخ ګامونه واخله.

۳۴- تل کوشش کوه چي تېروتنه ونکړې او سم کار وکړې.

۳۵- د مور او پلار، کورنۍ او خپلوانو خیال ساته، د جمعې په ورځ په هدېره کي خپلوان له زیارت او دعا مه هېروه.

۳٦- تل خوشاله او خوش باوره اوسه.

۳۷- تل نورو ته ښه او امتیازي شیان ورکوه.

۳۸- خپل حدود وپېژنه، او د نورو شخصي ازادي په پام کي نیسه.

۳۹- چي کله د سهار له خوبه را پاڅې او د ژوند له نعمته برخمن یې د الله ﷻ حمد او ثنا وایه.

۴۰- تل په هغه څه کي جسم او ذهن بوخت ساته چي تا ته خوښي درکوي.

**خندوونکي ټوکه:**

یونېک سړی (جاحظ) د خپل کور مخي ته ولاړ وو یوه ښایسته پېغله ورته راغله او ورته وې ویل: "لږ کار مي در پوری بند دی هغه به وکړې ؟"

ده ورته ووېل: ولي نه ،

پېغلي ورته ووېل : نو راځه،

وېل چېرته؟

وپل پوښتنه مکوه په ماپسي راځه،

ښځه تر مخ دی له شاپسي روان وو د زرگر دکان ته ورغلل، ښځې زرگر ته صرف دومره وویل: د همدې سړي په شکل،

ښځه لاړه او جاحظ دلته له زرگر سره پاته شو ، جاحظ زرگر ته څه شېبه وروسته وویل :

زه خو پوه نشوم څه کیسه وه؟ زرگر ورته وویل:

څومره د تشویش وړ خبره نه ده دې ښځې ماته وویل: یو گوتي راته جوړه کړه او د شیطان انځور پکي نقش کړه ، ما ورته وویل : ما خو کله هم شیطان نه دی لیدلی چي څه ډول شکل یې دی؟ دا لاړه او ته یي راوستلې.

---

## یو ځوان د یوه چینایي حکیم په لټه کي ووت

تر څو د حکمت په معنا یې خبر کړي او دا ور څخه زده کړي چي څه ډول کولای شي خپل احساسات او غبرگونونه په ولکه کي راولي .

ځوان د حکیم د ځای پوښتنه کوله چا ورته وویل چي هغه د غره په سر کي اوسي او که دي ورسره ولیدل نو ته به ډېر بختور انسان یې، ځوان له وخت څخه داستفادې په تمه خپل څوری او سورلي تیاره کړه او د غره په لور یې مخه کړه. د غره سر ته ورسیدو هلته یې د حکیم کور وموند او دروازه یې ورونډکوله یوڅوک ورته راووتل او ورته وې ویل چي حکیم راوځي انتظار کوه .

ځوان په انتظار د دروازې مخي ته کېناست. ځوان هلته درې ساعته انتظار واېست حکیم رانغی او غصه یې مخ په زیاتېدو شوه په دې وخت کي یوه بوډۍ راووته او ځوان ته یې وویل چي حکیم اوس راوځي.

حکیم یو ساعت نور هم وځنډېده وروسته راووت خو په دې وخت کي د ځوان حوصله نوره ختمه شوي وه، ځوان چي کله حکیم ولید یو سپېره ساده سړی وو او د ځوان په خوا کي

کيناست اوله ځوانه يې پوښتنه وکړه:

هلکه چايو ته دي زړه کېږي ؟

دې خبري ځوان نور هم غصه کړ چي لېونيه؛ يو خو د اسمان له سره درته راغلم بل دي په دروازه کي څلور ساعته انتظار را باندي تېر کړ، نه يو عذر او نه کوم تاسف، او اوس بيا په بړڅو شونډو راته وايې چي هلکه چای څښې؟

خو له ډېري غصې يې حکيم ته هيڅ ډول ځواب ورنکړ اورنګ يې سور او سپين سره اوړي.

حکيم بيا ورته وويل:

هلکه چايو ته دي زړه کېږي؟

ځوان چي کله د حکيم ټينګار وليد ورته وې ويل: هو؛ که چای وي رايې وړه.

بوډۍ ښځي چای راوړ او د هلک مخي ته يې کېښود، حکيم ځوان ته وويل:

هلکه زه چای درته واچوم؟

ځوان ورته ووېل: مهرباني وکه ولي نه.

حکيم د هغه په کوپ کي چای اچاوه کوپ ډک شو خو حکيم نور هم لا پکي اچوي او چای په مېز باندي توييږي، ځوان ته چي نوره حوصله ور پاته نه وه حکيم ته يې په تنده ژبه وويل:

ته لېونی يې که دي مازغه خراب دي دا ته څه چمونه راسره کوې؟

په دې وخت کي حکيم ځوان ته وويل نوره زما اوستا ناسته پايته ورسېده چي کله دي هم کوپ خالي وو بيا ماته راشه او ځوان يي د دروازې مخي ته په توده غصه کي ستړی ستومانه پرېښود.

پند : د دې لپاره چي ژوند دي نېکمرغه شي تل خپل کوپ خاره او هيڅوک مه پرېږده چي ستا له اجازې پرته يې ډک کړي، تل خپل احساسات او غبرګونونه څاره او پام کوه چي توی نشي (کتاب: بستان الحکماء)

إمام شافعي رحمه الله وايي:

**نعيب زماننا والعيب فينا ـــــــــ وما لزماننا عيبٌ سوانا**

**ونهجو ذا الزمانَ بغير ذنبٍ ـــــ ولو نطق الزمان لنا هجانا**

**وليسَ الذئبُ يأكلُ لحمَ ذئبٍ ـــــ ويأكلُ بعضنا بعضاً عيانا**

مونږ وخت ته بد وايو خو وخت بد شوی نه دی مونږ بدان شوو مونږ د دې وخت انسانانو ته سپکي سپوري وايو خو که وخت خبري کولای مونږ به يي ښه سپک کړي وای . يو لېوه د بل لېوه غوښي نه خوري خو مونږ انسان په رڼا ورځ يو د بل غوښي خورو.

ـــــــــــــــ

څلور شيان څلور زېږوي: چوپتيا سلامتيا، احسان کول عزت، سخا کول شهرت، شکر کول زيادت،

چا چي خپل ځان وپيژاند او خپله ژبه يي په ولکه کي وساتله، او د چا په عزت کي ونه لوېدو، تل به روغ رمټ وي او کله به هم پښېمانه نشي .

کله هم په خپل ښه حالت او ښه صحت مه مغروره کېږه، د ژوند نېټه ډېره لنډه او همېشنۍ روغتيا او په ښه حال پاتي کېدل امکان نلري.

ستا عمر درې ورځي دی يوه ورځ هغه ده چي تېره شوه او بېرته په لاس نه درځي، يوه همدغه ورځ ده چي ته پکې يې  دا هم تېرېدونکيه ده، يوه هم د سبا ورځ ده چي ته هيڅ ورباندي خبر نه يې چي څه به پکي پيښېږي.

هغه چوپتيا چي تا روغ وساتي، تر هغي وينا ډېره ښه ده چي بيا ورباندي پښېمانه يې .

څوک چي هغه څه وايي چي نه ښايي هغه څه به آوري چي ښه به نه ورباندي لګېږي.

ـــــــــــــــ

له کچره پوښتنه وشوه چي پلار دي څوک دی ؟،،،،، ويل: آس مي ماما دی.

که یو څوک په ورځ کې سل ځله « **سبحان الله وبحمده** » ووايي که د سمندر د ځګ غوندې زيات ګناهونه يې هم وي خو ټول به يې توی شي (دبخاري صحيح حديث شريف)

کله هم کرکه په کرکه مه ځوابوه په ښو اخلاقو او په پاک زړه چلند ورسره وکړه که ته داسې وکړې مقابل لوری به دې يا خو له دښمنۍ لاس واخلي ضرر به يې نه درته رسيږي او يا به هم خپل وجدان ته خبرځه شي او دوست به دې جوړ شي .

تل هغه څه کوه چې ګټور وي او د خلکو په خبرو پسې ځکه مه ګرځه ځکه چې د خلکو له خبرو هيڅوک هم روغ پاته نه دي (الامام الشافعي)

غواړم چې حساب ښه زده کړم تر څو ښېګړې وروته سره جمع کړو او هغه څوک له ديوال سره ضرب کړو څوک چې زمونږ خپل منځي مينه تقسيم کوي .

که غواړي چې ديو چا ظرفيت ځان ته معلوم کړې وګوره چې هغه ترځان له کمزوري سره څنګه چلند کوي

مرغان په قفسونو کې ځکه ځالې نه جوړوي ترڅو خپلو بچيانو ته يې غلامي په ميراث پاته نشي.

ته چې کله خپل سر په بالښت کېږدې او په زړه کې دې له چاسره کينه او دښمني نه وي ته ترهرچا خوشاله او نيکمرغه انسان يې .

اصل زنداني هغه څوک دی چې زړه يې د خپل رب له ياد او ذکر څخه په نفساني خواهشاتو او ګناهونو کې ځولانه وي .

ابن القيم رحمه الله وايي: څوک چې ځان وپېژني د خلګو له عيبونو څخه د خپل ځان په اصلاح بوخت شي .

انسان تل په ازمېښتونو د دې لپاره نه اخته کېږي چې په ځور کړل شي بلکه د دې لپاره وي چې شخصيت يې وده وکړي
له مسلمانه کرکه مکوه له ګناهونو يې کرکه کوه .
د هر سباوون رڼا مونږ ته دا پيغام راکوي چې په ژوند کي لا هم د ميني، خوښيو، د خپلو نېمګړتياوو د اصلاح، د ښښني، مثبت چلند او نورو ډېرو ګټورو شيانو وخت شته .
دا به مو لويه بد مرغي وي چې په هغه جنت کي چې پلنوالی يې د اسمانونو او زمکي غوندي دی خو مونږ ور کي د پښو د اېښودلو ځای ونلرو "سوچ په کار دی"

---

الله تعالی په هر چا کي بېلابېل استعدادونه اېښي دي هغه څوک بريالي دي چې خپل وېده استعدادونه راوېښ کړي.
په ځنګله کي چې يوه ونه ونړېږي ټول ځنګل يې غږ واوري خو چې په مليونونو وني را شنې کېږي څوک يې غږ نه اوري ستا هم دا مثال دی چې هيڅوک هم ستا د شخصيت دنګوالي ته نه ګوري خو ستا لوېدلو ته تږي ناست دي.
دناکامي او ماتي پيل له همدې نقطې پيل کېږي چې انسان له زيار او هڅو څخه د تقدير په پلمه لاس واخلي.
خپلي اړيکي له الله ﷻ سره روغي ساته سرې کرښني يې مه ماتوه کله چې په الله ﷻ ګران شې بيا د دې پروا مه ساته چې خلګ دښمني درسره کوي.
علي رضي الله عنه فرمايي: که هر جاهل چوپ شي په اسلام کي به کله هم فتنې جوړي نشي.
هغه ولسونه بد مرغه دي چې په هغه بادار وياړي چاچي غلامان کړي وي او هغه څوک هېر کړي چاچي ازادي ورته ګټلي وي .
که غواړو خوښي مو په برخه شي پکار ده خپلي غوښتني لږ او وسائل پرېمانه کړو .
له ځانه زمکه مه جوړوه چې خلګ پښې درباندي ږدي بلکه له ځانه اسمان جوړ کړه چې

خلگ درته د در رسېدلو تلوسه ولري.

هر تکل چي په عواطفو برلاسی نه وي له ماتي سره مخامخ کېږي.

بډای انسان هغه ندی چي ډېر څه ولري بلکه هغه څوک دی چي لږ څه ته اړ وي.

دا به څومره ښه وي چي د انسانانو په منځ کي ځې او د ښو اخلاقو خوشبويي دي هرچا ته ورځي.

بريالي انسانان درې خويونه لري: د هر قضيې ځلانده اړخ گوري له هري ستونزي څخه ارزښتمن پندونه اخلي د نورو د ملامتولو په ځای د ستونزي د هواري لاري چاري لټوي.

د دې په ځای چي ستونزي وګڼې هغه نعمتونه وګڼه چي الله ﷻ دربانديي پېرزو کړي دي.

رسول الله ﷺ فرمايي: له خلگو سره ښه کول انسان له بدو پېښنو ساتي، پټ خيرات دالله ﷻ غصه وژني او خپلوي پالنه ژوند اوږدوي.

هغه څوک بختور دي چي د روزي گوزاره يې کېږي او الله ﷻ ورته په خپل شته حال قناعت ورکړی وي (حديث شريف)

---

څوک چي سهار را پاخي اوپخپل ټاټوبي کي په امن وي، په بدن روغ وي او د موجوده ورځي خواړه ورته پرېمانه وي داسې دې وانګېري لکه دټولي دنيا واکمن چي وي (حديث شريف)

هوښيار هغه نه دی چي ښه او بد سره بېل کړي بلکه هوښيار هغه څوک دی چي ښه خپل کړي او بد پرېږدي.

درې شيان درې شيان زېږوي: زيار بډای توب، سستي نېستي، حرص ناروغي .

که هر څومره ډېره شتمني ولرې او هرڅومره دي آرمانونه بشپړ شوي وي خو د يوسف عليه السلام دا ارمان مه هېروه « **توفني مسلما وألحقني بالصالحين** » اې الله ﷻ ته ماته په اسلام کي مرگ راکړې او له نېکانو سره مي يوځای کړې.

له الله ﷻ سره اړيکي مه غوڅوه.

مايوسي ستا پټ دښمن دی چې ستا خوبونه، هيلي، زيار، کار او بالآخره ستا ژوند له منځه وړي.

---

څوک چې د جګړي په مهال يوبل ته نژدې نشي هغوی بيا د امن په حال کي کله هم نشي سره نژدې کېدلای ځکه چې جګړه د يوه فکر او عقيدې لارويان سره نژدې کوي او امن يي سره بېلوي.

په ژوند کي په هيڅ اړيکه هم مه ژاړه ځکه په چاچي ژاړې هغه ستا د اوښکو وړتيا نلري څوک چې ستا د اوښکو وړ دی هغه تا کله هم ژړا ته نه پرېږدي (ابراهيم الفقي)

دا ستونزه نده چې تېروتې، داهم څومره لويه خبره نده چې پخپله تېروتنه اعتراف وکړې په حقيقت کي ستا لويه کار نامه دا ده چې د بيا لپاره د تېروتنو ښکېل نشې.

که له ګناه وروسته په زړه کي تياري احساس کړې پوه شه چې د ايمان رڼا پکي شته که د ايمان نور دي په زړه کي نه وای د تيارې احساس دي کله هم نشوای کولای (ابن الجوزي)

که غواړې چې ستونزي دي هواري او پرېشانيوي دي کمي شي خپله مورکۍ خوشاله ساته ولو که په ډېر لږ شي باندي هم وي او دعا يې غواړه.

پدې باور وساته چې پدې نړۍ کي داسي څوک شته چې هغه له تا سره ډېره مينه لري او تل ستا په غياب کي دعاګاني درته کوي دا ځکه چې ښه دي ورسره کړي وي.

له امام احمد ﷬ څخه چا پوښتنه وکړه چې انسان څه وخت بشپړه خوشالي حس کوي؟ ده ورته وويل: کله چې د لمړي ځل لپاره په جنت کي پل کېږدي.

که مرګ يو حقيقت دی خو ژوند هم يو ستر نعمت دی مونږ بايد د حقيقت له وېري د نعمت خوند تريخ او ښکلا يې خړه پړه نکړو.

د ژوند په چاروکي د نورو له تجربو ګټه واخله ځکه چې ستا خپل ژوند دومره اوږد نه دی چې هرڅه پخپله تجربه کړې.

حسن البصري ﷫ وايي : دنيا له اوله تر اخيره داسې ده لکه يو څوک چي په خوب کي څه ويني او خوښ يې شي او چي کله راويښ شي هيڅ نه وي .

هغه څوک چي د لويو کارونو له سرته رسولو څخه ستا د ايسارولو په موخه په لاره کي ازغي درته اچوي هغوی هيڅکله هم ستر خنډونه نه دي ستر خنډ ستا خپله وېره ده.

انسانان دوه ډوله دي يو هغوی دي چي په ژوند مړه وي بل هغوی چي په خاورو کي ژوندي وي.

ته چي کله په يوه ګل پښنه کېږدې کېدای شي هغه ورژوې خو خوشبويي يې کله هم نشې ختمولای.

---

کله چي مي هم ووينې چي لاره مي ورکه کړې تر ګرېوان مي ونيسه او ښه مي وځنډه او راته ووايه: " اې عمره له الله ﷻ څخه ووېرېږه مرګی درڅخه لېري ندی". (عمر بن عبد العزيز ﷺ)

د انسان لويه نېکمرغي دا ده چي په ځان واکمن شي او ستره بد مرغي يې دا ده چي نفس وربانديې واکمن شي. (الامام الغزالي ﷺ)

فکرونه تر وسلو ډېر اغېزمن او ځواکمن وي مونږ خو د دښمن په واک کي وسله کله هم نه پرېږدو نو فکرونه ولي ور پرېږدو؟

ته کولای شې چي ټول انسانان يو وخت دوکه کړې او يا ټول ژوند يو انسان دوکه کړې خو دا کله هم نشې کولای چي ټول انسانان ټول ژوند وغولوې.

که څوک درسره کينه ونلري نو پوه شه چي ناکامه انسان يې (الشعراوي ﷺ)

داسي ملګری مه نيسه چي ته بدل شې هغه در سره بدل شي چي ته سر خوځوې هغه سر درسره خوځوي ځکه چي ستا سيوری دا رول تر هغه ښه ادا کولای شي.

که په بد اخلاقه انسان پېښ شې داسي يې انګېره چي نه ده څه ويلي دي اونه تا څه

اورېدلي دي .

**وإن بليت بشخص لا خلاق له          فكن كأنك لم تسمع ولم يقل .**

څوک چي له چاسره حسد کوي داسي مثال لري لکه زهر چي پدې نيت څښني چي بل ور باندي مړ کړي.

---

په خلګو داسي ښه ګمان کوه لکه بې خيره انسان چي بېخي وجود نلري .

پخپل ځان داسي باوري شه لکه په انسانانو کي چي هډو هيڅ خير نه وي .

له کومي څېړي چي څه زده نکړې د دې وړ يې چي څو ځلي يې بيا هم په مخ وخورې.

عود يو عام لرګی دی چي کله په اور وسوځول شي خوشبويي يې ښکاره شي اوسپنه يو عام معدن دی چي کله په اور ګرمه شي او د پېښ چټکان وخوري داستفادې وړ توکی ځېني جوړ شي آلماس يو تش کربون دی چي کله د تودوخي پشار ورباندي زيات شي بيه يې لوړه شي د انسان هم هغه وخت شخصيت ځلانده کېږي چي کړاوونه او ستونزي ورباندي راشي

پوه ډاکټر تر هغه وخته ناروغ ته ستن نه وهي ترڅو يې د ګوتي په ذريعه د هغه په بدن کي مناسب ځای نه وي لټولی .

که په خپل کار او زيار ترکيز وکړې په اوربيځ سربېره اپارتمان جوړولای شې او که خپلي هيلي ژوندی وساتي کېدای شي يوه ورځ پکي هستوګن شې.

له يوچا څخه هغه وخت ستر شخصيت جوړېږي چي ستري ازمويني او سخت کړاوونه ورباندي تېر شي.

ستا ملګری ستا د کميس يوه پـينه ده دا اوس په تا پوري اړه لري چي ته خپل کميس ته څه ډول پـينه غوره کوې.

وطن یوه مېوه لرونکیه ونه ده چې د قربانیو په خاوره کې په خولو او وینو وده کوي.

خلګ له ژوندي سره انصاف نکوي چې کله مړ شي بیا ورباندي ژاړي.

نصیحت د واوري په شان دی که ورو ورو او په نرمي سره ورېاندي کېږل شي د عقل او فکر په ژورو کې ځای نیسي.

پرېشاني، غصه او ناهیلي د انسان په ژوند کې د هغه تر ټولو ستر دښمنان دي.

د ژوند که ورځې لنډې او یا که اوږدې وي خو بیه یې هغه وخت لوړېږي چې انسان پکې یو ستر هدف ولري.

---

خلګ لېوه ستایي پداسې حال کې چې هغه یې داړي او سپي چې یې د کور چوکیداري کوي هغه ته په سپکه سترګه ګوري.

زیاتره خلګ هغه چاته په سپکه ګوري څوک چې یې چوپړ وهي او د هغه چا احترام کوي څوک چې یې توهین کوي .

مونږ هغه وخت ګڼې خپل منځې ستونزي هوارولای شو چې په نورو پسې د خبرو پر ځای له هغوی سره خبري وکړو.

خلګ هغه دروغ ربښتیا ګڼي چې له داسې چا یي واوري چې هغه یې خوښ وي او د هغه چا ربښتیا دروغ ګڼي چې له چا یې نفرت کېږي دې ته په حقایقو د عواطفو برلاسی وایي.

د ځان د اصلاح لپاره غوره لاره دا ده چې د نورو د عیبونو له پلټلو څخه لاس په سر شې.

څوک چې احسان در سره وکړي هغه ستایه او څوک چې دي وستایي له هغه سره احسان کوه هر نعمت چې شکر یې ادا کېږل شي زوال نلري او چې ناشکري یې وشي بقاء نلري.

که یو څوک تل خاندي د دي معنا دا نده چې هغوی هیڅ پرېشانیوي نلري بلکه هغوی له پرېشانیو سره د چلند له څواک څخه برخمن دي. ته هم داسې له ستونزو سره چلند وکړه او له ژوند څخه خوند او ګټه واخله.

که څوک داسي ملګرى غواړي چي هيڅ عيب ونلري تول ژوند به بې ملګري پاته وي، که څوک داسي ښځه غواړي چي هيڅ نيمګړتيا ونلري ټول ژوند به کونډ اوسي او که څوک بشپړ قريب غواړي تل به د قطع رحمي په ګناه اخته وي.
په تنده لهجه يوچا ته نصيحت کول د ډلۍ مثال لري چي تر ګټي يې تاوان زيات وي.
ته هيڅکله نشې کولاى خپل فکر په وچ زور په چا وتپې خو په خوږه ژبه او ښو اخلاقو کولاى شې چي خپل سيال لورى د ځان ملګرى کړې.
خلګ هغه څوک چي خبري يې خوږې او تنده يې پراخه وي تر هغه چا زيات خوښوي چي په خلګو خيراتونه وېشي.
پدې باور وساته يواځېنى شى چي تا همېشه خوشاله ساتلاى شي هغه دا دى چي الله ﷻ ته ځان نژدې کړې.
ستا شخصي ستونزي يواځي په تا پوري اړه لري او په خبرو اترو کي د ادب مراعات کول د نورو انسانانو په تا حق دى، ته خپلي ستونځي او رواني ستومانيوي له نورو سره په چلند کي مه ګډوه.
د هوښيار انسان ځانګړتيا دا وي چي هغه ځان ناپوهه څرګندولاى شي خو ناپوه انسان کله هم ځان هوښيار نشي در پېژندلاى.
د اوبو غوندي له صبر او لوړي حوصلې څخه کار اخلئ تاسو وينئ چي اوبه هره ورځ او په پرلپسې توګه دلويو پرښو خواته څپې ورشړي ترڅو خپلي نښي پکي جوړي کړي .
شيطان هغه وخت په الهي لعنت اخته شو چي دا يې وويل: (**أنا خير منه**) "زه تر ده غوره يم"
همدغه شيطاني عقل او سوچ مونږ هم په الهي غضب اخته کولاى شي.
د دې لپاره چي پرېشانيوي دي لږ شي او له ژونده خوند واخلې د دې په ځاى چي خپله

ککرۍ له تیارو سوچونو ډکه کړې تل د ژوند ځلانده اړخونه ګوره.

په تېر وخت باندي سوچ وهل ځان ته ځور ورکول دی او په راتلونکي وخت اندېښمن کېدل بې ګټې پرېښاني ده شته وخت په کار واچوه او ګټه ترې واخله.

بې له لمانځه خوشالي نه وي له مور او پلار سره بې له احسانه په ژوند کي برکت نه وي او د قران کریم بې تلاوته د زړه پراخي نه وي.

د چا خوښي مه لوټوه، د چا زړه مه ماتوه، ژوند لنډ وخت دی او مونږ به په قبرونو کي د نورو ښېراوو ته نه بلکه دعاګانو ته اړ یو -

ځانونه پدې عادت کړئ چي وختونه مو د نورو په درناوی، انسانیت، ښو اخلاقو او احسان کولو ډک وي.

---

د دې لپاره چي تل په ژوند کي بریالی واوسې درې شیان باید خپل کړې: ۱- په ځان باور ۲- دکار لپاره زیار او ټېنګار ۳- د پالتو کسانو د هڅو بابېزه ګڼل.

ځېني کسان چي ورسره وپېژنې ژوند دي ښکلی او ارزښتمن کړي او ځېني نور بیا داسې دي چي ورڅخه بېل شې شخصیت دي ځلانده او ژوند دي نېکمرغه کړي.

د عقل ښکلا په مثبت سوچ کي ده - د ژبي ښکلا په خاموشي کي ده – د مخ ښکلا په عبادت کي ده - د زړه ښکلا د حسد په پرېښودلو کي ده – د حالت ښکلا په استقامت کي ده - او د خبرو ښکلا په رښتیا ویلو کي ده.

له خلګو څخه د ځان او خپل ارزښت په هکله تپوسونه مکوه څوک چي له تاسره مینه لري هغوی به تل ستا داسې تلاش کوي لکه یو قیمتي شی چي یې ورک وي.

---

یوه هوښیار سړي خپل زوی ته ویل کېدای شي په هرچا ښه ګومان کول دي مایوس کړي خو دا چي په هیچا باور ونکړای شې دا به دي لویه بدمرغي وي.

که یو ماشوم د لویانو بوټونه په پښو هم کړي خو د لویانو غوندي غټ ګامونه نشي په کي اخیستلای او کېدای شي پکي وپرځي، ته هم له خپل حجم سره وړ ګامونه آخله او په ډاډه زړه په احتیاط د مخي په لور ګامونه ږده.

تر څو چي له روغتیا او صحت څخه برخمن یې تل موسکا او خوشاله اوسه ، ډېر داسې کسان شته چي د روغتیا په ارمان دي او په هرڅومره لوړه بیه چي وي د لاسته راوړلو په لټه کې یې دي.

د انسان لپاره نېستي او بده څېره پېغور نده دا یو هم د هغه په واک کي ندي د انسان لپاره د هغه بده ژبه او بد اخلاق ستر پېغور دي .

---

د ژوند په یوه ورځ هم مه پښېمانه کېږه ، ښې ورځې خوشالیوي ستا په برخه کوي او بدي ورځې ستا تجربه زیاتوي او دواړه ډوله ورځې ستا د بریالي ژوند لپاره ارزښت لري.

کله هم خپل ځان له یوې ټاکلي طریقې سره مه نښلوه که نتېجه در نکړي خپل ژوند دي خړپړ کړ ځکه خو مخکي لا بېلابېلي لاري چاري سنجوه چي یوه لاره بنده شي بله لار په کار واچوه.

که ډاکټر هرچا ته یوه ستن وهي زیاتره رنځوران به دمرګ په خوب ویده کړي ته هم له هرچا سره په یوه شکل چلند مکوه.

ترڅو چي له سیال لوري څخه د انتقام په لټه کي یې تر هغه نشې مختته کېدلای ځکه خو خپلو هدفونو ته ارزښت ورکړه او د لاسته راوړنو له لاري خپل غچ واخله هوښیاران وایي : که خپل دښمن ځوروې ښښنه ورته کوه او په دښمني یې سترګي پټوه.

څومره ستره نېمګرغي ده چي خپله ورځ د مور او پلار د لاسونو په ښکولولو پیل کړې او داسې دعا ځېني واوري چي ستا مړې هیلي را ژوندۍ کړي.

که د ژوند چاري، لاري او ګودرونه دربانډي تنګ شي مه ناهیله کېږه ځکه چي څومره تیارې

خوربږي هغومره د سپوږمۍ رڼا زیاتېږي.
کوم وخت چي مایوس انسان يي په اندېښنو او سوچونو کي تېروي يو په ځان باوري او هیله من انسان لوړ مقام ته پکي رسېږي.
هیڅا ته په کمه سترګه مه ګوره پوره يواځي الله ﷻ دی او چي خپل عیبونه پټ ساتې د خلګو عیبونه هم مه په ګوته کوه.
هرڅه پخپل وخت کي خوند کوي نېک کارونه او د الله ﷻ عبادت باید په ځواني کي وشي مونږ هغه وخت نېکو کارونو ته مخه کړو چي بوډاګان شو او د ګناهونو د کولو جسماني او فیزیکي وړتیا ونلرو.

---

د لمانځه په وخت کي په بل کار ځان مه بوخت کوه څوک چي لمونځ وبايلي د اسلام نور شعائر او عبادتونه هم بيا نشي په ځای کولای (عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه).
که په عراق کي یوه کچره وپرځي له ما به يې الله تعالی ضرور پوښتنه کوي چي عمره؛ ولي دي لاره نه ورته هواروله (عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه).
مرګ ډېر در په یادوه که دي په ژوند کي تنګی وه پراخي به در باندي راولي (عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه).
ربښتوني بریا دهغه چا نصیب وي چي له بې ځایه شخړو څخه يي ځان ساتلی وي (عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه).
له کله راهیسي چي پدې پوه شوی یم چي دروغ د دروغ ویونکي لپاره عیب ګڼل کېږي ما دروغ ندي ویلي (عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنه).

---

تنهايي او بېکاري انسان په اندېښنو او بې ځایه سوچونو کي ښکېل کوي چي کله هم داسي حالت درباندي راغی سم د لاسه په یوه ګټور کار لاس پوري کوه.

هغه څوک چي تاسې په بېځايه بحثونو کي ښکېل کوي له هغوی سره نه خو د خپل او نه د تاسې د وخت څه ارزښت وي ځکه خو يې د وخت د احترام په اساس تر ځواب نه ځواب ويل غوره ګڼه.

**لا تسقني ماء الحياة بذلة «»«»«»«»  بل فاسقني بالعز كأس الحنظل**

مرګ له تندي په مذهب زما بهتر دی «»«»«»« نه ژوندون د دون همتو په اوبو

---

زمونږ د ټولو رنځونو او ستونزو درملنه زمونږ په دننه کي ده خو مونږ يي بهر لټوو.

خلګ وايي چي برياليتوب ستره خوشالي ده خو رښتوني خوشالي پدې کي وي چي ارادې دي نېکي وي او مخلوق ته دي ګټه ورسېږي.

انسانان چي کله هم ستا يوه تېروتنه ويني ستا ټول ښکلی تېر وخت ورباندي هېر کړي او بيا دي په توبه هم نه پرېږدي خو الله ﷻ ته چي يوه رښتوني توبه وباسې ستا ټولي تېروتني هېروي.

باور جوړول د شګين دېوال غوندي دی چي درول يې  ستونزمن او نړول يې آسان وي.

ډېر خوراک زړه وژني لکه ډېري اوبه چي کرونده وژني.

حق دوو کسانو ته اړتيا لري:

۱- هغه چي ويې وايي.

۲- هغه چي ځان پرې پوه کړي.

---

څلور کسان په ژوند کي کله هم نشي هېرېدلای:

۱- چاچي د اړتيا په مهال ستا په ستونزه کي ګډون کړی وي.

۲- چاچي په داسې حال کي په تا باور کړی وي چي ته په ځان باوري نه وې.

۳- چاچي بې بدله مرسته در سره کړي وي.

۴- چا چي ستا د ژوند په رغولو کي ونډه اخېستي وي

څوک چي دي په ښه نيت ونه ستايي هغه دي په ښه کار هم نه ستايي.
زمونږ لويه تېروتنه داده چي له تېروتنو لاس نه اخلو.
فاسد انسانان هغه وخت واک ته رسېږي چي نېکان خلګ خپلي رايي په انتخاباتو کي ونه کاروي.

امام شافعي وايي:

**إذا لَم أجد خِلاًّ تَقياً فوِحْدَتي ..... ألذُ وأشهى من غويٍّ أعاشرهُ**

**وأجلس وحدي للعبادة آمناً ..... أقرُّ لعيشي من جليسٍ أحاذره**

کله چي يو پرهېزګاره دوست ونه مومم بيا تنهايي تر هغه بېلاري ملګري ډېره راته خوندوره ده چي ورسره ناسته پاسته کوم، دا چي په کراره يواځي عبادت ته وزګاريم ژوند مي د هغه چا تر ملګرتيا ډېر له سکونه ډک وي چي زه هروخت ورڅخه په وېره کي يم.
خلک کوهي يا څاه ته ډېره د دې لپاره ور غورځوي چي کله دڅاه له تل سره ولګېږي غږ يي واوري تاته هم چي څوک سپکي سپوري درولي له تا څخه د غبرګون انتظار کوي نو ته يو داسې ژور څاه جوړ شه چي غږ ته دي مقابل لورى له انتظاره مړ شي.
دوو کسانو ته د خپل ځان صفايي کله هم مه وړاندي کوه:
١- ستا هغه ملګري چي تا تربل هرچا ښه پېژني .
٢- ستا هغه دښمن ته چي تل ستا تېروتنو ته تږى ناست وي.
که په تروږمۍ کي ايسار شې د دې په ځاى چي تيارې ته ښکنځلي پيل کړې غوره دا ده چي يوه شمعه ولګوې.
د سمندر اوبه هغه وخت يوه کشتۍ ډوبولاى شي چي اوبه يې دننه ته لاره پيدا کړي

همدا راز ناکامي هغه وخت په تا برلاسی موندلای شي چې مایوسي دي زړه ته لاره ومومي.
ځانته ځلانده راتلونکی لټوه، کرکه نفرت او دښمنیو ته پخپل زړه کي ځای مه ورکوه ځکه چې کرکه او دښمني د بریا هدېرې دي.
که غواړې چي تل خوشاله واوسې خپل وروړته هم هغه څه خوښوه چي ځانته يې خوښوې، ښېنه کوه او هر سهار خپل ژوند د ښوکارونو د سرته رسولو په نیت پیل کوه.
خپلي خوښۍ په پرېشانیو، خپل عقل په ناهیلیو، خپلي بریاوي په غرور او نن ورځ دي پرون ته په کتلو مه ورانوه.

---

تاسي به ډېر آورئ چي یو چا پداسي حال کي ساه ورکړه چي لمونځ يې کاوه، په سجده کي وو، روژه يې وه، دا هسي تنشي تصادفي پيښې نه وي څوک چي په کومه ښه ژوند کوي په هماغه حالت کي يې مړينه په برخه کېږي ته هم خپل ژوند په ښو عادتونو سېنګار کړه.

---

درې جُملې چي دي یوچا په روزمره خبرو اترو کي نه وي هغه د ژوند کولو په طریقه نه پوهېږي (ښېنه غواړم، مننه، مهرباني وکړه)
ستا هغه نېکیوي چي ته په دنیا کي ورباندي ستومانه شوی وې او خپل قېمتي وخت دي ورکي لګولی وو ته به هیڅکله ونه غواړې چي د قیامت په ورځ خپله یوه وړه نېکي هم خپل پلار، مور او حتی خپل زوی ته چي تر هرچا زیاته مینه ورسره لرې ورکړې، خو سرچپه به يې هغه چا ته په وړیا ور کولو مجبور يې چي ستا په دنیا کي بد ایسېدو او غیبت دې کړی وو، ښکنځلي دي ورته کړي وې، ضرر دي ورته رسولی وو، ځان عزت او مال ته دې زیان اړولی وو. ځکه خو الله ﷻ د قیامت ورځ په "**یوم التغابن**" نومولي ده .

---

مونږ ځیني وختونه دروازه خلاصوو خو نه خلاصېږي بیا دکې ورکوو او په نتېجه کي پخپله

خوږ شو وروسته پوه شو چي دا خو هغه بلي خواته خلاصېږي ستونزي هم په عقل حل کېږي نه په زور.

له دوو شیانو کله هم لاس مه آخله، خلگو ته موسکا او په هغوی د ښو گمان، تل موسکا ساده توب مه گڼه او ښه گومان ته بی عقل توب مه وایه ستره هوښیاري دا ده چي تل د خیر کارونو ته تر نورو وړاندي شې.

---

دا به تاسې هم اورېدلي وي چي ملگری د تنگي په وخت کي انسان ته په ښمره ورځي راشه د قران ملگری جوړ شه چي د قیامت په ورځ دي الله ﷻ ته سپارښتنه وکړي.

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وایي: ته چي کله لمونځ کوې د پاچا دروازه ټکوې او څوک چي د پاچا دروازه ټکوي ضرور ورته خلاصېږي.

د ځمکي واټن نه خو څوک سره بېلولای شي او نه یې نژدې کولای شي په حقیقت کي واټن د زړونو وي.

د پاکو زړونو انسانان له ژور اختلاف سره سره د چا احسانونه او ښه خویونه هیڅکله هم نه هېروي.

پستې او خوږې خبري کوه او خپل غږ مه وچتوه گلان تالندي نه راشنه کوي باران یې راشنه کوي.

دوه سکني شیان کله هم نه سره بېلېږي له مور او پلار سره احسان او بریالیتوب.

غله، قاتلان او جرایم پیشه عناصر هم له هغو فطري استعدادونو برخمن دي کوم چي الله ﷻ په علماوو، داعینو او مصلحینو پېرزو کړي دي فرق یې یواځي دومره دی چي لومړی ډله یې منفي کاروي او دوهمه ډله یې مثبت کاروي.

الله ﷻ انسان ته بېلابېل استعدادونه ورکړي که یې په مثبتو او گټورو کارونو کي وکاروي د

دنیا او اخرت دواړو نېکمرغي یي په برخه کېږي او که یې منفي وکاروي دنیا او اخرت یي دواړه برباد شول.

---

مونږ تل باید خپل دردونه په شګو ولیکو تر څو د ښښني او هېرولو بادونه یې له منځه یوسي خو ښېګڼې اومثبت درېځونه باید په پرښو ولیکو ترڅو د تل لپاره یې نښې ژوندۍ پاته شي.
ته چې کله هم د نورو د خوشاله کولو په خاطر خپل مور او پلار خپه کړې دا هم درپه یادوه چې نورو ستا د ژوند د جوړښت لپاره خپل ژوند ندی قربان کړی، مور او پلار دي په ماشوم توب کي پاچا کړی وې اوس چې دوی سپین ږیري دي ته یې پاچاهان کړه.
خلک هره ورځ خپلي خبرې بدلوی ته خپله بیه او ارزښت د دوی په خبرو کي مه لټوه.

---

که ازمایښت اوږد شي مه مایوسه کېږه کېدای شي ځېني ستونزي په دننه کي پټ کرامات لري خو مونږ وړباندي خبر نه یو **مریم علیها السلام** چې کله پخپل حمل خبره شوه وې ویل:
**"یا لیتني مِتُّ قبل هذا"**
کاش چې زه خو له نن څخه وړاندي مړه وای.
خو خبره نه وه چې په نس کې یې یو ستر پیغمبر دی.
زیتون چې کېکښل شي صاف تېل ځېني ووځي، مېوي چې ونښتېځلي شي خوندور مشروب ځېني جوړ شي ته چې هم کله د ژوند ستومانیوي احساس کړې مه خپه کېږه ځکه چې ستونځي له تا څخه یو ګټور انسان جوړوي.

---

په دنیوي ژوند کي دهغي مادي پرمختنګ، مقام او شهرت څه ګټه ده چې لرونکی یې د قیامت په ورځ د جهنم په اور کي پرمخي غورځولي وي.

زمونږ چي کله کمپیوټر وایرسونه په سر واخلي غوره حل یې دا وي چي له هارډ ډیسک څخه خپل ګټور مواد که ممکن وي په بل ځای کي خوندي کړو او هغه فورماټ کړو خو کله مو هم دا سوچ ندی کړی چي د اخلاقي رنځونو له وایرسونو ډک زړه یو ځل داخلاص په توبه فورماټ کړو.

---

مونږ خو په شواروز کي پنځه ځلي مخ او د بدن بهرني غړي وینځو خو زړه مو په کال کي یوځل هم ندی پرېمنځلی.

دوه توري چي د الله ﷻ خوښ، په ژبه سپک او په تله کي درانه دي:

**"سُبحان اللَه وبِحمْدِهِ سُبحان اللَّه الْعَظِيم"**

هروخت یې وایه .

په ژوند کي بد احساس څه شی دی؟ چي څوک درته اړ شي او تا په وخت ومونډلای شي خو چي ته ورته اړ شې نه یې شې مونډلای.

---

د ناکامی په وخت کي هیله من پاته کېدل هوښیاري ده، د ناهیلی په وخت کي په ځان باوري کېدل ځواک دی، او له خنډونو سره سره هڅي کول پخپل ځان کي یوه بریا ده.

پوهنه د انسان لپاره ګېڼه ده او هغه وخت یې ښکلا نوره هم زیاته شي چي په ادب او ښو اخلاقو وپوښل شي.

پخپل ځان باوري او سېدل له نورو سره د اړیکو ساتلو کلي ده ځکه چي که ته په ځان باوري نه یې بل څوک به څنګه باور در باندي وکړي.

---

ته خپل ځان ښه پېژنې او الله ﷻ دي په حال ښه خبر دی کله هم د دې باک مه ساته چي خلګ څه درپسي وايي، په ژوند کي د ناکامی پیل د هرچا د خوشاله ساتلو هڅه ده.

په ځان زیات ظالم هغه دی چي داسې چاته ځان نژدې کوي چي هغه ځان لري ترېنه ساتي، د داسې چا درناوی کوي چي هغه په سپکه ورته ګوري او د داسې یوچا په ستایلو د هغه د خوشاله کولو هڅه کو ي چي هغه يې نه پېژني.

---

یوځل يې د یوسف علیه السلام قمیص په وینو ککړ ورته راوړ چي پلار یعقوب ﷷ يې سخت خواشینی کړ ان تردې چي په زوی یوسف ﷷ پسي يې سترګي ړندې شوې.
بل ځل يې بیا د یوسف ﷷ قمیص ورته راوړ، د هغه په مخ يې ور واچاوه چي له ډېري خوښۍ يې ستر ګي بېرته بینا شوې.
تاسې هم چي کله مو یو شی ډېر خواشیني کړي باید ناهیلي نشئ کېدای شي همدغه پرېشاني مو سبا د یوې ستري خوښۍ لامل جوړ شي د ازمایښتونو په اسرارو یواځې الله ﷻ علم لري .

---

له ابن القیم ؒ څخه چا پوښتنه وکړه:
که الله ﷻ په یوه چا یو نعمت پیرزو کړ څه ډول به يې پېژني چي دا د هغه لپاره فتنه (ازمېيښت) ده او که نعمت؟
هغه په ځواب کي ورته وویل: "که يې الله ﷻ ته نژدې کړ نعمت دی او که يې ځیني لري کړ فتنه ده".

---

دنارینه جوهر په دریو شیانو کی دی:
۱- چي خپله تنګلاسي پټه وساتي تر څو خلګ ور باندي د شتمن باور وکړي .
۲- خپله غصه پټه وساتي تر څو خلګ ور باندي د خوشاله ګومان وکړي .
۳- خپله ستوماني پټه کړي تر څو خلګ ور باندي د هوسا خیال وکړي.

که ته داسي يو پنسل نشې جوړېدلای چي د يو چا لپاره خوشالي رسم کړې لږ تر لږه يو داسې ورېښمين پنسل پاک خو جوړ شه چي د هغه پرېشاني لري کړې.
مونږ هغه وخت په خپلو ستونځو بر لاسي کېدلای شو چي عقل مو په عاطفه او احساساتو برلاسی شي.

---

تر هغه ملګري چي تل د چاپلوسي له مخي در ته وايي:
ته ښه وايې او تا ته داسي فکر درکوي چي ګواکي ته تل په حقه يې، هغه ملګری ډېر ښه دی چي له تا سره په رايه کي مخالف وي او د اخلاص له مخي تا خپلو تېروتنو ته متوجه کړي .
په تېر ژوند کي مي دا زده کړل چي تل ترټنه غټه ستوماني ده او تر هغو ژبنيو شخړو چي ګټه ونلري ځان ناګاره نېول ډېر غوره دی.

---

اروا پوهان وايي چي په ورځني ژوند کي د انسان مينه له هغه څه سره زياته وي چي د وېده کېدلو او را ويښېدلو په وخت کې په زړه کي تېرېږي اوس به پوه شوی ياست چي الله ﷻ ولي مونږ مسلمانان په دې دوو وختونو کي په خپل ذکر ګومارلي يو؟
څوک چي د شپې لخوا له خپل رب ﷻ سره مصروف وي بيا يې هغه په ورځ کي کله هم نه ذليل کوي.

---

د قيامت په ورځ به له انسان څخه تر هرڅه د مخه د وخت په هکله پوښتنه کېږي چي په څه کي يې تېر کړ او څومره ګټه يې ترې وچته کړه. (د صحيح حديث شريف د يوې برخي منځپانګه).
څوک چي د بريا مقام ته رسېدلي دي هغوی تر هرڅه د مخه د وخت ارزښت پېژندلی او

بیا یې ګټه ور څخه اخېستي دي.

وخت یو داسې نعمت دی چې الله ﷻ په هرچا پېرزو کړی نه په بیه اخیستل کېږي، نه پلورل کېږي، نه غلا کېږي، نه یې څوک ځنډولای شي اونه له چا په خواست غوښتل کېدلای شي.

---

هغه څوک له وخت څخه ګټه اخیستلای شي چې لا مخکې دخپلو مهمو کارونو (اولویاتو) جدول مرتب او د هغوی لپاره مهالوېش وټاکي او دټاکلي وخت په چوکاټ کې سرته ورسوي.

وخت د هیچا انتظار نکوي هیڅوک یې نه خو بدلولای شي، نه یې اړولای شي او په ډېره چټکیا سره تېرېږي.

بریالي انسانان هغه څوک دي چې له وخت څخه د ځان او نورو لپاره مثبته ګټه واخلي.

وخت د انسان لپاره د کار او تولید لوښی او د هغه حقیقي شتمني ده.

ته هیڅکله د بادونو مخ نشې بدلولای خو کولای شې خپل بادبان په ولکه کې وساتې ترڅو چې چېرته غواړې ودې رسوي.

وخت لویه سرمایه ده او په اخرت کې به انسان د دې سرمایې په قدر پوه شي، په اخروي ژوند کې به نېکان او بدان ټول د دنیوي ژوند د تېر وخت ارمان کوي نېکان به وایي: کاش کوم وخت چې مو تش تېر کړی په هغه کې مو یوه نېکي کړې وای او بدان به وایي: کاش بېرته هغه وخت په لاس راغلی وای خو د دې ارمانونو به هیڅ ګټه نه وي.

---

تر څو چې رنځ ونه پېژندل شي درملنه یې نه کېږي او چې ستونزې په ګوته نشي حل لارې یې نه موندلې کېږي.

هر ستر شخصیت په پیل کې یو ماشوم وي، هر دنګ قصر په پیل کې دکاغذ په مخ یوه نقشه وي، هر ستر کار په پیل کې یو خوب وي، دا مهمه نده چې ته نن څوک یې بلکه مهمه

داده چي سبابه څوک يې؟
هغه څوک د زيات درناوي وړ دي چي که هرڅومره په ستونزو او پرېشانيو کي ايسار وي خو له تا سره په ادب خبري، درونډ برخورد او اخلاقي چلند کوي.
ديو چا ظاهري څېرې ته مه ګوره اوبه هماغه اوبه دي که د سرو زرو په ګلاس کي يې وڅښې او که په خاورين کوزړي کي.
پښتانه ښه وايي: اصيل انسان په ځل کي پېژندل کېږي.

---

موسی علیه‌السلام ته چي کله د لومړي ځل لپاره د رسالت دنده وسپارله شوه دا يې وويل:
**رب اشرح لي صدري.**
يا الله سېنه مي پراخه کړې .
سينه چي د ارادې عزم او پرېکړو ځای دی د سترو دندو د پرمخ بېولو لپاره پراختيا او غوړېدا ته اړتيا لري.
په لمانځه کي مسلمان دا درک کولای شي چي د دنيا ټولو ارمانونو او د جنت باغونو او نهرونو ته په يوه سجده کي رسېدلای شي.
په يوه سجده تر عرشه پوري رسي ——— ما ليدلی دی رفتار د دروېشانو.
که له ګناه کولو وروسته دي پخپل زړه کي تياره احساس کړه پوه شه چي په زړه کي دي لا اوس هم د ايمان رڼا شته که نه نو د تيارې احساس دي کله هم نشوای کولای. (ابن الجوزي رحمه الله)

---

د خلګو زړونه اونيتونه مه سپړه په ظاهري څېره او حالت کي يې چي کوم خير وينې همدغه ستا لپاره کافي دی پټ حالت يې الله تبارک و تعالی ته پرېږده.
ترڅو چي دي يو څوک د غصې په وخت کي نه وي تللی په خويونو يې باور مکوه (عمر بن

الخطاب رضي الله عنه).

که دي په لمانځه کي ښېږه کوله ترڅو يوه کار ته ور خلاص شې يا يو ضروري موکه دي له لاسه ونه وځي دا در په يادوه چي ستا کارونه د هغه چا په واک کي دي د چا چي مخي ته ولاړ يې..

چا چي زما په حق کي زياتی کړي هغوی مي ټول ښښلي دي د دې ماته څه ګټه رسېږي چي يوه مسلمان ته زما په وجه په اخرت کي عذاب ورکول کېږي. (د ښښني ستره بېلګه امام احمد رحمه الله).

---

هغه عبادتونه او ښه کارونه چي د بدنونو په ستوماني يې سرته رسوو ولي يې د ژبي په وسيله بېرته سوځوو ، مونږ ولي دومره بد مرغه يو؟

په هرچا مجبوريتونه راځي چي د هغوی شخصيتونه بدل کړي ته هم د هغوی غوندي يو انسان يې، ته چي د ځان لپاره د عذرونو تلاش کوې هم داسې يې د نورو لپاره هم تلاش کړه.

د واده په شپه يې د ګلانو ګېډۍ د مور په اطاق کي کېښوده او ورته ويې ليکل: ته د تل لپاره او تر هر چا زما په ژوند کي ښکلی او د قدر وړ انسان يې !!!

بېوسه هغه نه دی چي هډوکي يې کمزوري شي رښتونی بېوسه هغه څوک دی چي عقيده يې کمزوري شي.

زړور هغه دی چي عذر ووايي، ځواکمن هغه دی چي ښښنه وکړي، بختور هغه څوک دی چي تېر هېر کړي دا ته هم کېدلای شې.

خپلي چاري ټولي پخپله سمبالوه خپل بدن پخپلو نوکانو ښه ګرول کېږي.

ښې خبري تر پټي خولې او پټه خوله تر بدو خبرو غوره ده.

---

يو سړی مي وليد چي په جنت کي يې چکر واهه ځکه چي له لاري يوه داسي ونه اېسته

کړي وه چې خلګ يې څورول (حديث مسلم)

چې کله دې هم يو چاته خوشالي رسولي وي مه ورباندې پښېمانه کېږه ولو که يې هغه ورځتيا نلري ځان يوه داسې ډېوه کړه چې د هر چا د ژوند تيارې رڼا کړې.

هوښيار هغه څوک نه دی چې د ښو او بدو توپير وکړي په حقيقت کې هوښيار هغه څوک چې په دوو بدو کې غوره بد وپيژني. (عمرو بن العاص رضي الله عنه)

---

کله هم پخپل ځان نېوکې مکوه خپل ځان ټېټ ګڼل ستا په ژوند کې کوم بدلون نه راولي، ځان ترټل ستا ژوند له داسې ګواښونو سره مخامخ کوي چې کله هم بيا مخ په وړاندې نشې تلای د خبرو او سوچ لپاره د مثبتو لارو تلاش وکړه او تل پخپل ځان داسې باور وساته چې ته يو ستر شخصيت يې.

انسانان د مزاج، عقل او اخلاقو له پلوه يو له بل سره توپير لري، د دې لپاره چې ستا اړيکې ورسره همېشنۍ او خوندوري وي کله بايد له زغم څخه کار واخلې او کله بايد ځان ناګاره واچوې.

ته که کامياب يې او که ناکام خو خلګ به ضرور په تا کې خبرې کوي ته يې پروا مه ساته، ځکه دوی چې کله په سرو زرو کې کوم بل عيب ونه موند وېل ځلا يې سترګې خرابوي.

هغه څوک مه ترټه چې تا ته يوه نېکه مشوره درکړي خو پخپله يې عمل نوي پرې کړی کېدای شي په تا يې هغه د خير کار پېرزو وي چې ده ونشوای کړای خو ته يې وکړې.

د هغه چا د ملګرتيا هڅې چې هغه تا ته ارزښت نه درکوي داسې مثال لري لکه مړي ته چې ستنه وهې.

---

ژوند ټول کاڼي دي د دې په ځای چې له هر کاڼي سره نوک ووهې دا کاڼي راغونډ کړه او کاميابۍ ته يوه ځينه ترې جوړه کړه.

په ژوند کي دا څومره ستر کار ندی چي پخپلو پښو ودرېږې ستر کار دادی چي کله هم ولوېږې او بېرته راپاڅې او ودرېږې.

د يوه ملګري لپاره قرباني ورکول ستونزمن کار نه دی د داسې ملګري موندل ستونزمن کار دی چي په قرباني وارزي.

ته چي کله له يوچا سره احسان وکړې مه يې وريادوه او چي بل څوک احسان درسره وکړي مه يې هېروه.

ځيني شيان د ځينو نورو ښکلا زياتوي: مثبت سوچ د عقل، خاموشي د ژبي، عبادت د څېرې، حسد پرېښودل د زړه، ثبات او استقامت د حال، اخلاق د علم او رښتيا ويل د خبرو.

---

د نعمتونو قدر له زواله وروسته پېژندل کېږي:

د مړښت قدر هله چي لوږه درباندي راشي، د روغتيا قدر هله چي رنځور شې، د ځواني قدر هله چي بوډا شې، د رڼا قدر هله چي په تيارو کي ايسار شې، د آزادۍ قدر هله چي زندان ته لاړ شې، دامن قدر هغه وخت چي ژوند ته دي ګواښونه متوجه شي او د دنيوي ژوند قدر او ارزښت له مړيني وروسته .

ته چي اوس لدې نعمتونو سرشار يې قدر يې وکړه او ګټه ځيني واخله چي کله در نه واخيستل شي بيا يې قدر پېژندل او ور پسې خواشيني کېدل کومه ګټه نلري.

له امام احمد حنبل رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چي سلامتيا په څه کي ده؟

ده ورته وويل: له لسو څخه يې نه برخي د نورو په تېروتنو په سترګو پټولو کي ده.

بيا يې وويل: بلکه بشپړه سلامتيا په همدې کي ده.

که غواړې چي الله تبارک وتعالی تل هغه څه در باندي ولوروي چي ستا ورسره مينه وي تل هغه کارونه کوه چي د ده خوښېږي. (امام احمد رحمه الله -)

امام احمد بن حنبل رحمه الله وايي: که يو څوک له حق څخه په دفاع کي سپکي سپوري،

ښکنځلي او غصه کاروي پوه شه چي په نیت کي یې خاشې دی ځکه چي د حق دفاع دې شیانو ته اړتیا نلري –

---

کله هم له ناپوه انسان سره بحث و مباحثه مه کوه بیا خلګ ستا او د هغه توپیر نشي کولای.
د ولادت په وخت کي د مور دردونه د انساني جسم د شلو هډوکو د ماتېدلو هومره وي مېندو ته دي سلام وي ښېشکه چي تر تلو لاندي یې جنتونه دي.
چي کله دي په مور سترګي ولګېږي دا در په زړه کوه چي جنت یې تر تلو لاندي دی. چي کله خپله مېرمن وويني درسول الله ﷺ دا وینا در یادوه چي په تاسې کي ښه سړی هغه دی چي له خپلو کوروالو سره ښه وي او زه په تاسو کي تر ټولو له خپلو مېرمنو سره ښه یم.
او چي کله دي په لور سترګي پرېوزي دا در یادوه چي هغه ستا او د دوزخ تر منځ دېوال دی.
امام شافعی رحمه الله وايي: که غیبت روا وای یا ما کولای نو د خپلي مور غیبت به مي کولای تر څو زما ټولي نېکیوي د هغې ونډې ته ورشي ځکه چي له مور څخه پرته بل هیڅوک زما د نېکیو د اخیستلو وړتیا نلري.

---

هر انسان داسې فکر کوي چي دی لوړ شخصیت دی ستا دنده دا ده : په ربښتیا یې وستایه، احساسات یې مه رژوه، که ښه سبا غواړي هیله ورکړه، که لار ښووني ته اړتیا لري رهنمایي یې وکړه، که یې زړه اچولی وي جرأت ورکړه او که بریا غواړي مرسته ورسره وکړه.
په هر حالت کي خوښي څرګندوه ځکه چي هرڅه ستا درب په خوښه سرته رسېږي او الله تبارک وتعالی خپل بنده ته هغه څه خوښوي چي پکي خیر یې وي . او دا وایه : اې زما لویه ربه؛ ستا په قضا زما رضا ده.

---

څلور شیان د نورو د میني په راجلبولو کي مرسته کولای شي: که کله څه درکړي مننه ترې

وکړې چې کله یې په حق کې تېروتنه وکړې بیا ښښنه ترې وغواړې چې کله هم ورسره مخامخ شې په غوړېدلي تندي، ربښتوني موسکا ورسره مخامخ شې له قلبي احترام سره یې په هغه نوم یاد کړې چې د ده خوښ وي.

خوش باوره انسانان د هر درېځ ځلانده اړخونه ګوري له هري ستونزي ارزښتمن پندونه آخلي د نورو د ملامتولو په ځای د حل لارو تلاش کوي.

د خلګو زړونه په شتمني او مقام نه بلکه په ښو اخلاقو او ربښتوني موسکا تر لاسه کېږي.

د باران غوندي شه چي هرچا ته دي ګټه ورسي، باران د بډایانو د قصرونو، د ملنګانو د جونګړو، د شتمنو د باغونو او د کلیوالو د کروندو تر منځ توپیر نکوي.

---

ستره نېکمرغي وي چې داسي یو ملګری ولرې چې ستا د ستونزو حجم کم کړي او تا ته ووایي چې هرڅه هم پدې نه ارزي چې ته ورباندي پرېشانه شې.

پدې مه خپه کېږه چې یو ګام شاته لاړې غشي چې څومره شاته یووړل شي هغومره ژر او په قوت کي خپل هدف ته رسېږي.

له غصې څخه ځان ساته، غصه دي ذهن ګډوډ کوي چې بیا خپلي موخي نشې تر لاسه کولای، بریالي انسانان تل په روغ زړه د خپلو اهدافو د تحقق په لټه کي وي.

ستا په ژوند کي د نه هېرېدلو وړ شېبه هغه ده چي تا خپل هغه هدف پکي تر لاسه کړ چي نورو ته یې لاسرسی ناشونی برېښېدو.

که یو څوک تر شکایتونو زیات استغفار ووایي مخکي له شکایت کولو به هرو مرو د زړه ډاډېينه ومومي.

---

ته چي یو څوک څومره زیات وښکنځې پوه شه چي د هغه د شهرت لپاره وړیا چوپړ وهې دا چي هغه غوږ نه درباندي ګروي پوه شه چي په خاموشي کي یې له تا خپل انتقام

اخيستى دى.

كه غواړې چي له خپل مخالف لوري څخه انتقام واخلې مخالف يې مه ګڼه خاموشي يې غوره ځواب وګڼه تل په غوړېدلي تنده ورسره مخامخ شه لکه هيڅ دښمني چي دي ورسره نه وي.

---

ښه سړيتوب دادى چي کله هم يوه وچت مقام ته پورته کېدلې په ټيټو انسانانو چي تېرېږې سلام پرې اچوه ځکه چي کوم هسک مقام ته نن خېژې يوه ورځ به ضرور بېرته ځېني راښکته کېږي ټول ژوند څوک په هسک مقام کي نه پاته کېږي .

په څاه کي ناړي مه توکه کېداى شي يوه ورځ يې د اوبو څښلو ته اړشې.

هر شى چي ډېر شي ارزان شي يوازي ښه اخلاق دي چي څومره ډېرېږي بيه يې لوړېږي.

په ټولو انسانانو هم د پرښتو خيال مکوه خوبونه به دي تش ډاګونه شي او په هرچا باور هم مکوه يوه ورځ به پخپله سادګي وژاړې.

د هغه پوهي څه فايده ده چي يو فکر ونه زېږوي، يو پرهار پټى نکړي، يوه اوښکه وچه نکړي، يو زړه پاک نکړي، يو حقيقت لوڅ نکړي او يوه داسې شمعه ونه لګوي چي انسان په تږږميو کي خوشاله کړي.

امام احمد رحمه الله وايي: پنځوس کاله مي د الله تعالى عبادت وکړ خو خوند مي يې هله وموند چي درې شيان مي پرېښودل:

١- د خلګو خوشاله ساتل مي پرېښود تر څو د حق په ويلو وتوانېدم .

٢- د بدانو ملګرتيا مي پرېښوده تر څو د نېکانو په ملګرتيا بريالى شوم.

٣- د دنيا خوندونه مي پرېښودل تر څو د اخرت په خوندونو پوه شوم.

---

كه غواړې چي د يو چا در پام نشي او ارادي ځواک دي متزلزل نشي هغه ځاى مه مبنه په

کوم ځای چي دي ګوذار خوړلی وي .

په مونږ کي هيڅوک د وخت له څپېړو روغ نه دی پاته شوی يواځي هغه څوک ربښتونی ځواکمن دی چي د خپل ارادي ځواک له مخي يې خوږ ځای ته لاس نه دی ور وړي ځکه خو يې دردونو ته د نورو هم نه دی وريام شوی .

يواځېنی عنصر چي په ژوند کي د بريا د لاسته راوړلو لپاره ورته بنسټېزه اړتيا وي هغه د انسان خپل ارادي ځواک دی .

اتلان د تمرين په تالارونو کي نه بلکه د خپلو سينو په ژورو کي له ارادي ځواک، خوبونو او لرلېد څخه جوړېږي.

مونږ تر هغه وخته د بريا منزل ته نشو رسېدلای تر څو چي د ستوماني، ماتي او ناهېلی په تمځايونو تېر نشو او د ځواکمني ارادې لرونکی انسانان کله هم په همدغو تمځايونو کي د اوږد مهال لپاره نه ايسارېږي.

---

مخکي لدې چي په يو چا مخامخ نېوکه وکړې د هغه مثبت نقاط ښه وستايه او په پای کي ورته د منفي نقاطو د اصلاح توصيه وکړه بيا وګوره چي هغه دي نېوکه څومره په خوښي او پراخه ټنده مني .

زمونږ نېوکي ځکه حساسيتونه راپاروي چي مونږ تل د مقابل لوري مثبت اړخونه له پامه غورزوو او منفي ځايونه يې په ګوته کوو چي پخپل دې ډول سلوک سره هغه د اصلاح په ځای منفي چلند او مقابلې ته اړباسو.

---

په شاتګ هر وخت کمزوري او ماتي نه وي کله کله په شاتګ د عقل او حکمت تقاضا وي دا ډول تکتيک د هوښيارانو لخوا ډېر ځله د جګړي او سولي په مهالونو کارول کېږي.

رسول الله ﷺ د حديبيې د سولي د تړون د سند د ليکلو په مهال د مشرکينو ګڼ شمېر

داسې شرطونه په ځان ومنل چې مخکښو صحابه کرامو او عامو مسلمانانو هغه د خپلي بېوسی، ماتي او تسليمی په مفهوم وانګېرل او مخالفت يي وښود خو په حقيقت کي دا ترون د فتحي، برلاسي او بريا پيلامه وه.

---

ويل کېږي علت لو ېږي عادت نه لو ېږي. ورته متلونه په هره ژبه کي شته په عربي کي وايي:

**من شب على شىء شاب عليه. العادة لا تسقط إلا بالموت.**

دا د مايوسو او ناکامو انسانانو محاوره ده چي له ارادي ځواکه د برخمنو انسانانو په قاموس کي نه موندل کېږي. تل د بريا مقام ته هغه څوک رسېدلي چي خپل منفي عادتونه يې په مثبتو اړولي، بد خويونه يې پرې ايښي او ښه خويونه يې خپل کړي او د بد مرغی لاره يې پرې ايښي او د نېکمرغی په لور يې يون پيل کړي وي. زمونږ په وړاندي يې ستره بېلګه هغه د جهالت په ترږميو کي اېسار له تمدنه لېري عرب توکمونه دي چي د وحشت، جهالت، جرايمو او هر اړخيز فساد په رنځونو کي ښکېل ول خو د اسلام له څرک سره يې خپل زاړه کرتوتونه، سلوک، خويونه او هرڅه شاته پرېښول او په لنډ وخت کي يې د انساني خواخوږی پوهني، ښو اخلاقو، هغه وياړونه ترلاسه کړل چي نه يواځي يخپله بلکه د ټول بشريت لپاره د ابدي نېکمرغی مخکښان او قائدين ترې جوړ شول.

**اذا سب السفيه فلا تجبه      فخير من أجابته السكوت**

**فإن جاوبته فرجت عنه      و إن خليته كمدا يموت**

که يو بېکاره انسان در ته سپکي سپوري وايي هيڅ جواب يې مه ورکوه د هغه تر ځواب پټه خوله غوره ده که دې ځواب ور کړ مقصد دې ترسره کړ او که دي هم داسې بې ځوابه پرېښود له غصې به مړ شي.

---

خنډونه هغه پټ شيان دي چي کله له هدف څخه مخ واړوې در ښکاره شي.

لوېدل ماتي نده په حقيقت کې ماتي داده چې لوېدلی پاته شې.

هر انسان ستا غوندې زړه، درد او احساس لري که غواړې چې د انسانيت لوړ مقام ته ورسېږې څه چې د ځان لپاره خوښوې هغه په بل هم لوروه او څه چې د ځان لپاره بد ګڼې په بل يې هم مه لوروه.

که يو څوک غواړي حق ويل زده کړي بايد مخکې حق اورېدل زده کړي.

درې کسان هغه وخت يو راز ساتلی شي چې دوه يې مړه وي.

---

کله چې د خوښۍ يوه دروازه درته وتړله شي بله دروازه درته خلاصه شي خو ته د دې په ځای چې خلاصې دروازې ته وګورې د تړلې دروازې خوا ته د ډېر وخت لپاره ګورې.

زمونږ په ژوند کې د بشپړ عدالت او مساوات بېلګې صرف دوه دي يو دا چې په حج کې مونږ ټول ګډون کونکي يو شانته جامې اغوندو او بل دا چې له مړينې وروسته ټول په يو رکم جامو او قبرونو کې ښخېږو.

---

تر څو چې تا خپله ملا ټينګه کړې نه وي څوک نشي در باندې سپرېدلای.

مونږ تل له دښمنانو، سيالانو، رقيبانو، ملګرو او بېلابېلو جهتونو څخه شکايتونه کوو له دې ټول سرخوږيو او پرېشانيو څخه دخلاصون حل لاره قرآن کريم داسې ښيي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ ۖ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ ۚ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (١٠٥) المائدة**

(ژباړه) اې مؤمنانو په تاسې د خپلو ځانونو اصلاح لازمه ده که تاسې په سمه لاره برابر شئ بيا به بې لارې کسان ونشي کړای تاسې ته ضرر ورسوي، د الله ﷻ لور ته ستاسې بېرته ګرځېدل دی او هغه به مو بيا ستاسې په دنيوي کړنو خبر کړي.

کله نا کله د وخت کمښت مونږ ته د اوږدو خبرو اجازه نه را کوي چې کله هم له چاسره

خبري کول غواړئ له سلامه وروسته سمدلاسه د بحث موضوع پیلوئ تر څو نه ستاسې او نه هم د مقابل لوري وخت ضایع شي او که مقابل لوری معذرت وغواړي نو عذر یې قبلوئ او د دې معنا دا کله هم مه انګیرئ چې تاسي مقابل لوري ته ارزښت نلرئ.

---

کله هم د بل چا په نقل قول داسې خبره مه کوئ چې په هغې کې په یوه مسلمان تور لګول شوی وي او د قیامت په ورځ یې اثبات ته نشئ رسولای کله چې در نه تپوس وشي:
**"هاتوا برهانکم إن کنتم صادقین"**
ثبوت وړاندي کړئ که تاسي رښتوني واست.
هلته بیا دا هیڅ ګټه نه رسوي چې خلګو داسي ویل یا ماته فلاني وویل.

---

مرغۍ ته که دانه په لاس کي ور وړې خو چې کله ور نژدې شې تښتي، مرغان تر ځینو انسانانو هو ښیار دي ځکه پوهیږي چې خپلواکي تر ډوډۍ لوړ بیه ده.

---

ایا تاسو هم کله په دې هکله څه سوچ کړی؟
هُدهُد (ملاچرګک) د یوه بشپړ قوم د مسلمان کېدلو لامل وګرځېده ، میږي د سلیمان علیه السلام د بشپړ لښکر لاره بدله کړه، کارګه انسان ته د خښولو چل وښود، ماهي د الله تعالی نبي یونس علیه السلام ته پخپله خېټه کي پناه ورکړه، د ابرهه فیل د کعبې له نړولو ډډه وکړه .
که دالله تعالی حکمونو ته غاړه غږی شئ هغه مو نه خوشي کوي.
د ایوب علیه السلام لینګي چینجو وخوړل خو هغه له صبر او زغم څخه په شا نشو. د یعقوب علیه السلام سترګي له ډېره غمه ړندې شوې خو حوصله یې ونه بایلله. دموسی علیه السلام مور صبر وکړ زړه یې له اندېښنو تش شو .
مونږ بیا څوک یو چې د ژوندانه په ناخوالو صبر نکوو، صبر ښکلي پایلي او د کایناتو دخالق

په وړاندي ستر اجرونه لري . يوه ښکلي وينا ده وايي : که مي نه پېژنې نو پخپل ښه ګمان مي ونازوه، ښه ګمان يوه داسي هوسايي ده چي يواځې هغه څوک يې په خوند خبر وي چاچي ازمويلی وي، که تاسو ښه ګمان وساتئ ژوند به مو خوندور کړئ .

---

## ته بختور يې

خپله خوښي په پرېشاني، خپل ذهن په مايوسي، خپله بريا په غرور او نن د پرون په سوچونو مه ورانوه.

که ته خپل حالت ته ځېر شې و به وينې چي الله ﷻ ستا بې غوښتني ډېر څه در کړي دي او په دې هم باور وساته کوم څه چي ستا زړه يې غواړي خو الله تعالی يې نه دربانددي لوروي پدې کي دي خير دی .

کېدای شي ته په خواږه خوب وېده يې خو په لسګونو دعاګاني ستا لپاره د آسمان دروازې ټکوي، د يوه اړ انسان اړتيا دي بشپړه کړي وي، يو وږی انسان دي په خېټه موړ کړی وي، يو پرېشانه دي خوشاله کړی وي، يوه لاروي ته دي خندلي وي، د يوه مجبور انسان ستونزه دي هواره کړي وي .

## دالله ﷻ پرېکړي پخپل مزاج مه وېشئ

چي کله داسي يو څوک رنځور شي چي په مونږ ګران وي وايو د الله ﷻ ازمايښت دی او چي کله زمونږ مخالف رنځور شي وايو دخپلي ګناه سزا مومي.

که زمونږ يوه مينه پال ته مصيبت ورسېږي وايو الله ﷻ خپل دوستان ځوروي او که مو مخالف ته مصيبت ورسېږي وايو د خپل عمل بدل ځکي همداسي ښه دی.

پام کوئ د الله ﷻ پرېکړي پخپل مزاج مه وېشئ هغه په خپلو کارونو تر هرچا ښه پوهېږي مونږ ټول نېمګړتياوي لرو که په مونږ د الله ﷻ د ستر خادر نه وای غوړېدلی له ډېره خجالته

به تل زمونږ ټولو سرونه ټيټ وای، د نورو عيبونه مه پلټئ پداسي حال کي چي پخپله هم له عيبونو ډک یاست .

---

ته خبر يې چي دانسان له مرګه وروسته کوم شيان ژوندي پاته کيږي ؟ زړه = ۱۰ دقيقې عقل = ۲۰دقيقې سترګي = ٤ ساعته - پوستکی = ٥ ورځي - هډوکي = ۳۰ ورځي - نېک عمل = دقيامت تر ورځي پوري

دانسان له تکفين او خښولو وروسته ټول قريبان او خپلوان ور څخه لاړ شي خو قرانکريم د يوه ښکلي انسان په څېره کي ورسره د قيامت تر ورځي يو ځای پاته کيږي او په قبر کي نکير او منکر ته وايي چي زه له دې انسانه تر هغه وخته نه جلا کيږم ترڅو چي مي جنت ته نه وي رسولی.

---

**دانسان حقيقت:**

د رياضياتو له ستر پوهاند خوارزمي څخه چا د انسان په هکله پوښتنه وکړه هغه په ځواب کي ورته وويل:

که انسان د ښو اخلاقو لرونکی وي هغه =۱ دی.

که د څېرې ښکلا ولري يوه ته صفر ور زيات شي =۱۰ شي

که شتمن وي يو بل صفر ور زيات شي =۱۰۰ شي

که له ښه نسب او قام سره تعلق ولري يو بل صفر ور زيات شي =۱۰۰۰ شي

که يو عدد چي اخلاق دي ځېني لېري شي ټول صفرونه پاته کيږي =۰۰۰

داسي کسان لږ پيدا کيږي:

چي ملګري په غياب کي هم داسي وستايي لکه مخامخ

چي د مسکينانو هم داسي عزت وکړي لکه د بډايانو

چي کله يي عيبونه ياد کړل شي دی يي په خوښي اعتراف وکړي
چي د خوشالي په وخت کي خپلي بدي ورځي ياد وساتي
او چي د غصې په حالت کي چوپتيا غوره کړي.

---

ترټولو زيات غوره انسان هغه دی:
چي چاته يې د خولې او لاس ضرر نه رسېږي
بېوسه هغه دی چي خپل راز نشي ساتلای
زورور هغه دی چي خپله غصه کنترول کړي
صبرناک هغه دی چي خپل مسکنت پټ کړي
بډای هغه دی چي پخپل شته حالت قناعت وکړي.

---

**دالله تعالی دنامه قدر وکړئ:**

تاريخ پوهان ليکي: له عبد الملک بن مروان څخه په ناولي ځاه (خاک انداز) کي يوه پيسه ولوېده يوه سړي ته يې ۱۳ ديارلس ديناره مزدوري ورکړه چي هغه پيسه راوباسي .
چا پوښتنه ځېني وکړه چي يوه پيسه په ديارلس ديناره راوباسې؟
ده ورته وويل: په هغې د الله ﷻ نوم ليکلی دی .
مونږ هر چېرته وينو چي اخبارونه او کاغذونه په زمکه پراته وي او مونږ ورباندي تېرېږو کېدای شي د الله ﷻ نوم ورباندي ليکلی وي.
ځانونه او اولادونه په دې پوه کړئ چي ليکل شوي کاغذونه دي په زمکه نه اچوي او چي چېرته ليکل شوي کاغذونه ومومي ضرور دې پورته کوي بيا خو دې وسوځوي او يا دې هم په بېديا کي په پاک ځای کي خښ کړي کېدای شي همدا وړوکی عمل يې د الهي رضا موجب او د جنت د دخول سبب وګرځي .

که یو چا مخامخ په داسې ښو خویونو ستایلې چې په تا کې نه وي پوه شه چې ستا په غیاب کې به هم هغه څه در پوري تړي چې په تا کې نه وي.
د تجربې له مخې حسد کوونکی انسان په دریو خویو پېژندل کېږي :
د ملګري په غیاب کې د هغه بد بیانوي
مخامخ چاپلوس او متملق وي
په خوشالیو کې یې ترېنګلی او خپه وي
د مصیبت په وخت کې یې پټ خوشاله وي
الله ﷻ مو دي له دې خویونو او له دې ډول ملګرو خوندي وساتي.

---

تر ټولو بد مرغه انسان هغه دی چې د خپلې بد ګومانۍ له وجهې په هېچا باور نشي کولای او نور خلک په ده باندې د ده د بد اخلاقۍ له وجهې باور نشي کولای، داسې انسان تل یواځې وي او د فاسدو سوچونو په پېچومو کې لالهانده وي.
حقیقتونه پخپل ځان کې څرګند وي خو مونږ یې ځکه نه وینو چې عقلونه مو رنځوران او د زړونو سترګې مو رنځورې دي، د مثال په توګه: لمر یو واضح حقیقت دی چې ټول کاینات رڼا کوي خو اسمان څکولې یې ځکه نه ویني چې سترګې یې رنځورې دي ځکه خو تل له حقایقو څخه د انکار په ځای خپلو ګرېوانونو ته سر ټېټول او د زړونو د سترګو درملنه ضروري وي .
کله چې لمر تندر ونیسي مونږ د کسوف لمانځه ته مخه کړو.
کله چې سپوږمۍ تندر ونیسي هم د خسوف لمونځ کوو.
کله چې وچکالي شي داستسقاء لمونځ کوو .
که لمونځ د طبیعت ستونزې هوارولای شي آیا زمونږ نورې ستونزې نشي هوارولای ؟؟؟

**د فرد د بدلون اغېزي په کور، ټولنه او بهرنۍ نړۍ**

که ته خپل ځان او خپل خویونه بدل کړې خپل کورنۍ چاپېریال بدلولای شې

دوستان او متعلقین بدلولای شې

خپل کلی او ښار بدلولای شې

ټوله نړۍ بدلولای شې

ستا هر خوځښت په بهرنۍ نړۍ مستقیمي اغېزي لري

تاسو به لیدلي وي چې په ښارونو کې د ناپاکو نالیو اوبه ټولي له کورونو راوځي

که له هر کور څخه رنې اوبه راووزي دا به چټلي نالۍ نه وي بلکه د رونو او پاکو اوبو یو نهر به ترېنه جوړ شي، هم دا راز مونږ هغه وخت صالحه ټولنه لرلای شو چې هر فرد د ځان د اصلاح کوشش وکړي.

اسلام هم داسې یوه نېکمرغه ټولنه غواړي چې هر وګړی یې مثبت رول ولوبوي د غوره اخلاقو څښتن وي، خواخوږی وي، رښتونی وي، احساس ولري، کار وکړي، د نوښت او پرمختګ په استعداد سمبال وي او د ملت او امت رښتونی او مخلص خدمتګار وي.

که یو اصلاح غواړي باید له ځانه او له خپله کوره یې پیل کړي

په یوه پوهنتون کې یو دکتور وو د پېغلي بنګړی یې په لاس وو او شاګردانو به تل ور پوري خندل خو هغه به چوپ وو یوه ورځ ټول خبر شول چې دا بنګړی یې د مړې شوي پېغلي لور دی .

ځېني زړونه دردېږي خو خبري نکوي هر چوپ انسان داسي نه وي چې خبري نشي کولای

ځېني کسان چوپ پاته کېږي تر څو نورو ته ځور ورنکړي

ځېني کسان له دې کبله چوپ وي چې خبري یې نور هم غم زیاتوي

ځېنې نور بيا له دې وجهې خبرې نکوي چې پوهېږي خبري يې ځای نه نيسي
ځېنې کسان د غُصې له وجې چوپ پاته کېږي ترڅو دوستان ونه بايلي
پټه خوله ستره خزانه ده چې د انسان شخصيت او چلند ښکلا وربانديې مومي.

---

خپلوي پالنه، د مسلمان قوم خير غوښتنه، د ځان، کورنۍ، قام، سيمې او هېواد له مشروعو حقوقو څخه دفاع او په هوسايينه او رغونه کې يې زيار او پرله پسې هڅې نه يواځې مشروع کار دی بلکه مونږ يې شرعاً په کولو مکلف يو خو دا تر هغه وخته پورې چې تر څنګ يې د نورو په حقوقو تېری، په هغوی بلوسېدل، او په وړاندې يې کرکه او نفرت نه وي چې دا بيا کرکجن تعصب ګڼل کېږي چې اسلام مړژګه بللې او مونږ ترې ژغورې.

---

ځېنې زړونه داسې وي چې هر څومره ظلم ورسره وشي خو کرکه نه مني او ځېنې زړونه داسې هم شته چې هرڅومره يې ونازوې خو خپلولای يې نشې.
که غواړې چې خوشاله ژوند وکړې هرڅه مه څېړه، په هره باريکۍ سر مه خوږوه او هرڅه مه تعبيروه.
الماس چې يې وځېړل سکاره وختل.
دا سخاوت نه دی چې ته زما اړتيا پوره کړې په رښتوني معنا سخاوت دا دی چې ته هغه څه په ما ولوروې چې تر ما زياته ستا ورته اړتيا وي.

---

د چا په پرهارونو مالګې مه دوړوه ، د مسکينانو په مخ کې خپله شتمني مه بيانوه، د ناروغ په حضور کې د خپل ښه صحت ستاينه مه کوه ، د بېوسه انسان په مخ کې خپل ځواک مه ښيه، د پرېشانه انسان په مخ کې خوشالي مه څرګندوه، د بندي په مخ کې د خپلې ازادي ستاينه مکوه، د بې اولاده انسان په مخ کې دخپلو اولادونو خبرې مکوه، د يتيم په مخ کې

خپل پلار او د هغه زړسوی مه یادوه.

---

جابر واکمن ته مه وایه چي ولي ظلمونه کوي له دې غلامانو يي تپوس وکړه چي ولي سرونه ورته ټيټوي؟

له دريو شيانو هميشه ځان ساته:

۱- د خوشالي په وخت کي له چا سره وعده مه کوه ځکه چي پالل يې ګران وي.

۲- د غصې په وخت کي غبرګون مه ښيه ځکه چي پايله يې پښېماني وي.

۳- د پرېشاني په حالت کي پرېکړي مه کوه ځکه چي معقولي نه وي.

---

هغه څوک چي خپله خاوره پلوري او له خپل ملت سره خيانت کوي هغه چاته ورته دی چي د پلار له جېبه غلا کوي او په غلو يې خوري چي نه خو يې پلار ښني او نه يې غله عوض ورکوي.

---

د تېر وخت په رڼا کي خپل راتلونکی مه ټاکه ځکه چي پيغمبرانو عليهم السلام ټولو په پيل کي شپوني کړي ده خو بل وخت د ولسونو لارښوونکي او مخکښان جوړ شوي دي.

ستا خبري د چابي حيثيت لري که يې سمي وکاروې کېدای شي يوه خوله پې وتړې يا يو زړه ورباندي خلاص کړې.

صحت من ژوند لوړي ژوري لري - دژوند له لوړو ژورو کله هم مه تنګېږه، چي دا يې د روغتيا نښه ده ځکه چي ستا د زړه ګراف هم ورته لوړي ژوري لري که په مستقيمه ليکه ښکاره شي د دې معنا دا ده چي ته مړ شوی يې .

---

زمونږ عاطفه کله مونږ داسې چلند ته اړباسي چي کېدای شي په راتلونکي وخت کي

ورباندې پښېمانه شو د دې علت دا نه وی چې مونږ تېروتي وو بلکه د داسې کسانو په وړاندې مو خپل کړی وو چې وړتیا یې نه درلوده، ځکه تل باید خپل عواطف د عقل په ولکه کې وساتو.

چاته چې دې خپل راز لوڅ کړ داسې یې وانګېره چې یو داسې غشی دې په واک کې ورکړ چې کېدای شي یوه ورځ یې درباندې وار کړي.

چې کله ښه حالت درباندې راشي او پرمختګ وکړې دوستان به دې وپېژني چې ته څوک یې او چې کله ولوېږې ته به دوستان وپېژنې چې څوک دې حقیقي دوستان دي.

نا کامه انسانان دوه ډوله دي یو هغه چې هرڅه یې تر سوچ پوري محدود وي خو کله هم عملي ګامونه نه آخلي بل هغه چې بې له دې چې سوچ وکړي د کار عواقب نه ارزوي په عمل لاس پوري کوي.

---

ملګري او دوستان ډېر وي، خو تر ټولو ښه، مخلص او وفادار ملګری هغه وي چې ستا د اړتیا په وخت کې د مرستې لاس مخکي له دې دروغځوي چې ته یې مرسته وغواړې . دا ډول ملګري د ګوتو په شمار وي خو د هېرېدلو وړ نه وي.

د عقل او ژبې تر منځ سر چپه تماس وي څومره چې عقل ستر وي ژبه لنډه وي او څومره چې عقل وړوکی وي ژبه اوږده وي .

له ځېنو کسانو سره دې ټول ژوند تېر کړی وي خو هیڅ د پام وړ خاطره نه ور څخه لرې خو سرچپه ځېني داسې کسان هم شته چې د یوې لنډې شېبې لپاره دې ورسره لیدلي وي خو ستا زړه یې خاطره ټول ژوند په یاد ساتي دا ځکه چې زړونه درېځونه ساتي نه وختونه.

---

په دې نړۍ کې زمونږ د هر یوه شتون هغه شاګرد ته ورته دی چې د ازمویني په تالار کې د

امتحان ورکولو لپاره ناست وي، هغه ټاکلی وخت لري تر څو خپله پاڼه ډکه کړې مالومه نده چي کله به يې پارچه له لاسه واېستله شي، په دې اساس د دې په ځای چي د نورو د پاڼو ننداري وکړو په کار ده چي د وخت تر ختمېدلو د مخه خپله امتحاني پاڼه ډکه کړو.

د هغه چا ماتول ناشونی وي ځوک چي پخپل ځان کي مأيوسي نه وي مات کړی.

دومره چاپلوسي هم مه کوه چي د نفاق په کډې کي ولوېږې او مه دومره سپين وايه چي د بد اخلاقي او بې حيايي په چکړو ککړ شې.

---

يو څوک چي په پنځوس کلني کي نړۍ ته په هغو سترګو ګوري کوم چي يې په شل کلنۍ کي لېدلي وه پوه شه چي د ژوند دېرش کاله يې هسي تش تېر کړي دي .

مونږ چي کله يو زړ تېری له دې فاني نړۍ رخصت کړو کومي اوښکي چي ورباندي تويوو دا د هغه احساس او درد زېږنده وي کوم چي مونږ يې په ژوند کي د هغه په حق پالنه کي د تقصير په وجه خپلوو.

---

ژوند د ګل مثال لري پاڼي يې سوچونه دي او ازغي يې حقيقتونه دي.

ژوند هله خوندور وي چي دي په ځان باوري له مخي خبري وکړې، په ځای ټوکي وکړې، داخلاقو او ادب په چوکاټ کي غوښتني وکړې او د زړه له کومي ښښنه وغواړې.

په زمکه باندي ژوند کول مونږ ته يوځل را په برخه کېږي که تېروتنه وکړې ښښنه غواړه، د خوښيو په وخت خوښي څرګندوه، پرېشانيو ته وخت مه ورکوه او تر هرڅه ارزښتمنه خبره دا ده چي څوک بد مه اېسوه، کرکه مکوه او دښمني مه پاله.

---

زه چي کله تنها ژوند کوم خلګ داسي فکر کوي چي په پرېشانيو کي ډوب او يا بې طبعي انسان يم خو هغوی پدې خبر نه دي چي تنهايي ما هوسا کوي او د انسانانو له بې ځايه

غبرګونونو مي ساتي.

که هرڅومره دي ژوند له ستونځو او کړاوونو ډک وي خو ښېره حتی الامکان داسي خوشاله ساته چي څوک داسي فکر ونکړي چي ته کومه ستونځه لرې د نورو تر زړسوي او همدردي دا ډېر غوره دی چي خپل کړاوونه پټ وساتې.

---

پخپل ژوند کي هيڅکله هم په بل چا زياته تکيه مکوه ان تر دې چي ستا خپل سيوری هم په تيارو کي له تا نه بېلېږي پښتانه وايي : "څوک په پرديو مڼو نه زورور کېږي" يو بل متل دی: "پردی کټ تر نيمي شپې وي".

ستا پرېشاني د سبا د ورځي درد نشي درمل کولای خو ستا د نن ورځي خوند په اسانه غلا کولای شي.

---

پخپله ښېره ځکه مه وياړه چي تا نه ده پيدا کړي پخپل نسب ځکه مه وياړه چي تا ندی خوښ کړی پخپلو اخلاقو وویاړه ځکه چي ته يې جوړونکی يې.

هيڅچا ته هم د دې اجازه مه ورکوه چي ستا د ژوند پاڼه ورنګوي ځکه چي زياتره انسانان په لاسونو کي تور برشونه ګرځوي.

ژوند يوه سپينه پاڼه ده چي تقدير پکي هرڅه ليکي يوه خوندوره ليکنه يې هم دمينه پالو يوځای کېدل او خواشينونکيه شېبه يې بېلتون وي.

خپل شخصيت دي داسې کتاب مه ګرزوه چي هرڅوک يې پاڼې اړوي داسي کسان هم شته چي د يوه توري د لوستلو وړتيا يي نلري.

---

له زړه دي داسې وياله مه جوړوه چي هر لاروی ترېنه اوبه وڅښي داسي يو لوړ بيه قصر ترېنه جوړ کړه چي ډېر لږ کسان يې د ترلاسه کولو وس ولري.

هیڅا ته هم د هغه تر وړتیا زیات ارزښت مه ورکوه د ګل بوټي ته چې تر اندازه زیاتي اوبه ورکړې وژني یې.

اوښکي د زړه هغه خبري دي چې نه خو یې ژبه تعبیرولی شي او نه یې زړه ګاللای شي.

زما تر ټولو غوره د ژوند ملګری هغه څوک دی چې زما د ټولو نېمګړتیاوو سره سره بیا هم له ماسره مینه پالي.

---

کله چې ته خپلي مېرمني ته په لوړ غږ سپکي سپوري وایې او هغه چوپه درته ناسته وي یوه شه چې هغه پخپل کوګل کي له هغه شیطان سره ډغري وهي کوم چې غواړي ستاسو پاکه رشته در دړي وړي کړي خو چویتیا یې کله هم کمزوري مه ګڼه.

زړونه د کرهڼي د ځمکي مثال لري د ښو او خوږو خبرو تخمونه پکي وکره که یې مېوه در نکړه په شنه کښت خو به دې ستړګي خوږې شي.

---

د ژوند ناخوالو او ستونځو مو ډېر ځله له دوستانو او مینه والو سره د تماسونو لړۍ غوځي کړي خو د هغوی په هکله زمونږ د سوچونو تناوونه کله هم نشي غوځولای.

مونږ په یوه داسي عجیبه نړۍ کي ژوند کوو چي له غمونو سره مینه لرو تاسو نه ګورئ چي جنازو او فاتحو ته بې بلني ورځو او مېلمستیاوو او خوشالیو ته د بلني غوښتنه کوو.

---

غوره بېلوالی دا دی چي له یو چا څخه په داسې حال کي بېل شې چي خور دي نه وي ورته رسولی غوره مخ اړول دا دی چي یوڅوک دي غصه کړي خو ته بې له دې چي ویې نرټې مخ ترې واړوې غوره صبر دادی چي مصیبت وګالې او شکایت ونکړې- ابن تیمیه ﵀

---

چا چي پخپل ژوند کي ترخې تجربې تر لاسه کړي وي او له ناکامیو سره یې ډغري وهلي

وي ضرور د هغوی مشوره در اخله ځکه چي له داسې کسانو سره غوره نصیحتونه وي.
کله هم د چا په انتظار کي مه پاته کېږه څوک چي ستا شتون خپله لاسته راوړنه نه ګڼي ته هم د هغه بېلتون خپل تاوان مه ګڼه.

---

ډېر ځله یو څوک دي له لاسه وتلي شي په هکله سوچونه وهي خو په لاس کي پروت شی ورک کړي ځکه خو د تېر وخت په هکله خوابښني کول ستا شته وخت له لاسه باسي.
خاموشي یوه داسي وسله ده چي ته کولای شې د هغې په وسیله د نورو نېمګړتیاوي لوڅي او خپلي پټي وساتې.
عقیده او عمل دوه بېل بېل شیان دي ځېني خلګ خبري ډېري زیاتي کوي خو خپل عملي ژوند یې ټول چکړونه وي .

---

ښه خویونه له بد خویه انسانه زده کېږي کله هم چي د بل چا کوم خوی درته سپک یا بد ښکاره شي کوشش کوه چي ته هغه خوی خپل نکړې.
که ته هرڅومره ښه انسان یې خو داسي یو څوک به ضرور مومې چي هغه دي بد واېسوي ، پرښتې چي له هر ډول نېمګړتیاوو پاک دي شیطانان یې بد ایسوي، که یو څوک د دې په لټه کي وي چي ټول انسانان خوشاله وساتې له دوکه به مړشي خو ټول به خوشاله نکړي.

---

د ټوپک له ډزه کله هم مه وېرېږه کوم ډز چي تا وژني ته هغه ډز کله هم نشې اورېدلای.
مشرتابه ته کله هم مه دانګه که یې وړ یې وخت به یې درته وسپاري او که یې وړ نه یې پدې کي دي خیر دی چي نېمګړتیاوي دي لوڅي نشي (امام شافعی).
که یو څوک در سره کینه او دښمني نلري پوه شه چي پخپل ژوند کي ناکام انسان یې.

---

**د صحابه وو اخلاق:**

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه موچنې یو چا غلا کړې ده ورته داسې دعا وکړه :
اې الله تبارك وتعالى که ورته اړ وي برکت پکي ورته واچوې او که ورته اړ نه وي نو همدا یې د ژوند وروستۍ ګناه وګرځوې.
ویل کېږي چي احترام په لسو خویونو کي دی نهم یې په چوپتیا او لسم یې له ناپوهانو په ګوښه کېدلو کي دی.

---

**لاندي شیان انسان ډېر خواشېنی کوي:**

داسې یو چاته خبرې کول چي هغه غوږ نه درته نیسي، له داسې یو چا سره احسان کول چي مننه نه درڅخه کوي، له داسې یو چا سره مینه کول چي هغه دي ښه نه اېسوي، د داسې یو چا په وړاندي تحمل او ښه چلند خپلول چي هغه یې کمزوري ګڼي، داسې چاته لیکونه استول چي هغه یې نه لولي او پداسې یو چا ژړل چي هغه یې احساس نکوي.
پښتانه وایي: زه یې مړی ورسره ژاړم دی مي د خولې پېښې کوي.

---

په ژوند کي تر ټولو غوره ورځې هغه وي په کومو کي چي دي د الله تبارك وتعالى د حکمونو سرغړونه نه وي کړې.
هغه ځاله یا جونګړه چي انسان د خوښۍ احساس پکي کوي او خاندي تر هغه قصر زر ځله غوره ده چي پکي خواشېنی وي او ژاړي.
څوک چي د الله تبارك وتعالى په پرېکړو خوشاله شي الله تبارك وتعالى یې تر پام خپلي ټولي پرېکړې ور ښکلي کړي.

---

د شغالانو هغه لښکر چي زمری یې مخکښ وي د زمریانو تر هغه لښکر غوره دی چي

شغال یې مخکښ وي. پښتانه وايي : سل دي ومره يو دي مه مره.

که شپون يوه وزه د لېوه له منګولو وژغوري اتل بلل کېږي خو که يو لېوه يوه وزه وداړي ظالم ګڼل کېږي.

---

چي کله هم يو څوک ستا مخي ته خندونه اچوي پوه شه چي مهم شخصيت یې.

خلک ځکه د طاووس ښکي وباسي چي ښکلا لري. هرمخالفت د ځان لپاره يو وياړ وګڼه . د عودو لرګي ځکه خلګ سوځوي چي خوشبويي يي تېته شي. هرډول مخالفت د خپل شهرت لپاره يو وړيا چوپړ ګڼه. خو په دې شرط چي په حقه یې او د حق لپاره معيار زمونږ د سپېڅلي دين لارښووني دي.

---

## دسر په سترګو مو وليدل:

الله تعالی بنده ته په هماغه عمل سزا ورکوي کوم چي ده خپله سرته رسولی وي.

چاچي د بل زړه ازار کړی ازار یې شوی.

چاچي د مشرانو او سپين ږېرو بې احترامي کړی سپکاوی یې شوی.

چاچي د بل په کور کي ناورين جوړ کړی پخپل کور یې د غم ټغر وېړ کړی.

چاچي پردي اولادونه کړولي خپلو اولادونو ته یې دتل لپاره اور بل کړی .

چاچي د نورو په برخه ليک لوبي کړي پخپل کور کي ورپېښنه شوي.

چاچي ظلم کړی دانتقام په لمبو کي اېسار شوی.

چاچي په ناحقه ويني تويي کړي ويني یې بهېدلي.

پوه شوم چي تاريخ مجرم نه بښي ژوند يوه ازموينه ده هغه څه وکړه چي سبا یې په ربېلو خوښ يې او روح دي پرې ښاد وي او خلګ دي په ښه نامه ياد کړي.

---

څه چې وايې د عقل په پېمانه يې را واخله بيا يې د شريعت په تله وتله، بيا يې د اخلاقو په پوښ کې ونغاړه او زړونو ته يې ډالۍ کړه.

د يوه صحابي مخ د زنکدن په وخت کې له نوره ډېر ځلېدو چا ځېني وپوښتل: ستا د مخ د دومره زياتي ځلا لامل څه دی؟ ده ورته وويل:

په ټول ژوند کې مې داسې څه ندي ويلي چې د هغه به ماته يا نورو ته ګټه نه رسېدله او په زړه کې مې له هيڅ مسلمان سره کينه او خپګان نه ساتلو.

---

د دوی خپل اخلاق دي که بد کوي په عملنامو کې يې ليکل کېږي ستا خپل اخلاق دي که ښه وکړې او که بد په عملنامه کې دې ليکل کېږي ته داسې چلند مه ورسره کوه چې دوی يې ورړ وي داسې چلند ورسره وکړه چې دقيامت په ورځ يې په خپله عملنامه کې په لېدلو خوشاله شې.

جنت ته يواځې هغه څوک ننوتلی شي چې اخلاق يې ښه وي.

---

له داسې چا سره په لانجه کې ځان مه ښکېلوه چې د پوهې او عقل له نعمتونو څخه بې برخې وي ځکه چې تا هم خپلې کچې ته را ټېټوي.

بد مې ايسي هغه څوک چې د نفاق تخمونه شيندي، احساسات رژوي، زړونه ازاروي، کورونه ورانوي او خپلې خداى ورکړې وړتياوې د مادي لاسته راوړنو او ګټې په مقابل کې وړيا په پردېو پلوري.

په هغه چا ډېر خپه کېږم: چې الله ﷻ ورته ښه استعداد ورکړی وي خو د ذهني غلامۍ په ځنځېرونو تړلی وي او استعداد يې د دين، ټولنې او ولس د لوړو ګټو په خلاف د پردېو په چوپړ کې کارول کېږي.

---

داسي کسان هم شته : چي څومره يې خيال ساتې هغومره په سپکه درته ګوري، چي څومره يې د احساساتو درناوی کوې هغومره دي داړي، چي څومره يې قدر کوې هغومره دي بې عزتي کوي، دوی به ستا قدر هغه وخت وپېژني چي کله د تل لپاره ځېني رخصت شې.

---

حسن البصري رحمه الله وايي: نېکان مؤمنان خپل ملګري جوړکړئ ځکه هغوی به دقيامت په ورځ دخپلو ملګريو شفاعت کوي . الله تبارك وتعالى فرمايي:

**فما لنا من شافعين ولا صديق حميم .**

دوزخيان به د قيامت په ورځ افسوس کوي چي نه مو سپارښت کونکي څوک شته او نه کوم خواخوږی دوست.

---

مشران د دې ارمان کوي چي کاش واړه وای، کشران وايي چي کاش مونږ لويان وای، بډايان ستړي او ستومانه وي، مسکينان وايي چي کاش چي مونږ بډايان وای،

بې کاره د کار په لټه کي ستړي او ستومانه وي په کار بوخت کسان له کاره ستومانه وي، دنيا د ستوماني ځاله ده هوسايي يواځي په جنت کي ده.

**خپل دزنګ ساعت مه ماتوه:**

که يو څوک تا ته په غصه کي نصيحت کوي مه يې ملامتوه ځکه چي د هغه د غصې تر شا ژوره مينه پرته ده د هغه چا غوندي مه کېږه چي خپل د زنګ ساعت ماتوي خو د زنګ د ساعت له دې پرته بله هيڅ ګناه نشته چي تا له ژوره خوبه پخپل وخت راويښوي.

---

لقمان حکيم وايي درې کسان په دريو وختونو کي پېژندل کېږي: هوښيار د غصې په وخت کي، زړه ور انسان د جګړي په وخت کي او ورور يا ملګری د اړتيا په وخت کي.

زمونږ خیرنی جامې چې له اغوستلو یې کرکه کوو تل وینځو خو د خپلو خیرنو مازغو د وینځلو هڅه مو کله هم نه ده کړې.

---

خپل افکار دي وڅېنه ځکه خبري ترې جوړېږي، خبري دي وڅېنه ځکه چې عمل ته ژباړلي کېږي، اعمال دي وڅاره ځکه چې عادتونو ته اوړي، عادتونه دي وڅاره ځکه چې ستا شخصیت جوړوي او شخصیت دي وڅاره هغه ستا برخه لیک جوړوي.
هوښیاران وايي: خلګو ته خپلي روغتیايي ستونزي مه بیانوه دا چې دوی درته وايي: څه حال دی او څرنګه یې ناجوړه خو به نه یې؟ دا یواځې روغبړ دی حقیقي پوښتنه نه ده.
ژوند یوه موټر ته ورته دی او هغه څوک چې د تېر وخت په ښکلا پسي خواشیني کوي هغه چا ته ورته دی چې د موټر چلولو په وخت کي شاته ګوري.

---

له الله ﷻ سره د اخلاص لوړه مرتبه همدا ده چې خپل عبادتونه او د خیر او ثواب کارونه هم داسې په پټه کي سرته ورسوې لکه څومره چې ګناه په پټه کي سرته رسول غواړې.
مونږ له مسکنته شکایت کوو خو علت یې زمونږ تنبلي وي، د سمون او اصلاح ادعاء کوو خو یو بل تېر باسو ، د بېوسي له امله په نېستي ګوزاره کوو او بیا د قناعت پوښ وراغوندو، پخپلو چارو کي لاپروایي کوو او بهانه مو توکل وي، اسباب په کار نشو اچولای او وایو د الله ﷻ به همداسي خوښه وي. ټولي تېروتني پخپله خوښه کوو او پړه یې په تقدیر ور اچوو، مونږ په حقیقت کي خپل ځانونه تېر باسو.
یو هغه ستر نعمت چې د جنت اوسېدونکي به ور څخه برخمن وي هغه دا چې هلته به بد اخلاقه انسانان نه وي.

---

بد سوچونه د مرداریو غوندي دي: چا چې ټول وخت په بد اخلاقي کي تېر کړی وي کله

يې هم بد والی نشي محسوس کولای لکه هغه څوک چي د مردارو ناليو په غاړو يې کورونه جوړ کړي وي هغوی د نالې بدبويي کله هم نشي محسوس کولای ځکه چي ورسره عادت شوي وي.

---

هر مصيبت او ځور چي ستا سترګي بېنا او لاره دي رڼا کړي تر هغه نعمت سل ځله غوره دی چي سترګي دي پټي او لاره دي تروږمۍ کړي.

ستره پوهنه دا ده چي انسان په خپله ناپوهي اعتراف وکړي، له سقراط څخه يو چا وپوښتل چي له دومره ژوري پوهي، معلوماتو او تجربې وروسته کومي نتيجې ته ورسېدلې؟ ده په ځواب کي ورته وويل: پدې مي پوخ باور جوړ شو چي زه نه پوهېږم.

---

**د بدو مجلسونو ناولي اغېزي وي:**

هغو مجالسو ته مه ورځئ هغه کتابونه مه لولئ له هغو کسانو سره ناسته پاسته مکوئ ، چي الحاد، باطلو افکارو، کفري او شرکي معتقداتو او بدعاتو ته دعوت کوي زيات تره هغه کسان چي منحرف شول په پيل کي پخپلو ايمانونو ډاډمن ول خو پورتنيو شيانو ګمراه کړل.

ديوه قبرستان په دروازه په يوه ځوړنده تخته ليکلي وو:

نن چي څه ډول تاسو يئ پرون مونږ هم داسې وو او لکه څرنګه چي نن مونږ يو سبا به تاسې هم داسې ياست ، هره جنازه چي چېرته ووينې ځان ته يې يو اختار ګڼه چي همداسي به دي يوه ورځ جنازه وچته شي او معلومه نده چي څه وخت او چېرته.

لړم چي کله هم له خپله غاره ووځي بيا کله هم بېرته خپل ټاټوبي ته نه دی ستون شوی ځکه دنده يې چېچل او ازارول ده.

---

**علامه ابن رجب رحمه الله وايي:**

که په نېکو کارونو کي له نېکانو سره سیالۍ نشې کولای له ګنهګارانو سره خو په استغفار او توبه کي سیالي وکړه.

د دښمن لویه لاسته راوړنه هم دا ده چي مونږ یې په قومونو، ډلو او سیمو ووېشلو هغه قوم د تباهي په درشل کي وي چي دیانت پکي نه وي او ډلي او مذهبونه پکي ډېر شي .

---

یو مسلمان ځوان او یوه عیسایي نجلۍ یو په بل مین وو کله چي دواړه دې توافق ته ورسېدل چي یو له بل سره واده وکړي نو ځوان له مور او پلار سره تر مشورې خبره وځنډوله کله چي هلک له مور او پلار سره خبره شریکه کړه هغوی ورته وویل چي مونږ موافق یو خو په دې شرط چي نجلۍ اسلام ومني .

هلک نجلۍ ته دا شرط وړاندي کړ نجلۍ ومنل او ویې غوښتل چي ته ما ته څه کتابونه راکړه چي اسلام مطالعه کړم.

هلک کتابونه ورته چمتو کړل او نجلۍ یوه هفته مهلت وغوښت، هفته وروسته چي کله هلک د نجلۍ پوښتني ته ورغی ځېني ویې پوښتل :

څنګه اسلام مو خوښ شو؟

نجلۍ ورته وویل: بالکل ستا راکړي کتابونه مي ولوستل ډېر غوره او خوندور دین دی او زه الحمد لله مسلمانه شوم خو سره له هغي بې کچي میني چي زه یې له تاسره لرم واده نشم درسره کولای ځکه چي ته د خپل دین له لاربښوونو سره سم مسلمان نه یې او اخلاق دي له اسلام سره په ټکر کي دي.

---

**الله ﷻ ولي پردیو ښځو ته کتل حرام ګرزولی دی؟**

نوي علمي څېړني وایي: پردیو مېرمنو ته کتل ، ناروا مینه، د لوڅو او بربنډو فیلمونو کتل د انسان د دماغ د ځالو لویه برخه له منځه وړي چي په نتیجه کي یې د انسان یادانبت

کمزورۍ کېږي د ا نساني جسم د حافظې نظام کمزوری کېږي او په زړه بدي اغېزي پرېږدي.

---

له پنده ډکه خبره مرحوم مولانا امیر محمد بجلي ګر رحمه الله وایي:
مونږ ملایان چي په مړي پسي اسقاط ګرځوو وایو:
ښایي له شانه د مسلمان سره چي اکثر لمونځونه به یې ادا کړي وي او بعضي به ترې فوت شوي وي.
ته او خپل خدای ملاصیب؛ تاته دا دله مالوم نه وو چي په ټول ژوند یې د لمانځه ټپه نه وه وهلي؟
بیا څنګه د دې ګواهي ورکوې چي اکثر به یې ادا کړي وي او بعضي به ترې فوت شوي ؟.
ټول مصیبت په مونږ کي دی چي خان هرڅه وایي مونږ وایو خان ښه وایي.

---

د چا چي پلار مړ شو نصیحت یې مړشو
د چا چي ورور مړ شو ښی لاس یې مات شو
د چا چي مور مړه شوه د کور څراغ یې مړ شو
دچا چي خور مړه شوه خندا یې ختمه شوه
د چا چي ملګری مړ شو سترګي یې ړندې شوې
ژوند لنډه شیبه ده چي په خپګان، دښمني، کرکه او زړه بدي نه ارزي
صرف موسکا شئ او هغه چا ته ښښنه وکړئ چا چي بد در سره کړي
نه ده معلومه چي کله به له دې نړۍ ولېږدو.

---

ګل کله هم اوبو ته د خپلي تندي چیغي نه وهي که اوبه ورکړي شي په عزت ژوند کوي او که بې اوبو شي په ډاډه زړه د مرګ غېږي ته ځان سپاري.

له ځانه مچ مه جوړوه ، که په یو چا نېوکه کوې د شاتو د مچۍ غوندي کتل کوه چي ګټور ځایونه یې ووینې د مچ غوندي کتل مکوه چي تل په نجاست او ککړو ځایونو لوېږي.
په مړه سپي څوک کار نلري.

---

که ته په حقه یې او خلګ ګوذارونه در باندي کوي خوښي څرګندوه ځکه د هغوی د ځورولو معنا داده چي ته اغېزمن او بریالی یې ځکه چي بې مېوې ونه څوک په ډبرو نه ولي.
که غواړې چي یو ملګری وپېژنې سفر ور سره وکړه ځکه د سفر په مهال یي ظاهري څېره وېلي کېږي او حقیقت یي لو څېږي. د ((سفر)) د توري معنا لو څېدل دی پدې معنا چي د انسان اصلي مزاج او پاخه عادتونه پکي لوڅېږي.

---

**درې شیان :**

له دریو کسانو پوښتنه مکوه: له یتیمه چي پلار او مور دي څنګه مړه شول ؟
- له پلاره چي زوی دي څنګه مړ شو ؟
- په عام محفل کي له بېکاره سړي چي کار ولي نکوې ؟.
د دریو کسانو ملګرتیا مکوه: کینه پالونکی - بد نظر لرونکی – د والدینو نافرمان.
دریو کسانو ته غوږ مه نیسه : دروغجن - خبرچک (چغلخور) – د دروغو ګواهي ورکوونکی.
له دریو کسانو سره اړیکي مه ساته: ناپوه – کنجوس - دهوس.
درې شیان چي وځنډېږي خوند یې لاړ شي: د واده ډوډۍ - فاتحه (لاس نیوی) – د ماښام لمونځ.
ته به هغه وخت هوسا شې چي درې شیان درنه بېل شي: وسوسه – پور - بد ملګری.
تر څو چي دې کره معلومات نوي تر لاسه کړي درې شیان مه در اخله: شات – پور - ښځه.

---

چي کله دي په ځان کي له عبادت څخه سستي احساس کړه په دې وويرېږه چي الله ﷻ ته ستا عبادت د قبلېدلو وړ نه دی.

پخپل قوت مه نازېږه : مرغان د مېږيانو په خوراک ژوند کوي او چي کله مړه شي د مېږيانو خوراک شي که ته هرڅومره ځواکمن يې خو چا ته د بېوسه په سترګه مه ګوره په دې پوه شه چي وخت له تانه ډېر ځواکمن دی.

که دي څېره ښکلي وي سترګي به دي ياد ساتي او که دي خويونه ښکلي وي زړونه به دي ياد ساتي.

مونږ تل د دې لپاره ليکني نکوو چي نور يې ولولي بلکه د دې لپاره چي بل وخت خپلي ليکني ولولو چي څه ډول فکر مو کاوه او کوم ځای ته ورسېدلو.

---

يوه نېک سړی ته چا وويل: فلانی په تا کي داسې سپکي سپوري وايي. ده په ځواب کي ورته وويل : الله ﷻ دي ښه ورسره وکړي زما له غوښتني پرته او بې مزده ځما د ګناهونو پېټي را څخه آخلي.

---

څومره ښه يي ويلي چي خپل زمريان مه وژنئ بيا به مو د دښمنانو سپي داړي.

د ماشومتوب خاطره : ماخوستن چي به چيرته خوب راغی هلته به ويده شوم خو چي سهار به را وېښ شوم په تاوده بستر کي به په ښي اړخ پروت وم. اې الله ﷻ ته داسي ورباندي مهربانه شې لکه زه چي يې وړوکی پاللم.

---

له ګناه څخه کرکه وکړه خو ګنهګار بد مه ايسوه، په خبره يي نيوکه وکړه خو د ويونکي احترام وکړه ځکه چي ستا دنده د رنځ درملنه ده نه د رنځور ختمول.

څوک چي هر هغه څه په بيه آخلي چي اړتيا نه ورته لري يوه ورځ به ضرور د هغه څه پلورلو

ته اړ کېږي چې اړتیا ورته لري.

یو څوک چې ډېر د خپل ځان سپیناوی یا ستاینه کوي پوه شه چې په ځان باور نلري.

څومره چې ستا د دښمنانو شمېره زیاته وي پوه شه چې په هماغه کچه بریالی یې.

---

د خدایي ملګرو مثال د سترګو او لاسونو دی کله چې سترګي ژاړي لاسونه یې مښي او کله چې لاسونه درد کوي سترګي ورباندي ژاړي (امام ابن تیمیه رحمه الله)

یو څوک وایي: یوه ملګري ته مي وویل : دوه ویشت ساعته په خوارږه خوب ویده وم.

ده راته وویل: بې خوراکه او څښاکه؟

بل ته چې مي هم دا وویل : هغه راته وویل؟ لمونځونه دي څه کړل؟

دوه ډوله غبرګونونه د ملګرو د ژوند او تربیې بڼه ټاکي.

---

دنجلۍ پلار ته یوه ځوان وویل : راغلی یم ستا لور ځان ته غواړم.

پلار: که د یوې پوښتني سم ځواب دي راکړ زه لور در په نکاح کوم؟

ځوان وویل: مهرباني ؛

پلار : د سهار اذان په څو بجې کېږي؟

له ځوان سره ځواب نه وو.

پلار: بچیه زما د لور ولور ډېر لوړ دی او له تا سره یې ولور نشته .

---

هرشی چی له نورو سره شریک کړل شی کمیږی خو یواځی خوشالی او نیکمرغی ده چی له نورو سره په شریکولو زیاتیږی.

له ځېنو کسانو سره خبري د انسان شخصیت لوړوي او د ځېنو نورو په وړاندي سکوت کول د هغه مقام وچتوي.

له هرچا سره هم په تنده لهجه خبري پدې وجه مه کوه چي ګواکي ته غصه ناک يې ټول خو هم ستا د مور غوندي نه دي چي تا وپيژني.

---

پرېشاني د برقي چوکۍ غوندي ده چي د اوږدې مودې لپاره پرلپسې تکانونه درکولای شي خو کوم ځای ته دي رسولای نشي.

وايي يوه کور ته ملنګ ورغږ کړ، خيرات راوړئ خدای مو وبښه کور والا ور غږ کړه موږ ويده يو؛ ملنګ ور زياته کړه چې کله ويښ وئ نو څه توره مو کړې وه ؟

انسان چي په جسماني ناروغي اخته شي د خوراک په خوند نه پوهېږي همدا راز چی کله بنده په ګناهونو کي ښکېل شي د عبادت په خوند نه پوهېږي.

څوک چي ستا په چوپتيا نه پوهېږي هغه ستا په خبرو هم نشي پوهېدلای او څوک چي ستا په خبرو نه پوهېږي هغه ستا د افکارو قدر هم نشي کولای.

---

دا ستره بد اخلاقي ده چي پدې پلمه د نورو احساسات وځپې چي ته حق او سپين وايې د سپينو ويلو او بې حيايي تر مېنځ ستر تو پير دی او چا چي ستا د ګستاخي په وړاندي چوپتيا غوره کړه دا د هغه پراخه سينه او غوره اخلاق وګڼه کله هم داسې فکر ونکړې چي ستا د ځواب ويلو يې توان نه درلود.

پوهنه او معلومات هغه وخت ګټور وي چي په عمل کي پلي شي هغه علم چي په عمل کي نه وي ژباړل شوی د ډاکټر هغي نسخې ته ورته دی چي رنځور يي نه اخلي او نه يې خوري.

---

د نبوي ژوند او د سېرت په هکله معلومات هغه وخت لوړه بيه لري چي د يوه مسلمان په ورځني ژوند کي وليدل شي که يو څوک هر څومره ستر عالم او محدث وي خو اخلاق يې

نبوی نه وي په ستر نقصان کي دی.

چي علم وي عمل پې نه وي .... لکه په خره باندي چي بار وي کتابونه

---

ابن سیرین رحمه الله وایي په هغه ګناه نه ژاړم چي ګناه مي بللي او کړي مي ده په هغه ګناه ژاړم چي ما وړه بللي خو د الله تعالی په وړاندي ستره وي .

سعید بن جبیر رحمه الله وایی : که مي یو څوک په سر په ډنډو وهي تر دې ډېر راته غوره دی چي امام خطبه وایی او زه خبري کوم .

---

په یوه مسجد کی ایر کنډیشن خراب وو امام مقتدیانو ته په خطبه کي وویل: د دوزخ تودوخه در په زړه کړئ یوه سپین ږیري ورباندي غږ کړل: ملا صاحب؛ جوړ یې کړه او د جنت نعمتونه را په زړه کړه.

---

**لیس من مات فاستراح بمیت .... إنما المیت میت الأحیاء**

هغه مړ ندی چي پښنې وغځوي او ساه ورکړي مړ هغه دی چي په ژوندیو کي حساب وي خو کوم رول یې نه وي.

## یوسف علیه السلام له دوو نورو ځوانانو سره په بندی خانه کی وو

یوسف علیه السلام تر دوی دواړو په ښکلا، ځواني او اخلاقو کي څو ځله زیات وو خو هغه له دوی کلونه وروسته له زندانه ووت.

لومړنی زنداني چپراسی ووت دوهم د دې لپاره ووت چي په دار وځړول شي.

یوسف علیه السلام اوږد انتظار وایست تر څو د مصر واکمن ترېنه جوړ شي.

**عبرت :** که د یو چا د ارمان پوره کېدل کلونه وځنډېږي پروا نلري ځکه څه چي له یوسف علیه السلام سره شوي له هر صبرناک انسان سره کېږي کېدای شي د بخت یوه ستره ونډه دي په

انتظار کي وي.

الله ﷻ چي څه درنه واخلي په هغه کي يې حکمت وي او چي څه در پرېږدي هغه يې رحمت دی.

غالباً د هيلو بشپړېدل وځنډېږي تر څو د پېرزوينو ونډه دي ستره شي.

تاسي تل پخپل رب نېک ګومان او ښه باورولرئ .

ابن جوزي رحمه الله وايي: آس چي کله د هدف (سانګي) خوا ته نژدې کېږي په ګړندي توب کي خپل ټول توان په کار اچوي ترڅو ميدان وګټي ګوره چي آس له تا ځيرک نشي.

د هر کار اعتبار د هغه د نتيجې او پايلي په اساس وي که ښه هر کلی دې نه وي کړی ښه خدای پاماني خو ور سره وکړه.

شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله وايي: په هرڅه کي د پايلو بشپړېدلو ته اعتبار ورکول کېږي نه د پيل نېمګړتياوو ته.

حسن البصري رحمه الله فرمايي: څه چي پاته دي په هغه کي ښه شه څه چي تېر شوي دي هغه به دروبښل شي، څه چي دي مخ ته دي هغه غنېمت وګڼه ته څه خبر يې چي کله به د الله ﷻ د رحمت وړ شې.

وای يوه سړي پخپله مړه شوي مېرمن باندی په چيغو چيغو ژړل چا ترې پوښتنه وکړه چي دومره ډېره درباندي ګرانه وه؟

وېل نه اورېدلي مي دي چي په ژړا مرده ته عذاب ورکول کېږي ځکه ژاړم .

وای يوه ماشوم له پلاره پوښتنه وکړه چي د حادثې او مصيبت تر منځ څه توپير دی؟

پلار يې ورته ووېل : که ستا مور د پلار له کوره د راتګ په مهال په لاره مړه شي حادثه ده او که روغه راورسېږي مصيبت ده .

کله چي ته يو څوک ستايې ټولو خوله پټه نيولي وی او که يي غيبت کوې هرڅوک خپله

ونهړه پکي اخلي.

---

**ترخه واقعيتونه :**

۱- دا ستر ټولنيز ظلم دی چي مور او پلار خپل نا اهله زوی ته د نېکي مېرمني د غوښتلو په لټه کي وي.

۲- کله چي ټولنه تر حرامو مخکي په پېغور وروزله شي بيا دا څه د تعجب خبره نه ده چي يو څوک به د لمانځه ټپه نه وهي خو ښځي ته به وايې چي پرده کوه.

۳- له مور او پلار سره ستا چلند يو داسي داستان دی چي ته يې ليکې او ستا اولادونه به يې لولي.

دا چی ته يوچاته ښه ښکاري ستا هغه ښکلا ويني چي الله ﷻ هغوی ته لوڅه کړي خو ستا په هغو نېمګړتياوو خبر نه دي په کومو چي الله ﷻ پرده اچولي ده نو ته د الله ﷻ شکر وباسه او په ځان مه مغروره کېږه.

ستا له سوچونو پرته بل هېڅ شی تا نشي ناکراره کولای يواځی ته کولای شې چي ستا په سينه کی پراته هغه سوچونه او افکار وشړې کوم چي ستا مازغه او ژوند يي در ګډوډ کړی وي.

د والدينو دعا په ځمکه کي په انسانانو د الله ﷻ هغه پېرزو شوی رحمت دی چي د آسمان مخلوق ور څخه بې برخي دي.

---

بډارن هغه څوک ندی چي سترګي موښي او ژاړي رښتونی بډارن هغه څوک دی چي په حرامو برلاسي شي خو د الله ﷻ له وېري يې پرېږدي (رسائل ابن رجب رحمه الله)

ځانته چي هر امتياز ورکوې وربې کړه خو په چا يي هسکه مه وايه.

له هرچا سره چي دي خوښه شي دښمني وکړه خو سپکوه يې مه.

چي هر ډول غصه کوې ویې کړه خو داړل مکوه.

له ژوند کولو خوا توری نه یم خو په زړه کي ځېني داسي دردونه لرم چي له ژوند سره مینه یې را کي وژلي ده.

له مرګ څخه وروسته خو د ټولو ورتګ الله ﷻ ته حتمي دی بختور هغه دی چي په ژوند د هغه خواته ورشي.

---

اولادونه تر بل هرڅه د مور او پلار له خولو څخه د دوی لپاره د خوشالي، هوسایني، کامیابي او ځلانده راتلوکي دعاګانو اورېدلو ته اړتیالري دا ډول مخامخ دعاګاني هغوی ته الهي تو فیق وربښي او زړونه یې ورباندي ډاډمن کېږي.

ځکه خو والدین تل باید خپلو اولادونو ته مخامخ د زړه له تله نېکي دعاګاني وکړي تر څو یې هغوی واوری. بیا به وګورئ چي څومره ښه نتیجه ورکوي.

تاسو به په ډېر لنډ وخت کي د اولادونو په چلند او سلوک کي ژور او ګټور بدلون ووینئ.

---

که هرڅومره اړین او غوښتونی وي خو ګوره چي کله هم د غلامي سر چاته ټېټ نکړې خدای خبر چی بیا به د سر د وچتولو موکه په لاس در شي کنه. (عمر المختار رحمه الله)

**خاطره:**

په ۲۰۱۲ میلادی کي د عمرې د ادا کولو لپاره تللی وم د مسجد نبوی په محراب النبي ﷺ کي مي چي کله له لږ څه اوږدې سجدې څخه وروسته سر راپورته کړ په ملا کي مي یو دم داسي سخت وېرېښېدل چي له ځایه نشوای خوځېدلای او دا ډول درد مخکی هم یوځل راته پېښ شوی وو چي بیا تر دریو میاشتو یې نا کراره کړی وم.

داځل بیا ووېرېدلم چي دا درد راسره دوام ونکړی ورو ورو مي په ډېر ځورځان د مسجد نبوي تر یوې ستني ورساوه هلته مي ډډه ولګوله او لاس مي دي درد په ځای ونیو او دعا

مي وکړه :

اې لويه ربه د مسجد نبوی او د رسول الله ﷺ په برکت ته مي دا درد ختم کړې او يو څه مي نوري ماثوری دعاګاني او ايتونه وويل او په لاسونو مي چوپ کړل او بيا مي د درد په ځای وموښل نه يواځې داچي په هغه ځای مي درد ختم شو بلکه له هغه وروسته بيا تر دې مهال چي ۹ کلونه کېږي دالله ﷻ په فضل هغه ډول درد بيا نه دی را ښکاره شوی .

---

**کله هم داسې فکر مکوه:**

هغه څوک چي ښښنه غواړي هغه به تېروتی يا کمزوری وي ښښنه غوښتل هغه بيساری ښه خوی دی چي يواځې په وفا دارو انسانانو کي موندل کېږي .

کېدای شي يو څوک ډېر در نژدې وي خو ډېر در څخه لري وي او درڅخه لري ډېر در نژدې وي، په حقيقت کي د احساس نژدېکت اعتبار لری نه د واټن.

پوهان وايي : تواضع او کېميني هغه څوک کوي چي په ځان يې باور او ډاډ وي، او تکبر هغه څوک کوي چي پخپلو نيمګړتياوو خبر وي .

**او کله هم داسی فکر مکوه :**

چي بدبيني به تا ځواکمن کړي، دښمني پالل به دي چالاک کړي او تند چلند به دي محترم کړي ستر فکرونه تل ښښني کوي او د نورو په حماقتونو او تېروتنو سترګي پټوي.

په الله ﷻ عقيده وساته او مه مايوسه کېږه دروازې که هرڅومره غټې وي خو کلي ګاني يې وړې وي.

قلم هغه وخت تر توري ځواکمن وي کله چي تر شا يې داسې عقل په کار بوخت وي چي د هر توري د کارولو او په ځای ليکلو ستره تجربه او پوهه ورسره وي .

---

**خلګ دوه قسمه دي :**

دمچ سترګي چي تل پرهار شوي ځايونه لټوي
دشاتو د مچۍ سترګي چي تل خواږه ځايونه پلټي.
دا په عمومي ډول يوه رواني ستونځه ده ته چي کله د يوې ناروغي په هکله معلومات لولې په يوه نه يوه شکل داسې احساس کوې چي ستا په بدن کي هم د دې ناروغي څه نښي نښانې شته.

---

## ستاسې ماشومانو ته ستاسې غوره تحفه

- يوه نېکه دعاء چي هغوی په غېږ کي ونيسي.
- يوه د مينی موسکا چي ورته ډاډ وبښي
- يوه بوسه چي هغوی ته د مينی احساس ورکړی.

---

## د شنو چايو زيات څښل

د سرطان له ناروغي، د زړه له ناروغيو، د رګونو له بنديدلو او له دماغي سکتې څخه تر ډېره حده انسان ژغوري پام مو وي د لېمو اچول مه په کي هېروئ .
ته چي کله غصه شې هر څه مات کړه خو د چا زړه مه ماتوه ځکه چي د غصې خبری ډېری ستوغي وي.
ناوړي خاطرې د تل لپاره له زړونو وباسئ هغه زړونه چی بدي خاطرې په ياد ساتي کله هم نشي کولای د خپل چاپېريال ښکلا ووينې.
که د ځان او نورو تر منځ څه واټن پرېږدو په همدې شکل به وکولای شو هغوی ته د ځور ور کولو کچه را ټيټه کړو.

---

عبدالله بن المقفع ﷺ وايي: که له دوو درېځونو سره مخامخ شوې اوته نه پوهېدلې چي

کوم یو به یې سم وي نو هغه دریځ خپلوه چې ستا نفس یې نه مني ځکه چې غالباً هغه دریځ سم وي چې د نفس مخالفت پکې وي.

أبوهریره رضي الله عنه یو سړی ولید چې له شا یي بل سړی روان وو پوښتنه یې ترې وکړه:

دا له شا سړی څوک دی؟ هغه ورته وویل: دا مي پلار دی، ده ورته وویل:

په نامه یې مه بوله، له ده مخکی مه کېنه او مه ورځخه وړاندي تګ کوه. (بهجة المجالس)

---

کله چې هم یو مسلمان هېواد له بهرني نړۍ سره د وسلو د اخیستلو قرارداد کوي سم د لاسه دوه پوښتنی دانسان ذهن ته وړاندی کېږی:

۱- څومره کمیشن او رشوت به پکي اخیستل شوی وي .

۲- کله به دا وسله د خپل ولس په ضد کاروله کېږي.

خلګ نړۍ یو کور ګڼي زه وایم ننی نړۍ یو کور نه بلکه د مړیو د اېښودلو یوه یخچاله ودانۍ ده چې یواځې مړي او مرګونه پکې ساتل کېږي.

له ژوند څخه هدف دا نه دی چې له اکثریت سره یو ځای شې بلکه اصل هدف دا دی چې د لېونیانو په کتار کې رانشې.

پخپل ځان د نېوکو او د خپلو تېروتنو د شاربلو لپاره د لوی څارنوال بڼه غوره کړه، او د نورو د تېروتنو د درملني لپاره مدافع وکیل جوړ شه.

---

چې کله الله تبارك وتعالى ستا ژبه په دعاء وځرخوله پوه شه چې هغه تا ته د هغه څه درکول غواړي چې ستا زړه یې غواړی اوس که ستا غوښتنه هرڅومره لوړه او لوړ بیه وي.

کېدای شي په ژوند کي ستا ټولي هیلي بشپړي نشي خو که الله تبارك وتعالى درځخه راضي وي هغه به ستا ژوند ستا له مرضي سره سم جوړ کړی نو که خپله خوشالي غواړې الله تبارك وتعالى خوشاله ساته.

په ځان را تاو کسانو او په نژدې دوستانو ښه ګمان ساتل ستا ژوند نېکمرغه کوي که ته ښه ګمان وساتې او تېروځې دا ستا لپاره تر دې ډېر غوره دی چې په حقه يې او بد ګومان يې.
خپلي ورځنی محاورې ته دا توري ورزيات کړئ او د تل لپاره ځانونه ورباندي عادت کړئ:
ډېره مننه ـ ښښنه غواړم ـ مهرباني وکړه ـ ښه راغلاست ـ په ليدو مو خوشاله شوم ـ تاسې ښه وويل ـ دا ستاسو لورونه ده ـ ستاسو حسن نظر دی ـ په دواړو سترګو ـ کور مو ودان بيا وګورئ چې څومره د نورو په زړونو کي ځای مومئ.

---

هر کاميابه انسان يو دردونکی داستان لري او هر دردونکی داستان يوه بريالی نتيجه لری.
ځکه خو لومړی دردونه ومنه، چمتووالی ونيسه او بيا د بريا په لور ګامونه واخله.
څوک چي نه پوهېږي او خوله پټه ونيسي هم به ځان او هم به نور هوسا کړي او تېروتني به يې لږ وی.
دا انصاف نه دی چي له نورو د هغه څه کول غواړې د کوم کولو ته چي ته چمتو والی نه ښيې، خپله د نېکو کارونو او ښو اخلاقو بېلګه جوړ شه چي نور دي په پلونو پلونه کېږدي.
هغه ژوند چي پکي تکي تنها يې تر هغه ژوند سل ځله غوره دی چي له ناپوهانو سره لاس او ګرېوان يې.
ته تر هغه وخته د خپل ژوند د کتاب نوي پاڼه نشې را اړولای تر څو چي يې د تېرو پاڼو په لوستلو بوخت يې.

---

که ته تل داسې عقيده وساتې چي الله ﷻ در سره دی دابه ستا په زړه کي يو داسي پياوړی ځواک جوړ کړی چی بيا به کله هم ماتي، مايوسي او پرېشاني ته د ننوتلو لاره ورنکړي.
که تاسې د ورځنيو کارونو لپاره مخکي سم مهالوېش چمتو کړئ او کارونو ته د اولويت پر

بنسټ ترتیب ورکړئ ورځ به مو د صندوق غوندي شی او ډېر شیان به پکي ځای کړل شي.
دبل په خوله تل له هرڅه کرکه مکوه پخپله یې وازمایه، کله خو په ختہ کي هم تګ کوه تر څو د خپل توازن د ساتلو چمونه زده کړې.

---

مشهور تابعي محمد بن المنکدر رحمه الله به چي کله مسجد نبوي ته ورغی ډډه به یې ولګوله او په ځمکه به رغښت چاته ورته وویل: داولي کوې؟ وېل: دا هغه ځای دی چی رسول الله ﷺ به دلته کېناستلو.

---

## ۲۵ کاله کېږي چي په کال کي تقریبا شپږ یا اوه سفرونه بهرنی نړی ته کوم

زه تل د تګ او راتګ په مهال دا خوښوم چی نه مي څوک بدرګه کړی او نه مي څوک هرکلي ته راشي ، حتی خپلو کور والو ته هم د دې ډول تشریفاتو اجازه نه ورکوم ځکه ماته وخت ډېر ارزښت لری که خپل وي او که د بل چي باید په نورو کارونو او د ژوند په اړتیاوو کي ترې استفاده وشی.
زیاتره ملګری د ګپ شپ او بانډارونو شوق لری ، خو بې ضرورته بانډار د وخت ضیاع دی.
وخت باید په هغه څه کي ولګول شی چی مادي، یاعلمي، یا تربیوي، دنیوي او یا اخروی ګټه ولری. له ملګرو او دوستانو سره تر بې هدفه بانډار او بې ګټي ګپ شپ له خپلو ماشومانو سره ناسته، او لوبی غوره دي ځکه چي هم تربیه ده او هم ثواب.

---

له خلګو سره په اړیکو او چلند کي اعتدال ضروري دی نه دومره بد اخلاقه چي هرڅوک درنه کرکه وکړي او نه دومره اخلاص من چي خلګ دي ساده ګمان درباندي وکړي.
چي کله دي هم په سینه کي کرکه چارج کېدله سمدلاسه وخوځېږه او له ځان سره د خبرو اترو او تفاهم له لاري ځان ترې وژغوره یواځې ته کولای شې چي ځان ته قناعت ببنونکی

ځوابونه ورکړې.

---

يو ملګری چي د غصې په حالت کي تاته څه وايي جدي يې اوره ځکه هغه چي څه درته وايي غالباً د ده د هغه حقيقي سوچ ترجماني کوي چي ستا په هکله يې لري.
کله چي ته داسې شک وکړې چي يو څوک ستا نوم اخلی او اواز درته کوي خو بيا چي وګورې هيڅوک نه وي، مه پرېشانه کېږه دا ستا د ذهني روغتيا نښه ده.

---

چي کله د سهار اذان وشي .. مسجد ته روان شې. په توره ترږمۍ او چوپه چوپتيا کي. او يواځي د خپلو پښو څرپا اورې. په همدې وخت کي داسې احساس کوې چي ته تر ټولو بختور انسان يې.

---

ښکلي او بدرنګي نشته دا د انسان د تفکر زېږنده دی چي ځېني شيان ورته ښکلي او ځېني بدرنګي ښکاري.
دومره خوبونه هم مه وېنه چي واقعيتونه درنه هېر کړي ..
او دومره په واقعيتونو کي هم مه ايسارېږه چي ستا خوبونه در ګډوډ کړي .

**له دريو شيانو ځانونه ساتئ**

د خوشالي په وخت کي وعده کول، د غصې په حالت کي غبرګون ښودل او د پرېشاني په وخت کي پرېکړه کول.
ګناه په توبه ختمېږي، غم خو په خوشالي سپکېږي، ساه ډوبي په هوسايي او تنګي په پراخي.
غر که هر څومره دنګ وي خو په سر يې لار وي. هر شی حل لري د څه وخت لپاره زغم خپل کړه او په الله ﷻ عقيده وساته.

اوښکه هله تویېږي چې زړه درد وکړي، د ښځې اوښکو ته د مکر پوښ وراغوستل د هغې سپکاوی او نا انصافي ده. د مېرمنو زړونه نازک دي او ژر خپه کېږي ته یې د پرېشاني لاملونه مه برابروه په سل کاله کې به یوه اوښکه هم تویه نکړي.

زه زما د میرې مور ډېر دعاګوی یم چاچې مې په ماشومتوب کې ژوند را تریخ کړی وو، د کور انګړ یې را ته سور اور ګرځولی وو. د هغې بد اخلاقي او یا د هغې په ګومان زما بد اخلاقي زه دې ته ایسار کړم چې کور پرېږدم، وتښتم، الله ﷻ مې مخې ته رڼا کړه تر څو نړۍ وپېژنم، فرهنګونه مطالعه کړم، عقل مې رشد وکړی او ګټوره پوهه او معلومات ترلاسه کړم الله ﷻ دې په جنتونو ونازوي .

دا ستره تېروتنه ده چې د تعلیمي ټاکلي مرحلې له رسمي فراغته وروسته ته داسې باور ولرې چې نور اضافي زدکړو ته اړتیا نلرې، ژوند تر مرګه پوري پخپل ځان کې یو ښوونځی دی هره ورځ به پکې نوي نوي شیان زده کوې.
هیڅ انسان بېوسه ندی خو ځېنې یې په ځان کې د پټ ځواک په پټن ځایونو خبر نه وي.
نوح علیه السلام څاروي یو ځل ور وبلل ټول په کشتۍ کې سپاره شول خو خپل قوم یې ۹۵۰ کاله د خلاصون په موخه توحید ته ور وباله خو هغوی تباهي او غرقېدل غوره کړ. روغ فطرت تر رنځور عقل غوره دی.

مونږ په یوه داسې ټولنه کې ژوند کوو چې د خلګو په خبرو پسې مو څراغ اخیستی وی خو احساساتو ته یې ارزښت نه ورکوو.
د چا سیالي مکوه او که یې کوې بیا د ماتي خوړلو انسانانو سیالي مکوه.

که ته په حقه یې بیا دې ته اړتیا نلرې چې په لوړ غږ خبري وکړې ځکه چې په لوړ غږ خبري کول ستا د دریځ د کمزورتیا نښه ده.

---

که یو چا په خندا کي درته قسم وکړ یوه شه چي په دروغو یې قسم یاد کړی دی.
ګړندی له موږکه، موږک له پشی، پشی له سپي، سپی له مالکه، مالک له مېرمني او مېرمن له ګړندي څخه وېرېږي (خندوونکی څرخنده حقیقت)

---

دا چي ته له هر چا سره په وېره ټنډه مخامخ کېږي د دې مطلب دا هیڅ کله ندی چي ته له ټولو څخه خوشاله یې بلکه خپل زړه له بېځایه لانجو څخه هوسا ساتې.
د چاپان له وزیراعظم څخه پوښتنه وشوه: د ټکنالوژي په ډګر کي د جاپان د پرمختګ راز په څه کي دی؟
ځواب: ښوونکي ته مو د وزیر معاش، ډپلوماټیک پروټوکول او د امپراطور درنښت ورکړ.
په نړۍ کي تر ټولو ستر او مشهوره دروغ چي هر انسان یې په ورځ کي په تکراري بڼه وایي: "کراره کراري ده خیر خیریت دی"
د یوه انسان د شخصیت پېژندنه ته کولای شې چي ﷺ ۹۰ یې د هغه له مور او پلار سره د چلند له لاري ترلاسه کړې.
یوه علمي نظریه وایي: په نړۍ کي لږ تر لږه شپږ داسي کسان شته چي له تاسره په څېره کي بشپړ ورته والی لري او ۹ فیصده د دې امکان شته چي یوه ورځ ورسره مخامخ شې.
زما ګراني مېرمني؛ له مور او پلار سره زما په ناوړه چلند مه خوشاله کېږه ځکه چي راتلونکی نوبت ستا دی.

---

پخپله دوکتورا مه مغروره کېږه د یوې کره سرشمېرني له مخي یواځي په امریکا کي پنځه

زره د صفايي والا جارو لګوونکي د دوکتورا شهادتنامې لري.
د ټولو خلګو خوشاله ساتل ناشونی کار دی ځکه خو د الله ﷻ له خوشاله ساتلو وروسته خپل زړونه خوشاله ساتئ.

---

**اروا پوهان وايي:**
پخپل ژوند کي ماتي خوړلي انسانان تل د بریالیو انسانانو د تېروتنو په لټه کي وي تر څو د هغوی د محبوبیت کچه راټیټه کړي اوځانونه تر هغوی غوره وښیي.
یو قوم چي خپل تاریخ هېر کړي هغه خپل راتلونکی هیڅکله نشي جوړولای.
کله چي یو څوک درته ناوړه خبري وکړي خپله غصه په موسکا تعبیر کړه ځکه چي هغه د خپل شخصیت په در پېژندلو کي له تا سره مرسته وکړه.

---

اوسپنه په اور کي سره کېږي، ټکوله کېږي او د استفادې وړ بڼکلي آلات ترېنه جوړېږی. ستا ژوند هم داسې دی، ازما يېنښتونه راځي ترڅو دي ځواکمن کړي، خنډونه او ستونځي راځي چي بريالی شې ترڅو ګټور او د ستايني وړ شخصيت در نه جوړ شي.
په ژوند کي يو وړوکی څګی وکنه تر څو د نورو تېروتني پکی خښني کړې او بيا يې هېر کړه تر څو د جګړي په وخت کي بېرته ورته ستون نشې.
**(ټوکه)** خو که يي تېروتنی زياتی شي او د زغم له دائرې ووځي بيا يې لږ پراخ او ژور کړه، دوی او تېروتني يې ټول يو ځای پکي خښ کړه.

---

که غواړې چي د مقابل لوری پام ځان ته واړوې کله ناکله يي له ترټنی لاس اخله ځکه چي خلګ هغه وخت خراغ ته متوجه کېږی چي کله مړ شي.

---

## څوک په خپلو تېروتنو او ګناهونو مه خبروه ځکه چي:

۱- ګناهونه د فخر کارونه ندی

۲- خلک په دنیا او آخرت کي په ځان شاهدان مه ګرځوه

۳- که کله ته توبه وهم باسې خو انسانان یې هیڅ کله نه هېروي.

هرڅه پخپل ځان مه ازمویه د نورو ستونځي او ناکامۍ وپلټه چی کومي تېروتني يې کړي وې؟ او څه ډول ورنه بریالي ووتل؟

ته د هغوی تېروتني مه تکراروه خو ځېنی زده یې ضرور کړه.

یواځېنی کس چي ته باید تر هغه ښه او غوره واوسې هغه د پرون ورځي ته خپله یې.

هغه څه چي ستا خوښي او نېکمرغي لوټوي د راتلونکي ژوند په هکله ستا زیات سوچ دی له شنه وخت نه ګټه واخله او راتلونکی الله ﷻ ته وسپاره.

له ناپوه سره خوله مه وهه بیا خلګو ته نه مالومېږی چي په تاسي دواړو کي کوم یو ناپوه دی.

نېکی وکړه او په سېند کې واچوه که ژر وی او که لري یوه ورځ به یې څپې حتماً د تا ساحل ته بېرته در وغورځوي.

دزمزم د اوبو یوه معجزه دا هم ده چی په هغو کي کله هم پوڅکۍ او وابښه نه راشنه کېږي او نه وده کوي.

---

## هوښیاران وایي:

د هغه ملګري په ملګرتیا مه پښېمانه کېږه چي ودي شرموي(چي کاش نه می وای ملګری کړی). د هغه دښمن په دښمني پښېمانه شه چي مرستي ته دي ودانګي (چي کاش له پیله می دښمن نه وای ګرځولی)

تر هغه مناظرې پټه خوله بهتره ده چي ته باوري یې مقابل لوری د ځان پوهولو پر ځای له

اختلاف څخه شخړه جوړوي.

چوپتیا تل د خوښي نښه نه وي کله خو ځېنو کسانو ته مناسب ځواب موندل ستونځمن کار وي.

ښښنه یوه تحفه نه ده چې مونږ یې مقابل لوری ته وړاندی کوو لکه څومره چې د زړه د هوسایي یوه غوره نسخه ده چې مونږ یې ځانونو ته ډالۍ کوو.

ځېني کسان له ظاهري څېرې، ساتڼ او باتڼ څخه ډېر ښکلي ښکاري خو چې خبري پیل کړي پته یې ولګېږي چې تش کدو دی.

خپه کېږه مه ـ ځېني داسي کسان هم شته چې که ته هرڅومره د هغوی خوښي او ښېرازي غواړې داسي فکر کوي چې ته د دې چلند ترشا پټي موخي لرې، وایي پدې کي یې هم چل دی.

اوبو ته چې ډبره ور وغورځوله شي اوبه د یو څو شېبو لپاره خړي شي او ژر بېرته روڼي شي خو د ډبري ځای د تل لپاره تل شي. تا ته هم چې کله یوه ډبره در غورځاره شي ګوره تل ته یې رسوه.

څومره انسانان چې هر کال دسګرېټ څکولو له لاسه مری په ورته بڼه د سستي، لټ توب او بېکارۍ له امله مري.

خبری چې څومره ډېري کوې په هماغه کچه دي تېروتني زیاتېږي، خو د الله ﷻ ذکر چې څومره زیات کوې په هماغه اندازه دي تېروتني کمېږي.

د ځمکي او اسمانونو خزانې له الله ﷻ سره دي که بنده یې د هغه د حکمونو په منلو خوشاله وساتي د دنیا او اخرت ټولی هیلي او ارمانونه به که یې بنده ترې وغواړي او که یې ونه غواړي ضرور وربشپړي کړي.

---

کله چې ته ماشوم وې او ډاکټر به در څخه پوښتنه وکړه: بچیه څه تکلیف لرې؟ پدې وخت

کي به تا مور یا پلار ته وکتل او ځواب ورکول به دي هغوی ته پرې ښود ځکه چي ته باوري وې چي هغوی ستا د رنځ ښه احساس او تشریح کولای شي. اوس چي ستر شوی یې خیال یي ساته.

---

ژوند لنډ وخت دی په مأیوسي یې نور مه راکموه، ربښتوني دوستان لږ دی په ترټه یې مه بایله، دښمنان ډېر دي په بد اخلاقي یې نور مه زیاتوه.
څوک چي قناعت د خپل ژوند نه بېلېدونکیه ونه‌ه ونه ګرځوي پخپل ژوند کی به خوشالي اوښکلا کله هم ونه ویني.

---

ستا په مورد کی د نورو په تېروتنو ځان ناګاره اچول خپله کمزوری مه ګڼه. د ستونځو او ناخوالو په وړاندی زغم او صبر کول خپله ماتي مه ګڼه. په مسلمانانو ښه ګمان کول خپله سادګي مه ګڼه.

---

په پابندي سره د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کول ستا په شتمني، روغتیا، ځان، اولاد، فکر او د ژوندانه په ټولو اړخونو کي د برکت یو اساسي راز دی.
یوه اسرائېلي فلسطېني ماشوم ته وویل: مونږ مړي سوځوو او تاسې یې خښنوئ دا ولي؟
فلسطیني ماشوم له څه ځنډ وروسته ورته داسي وویل:
داځکه چي خلک خزانې خښنوي او کچرې سوځوي.

---

له الله ﷻ څخه وېرېدونکي با احساسه شخصیتونه له هر حالت څخه پندونه آخلي.
ابن سیرین رحمه الله چي کله خپله شتمني وبایلله یو چا ورته وویل : ستر تاوان درته ورسېدو، ده په ځواب کي ورته وویل : دا د یوې ګناه په وجه چي له ٤٠ کلونو راهیسي مې د

سزا انتظار اېست. حاضرینو ورته وویل: هغه ګناه څه وه؟ ده ورته وویل: یوه سړي ته مي د هغه د مسکنت پېغور ورکړی وو.

---

(ټوکه) وای یو خر په ځنګل کی روان وو ناری یې وهلې چې زه پړانګ خورم، لېوه خورم، هاتی خورم، چې شاته یې وکتل زمری ولاړ وو، وېارېدو وېل: کله کله غول هم خورم.

---

د علامه سید جمال الدین الأفغاني رحمه الله ﷻ

له مشهورو ویناوو څخه هغه توري چي په سرو زرو باید ولیکل شي:

د الله ﷻ په قانون کي هغه څوک رټلي دي چي:

ولس یې ځولانه کړی وي..

فکر یې زېندی کړی وي..

ېنډه کاروي ...

د خلګو په خوله لاس ورنیسي ..

بندیخانې جوړوي ...

د ظلم او تجاوز بیرغ یې وچت کړی وي..

په ټولو ادیانو کي رټلي دي ..

څوک چي د انسان حق تر پښو لاندي کوي ..

ولو که ټول ژوند لمونځونه او تلاوتونه کوي او روژې نیسي.

## له کوژدې تر واده

د زوی او لور د واده کولو لپاره مناسب عمر ۲۰ کلنی سن دی چي باید نه له دې مخکي

وشي او نه له دې وروسته وځنډول شي، د روغ، سالم او ښه نسل د دوام لپاره باید د رشتې تلاش پداسي خاندان کي وشي چي په ښو اخلاقو، دیانت او تقوا پېژندل شوی وي، اخلاقي، جسماني، روغتیایي لا علاجه رنځونه يې په افرادو کي نه وي. که ذکر شوي ټکي په پام کي ونه نیول شي کېدای شي د ټول ژوند لپاره اولادونه پداسي ځور اخته کړل شي چي د مرګ تر ورځي پوري دوی او اړوندي خواوي ټول په لانجمنو پېښو کي ښکېل شي.

**مهر یا ولور:**

د مهر شرعاً کوم ټاکلی حد نشته البته په مهر کي تل د زوم مالي حالت باید په پام کي ونیول شي او د کره حدیثونو او روایاتو له مخي برکت منه ښځه هغه ده چي مهر يي لږ او ځور يي کم وي خو د مهر د ټاکلو په وخت کي دا ټکی هم باید په پام کي ونیول شي چي ولور باید تر مروج مهر (مهر مثل) نه خو زیات وي او نه ښکته ځکه چي دا هم د تجربې له مخي منفي پایلي او اغېزي لري .

کوم مهر چي وټاکل شي او نکاح پرې وتړله شي هغه ټول د قران کریم په صریحو نصوصو د ښځي حق دی او هغه يي مالکه ګرځي چي باید یواځي هغه په اوس او راتلونکي وخت کي ترې استفاده وکړي.

پلار په ولور کي د هیڅ ډول تصرف کولو حق نلري نه خو يي پخپله خوړلای شي، نه میلمانه پکي پاللی شي او نه پکي تحفې اخیستلای شي او نه يي دوستانو یا زوم ته ور ښښلای شي.

په دودېزو ټولنو کي نجلۍ د پلار په کور کي تر سخت ذهني فشار لاندي وي چي کله هم داسي فکر نشي کولای چي دا ولور د هغې ملکیت دی ، لومړی خو پلرونه دا ولور د ځان حق بولي او لور ته هډو داسې وایي نه چي دا ولور ستا حق دی او که بیا کوم پلار دا د نجلۍ حق وبولي بیا يي ترې غواړي چي هغه ته يي وبښي او نجلۍ مجبوره ده پلار ته ووایي چي ما در ښښلی دی، ځکه خو له نجلۍ څخه پدې وخت کي باید مهر ونه غوښتل شي

نه يي خاوند بايد مجبوره کړي چې مهر هغه ته ورکړي او يا يې د خاوند په غوښتنه د هغه د کور په ضروورياتو کې ولګوي، هغې ته بايد په بشپړه خپلواکۍ سره وخت ورکړل شي چې واده شي، خپل ژوند وويني ، اولادونه يي وشي او د مستقل ژوند اړتياوي محسوسي کړي، او بيا د عقل او تجربې په رڼا کې د دې پريکړه وکړي چې په پاته مهر کې څه بايد وکړي .

له نکاح تړلو وروسته د نجلۍ ټول لګښتونه د هغې په خاوند د دې منل شوی حق دی نجلۍ که د پلار په کور کې وي او که واده شي که بډايه وي او که نېستمنه خو مصارف او لګښتونه به يي خپل مېړه له خپل وس سره سم ورکوي.

**د کوژدې او واده تر منځ نېټه:**

د نکاح د تړلو ورځ بايد پښه ارتي ، رويمال او شېرين خوري هر څه وي، د واده تر ورځې پوري بايد په همدغه يوه دودېز او رسمي مجلس اکتفاء وشي، دنجلۍ د پلرګنۍ مالي، زماني، مکاني او بشري امکانات او حالات بايد په پام کې ونيول شي ، هغه بايد له خپل وس سره سم بې تکلفه د مېلمنو خدمت وکړي، د دوستانو له خوا بايد هيڅ ډول اضافي غوښتني ترې ونه شي، په دې مجلس کې له ساده رويمال څخه علاوه د نارينه وو او ښځينه وو له خوا د هيڅ ډول تحفو تبادله بايد نه وي ، نيم مهر په دې مجلس کې بايد نجلۍ ته وسپارل شي او پاته نيم مهر بايد له واده څخه وړاندې ورته وسپارل شي، د نکاح له تړلو سره جوخت بايد د واده نېټه هم وټاکله شي چې له ٦ تر ٨ مياشتو زيات وخت بايد وانخلي. د واده تر ورځې پوري په هر ډول رسمي او دودېزو مېلمستياوو بايد بندېز ولګول شي په کومو کې چې غوښتل، پرېښودل او د تحفو ورکول او اخيستل وي.

**د واده ورځ:**

د واده په ورځ د نجلۍ پلرګنۍ شرعا مکلفه نه ده چې راتلونکيو مېلمنو (ورا والو) ته ډوډۍ ورکړي، چای ورکړي، يا مشروبات ورته راوړي، هغوی په همدې ورځ کې د ذاتي مصروفيت تر څنګ دومره کولای شي چې خپل ميلمانه وپالي. په همدې ورځ په کار ده ورا وال خپل

خدمت پخپله وکړي او د نجلۍ پلرګنی ته هيڅ ډول ځور ورنکړي .

د نجلۍ پلرګنی شرعاً مکلفه نه ده چي مېلمنو ته تحفې او نجلۍ ته د کور لوازم که دي لوړي بيي وي او که د ټيټي بيي وي واخلي هغه به نجلۍ د هغې له شخصي صندوق سره ورته وسپاري او دوستان به ګيله نه ترې کوي .

مونږ هغه وخت کولای شو ځوروونکي او ملا ماتوونکي رسمونه ختم کړو چي ذهنا ځانونه او دوستان ورته اماده کړو او مخکي له رشتې بايد پدې شيانو توافق وشي ، د پلرونو او مشرانو مسئوليت دی چي د يوې پاکي ټولني د جوړولو او پايښت لپاره هر ډول هغو رواجونو ته چي د غريب سړي لپاره يي پالل ستونزمن وي بايد د پای ټکی کېږدي.

مونږ بايد اولادونه يو الهي امانت وګڼو، خير خواهي او ښه مستقبل يي خپله فريضه احساس کړو، خويندي او لوڼي د خپلي مادي هوسايني او ناروا جابرانه سلوک قرباني نکړو، او د وړې مادي ګټي او يو څو روپو لپاره اولادونه او ځانونه د ټول ژوند لپاره د تناره په اور کي ونه سوځوو.

ځوروونکيو رواجونو ته د پای ټکی ايښودل ، د ځوانانو او پيغلو لپاره ښې رشتې لټول، او د هغوی لپاره د ودونو اسانه ګرځول زمونږ ټولو شرعي مسئوليت او اخلاقي مکلفيت دی.

## درنو او قدرمنو لوستونکيو

هيله ده چي کتاب به مو خوښ شوی وي الله ﷻ دي زما دا وړوکی خدمت قبول او د نېکيو تله مو دي پرې درنه کړي ، زما او زما د اولادونو او مينه والو او لوستونکيو لپاره د لاري مشال او زما د والدينو لپاره د خپلي رضا ، حسن خاتمې، اخروي نجات د رحمت او مغفرت او د جنت د دخول سبب وګرځوي.

**رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ .**

**الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ**

# منځ پانګه


| | |
|---|---|
| پيل | ۲ |
| و رځني اذکا ر دواړه وختونه | ۵ |
| د سهار اذكار | ۹ |
| د ماښام اذكار | ۱۰ |
| نبوي مسنونی دعـاګاني | ۱۱ |
| له قرآنكريم او نبوی احاديثو څخه شرعـي دم | ۱۸ |
| له لمانځه وروسته مسنون اذكار | ۲٤ |
| ۳۰۵ (نبوي) حديثونه | ۲٦ |
| ديني ليکني | ۱۰۷ |
| روغتيايی ليكنی | ۱۳٦ |
| ګټور پندونه | ۱۷۵ |
| له كوژدې تر واده | ۳۱٤ |


Download from:aghalibrary.com